# سيګار

د افغانستان د بيارغونې لپاره
ځانګړی عمومي مفتش

د 2015
د جولای 30

درې مياشتنی راپور د متحده ايالاتو کانګرس ته



**د 2008 د مالي کال له پاره د ملي دفاع د منظورۍ قانون (Pub. L. No. 110-181) د افغانستان د بیارغونې له پاره د ځانګړي عمومي مفتش اداره (سیګار) رامنځته کړه.**

د سیګار د څارنې ماموریت، لکه څنګه چې د قانون له مخې تعریف شوی دی، دا دی چې

- د هغو پروګرامونو او څېړنو د څارنې او آډېټونو د مستقلې او ناپېیلي اجرا له پاره لارې برابرې کړي چې د افغانستان د بیارغونې له پاره د تخصیص شویو یا په بل ډول چمتو کړای شویو پیسو په واسطه تمویل شوي وي.
- د پروګرامونو اوعملیاتو د مدیریت په برخه کې د اقتصاد، کفایت، او مؤثریت د انکشاف له پاره د پالیسیو سپاربښتنه او همغږي برابره کړي، او په دغه ډول پروګرامونو اوعملیاتو کې د ضیاع، تقلب، او بدې استفادې مخه ونیسي.
- د دغه ډول پروګرامونو او عملیاتو د مدیریت د ستونزو او کمیو او د سموونکیو اقداماتو د ضرورت او پرمختګ په هکله د بهرنیو چارو وزیر او د دفاع وزیر په بشپړ او تازه ډول خبر وساتي.

د افغانستان په بیارغونه کې هرهغه غټ قرارداد، بلاعوضه مرسته، موافقه، یا د تمویل بل میکانیزم شامل دی چې د متحده ایالاتو د حکومت له خوا شوی وي او هغه مبلغونه نغاړي چې د افغانستان د بیارغونې له پاره تخصیص شوي یا په بل ډول برابر کړای شوي وي.

سرچینه: Pub. L. No. 110-181، ”د 2008 د مالي کال له پاره د ملي دفاع د منظورۍ قانون“ 1/28/2008.

(د دغه راپور د هغو محتویاتو د یوه لست له پاره چې د کانګرس له خوا منظور شوي دي، 3 برخه وګورئ.)

**د پوښ تصویر:**

یو افغان ځوان د افغانستان په کندهار کې په ترنک فارمونو کې د القاعده د روزنې په یوه پخواني بمبار شوي کمپ کې ولاړ دی. (عکس د کیني هولسټ له خوا، د امریکا متحده ایالات، د کریټیف کامنس موسسې له خوا)

**د افغانستان د بیارغونې لپاره**

**ځانګړی عمومي مفتش**

زه خوښ یم چې کانګرس، او د بهرنیو چارو او د دفاع وزیرانو ته په افغانستان کې د متحده ایالاتو د بیارغونې د هڅو په هکله د سیګار 28م درې میاشتنی راپور سپارم.

افغان حکومت او طالبانو، په داسې حال کې چې امریکایي او چینایي چارواکي د کتونکیو په توګه حاضر ول، د دې درې میاشتنۍ مودې پر وخت خپل لومړنی رسمي ملاقات په پاکستان کې ترسره کړ. که څه هم چې په افغانستان کې د طالبانو حملې دوام لري، دغه ملاقات یو مثبت پرمختګ وو. لکه څنګه چې د دغه راپور په 3مه برخه کې راغلي دي، ډېر کارپوهان په دې باور دي چې د دې له پاره چې افغانستان یو پرځان بسیا، د پایښت وړ هېواد وګرځي، حتی د ډېرو مثبتو اقتصادي حالتونو په صورت کې، د جګړې پای ته رسول یوازنۍ لاره ده. افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو وکولی شوای چې د جګړې د موسم تر نیمايي پورې د متحده ایالاتو له نظامي مرستې څخه پرته ټول ولایتي مرکزونه وساتي، خو ډېر تلفات ور واوښتل او د کمزورتیا احساس یې وکړ. په عین حال کې، په طالبانو کې ورځ تر بلې درزونه رامنځته کیږي، چې ځینې قوماندانان یې د عراق او شام له اسلامي دولت (داعش) سره بیعت اعلانوي.

په دې درې میاشتنۍ موده کې سیګار د دوه مسایلو په هکله چې د متحده ایالاتو له نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) سره راپورته شوې اندېښمن وو. د 2014 کال په مې کې، یو اېس ای آی ډي په افغانستان کې زمونږ د جنايي څېړونکیو د یوې غوښتنې په ځواب کې سیګار ته د روغتیایي پاملرنې د هغو مرکزونو جغرافیوي کوارډینیټونه ورکړل چې د یادې ادارې اړوند د روغتیا له پاره د مشارکت د قراردادونو (PCH) پروګرام له لارې د 210 میلیونه ډالرو په ارزښت تمویل شوي وو. په دې جون کې سیګار د متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) ته خبر ورکړ چې مونږ ته معلومه شوې ده چې نژدې 80% کوارډینیټونه غلط ول. دا یو ستونزمن انکشاف وو، ځکه چې د ځایي جغرافیې (geospatial) ټکنالوجي د مرستو د اړوندو نتایجو د معلوملو او تاییدولو له پاره یوه مهمه وسیله ده، له دې امله چې په افغانستان کې د ځمکې له لارې د څارنې ورتیاوې مخ پر ښکته رواني دي. همدارنګه، دا د خفګان خبره وه چې یو اېس ای آی ډي په پای کې په دې اعتراف وکړ چې هغه د هغو کوارډینیټونو په برخه کې «د دقت د ستونزو» په هکله خبره وه چې سیګار ته یې ورکړي ول. په څرګند ډول، په داسې حال کې چې په یادو معلوماتو باندې اعتماد لړ یا ښېخي نه وو خو بیا هم یو اېس ای آی ډي د سیګارجنايي څېړنې ته دغه کوارډینیټونه د هغو د کارونې په برخه کې د کوم مناسب احتیاط له سپارښتنې څخه پرته ورکړل.

سیګار همدارنګه په جون کې د یو اېس ای آی ډي له خوا د کارول کېدونکیو معلوماتو د باوریتوب په هکله پوښتنې ګروېږنې پیل کړې څو په افغانستان کې د خپلو ښوونیزو او روزنیزو پروګرامونوڅارنه وکړي او تمویل یې کړي. په یو حساب دا د هغو اندېښنو له امله وو چې د پوهنې نوي وزیر د افغانستان د ولسي جرګې په وړاندې څرګندې کړې. په دې میاشت کې له جیګپوړو افغان چارواکو سره زما له تر ټولو تازه ملاقاتونوڅخه وروسته، زه په دې کې نامطمئن پاتې شوم چې آیا یو اېس ای آی ډي یا افغان وزارتونه کولی شي چې د روغتیا او ښوونې روزنې په برخو کې د متحده ایالاتو او زمونږ د متحدینو له خوا د کېدونکیو لګښتونو صحیح حساب ورکړي.

افغانستان ته زما د وروستي سفر په جریان کې، ما له جمهور رییس اشرف غني او اجرائیه رییس عبدالله عبدالله سره بیا وکتل او د سیګار د هڅو په هکله مې ورسره خبرې وکړې چې غواړي د ملي وحدت له حکومت سره مرسته وکړي چې د متحده ایالاتو له خوا د بیارغونې له پاره د 109.7 میلیارده ډالرو په ارزښت پروګرام څخه د فساد ټغرټول کړي. په تېره ربعه کې، سیګار او د افغانستان د امنیت د انتقال ګډې قوماندانۍ (CSTC-A) حکومت ته د دفاع د وزارت د تېلو په نژدې 1 میلیارد ډالري ترون کې د فساد په برخه کې زمونږ د څېړنې په هکله معلومات ورکړل. سیګار او د افغانستان د امنیت د انتقال ګډه قوماندانۍ (CSTC-A) د افغان حکومت له خوا د تدارکاتو د اصلاحاتو ملاتړ ته دوام ورکوي او د متحده ایالاتو د حکومت یوازنۍ موسسې دي چې د ملي تدارکاتو د هغه کمېسیون په غونډو کې برخه اخلي چې د جمهور رییس غني له خوا د قراردادونو د ورکړې د تنظیمولو له پاره تاسیس شوی دی.

2530 CRYSTAL DRIVE ARLINGTON, VIRGINIA 22202

دا راپور همدارنګه د مرستو د مشروطیت د مسئلې په هکله څېړنه کوي چې په دې سپتمبر کې به د توکیو د دوه اړخیز مسؤلیت منني یا حساب کتاب ورکولو د چوکاټ په هکله د جګپوړو چارواکو د غونډې په اجنډا کې وي. د دغه راپور 1 برخه په دې هکله معلومات ورکوي چې له افغانستان سره په نړیوالو مرستو باندې شرطونه اېښودل څنګه کولی شي چې د فساد په له منځه وړلو کې د هغوهدفونو په ترسره کولو او دغه هېواد دې ته برابرولو کې مرسته وکړي چې پخپلو پښو ودرېږي په داسې حال کې چې لا هم د مرستندوی- مالیه ورکوونکي هېواد د پیسو په وړاندې د محاسبې مسؤلیت پرځان ومني. راپوړپه هغو ډېرېدونکیو شرایطو باندې غورکوي چې د افغانستان د امنیت د انتقال ګډه قوماندانۍ (CSTC-A) او د متحده ایالاتو نورې ادارې یې له افغان حکومت سره په مرستو باندې لګوي، او دا چې که شرایط په صحیح توګه ترسره نشي هغه کولی شي چې هم مرسته کوونکي او هم مرسته اخیستونکي دواړو ته ستونزې جوړې کړي. هغه لس داسې وجایب وړاندې کوي چې مرستندویان یې باید د مرستو په وړاندې د ځواب وینې یا حساب کتاب ورکولو او مؤثریت له پاره کېږدي.

په دې ربعه کې په بل کار کې، سیګار 21 تفتیشونه، پلټنې، خبرتیایي لیکونه، او نور مواد صادر کړل. د اجرأتو په هکله د سیګار له تفتیشونو څخه یوه دا وموندله چې د فدرالي هوانوردۍ اداره په دې نه وه توانېدلې چې د افغانستان له پاره د هوایي ترافیکو کافي شمېر کنټرولوونکي وروزي څو په یوازې ځان د فضایي مدیریت عملیات پرمخ بوځي، او دا چې متحده ایالات په دې نه وو توانېدلي چې له پلان سره سم په 2014 کال کې د فضایي مدیریت مسؤلیتونه افغان لورې ته وسپاري. د اجرأتو یوه بل تفتیش راپو ورکړ چې د متحده ایالاتو حکومتي اداري داسې یوه هراړخیزه ستراتیجي نه لري چې په افغانستان کې د قانون د حاکمیت په پراختیا کې مرسته وکړي، او دا چې د اجرأتو د مدیریت ستونزمن سیستمونه د اداراتو له پاره دا سختوي چې د قانون د حاکمیت د پروګرامونو د مؤثریت په هکله په پوره توګه تصمیم ونیسي.

په دې ربعه کې، د سیګار مالي تفتیشونو له 37.4 میلیونو ډالرو څخه ډېر داسې وموندل چې لګښتونه یې د پوښتنې وړ ول چې په دې کې د داخلي کنټرول عیبونه او د نه اجرأتو ستونزې موجودې وې. تر ننه پورې، د سیګار مالي تفتیشونو موندلي چې له 279.5 میلیونو ډالرو څخه د ډېرو پیسو لګښتونه د پوښتنې وړ دي او 289,880 ډالر د فدرالي فنډونو او نورو عوایدو ګټه چې باید حکومت ته تادیه شوې وای، نه ده شوې.

سربېره پر دې، سیګار دوه د پلټنې راپورونه خپاره کړل. یوه راپور وموندله چې د مخدره توکو پرضد د عدالت مرکز (Counter Narcotics Judicial Center) کې د پروژې اعمار تر ډېره حده د تړون شرایط پوره کړي ول، البته په قرارداد کې دوه عیبونه موجود ول، او دا چې د توقیف مرکز هغسې چې غوښتنه یې کېده کارول کېده. دویم راپور وموندله چې د کندهار په هوایي ډګر کې د دفاعي لوجیستیک د ادارې تحویلخانه په صحیح توګه جوړه شوې وه، البته کوچني عیبونه په کې موجود ول، خو د جوړونې په برخه کې اوږده ځنډونه د دې سبب وګرځېدل چې له دغې ودانۍ څخه هېڅ ګټه وانه خیستل شي.

سیګار یو ځانګړی پروژوي راپور خپور کړ چې د دفاع د وزارت له خوا په افغانستان کې د 64,000 مربع فوټو په اندازه پراخ د نه غوښتنې وړ، بې ضرورته او نه کارول شوي قوماندې او کنټرول د مرکز په هکله د تقریبا دوه کالونو د څېړنې لنډیز وړاندې کوي. سربېره پر دې، د ځانګړیو پروژو ادارې د 43 میلیونه ډالرو په ارزښت د متراکم طبیعي ګاز د پروژې چې د سوداګرۍ او ثبات د عملیاتو له پاره د دفاع وزارت د وظیفوي ځواک له خوا تطبیق شوې ده، او د تره خېلو د برېښنا د نه کارول شوې دستګاه په هکله پوښتنې ګروېږنې پیل کړې.

د راپور ورکوونې د مودې په جریان کې، د سیګار څېړنو د پام وړ نتایج ترلاسه کړل. په دې توګه تقریبا 214.7 میلیونه ډالر د متحده ایالاتو حکومت ته په لګښتونو کې وسپمول شول؛ له 6.9 میلیونه ډالرو څخه ډېر له خصوصي فیصلو څخه بېرته ترلاسه شول؛ او جریمې، خسارې یا تاوان اخیستنې، او استردادونه له 675,000 ډالرو څخه پورته شول. همدارنګه، څلور کسان ونیول شول، اته جنایي اتهامات ولګول شول، شپږ محکومیتونه رامنځته شول، او پنځه محاکمې وشوې. سربېره پر دې، 17 کسان په افغانستان کې د متحده ایالاتو نظامي تاسیساتو ته له ورتګ څخه منع کړای شول. سیګار 27 نوې څېړنې پیل کړې او 40 نورې یې بندې کړې، او په دې توګه یې د ټولو روانو څېړنو شمېر 310 ته پورته کړ.

د سیګار له روانو څېړنو څخه د مالي ربعې د جنايي جريمو، استردادونو، خسارو، له خصوصي فيصلو څخه د ترلاسه شويو مبلغونو، او د متحده ایالاتو د حکومت په لګښتونو کې سپماوو ټوله اندازه 794 میلیونه ډالرو ته رسېږي. په څېړنيزو نتايجو کې 101 نيونې، 130 جرمي اتهامات، 93 د جرم ثبوتونې، او 69 محاکمې شامل دي. سیګار د خپل کار له پيل راهيسې، په مجموعي توګه 865 څېړنې ترسره کړي دي. دغه اجرأت هغه پراخ تاثير ښيي چې د سیګار څېړنو د بيارغونې د نظارت په چاره کې درلود.

د سیګار د تعويق او مخنيوي پروګرام په 17 اشخاصو او 25 شرکتونو باندې د متحده ایالاتو د حکومت د قراردادونو ترلاسه کول وځنډول يا يې پرې بند کړل. له 2008 کال راهيسې، سیګار 650 معرفی – 343 اشخاص او 307 شرکتونه لرل. له تېرې ربعې راهيسې، د دغو افرادو او موسساتو اکثره يې په ښکاره توګه د قراردادونو د ورکړې د مديريت له پاره د عامه خدمتونو د ادارې (GSA) د سيستم په لست کې نيول شوي دي او قرارداد ورکوونکيو چارواکو او لومړنيو قراردادیانو ته يادښت ورکول شوی دی چې په لست کې نيول شوي افراد او موسسې بايد د قراردادونو، بلاعوضه مرستو د قراردادونو، او د همکارئ د تړونونو له ترلاسه کولو څخه ليرې وساتل شي. سیګار به په دې خبره زور اچولو ته دوام ورکړي چې دغه ډول افراد او موسسات د عامه خدمتونو د ادارې (GSA) په لست کې ورزيات کړای شي.

له دغو کارونو څخه به یوهم د سیګار د 194 څېړونکیو، مفتشينو، او نورو کارپوهانو، چې اکثر وختونه په خطرناکو شرايطو کې کار کوي، له هڅو څخه پرته نه وای ترسره شوی. مونږ د سیګار کارکوونکي له کانګرس او نورو برخه والو سره کار کولو ته ژمن یو چې د متحده ایالاتو له خوا د بيارغونې په ځانګړې ډېر قېمتي پيل شوي پروګرام کې د ضايعاتو، تقلب، او سوء استفادې په وړاندې مبارزه وکړو.

په درناوي،



جان اف ساپکو
د افغانستان د بيارغونې لپاره ځانګړی عمومي مفتش

**دا راپور د 2015 د اپریل له 1 څخه د جون تر 30 مې پورې د سیګار د نظارت د کار او د افغانستان د بیارغونې د هڅو په درې لویوسکټورونو کې د پرمختګونو تازه خلاصه وړاندې کوي. په هغه کې همدارنګه د داسې لارو په هکله یو بحث شامل دی چې په هغو کې پرمختللی مشروطیت کولی شي چې د مرستندویانو د فنډونو په مقابل کې د ځواب وینې مسؤلیت اخیستنه ډېره کړي. د راپور ورکوونې په دې موده کې، سیګار د افغان امنیتي ځواکونو د جوړونې، د حکومت د انکشاف، او د اقتصادي او ټولنیز پرمختګ د اسانولو په موخه د متحده ایالاتو د هڅو د ارزونې له پاره 21 تفتیشونه، پلټنې، خبرتیایي لیکونه، او نور راپورونه خپاره کړي دي. دغو راپورونو د مسؤلیت نه منلې، د پلانونو د ناکامۍ، او تعمیراتي نقصونو په شمول یو شمېر ستونزې په ګوته کړې. په دې توګه د سیګار له څېړنیز کار څخه، تقریبا 214.7 میلیونه ډالر د متحده ایالاتو حکومت ته په لګښتونو کې وسپمول شول؛ له 6.9 میلیونه ډالرو څخه ډېر د خصوصي فیصلو له لارې بېرته ترلاسه شول؛ او جریمې، خسارې یا تاوان اخیستنې، او استردادونه له 675,000 ډالرو څخه پورته شول. همدارنګه، د سیګار د څېړنو په نتیجه کې څلور کسان ونیول شول، اته جنايي اتهامات ولګول شول، شپږ محکومیتونه رامنځته شول، او پنځه محاکمې وشوې، او 17 کسان په افغانستان کې د متحده ایالاتو نظامي تاسیساتو ته له ورتګ څخه منع کړای شول. سربېره پر دې، سیګار د هغو تورونو په اساس، 17 اشخاص او 25 شرکتونه د ځنډونې یا منع کوونې له پاره معرفي کړل، چې هغوی په قراردادونو کې په تقلب او نه اجرأتو کې لاس درلود.**

# د سیګار عمومي کتنه

## تفتیشونه

سیګار دوه د اجرأتو تفتیشونه، 11 مالي تفتیشونه، او دوه پلټنې ترسره کړل.

د **اجرأتو تفتیشونولاندې** مواد وموندل:

- د فدرالي هوانوردۍ اداره نه وه توانېدلې چې د افغانستان له پاره د هوايي ترافیکو کافي شمېر کنټرولوونکي وروزي څو په یوازې ځان د فضايي مدیریت عملیات پرمخ بوځي، او متحده ایالاتو ونه شوای کولی چې له پلان سره سم په 2014 کال کې د فضايي مدیریت مسؤلیتونه افغانانوته وسپاري.
- د متحده ایالاتو حکومتي ادارې داسې یوه هراړخیزه ستراتیجي نه لري چې په افغانستان کې د قانون د حاکمیت په پراختیا کې مرسته وکړي، او دا چې د اجرأتو د مدیریت ستونزمن سیستمونه د اداراتو له پاره دا سختوي چې د قانون د حاکمیت د پروګرامونو د مؤثریت په هکله په پوره توګه تصمیم ونیسي

**مالي تفتیشونو** په ګوته کړه چې 37.4 میلیونه ډالر لګېدلې پیسې د داخلي کنټرول د عیبونو او د نه تطابق د مسایلو له امله د پوښتنې وړ دي. په دغو عیبونو او د نه اجرأتو په ستونزوکې د سیالۍ له لارې د تدارکاتو د کړنلارو نه تعقیبول، د سوداګرۍ د سطحې یا بزنس کلاس هوايي ټکټونه چې د منلو وړ توجیهاتو څخه پرته پیرودل شوي ول، کارمندانو او د خدمتونو وړاندې کوونکیو ته د بانکي خدمتونو یا د انټرنټ له لارې د تادیاتو پرځای د 80% په اندازه نغدي تادیاتو لګښتونه، د نه منظور شوې اضافه کارۍ لګښت، په خطري شرایطو کې د کار له امله 35% تادیات، د آویزونو او ملاتړو اسنادو په ساتنه کې ناکامي، له امریکایي ډالرو څخه ځايي پیسو ته د اړونې غلط نرخونه، د څارنې او ارزونې د راپورونو په سپارلو کې ناکامي، د ځانګړیو ساحوي دفترونو په لګښتونو کې غلط تخصیصونه، افغان حکومت ته د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) له خوا د مالیاتو د ورکولو نه جبران وړ آویزونه، د غیرمستقیمو لګښتونو له امله اضافي آویزونه صادرول، د شیانو د موجودۍ د ریکارډونو او تجهیزاتود ترتیب نه بشپړتیا، او له 5 میلیونه ډالرو څخه د ډېربښت په صورت کې په محلي تدارکاتو باندې د حکومت د تایید په ترلاسه کولو کې پاتې راتګ شامل ول.

د متحده ایالاتو له خوا د تمویل شویو مرکزونو **د پلټنې راپورونو** وښودله چې:

- سره له دې چې د معمارۍ دوه نیمګړتیاوې یې درلودلې، د مخدره توکو پرضد د عدالت مرکز (Counter Narcotics Judicial Center) کې د پروژې اعمار تر ډېره حده د تړون شرایط پوره کړي ول، او دا چې د توقیف مرکز هغسې چې په نظر کې نیول شوی وو کارول کېدو.
- د کندهارپه هوايي ډګر کې د دفاعي لوجیسټیک د ادارې تحویلخانه په صحیح توګه جوړه شوې وه، البته کوچني عیبونه په کې موجود ول، خو د جوړونې په برخه کې اوږده ځنډونه د دې سبب وګرځېدل چې له دغې ودانۍ څخه د غوښتنې خلاف هېڅ ګټه وانه خیستل شي

* ښايي چې سیګارهمدارنګه د هغو کارونو او پېښو په هکله راپور ورکړي چې د 2015 د جون له 30 مې وروسته د خپرونې تر وخته پورې رامنځته کیږي.

## نوي تفتیشونه او پلټنې

په دې ربعه کې، سیګار درې نوي اجرایي تفتیشونه ترسره کړل چې د افغانستان د سړکونو د زیربناء د ساتنې له پاره د متحده ایالاتو هڅې، په افغانستان کې د ګمرکو د اصلاحاتو د ساتنې له پاره د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) هڅې، او د افغان حکومت کارمندانو او تخنیکي مشاورینو ته د تنخاګانو ورکړه وارزوي. سیګار همدارنګه د دولت/یو اېس ای آی ډي – او د دفاع وزارت له خوا د تمویل شویو تعمیراتي پروژو، د افغان ملي اردو د کمپ کماندو د دریېمې او څلورمې دورې، د کورنیو چارو د وزارت د مرکزي دفتر د ودانۍ، او د دفاع وزارت د سرمشریزې د ملاتړ او د امنیتي غونډ پنځه نوې پلټنې ترسره کړې.

## ځانګړې پروژې

د راپور ورکولو په دې موده کې، د ځانګړیو پروژو ادارې د یوه ځانګړې راپور او استعلامونو په شمول چې د نورو تر څنګ یې لاندې مسایل په کې یاد کړي ول، پنځه شیان خپاره کړل:

- په لیدرنیک کمپ کې د 36 میلیونه ډالرو په ارزښت د قوماندې او کنټرول د نه غوښتنې ور، بې ضرورته او نه کارول شوي مرکز په هکله د سیګار د څېړنې نتایج.
- هغه ننګونې چې د ګازو د تصفیې هغه پروژه ورسره لاس او ګرېوان ده چې د سوداګرۍ او ثبات د عملیاتو له پاره د وظیفوي ځواک له خوا تطبیق شوې ده.
- د هغو اطلاعاتو او ارقامو اعتبار چې د یو اېس ای آی ډي له خوا په افغانستان کې د هغې د بښوونیزو او روزنیزو پروګرامونو د نظارت او تمویل، او د هغو پروګرامونو د مؤثریت د اندازه کولو له پاره کارول کیږي.
- د 355 میلیونه ډالرو په لګښت د تره خېلو د برېښنا د دستګا کارول چې کابل ته ملاتړي برېښنا ورکړي.
- د هغو صحي مرکزونو د موقعیت صحت چې د یو اېس ای آی ډي د مشارکت د قراردادونو له خوا د صحي پروګرام له پاره تمویل شوي دي.

## څېړنې

د راپور ورکوونې د مودې په جریان کې، د سیګار د څېړنو په نتیجه کې تقریبا 214.7 میلیونه ډالر د متحده ایالاتو حکومت ته په لګښتونو کې وسپمول شول؛ له 6.9 میلیونه ډالرو څخه ډېر له خصوصي فیصلو څخه بېرته ترلاسه شول؛ او جریمې، خسارې یا تاوان اخیستنې، او استردادونه له 675,000 ډالرو څخه پورته شول. د جرمي څېړنو په نتیجه کې څلور کسان ونیول شول، اته جرمي اتهامات ولګول شول، شپږ محکومیتونه رامنځته شول، پنځه محاکمې وشوې، او 17 کسان په افغانستان کې د متحده ایالاتو نظامي تاسیساتو ته له ورتګ څخه منع کړای شول. سیګار 27 نوې څېړنې پیل کړې او 40 نورې یې بندې کړې، او په دې توګه یې د ټولو روانو څېړنو شمېر 310 ته پورته کړ. د سیګار د تعویق او مخنیوي پروګرام په 17 اشخاصو او 25 شرکتونو باندې د متحده ایالاتو د حکومت د قراردادونو ترلاسه کول وځنډول یا یې پرې بند کړل.

**د څېړنو مهم ټکي** مشتمل دي پر:

- یوې ملکي څېړنې د متحده ایالاتو حکومت ته تقریبا 7 میلیونه ډالره وسپمول.
- د یوه ټیلیفوني پیغام په اساس د سیګار د څېړنې په نتیجه کې په یوه ملکي قرارداد کوونکي افسر باندې تور ولګول شو او د متحده ایالاتو یو نظامي افسر یې په ملامتیا باندې اعتراف ته برابر کړ.
- د رشوت اخیستنې د یوې څېړنې په نتیجه کې جنایي اتهام ولګول شو او په ملامتیا باندې اعتراف وشو.
- د رشوت اخیستنې د توطیې په هکله د یوې څېړنې په نتیجه کې، دوه امریکایي نظامي کارمندانو په ملامتیا باندې اعتراف وکړ او محاکمه کړای شول.
- د متحده ایالاتو د پوځ یو ډلګی مشر بندي کړای شو او د توطیه جوړونې، رشوت اخیستنې، د پیسو سپینولو، او غلا تورونه پرې ولګېدل.
- د متحده ایالاتو یو قراردادي د رشوت اخیستنې له امله محاکمه شو.
- دوه قراردادي کارمندان د متحده ایالاتو د حکومت په وړاندې د تقلب د توطیې د جوړونې له امله محاکمه کړای شول.
- د متحده ایالاتو یو قراردادي کارمند د متحده ایالاتو د ملکیت د غلا له امله په ملامتیا اعتراف وکړ.
- سیګار دا معلومه کړه چې د متحده ایالاتو یو نظامي کس د 2.5 میلیونه ډالرو په ارزښت د تېلو په غلا کې لاس درلود.

محتويات

## برخه 1




**1 د مرستو له پاره د [عملي کېدلو] وړشرايطو وضع کول**

3 د تړونونو ضميمه کول اکثر وختونه يو ښه نظر دی
6 پراخې ساحې ته د مشروطيت رسېدل
8 د مؤثر مشروطيت ننګوني
13 د [عملي کېدلو] وړمشروطيت له پاره لس کارونه
16 درې مياشتني مهم ټکي: د مشروطيت په هکله د سر د سړي نظر


## برخه 2




**19 د سيګار څارنيز**

21 د سيګار څارنيز فعاليتونه
22 تفتيشونه
44 پلټنې
47 ځانګړې پروژې
51 زده شوي درسونه
52 څېړنې
56 درې مياشتني مهم ټکي: سيګار او د تدارکاتو د اداري ملي ټيم د اداري فساد پر وړاندې
60 درې مياشتني مهم ټکي: د افغانستان د دفاع وزارت له قرارداد څخه د 214 ميليون ډالرو سپماوې
65 په دې ربع کې د سيګار د نظارت نور فعاليتونه
69 د سيګار بودجه
69 د سيګار پرسونل


## برخه 3




**72 د بيا رغونې نوې وضيعت**

73 عمومي کتنه
77 د مالی وجوهو وضعيت
93 امنيت
135 حکومتولي
141 درې مياشتني مهم ټکي: په بودجه کې شامله مرسته
163 اقتصادی او ټولنيزه پرمختيا
167 درې مياشتني مهم ټکي: ورک شوي ګمرکي عوايد
187 درې مياشتني مهم ټکي: د ښوونې او روزنې شمېرنې

# محتویات



## برخه 4


**193 د نورو ادارو څارنه**

196 بشپړ شوی نظارتی فعالیتونه

200 د نظارت روان فعالیتونه


## ضمیمی او پایلیکونه


208 ضمیمه A: د قانون پربنسټ د رپورټ ارزونه

212 ضمیمه B: د افغانستان د بیا رغونی لپاره د متحده ایالاتو مالي وجوه

214 ضمیمه C: د سیګار لیکل شوی لاس ته راوړني

219 ضمیمه D: د سیګار څیړنه او مستقیمه ټیلفونی کرښه

225 ضمیمه E: مخففات

231 پایلیکونه

«که مونږ د [افغان مرستو] مرستندویانو ته د دې خبرې ثابتولو ته دوام ورنه کړو چې مونږ پیسې په صحیح توګه لګوو، پیسې به په بله لاره لاړې شي... زه فکر کوم چې شرطونه هغه لاره ده چې په صحیح توګه د پیسو لګېدل تضمینوي.»

—*د متحده ایالاتو د اردو تورن جنرال ټډ سیمونایټ*

سرچینه: سیګار، له تورن جنرال ټډ سیمونایټ سره مرکه، د جولای 1، 2015

# 1

# د مرستو له پاره
# د عملي کېدلو
# **وړ شرطونو وضع کول**



# د لیکنې محتویات


| | |
|---|---|
| شرطونه لګول ډېر وختونه یو ښه نظر دی | 3 |
| د مشروطیت پراخوالی | 6 |
| د مؤثر مشروطیت په وړاندې ننګونې | 8 |
| د عملي کېدلو وړ مشروطیت له پاره لس کارونه | 13 |
| درې میاشتنې مهم ټکي: د مشروطیت په | 16 |


**په مخکیني مخ کې عکس**

د متحده ایالاتو د اردو د 25م جنګي هوایي غونډ یو غړی د افغانستان په کندهار هوایي ډګر کې افغان عسکرو ته د اوسپنیز څادر (آهن چادر) روزنه ورکوي. (د متحده ایالاتو د اردو عکس چې ډلګی مشر ډانیل شرودر اخیستی دی)

# د مرستو له پاره د عملي کېدلو وړ شرطونو وضع کول

## شرطونه لګول ډېر وختونه یو ښه نظر دی

سره له دې چې د هغو 109.7 ميلیارده ډالرو له جملې څخه چې له 2002 کال راهیسې د افغانستان د بیارغونې له پاره د متحده ایالاتو له خوا تخصیص شوي ول، له 60% څخه ډېرې پیسې یې په امنیتي چارو پورې تړلې وې، د افغانستان وزارتونو ته د ورکړای شوې مرستې چې اردو او پولیس ځواکونه حمایه کړي ډېره یې اصلا د هېڅ شرایطو له تړلو څخه پرته ورکړای شوې وه. دغه حالت بدل شو، او د متحده ایالاتو د اردو له خوا افغانستان ته د امنیتی مرستو په ورکولو کې د شرایطو وروستی ډېروالی په مؤثره توګه د مرستو د شرایطو په پلانولو او کارولو کې موجود دلایل او ننګونې په ګوته کوي. څومره چې د متحده ایالاتو مرستې او نورې نړیوالې مرستې د افغانستان د وزارتونو بودجو ته ځي، د لا ډېرې مؤثرتیا او ښه نظم له پاره شرطونه اېښودل هم د مرستندویانو او هم افغانانو دواړو له پاره یو مهم کار دی.

د افغانستان د امنیت د انتقال د ګډې قوماندانۍ (CSTC-A) قوماندان تورن جنرال ټډ سیمونایټ سیګار ته وویل چې، «په 2013 کال کې، مونږ په هغو پیسو باندې چې د افغانستان د امنیت د انتقال د ګډې قوماندانۍ (CSTC-A) له لارې د افغانستان د دفاع او کورنیو چارو وزارتونو د ملاتړ له پاره تللې، هېڅ شرایط نه ول وضع کړي.»[1] د جګړې عاجلوغوښتنو ډېر نورد پام وړ ټکي هم له پام کې نیولو څخه پاتې کړل.

په 2014 کال کې، په هغه کال چې سیمونایټ د CSTC-A قومانده پرغاړه واخیسته، عملیاتي چاپېریال هغه وخت بدل شو چې CSTC-A په افغانستان کې د متحده ایالاتو د جنګي رول د پای ته رسولو له پاره چمتووالی پیل کړ. د افغانستان د دفاع وزارت یو ژمنتیا لیک – یو دوه اړخیز تړون لاسلیک کړ چې د مرستو له پاره د مرستندوی یا ډونر شرایط ښیي او د وزارت ځواب – چې د امنیتي مرستو د ترلاسه کولو له پاره 17 شرطونه لري، په داسې حال کې چې د کورنیو چارو وزارت په 14 شرایطو لاسلیک وکړ. په 2015 کال کې، دغه دواړه وزارتونه د 93 شرایطو په اساس عمل کوي، چې 45 د دفاع وزارت او 48 د کورنیو چارو د وزارت له پاره اېښودل شوي دي.[2]

دغه شرایط کېدای شي چې په کافي اندازه عملي کړای شي. له CSTC-A سره د افغانستان ژمنتیا لیکونه د متحده ایالاتو د مرستو تخصیصات له داسې شرایطو سره تړي د مثال په توګه دا چې د افغانستان وزارتونه به د پرسونل برېښنایي معلوماتي سیستمونه کاروي او دا چې د قول اردوګانو – یا د ولایتونو په کچه د لګښتونو پلانونه، او همدارنګه د پوځي وسایلو د استعمال پلانونه به سپاري.
د دفاع وزارت سره د CSTC-A د 2014 د ډسمبر د ژمنتیا لیک یو شرط ښیي چې هر کال به د وسلو د موجودۍ 100% لسټ وړاندې کوي، په داسې حال کې چې د له لاسه وتلو وسلو راپور به په 30 ورځو کې دننه سپاري. که چېرې په توپیرونو باندې جوړه رانشي یا حل نه شي، CSTC-A کولی شي چې تجهیزات کنټرول کړي او د ترمیم له پاره په پام کې نیول شوی لګښت ایسار کړي.[3]

سیمونایټ وویل چې د ژمنتیا لیکونو په نویو نسخو کې به ډېر شرایط او بدلونونه رامنځته شي چې موجودې ژبنۍ خلاوې به اصلاح کړي. (له جنرال سره د سیګار د مرکې غټ ټکي د دې راپور په 16-17 مخونو کې دي.)



**په یوه مرکز** کې د افغان ملي اردو له پاره د غونډو د یوې ودانۍ د جوړولو کار پیل کیږي. (د متحده ایالاتو د هوایي ځواک عکس)

د متحده ایالاتو د دفاع وزارت عمومي مفتش (DOD IG) د قاعدې له پاره ملاتړ برابروي – او یو مهم شرط ورسره بړدي. د دفاع وزارت د عمومي مفتش په یوه تازه تفتیش کې راغلي دي چې، «د افغانستان د وزارتونو د لاربښوونې له پاره د جیګپوړو مشاورینو برابرول او په ژمنتیا لیکونو کې د سختو داخلي کنټرولونو شاملول به د ظرفیت جوړونې او شفافیت په برخو کې مرسته وکړي په دې شرط چې د CSTC-A چارواکي د افغانستان د اسلامي جمهوریت حکومت مسؤل او ځواب ورکوونکی وګڼي.» د دفاع وزارت د عمومي مفتش راپور همدارنګه یاده کړې ده چې د CSTC-A د «ترکنټرول لاندې ناکامۍ – داسې ناکامي چې شدید تاوانونه نه اړوي» قاعده «د افغانستان د اسلامي جمهوریت د حکومت چارواکو ته اجازه ورکوي چې کوشش وکړي او له نتایجو سره ځانونه عیارول زده کړي» او په دې توګه د سون د موادو (تېلو)، تهیه جاتو، او د هغو د کارولو په برخو کې د اسنادو په برابرولو کې د پاتې راتللو له درس څخه عبرت واخلي.[4]

هغوی کوشش کوي. د افغانستان په هکله د پیسو د نړیوال صندوق (آی ایم ایف) د 2015 د می راپور ښیي چې «د پرمختیایي لګښتونو د اجرأتو نرخونه د 50% په خواوشا کې پاتې دي.» سربېره پر دې، آی ایم ایف څرګندوي چې، «په بودجه کې د شاملې مرستې ډېرښت، په ځانګړې توګه په بودجه کې د شاملو امنیتي لګښتونو انتقال چې پخوا د مرستندویانو له خوا کېدلو، د افغانستان د جذب ظرفیت له ننګونو سره مخامخ کوي.»[5] مشروطیت یوه داسې طریقه وړاندې کوي چې د مرستو د تطبیق له پاره په یوه ننګوونکي چاپېریال کې د خطر د له منځه وړلو او د ویجاړتیا د کنټرولولو له پاره لاره هواروي.

دفاع وزارت کانګرس ته ویلي دي چې د CSTC-A شرایط «د دې له پاره دي چې د مالي محاسبې، تادیاتو، بشري قوې، او د حقیقي ملکیت د سیستمونو تطبیق یقیني کړي؛ او داسې میکانیزمونه برابر کړي چې د دې مخه ونیسي چې پیسې په نامناسب ډول ورکول شي یا په بل ډول تري سوء استفاده وشي.»[6] د بریالیتوب په صورت کې به د پیسو د لګولو په برخه کې د روښانتیا او ځواب ویني د مسؤلیت په برخه کې د متحده ایالاتو او نورو مرستندویانو ګټې خوندي شي، او هم به د خپل حکومت د مؤثریت او د مرستو د هغو جریانونو د ساتنې له پاره چې د هغوی د ملي بودجې ډېره برخه پوښي د افغان حکومت ګټې خوندي کړي.

د افغانستان «د بدلون لسیزه» تر 2025 کال پورې د یوه قوي او د پایښت وړملي دولت لرلو له پاره لاره هواروي چې په هغه کې افغانان خپل ډېر کارونه پخپله کوي، د حکومت ظرفیت جوړوي، او خپل امنیت پخپله ساتي. له امنیتي سکټورڅخه بهر نوره مرسته لکه هغه پروګرامونه او پروژې چې د متحده ایالاتو د نړیوالي پرمختیایي اداري (USAID) له خوا حمایه کیږي لا له وړاندې څرګند شرایط، معیارونه، راپور ورکوونه، او نور شرایط کاروي. په امنیتي سکټور پورې تړلو مرستو باندې د نورو شرایطو وضع کول کولی شي چې حتی په افغانستان کې د متحده ایالاتو د حضور په راغونډېدلو او د افغانستان وزارتونو ته «د بودجې له لارې» د مرستې په ورتللو سره په هغو نتایجو باندې په تمرکز کې مرسته وکړي.

د دغو حرکتونو په پام کې نیولو سره، د متحده ایالاتو د سنا د مجلس د بهرنیو اړیکو کمېټې د تېر کال په وروستیو کې داسې سپارښتنه وکړه چې د هغو شرایطو، چې د مرستو له پاره د ټوکیو د دوه اړخیزې مسؤلیت منني په چوکاټ کې پرې موافقه شوې وه، د پوره کولو له پاره د افغانستان په مسؤلیت باندې د بیاتمرکز سربېره،

> متحده ایالات باید د خپلو پیسو یوه لوړه فیصدي داسې مشروطه کړي چې: که کارداسې وشي چې افغانان په کې خپل تعهد او ملاتړ وښیي، د متحده ایالاتو د مرستې شرایط کولی شي چې د مرستې په وړاندې زمونږ مسؤلیت منلو یا ځواب ویلو ته وده ورکړي، په افغان حکومت کې اصلاح کوونکي او موسسات پیاوړي کړي او د لا ښو پرمختیایي نتایجو سبب وګرځي.[7]

سیګاردې ته ورته یو موقف نیولی دی. د 2015 په لومړیو کې، د افغانستان د بیارغونې له پاره ځانګړي عمومي مفتش د سنا کمېټې ته بیان کړه چې

> یوه لاره چې د دغو په بودجه کې شاملو مرستو د مدیریت او حساب ورکوونې په برخه کې د افغانستان د وزارتونو وړتیا ته وده ورکوي دا ده چې دغه مرسته مشروطه وګرځول شي او له وزارتونو څخه وغوښتل شي چې د نورو تر څنګ د هغوی د مالي مدیریت، تدارکاتو، ستراتیجیکي پلان جوړونې، او د تفتیش د وړتیاوو د پیاوړي کولو له پاره څرګند ګامونه واخلي.[8]

جمهور رییس اشرف غني هم د 2015 کال د فبروري په یوه ملاقات کې چې له ځانګړي عمومي مفتش سره یې درلود افغان حکومت ته د ورکول کېدونکیو مرستو د مشروطیت په برخه کې خپل ملاتړ څرګند کړ او ویې ویل چې، نوموړی پلان لري چې د هدفونو د ترسره کولو او مهمو کارونو ته د لومړیتوب ورکولو له پاره د خپل حکومت د متمرکز ساتلو په موخه د مشروطیت لاره ونیسي.[9] غني چې د نړیوال بانک یو پخوانی چارواکی دی او له کولمبیا پوهنتون څخه یې دوکتورا ترلاسه کړې ده له اوږده وخت راهیسې د مشروطیت د لارې ملاتړ کوي. په هغه کتاب کې چې نوموړي په 2008 کال کې د حکومتولی له کارپوه کلارلاکهرټ سره په ګډه ولیکه او *ناکام دولتونه او د هغو د کامیابۍ تګلارنومېري*، د «ګډو مسؤلیتونو یا د روښانه مشروطیتونو» د یوې «مستقلې ستراتیجی» د یوې برخې په توګه وړاندیز کړ څو داخلي او بهرني برخه وال د «ګډې تګلارې، معیارونو، او اصولو په اساس» په پرمختیایي کارونو کې سره برابر کړي.[10]

په عین حال کې، متحده ایالاتو په نړیوالو پروګرامونو لکه د نړیوال بانک له خوا اداره کېدونکی د افغانستان د بیارغونې وجهي صندوق او د آی ایم ایف اړوند د کریډیټ مرکز (*Extended Credit Facility*) کې د مشروطیت تشویقي طریقې حمایه کړې دي، په داسې حال کې چې یو ایس ای آی ډي معمولا له افغانستان او نوروهېوادونو سره له خپلو دوه اړخیزو مرستو سره شرایط ورتړي.[11] یو ایس ای آی ډي له هغو سره په توپیر، په افغان پالیسی، حکومتي اداري، یا د ځایي موسساتو په جوړښت کې د تغیراتو پرځای په مستقیمو مشخصاتو («مخکې ترمخکې شرطونو،» لکه د مرستو له یوه مؤکل څخه د بهرني مالي تفتیش د راپورونو کاپیانې)، د پروژې شاخصونو، او د پروګرام پر نورو تشویقي اړخونو باندې تمرکز کوي.[12]

د مرستندویانو انګېزې که جیوپولیټیکل، پرمختیایي، یا د بشري حقونو په اساس وي، تش چکونه که موجود هم وي، ډېر کم وختونه وړاندې کېږي. لکه څنګه چې د ناروې د بهرنیو چارو د وزارت یوه راپور په مطلق ډول وویل، «دا به غیرضروري وي چې تکرار شي چې: مرسته هېڅکله هم بلا قیدوشرطه نه ورکول کېږي.»[13] حتی په مستقیم ډول، له حکومت څخه حکومت ته د مرستو انتقال د داسي پټ دلیل په اساس کېږي چې د ترلاسه کوونکي چلند لږ تر لږه د مرستندوی له پاره د منلو وړ وي.

سربېره پر دې، مشروطیت په لویه کې د تایید وړ دی. د مرستندویانو له پاره چې غواړي له افغانستان او په ورته وضعه کې نورو سره مرسته وکړي پوښتنه تر ډېره دا نه ده چې آیا مشروطیت وکاروي که نه، بلکه دا چې څنګه یې په صحیح توګه وکاروي.

## د مشروطیت پراخوالی

مشروطیت په خاص او عام ژوند کې او همدارنګه په نړیوالو چارو کې پراخه پیاوړتیا رامنځته کوي. خلک شاید داسي مشخصه کړي چې د هغوی له ښوونځي سره مرسته یوازې په هغو سکالرشیپونو باندې ولګول شي چې د شمالي کارولینا د فلټ رک د زده کوونکیو له پاره ګټه ورسوي. ښایي چې ویلزخپلې خورزې ته یوازې هغه وخت پیسې ورکړي چې هغه ښوونځي پای ته ورسوي او سګرټ ونه څکوي. د سوداګرۍ قراردادونه معیارونه، مواد، خدمتونه، او د پای ته رسولو نېټې هڅوي. د شغل د نشتوالي د بیمې ګټې په دې مشروطې وي چې ترلاسه کوونکي یې په فعاله توګه د یوې وظیفې لټون کوي.

د نړیوالو چارو په قاموس کې، د اقتصادي همکارۍ او پراختیا سازمان (OECD) یادونه کوي چې، «د مرستو مشروطیت په نړیواله سطحه یو منلی تعریف نه لري او یو لړمختلف مشغولیتونه ورنغاړي.»[14] شرطونه کولی شي چې د ترلاسه کوونکي حکومت چې ریفورمونه ترسره کوي د اوبه لګولو د یوې پروژې له پاره د مالیې له کوډ څخه نیولې، د راپور ورکولو تر شرایطو، او تعمیراتي ضرب الاجلونو پورې په هرشي باندې تاثیر وکړي.

د مشروطیت هدفونه هم کېدای شي چې سره فرق وکړي. په هغه کې ښایي د پالیسی، پروسې، یا د چلند نتایج په پام کې ونیول شي، او د دې په ځای چې د پیسو استعمال په کې په ساده ډول وڅارل شي او تایید کړای شي، پیسې په کې د تشویقي وسیلې په توګه وکارول شي. د مثال په توګه، په 1984 کال کې، د متحده ایالاتو کانګرس ایالتونو ته د لویو لارو د فدرالي وجهې صندوق په تخصیصاتو شرایط وضع کړل: په فدرالي حکم کې راغلي ول چې ایالتونه باید لږ ترلږه 8% پیسې چې هغوی د پرمختیایي پروګرامونو له پاره ترلاسه کړې وي د ماشومانو د خوندیتابه په موانعو باندې ولګوي مګر دا چې لږ ترلږه له څلورکلنو څخه د کم عمر له څلورو څخه درې برخې ماشومان لا له پخوا څخه د موټرو سیټونه کاروي، او دا یې لازمي وګرځوله چې له هر هغه ایالت څخه به 10% تخصیصات ایسار کړي چې له 21 کلنی څخه د کم عمر خلکو ته یې د الکولي مشروباتو د پېرودلو یا لرلو اجازه ورکړې وي.[15]

په بېخي تازه وختونو کې، په 2015 کال کې مشروطیت د یونان په مالي او د پورونو د بخښنې په بحران کې په پراخه کچه راڅرګند شو. د راپورونو له مخې، له آی ایم ایف، اروپايي کمېسیون، او د اروپا له مرکزي بانک څخه د یونان په نړیواله کچه پورد هېواد د ټول ناخالص کورني تولید تقریبا 180% جوړوي، په داسي حال کې چې د هېواد کورنی بودجه په ژوره توګه په کسر کې ډوبېدله. یونان له نړیوالو پور ورکوونکیو او پور اخیستونکیو سره د دوه اړخیزو مقرراتو او شرایطو په اساس هڅه کوله چې نور پورونه واخلي څو د پورونو د نه تادیې او د بانکونو د دېوالي کېدلو مخه ونیسي. د نورو تر څنګ د بحث وړ ټکو کې د پور ورکوونکیو غوښتنې شاملې وې چې د نویو یا زیاتو مالیو غوښتنه یې کوله، د تقاعد د عمر د اندازې د لوړولو او لا ډېرې کاري مرستې له لارې یې د تقاعد په تادیاتو کې د کمولو غوښتنه کوله، او هم یې د عامه سکټور په لګښتونو بندې محدودیتونه لګول غوښتل. پور اخیستونکیو د داسي شرایطو غوښتنه کوله چې هغوی استدلال کاوه چې کولی شي مطمئنه کړي چې نوي پورونه کېدای شي بېرته تادیه کړای شي؛ یوناني چارواکو د ریفورمونو د یوې کڅوړې پرضد مقاومت

کاوه چې هغوی ادعا لرله چې ستونزې به ډېرې کړي.[16] په لنډه توګه استدلال د مشروطيت او تفاوت او تنګسي د رامنځته کېدلو په هکله وو.

د نړيوال بانک او آی ايم ايف پورونو او بلاعوضه مرستو لا له پخوا راهيسي شرايط درلودل، لکه دا چې ترلاسه کوونکي به يې د عوايدو، سوداګرۍ، د پيسو د پاليسۍ، يا د حکومتولۍ د ريفورمونو په سر موافقه کوي. د مثال په توګه، آی ايم ايف د پاليسۍ داسي شرايط کارول لکه د 1950مو کلونو له نيمايي څخه د پروګرامونو په تمويل کي د سوداګرۍ د نه برابرۍ له منځه وړل، په داسي شکل چې مشروطيت د وخت په تېرېدلو سره پراختيا وموندله او ډېر زور «د جوړښت په اصلاح» باندي واچوي، عام تشبث او اجتماعي تاميناتو ته اولويت ورکړي او اصلاح يې کړي او د پروګرام څارنه وکړي.[17] د مرستو دوه اړخيز مرستندويان، ګډ اړخيز وجهي صندوقونه، او غيرحکومتي موسسات هم له خپلي مرستي سره شرايط لکه د پروګرام شرايط او د پروژې يا نتايجو شاخصونه ضميمه کوي.

هغو نړيوالو مرستندويانو چې په 2012 کال يې په ټوکيو کي سره وليدل هغوی د ټوکيو د دوه اړخيزې مسؤليت منني په چوکاټ (TMAF) کي د مشروطيت تېره کېښوده چې د هغو شرايطو په اساس له افغانستان سره په راتلونکي کي د مرستي کولو له پاره اصول وضع کېږي. د ټوکيو د دوه اړخيزې مسؤليت منني يا حساب ورکووني د چوکاټ سند وايي، «په روښانه توګه د پرمختيايي او د حکومتولۍ اړوند معيارونو څارنه يوه داسي پياوړې وسيله ده چې د افغانانو په وړاندې حساب ورکووني ته وړتيا ورکوي، او د مرستندويانو او افغان حکومت په دوه اړخيزو ژمنتياوو باندي تاکيد کوي څو لا ښه پرمختيايي اجرآت رامنځته کړي.»[18] د هغه اساس تطبيق د TMAF له خوا د مرستندويانو د هغه تصميم په هکله څرګندوني ته لاره هواره کړه چې د تشويقي ميکانيزمونو له لارې د برابرېدونکي فنډ برخه تر 2025 کال پورې چې د افغانستان له پاره د «انتقال لسيزه» نومېږي 20% ته لوړ کړي. او دا کار د دې هدف له پاره کوي چې «تشويقي پروګرامونه بايد داسي لارې چارې برابرې کړي چې افغان حکومت ته د ځانګړيو اقتصادي پرمختيايي لاسته راوړنو په برخه کي د پرمختګ په اساس د بودجې له لارې لا ډېرې انعطاف منونکي مرستي برابرې کړي.»[19] متحده ايالات چې د ټوکيو د دوه اړخيزې مسؤليت منني د چوکاټ (TMAF) منونکی او د نړيوالي مرستي د نوښتونو لکه د افغانستان د بيارغوني وجهي صندوق (ARTF) يو مرستندوی دی، افغانستان ته په خپله دوه اړخيزه مرسته کي د شرايطو په اساس تشويقيو څخه کار اخيستی دی.

جزيات چې هرڅه وي او ځای چې هرچېرې وي، مشروطيت کولی شي چې د لاندې هغو په شمول ګڼ هدفونه ترسره کړي:

- د يوه ميکانيزم په توګه چې د پاليسۍ، پروګرام، يا پروسې تغيرات تامين کړي.
- د يوې لارې په توګه چې د ترلاسه کوونکي هېواد ظرفيت جوړونه تشويق کړي.
- د يوې وسيلې په توګه چې ځانګړي امنيتي او پرمختيايي نتايجوته وده ورکړي.
- د يوې وسيلې په توګه چې د ترلاسه کوونکي په چلند باندې تاثير وکړي.
- د يوې لارې په توګه چې د مرستندوی لورې پيسې په کي څرګندې شي او ښه حساب ورکول شي.

په افغانستان کي هم د يونان په څېر د مشروطيت اصول په پام کي نيول کېږي. خو دا يې له يونان سره توپير لري چې، دغه هېواد کولی شي چې د خپلې 60% بودجې له پاره په بهرنيو مرستندويانو باندې تکيه وکړي، چې په دې توګه لږ بهرنی پور– د سړي سر کلني عايد (GDP) له 7% څخه کم لري. بدبختانه، لکه څنګه چې سيګار او نورو موسسو له پخوا راهيسي په دې هکله اسناد ترلاسه کړي او راپور يې ورکړی دی، د افغانستان ستونزې د حکومتي عوايدو په نسبت ډېرې پراخې دي. هلته د بيارغوني د پروګرام ترسره کول د بېلابېلو طريقو په پام کي نيولو ته اړتيا لري چې په هغو سره مشروطيت کولی شي چې د مرستندويانو د ارادو له څوابولو څخه وځي او ځيني وختونه حتی هغه لږ په پام کي ونيسي.

## د مؤثر مشروطیت په وړاندې ننګونې

نړیوال بانک خپل د 2005 *شرایط بیا په پام کې ونیول شول (Conditionality Revisited)* راپور کې وویل، «ډېر شرطونه لګول نشي کولی چې د کمزوري حکومت ژمنتیا یا د تطبیق ظرفیت جبران کړي.»[20]

دغه اخطار په افغانستان کې اعتبار لري. د افغانستان په هکله د اسیایي پرمختیایي بانک وروستی معلوماتي پاڼه یادوي چې «په ملي امنیت کې نه ثبات، سیاسي عدم اطمینان، بې نظمه حکومتولي، او د قانون په حاکمیت کې د ماتېدلو وړتیا» په شمول «عملیاتي ننګونې» موجودې دي. بانک زیاتوي چې افغانستان په پالیسی او تاسیساتو، په خپل پراخ غیر رسمي اقتصاد کې پراخ ظرفیت، او د نشه یي توکو د قاچاق پر ضد عملیاتو کې ریفورمونو ته اړتیا لري. بانک داسي نتیجه اخلي چې، «دغه ننګونې د اداري فساد او په عمومي یا حکومتي سکټور کې د اداري فساد او کمزورو اجرأتو سبب ګرځېدلي، چې د [پرمختیایي] پروژو تطبیق یې لا ډېر سخت کړی دی» او د هغو لګښتونه یې لوړ کړي دي.[21]

سیګار په مکرر ډول داسي راپور ورکړی دی چې له 2002 کال راهیسي د افغانستان بیارغونه د وزارتونو د ظرفیت د محدودیتونو چې د پرمختیایي بودجې له پاره د اجرأتو نرخونه ټیټ ساتي او پراخ اداري فساد په شمول د یو لړ سختو محدودیتونو لاندې ترسره شوې ده. د 2015 کال له جون راهیسي د افغانستان د عامه پالیسی د تحقیقاتو د مستقلي اداري راپور یادونه کوي چې:

> د اکثرو وګړو، افرادو او موسسو له پاره چې د پرمختیایي مرستو کار ته په جدي نظر ګوري، افغانستان د کار له پاره یو له ډېرو سختو او په اداري فساد اخته ځایونو څخه دی. د دې خبرې یو ثبوت دا حقیقت دی چې هلته 27 بېلابېل داسي اصطلاحات یا طریقې موجودې دي چې د خدمت کاروونکي په دې خبروي چې هغوی باید یو رشوت ورکړي.[22]

په عام نظر، اداري فساد په افغانستان کې نه یوازې پراخ خپور شوی دی، بلکه کېدای شي چې هغه لکه څنګه چې د آیساف پخواني قوماندان جنرال جان الن ویل «د عصري افغانستان د اوږدې بقا له پاره په ګواښ» باندې واوړي.[23]

سیګار د لوړې کچې اداري فساد په هکله راپورونه ورکړي دي لکه په تېلو کې د 200 میلیونه ډالرو د غلا کولو مسئله چې جمهور رییس غني یې دې ته برابر کړ چې د تدارکاتو ملي اداره جوړه کړي، د کابل بانک لوټل، او په دې برخه کې د مسؤلو اشخاصو په قانوني تعقیب کې تبعیضي پرېکړې. بلکه اداري فساد د افغانانو د ژوند ډېرو ورو برخو ته هم لاره موندلې ده. د مثال په توګه، د اداري فساد پر ضد د افغانستان ګډ ملتیزخپلواک کډ د څارني او ارزوني کمېسیون (MEC) د کار، تولنیزو چارو، شهیدانو، او معیوبینو په وزارت کې د معیوبیت د تادیاتو یوې وروستی بیاکتني پر وخت داسي شرایط وموندل چې د اداري فساد له پاره برابر ول. دغه کمېسیون خپل د 2015 د جون په راپور کې وموندل چې د وزارت د وړتیا معلومولو پروسه د اتباعو د معیوبیت د غوښتنلیکونو د طی کولو له پاره د بې کفایته کارمندانو د کار له امله «پېچلې، بې کاره، او وخت ضایع کوونکې» ده. دغه وضعیت «د حکومت د فاسدو چارواکو له پاره داسي فرصتونه برابروي چې په ټاکلي وخت سره د اسنادو د برابرولو له پاره رشوت وغواړي.»[24]

دوه هالنډي محققین – چې یو یې اوس د نړیوال بانک پرمختیایي کارپوه دی – وایي «افغانستان کېدای شي د یوه کمزوري هېواد په توګه وپېژندل شي چې له مرستو نه ترلاسه کېدونکې داسي ثابت عاید لري چې پرې پایي» هسې چې یو شمېر نورهېوادونه بیا د تېلو په عوایدو باندې ژوند کوي. «په دغسې یو حالت کې دولت جوړونه نشي بریالۍ کېدلی.» هالنډي پوهان ویلیمن ویرکورین او بیرټاین کامپیوس لیکي، د یوه دولت له پاره چې هغه په عوایدو باندې په کورنی مالیه ټولونه باندې تکیه نه لري او د اتباعو

له خوا د حساب کتاب محدود فشار ویني ښایي د تاسیساتو د جوړولو او د اقتصاد د پراختیا له پاره لږ کار وکړي. د پیسو را ورېدل یا د مرستو جریانونه ښایي د هغه پرځای د امتیازاتو ورکوونکې شبکې قوي کړي، اقتصادي استثمار وهڅوي، او اداري فساد او ضیاع پراخه کړي. مؤلفین وایي چې په یوه داسې هېواد کې چې له بهرنۍ مرستې څخه په ترلاسه کېدونکیو ثابتوعوایدو باندې ولاړ وي «هغه څه چې مرستندوی چارواکي ورته (اداري فساد) وایي داسې یو اضافي شی نه دی چې کېدای شي له منځه لاړ شي، بلکه هغه د حکومت یوه لویه یا مرکزي برخه ده.»[25]

البته، اداري فساد کوم نوی شی نه دی او دا یوازې په افغانستان کې نه دی. د سټانفورډ پوهنتون استاد سټیفن ډ. کراسنر لیکي چې، د تاریخ په اوږدو کې واکمنو د دولت کنټرول ته د شخصي شتمنۍ او قدرت د ساتنې په سترګه کتلي دي نو «فساد یو غیرعادي شی نه دی بلکه هغه داسې یو غوړونکی شی دی چې د هغوی واکمني ممکنوي.» په نتیجه کې، او د ښو انتخاباتو د کولو له پاره د بهرنیو مرستو سره سره، د هغو نتایج «اکثر وختونه لاره کږوي یا داسې مشران رامنځته کوي چې د حساب کتاب ورکوونکي حکومت په جوړونه کې علاقه نه لري.»[26]

## د ځایي مشرانو چلندونه فرق رامنځته کوي

د بهرنیو مرستو په هکله خپرونې د مرستو د ترلاسه کوونکي هېواد په داسې تعهداتو باندې ډکې دي چې وایي مرستندویې چارې به حمایه کوي او د هغو په وړاندې به مسؤلیت پرغاړه اخلي. د مثال په توګه، د بهرنیو چارو وزارت اړوند د نشه یيزو توکو او د قانون د حاکمیت د چارو نړیواله اداره له جرایمو څخه د پروګرامونو د پاکولو له پاره په خپل لارښود کې د احتیاط په توګه وایي چې، «دا ضروري ده چې د یوه پروګرام له اصلاح کولو څخه مخکې د کوربه هېواد د مشرانو سیاسي ملاتړ ترلاسه کړای شي.»[27]

د مرستندویو پروګرامونو په هکله د صحیح پوهېدلو، ملاتړ، او قبلولو او د هغو له شرایطو څخه پرته، د موافقې بنه ښایي اساسي حقیقتونه چې د مرستو هدفونه له پامه غورځوي پټ کړي. کېدای شي چې د ترلاسه کوونکي هېواد مشران د پیسو د لنډې مودې د کنټرول په فرصتونو باندې متمرکز کړای شي او د اوږدې مودې د نتایجو په هکله فکر ونه کړي. هغوی ښایي د منلو له پاره لنډمهاله لوبو ته ورته کارونه وکړي چې په ظاهره لوی ښکاري او اوازې خپروي خو په حقیقیت کې قوانین تر پښو لاندې او ورځنۍ چارې پټې کړي. ښایي چې هغوی دا خوښ کړي چې د هغو اصلاحاتو په عملي کولو کې د پاتې راتګ له امله جریمې ورکړي چې په حقیقت کې یې هغوی نه غواړي. یا دا چې هغوی ښایي په ساده ډول دا سیاسي او اداري نفوذ ونه لري چې په لومړي قدم کې منل یا قبلول پلي کړي.

د هایټي له پاره د مرستو د نړیوالو پروګرامونو د ناکامۍ په هکله په خپل راپور کې د عامه ادارې ملي اکاډمۍ داسې نتیجه واخیسته چې «حکومتونه به تقریبا د هر څه کولو سره موافقه وکړي» څو مرستې ترلاسه کړي، او «دا چې هغوی یې مرسته کوي که څنګه هغه بېله خبره ده.» اکاډمۍ یادونه کړې ده چې یو ځل چې د مرستو بهیرونه پیل شي، ښایي چې سیاسي فشارونه یې حتی له ضایعاتو سره سره جاري وساتي، ځکه چې «د مرستو بندول یا ورو کول کولی شي چې بهیر پڅ کړي یا یې په بله واړوي.»[28] دغه واقعه کېدای شي چې نورې ستونزې رامنځته کړي. د واسر پوهنتون اقتصادپوه کرسټوفرکیلبي، چې د هغه د احصایې تحقیق دا موندلې ده چې په ملګرو ملتونو کې نړیوال بانک ته د مرسته ترلاسه کوونکي هېواد په حق کې د رایه ورکوونکیو غړو او د پور د شرایطو د کمزوري تنفیذ ترمنځ روابط موجود وي، وایي چې مرستندویې ادارې «اکثر وختونه د شرایطو په عملي کولو کې پاتې راځي.» نوموړی لیکي چې، «دغه حالت د مشروطیت اعتبار له پامه غورځوي، چې دا بیا په خپل وار سره د پالیسۍ د ریفورمونو د تطبیق له پاره تشویقي تادیات کمزوري کوي.»[29]



**د متحده ایالاتو یو تورن** او د بیارغونې د یوه افغاني شرکت څښتن د هغه کار په هکله خبرې کوي چې په دره ولسوالۍ کې د افغان ملي امنیتي پولیسو په ماموریت کې باید وشي. (قاطع ملاتړ، عکاس کارپوه جیمزویلټن)

د مشروطيت د تنفيذ سختوالی چې له هرځای نه سرچينه اخلي، که له غيرشفافو شرايطو څخه وي، له نه خوښي څخه وي، د امنيتي انديښني له امله وي، او که د نورو سرچينو له امله، تاثير يې کېدای شي بد وي. د مرستو ترلاسه کوونکي هېواد مشران ښايي داسي نتيجه واخلي چې د ناکامی په هکله د معلوماتوترلاسه کولو په برخه کې د مرستندويانو سياسي حساسيتونه، د لاسته راوړنو د لغوه کولو له پاره نه رضايت، يا له پرمختيايي څخه د لوړو هدفونو ستراتيژيکو هدفونو ته لومړيتوب ورکول به هغوی د مرستندويانو له خوا د شرايطو تنفيذ څخه خوندي کړي. لکه څنګه چې د ستانفورډ پوهنتون پروفيسر کراسنر مشاهده کړي ده، کله چې ترلاسه کوونکي د منابعو فقدان ولري يا د مرستندويانو د هدف تاميناتي علاقه مندی په محاسبو برابرۍ نه وي يا د ظرفيت جوړوني د مرستي د کمولو ګواښونه ډېر باوري وي. نوموړی وايي چې په توپير سره په انګولا کې، «چېرې چې د طبيعيي منابعو پراخ عوايد موجود ول، يا افغانستان او عراق، چې هلته متحده ايالات اساسي او مهمي امنيتي علاقه مندۍ لري، د مرستو د بندولو ګواښونه يا نامناسب دي يا دا چې اعتبار نه لري.»[30]

تر دې بدتر بيا داسي دی چې که چېرې تاثير په غلطو خلکو باندې وشي، ښايي چې د مرستو ودرول په ټاکلي هدف تشويقي تاثير ونه کړای شي. افغانستان ته د مرستو ورکولو په هکله د متحده ايالاتو د سولې د انستيټيوټ (USIP) يوه معلوماتي پاڼه وايي، «د مثاله په توګه، د جنسيت يا جنډر په برخه کې د محدود پرمختګ له امله د جنسيت يا جنډر په پروګرامونو باندې د پيسو بندول ښايي چې سرچپه تاثير وکړي او ښايي چې يو شمېر [محلي] فعالين دغه ډول د پيسو بندولو ته ښه راغلاست ووايي.»[31] که د مشروطيت جريمي له شرايطو سره د موافقو خلکو حقيقي کټې ونه ګواښي، دې ته ورته مسايل کولی شي چې د هغو پروګرامونو له پاره چې د اداري فساد د کمولو، قضايي سيستمونو ته د ودې ورکولو، يا د انتخاباتي تقلباتو د محدودولو له پاره کارول کيږي د مشروطو جريمو له پاره د اجرا وړ وګرځي.

په داسي حال کې چې په دغه ډول حالتونو کې د يوې مرستي ودرول ښايي دا پراخ پيغام ولېږدوي چې مرستي تضمين نه دي او دا چې د شرايطو نه پوره کول کولی شي چې په نتايجو باندې تاثير وکړي، ښايي چې مهم پروګرامونه له ستونزو سره مخامخ شي په داسي حال کې چې د هغو چاراواکو، چې د پروګرام د نه ترسره کولو سبب ګرځي، نه ترسره کولو ته يې ښه راغلاست وايي يا يې تحمل کوي، په چلند باندې تاثير ونه کړي. د متحده ايالاتو د سولې د انستيټيوټ معلوماتي پاڼه په دې هکله وايي، «د [افغانانو] له خوا د کار د نه ترسره کولو په مقابل کې ډېر کلک غبرګون کېدای شي چې په يوه خبيثه حلقه باندې بدل شي چې په نتيجه کې يې افغان حکومت لږ مرسته ترلاسه کړي، او په دې توګه د هغوی ظرفيت او ورپسي د هغوی مرسته لا نوره کمه شي.[32]

## مؤثر مشروطيت له نورو ځنډونو سره مخامخ کيږي

له سيګار څخه پرته د متحده ايالاتو د نورو ادارو عمومي مفتشينو هم د ترتيباتو او په عمومي توګه د شرايطو په تنفيذ کې ستونزي ليدلي دي. د مثال په توګه، د هېواد په سطحه د متحده ايالاتو د نړيوالي پرمختيايي اداري (USAID) د عمومي مفتش د اداري لوی رييس د 2014 په اکتوبر کې په يوه يادښت کې ليکلي چې – د لارښووني په خلاف – په داسي پروګرامونو کې چې د افغان کاري قوي پرمختيا، صحي خدمتونه، د برېښنا برابرول، هوايي ډګرونه، او ښوونه روزنه يې تر پوښښ لاندې نيول، هدفونه، نتايج، منابع، او ټاکلي نېټې نه دي ذکر شوي. په دغه يادښت کې راغلي دي چې د شفافيت نشتوالی د سوء تفاهم سبب ګرځي، او کېدای شي چې د تطبيق او د خطرونو د له منځه وړلو مخه ونيسي. د متحده ايالاتو د نړيوالي پرمختيايي اداري د عمومي مفتش اداري په خپل يادښت کې ليکلي ول چې، «له تېروتنو ډک اسناد کولی شي چې دا سخته کړي چې له تطبيقوونکيو موسساتو سره حساب کتاب وشي.»[33]

د مشروطیت د مؤثر تطبیق په برخه کې یو بل خنډ کیدای شي چې د عملیاتي معیارونو له مشاهدې ځخه مخکې د هېواد په سطحه یا اداري په لوړه سطحه د هدفونو د ترسره کولو د ملاتړ له پاره حقیقي یا فرضي فشار وي. د افغانستان د وزارتونو د ارزونو په برخه کې د سیگار د 2014 تفتیش وموندله چې په داسې حال کې چې وزارتونو مخکې تر دې چې پیسې ورکول شي د USAID شرطونه پوره کړل، هغو شرطونو د خطر د له منځه وړلو په برخه کې د 333 گامونو لړ شمېر یې منعکسول چې USAID/ افغانستان مخکې وزارتونو ته په مستقیم ډول د پیسو ترلاسه کولو له پاره په گوته کړي ول.[34]

د 2015 په فبرورۍ کې، د متحده ایالاتو د دفاع وزارت عمومي مفتش د CSTC-A د هڅو په هکله چې د افغانستان د وزارتونو د ظرفیت د انکشاف په برخه کې مرسته کوي د اندېښنو راپورونه ورکړل. د دفاع د وزارت عمومي مفتش ته د داسې داخلي فشار په هکله ویل شوي وو چې «پرې نه ږدي چې افغانان ناکام شي او په سختۍ سره ترلاسه شوي لاسته راوړني وساتي چې دغه کارد وزارتونو په کارونو کې نیمگړتیاوې له پامه وغورځولې» او دا چې د CSTC-A چارواکو ډېر وختونه هغه کارونه ترسره کول چې باید وزارتونو ترسره کړي وای، چې دغه کار د ژمنتیا لیکونو شرایط پوره نه کړای شول، او د مالیې وزارت ته یې اجازه ورکړه چې د ځارنې له پاره د هغوی له حضور ځخه انکار وکړي.»[35]

د دفاع د وزارت د عمومي مفتش د راپور په هکله له بحث کولو ځخه پرته، د CSTC-A اوسنی قوماندان سیگار ته ویلي وو چې هغه د مشروطیت په هکله یو سخت دریځ لري. تورن جنرال سیمونایټ سیگار ته وویل چې که د شرایطو په پوره کولو کې د افغان وزارتونو پاتې راتلل د ژوند له لاسه ورکول یا د جگړې په ډگر کې د ماتېدلو گواښ رامنځته کوي هغه به په خپله خبره ونه درېږي، خو له هغې پرته نوموړی باور لري چې مالي ډسپلین او د ظرفیت جوړونې ضرورتونه چې هرځل افغان وزارتونه ستونزې لري د هغوی د ژغورنې مخه نیسي.[36]

کله چې ځانگړي عمومي مفتش ساپکو د 2015 په فبرورۍ کې کابل ته سفر وکړ، په هغو معلوماتو کې چې CSTC-A هغه ته ورکړل د ژورې بیاکتنې دغه متن هم موجود وو:

> د ژمنتیا د لیک تنفیذ مهم دی – د افغانستان اسلامي جمهوریت به **هېڅکله** دا زده نه کړي چې په خپله بودجه کې دننه لگښت وکړي تر هغه چې ائتلاف پرېږدي چې هغوی پاتې راشي [په اصل باندې تاکید] – « CSTC-A تل لگښت ورکوي» باید بدلون ومومي.[37]

## وجهي صندوقونه، د لگښتونو بارونه، او د ژمنتیا یا ملاتړ موضوع

حتی له ښو ارادو او جزیاتو ته له پاملرنې سره هم، د شرایطو ځارنه کیدای شي د بهرنیو شرایطو له امله محدوده شي. په دغو شرایطو کې کېدای شي په هغه مشروطیت باندې چې د گڼ اړخیزو وجهي صندوقونو له خوا لگول کیږي د متحده ایالاتو نفوذ شامل وي. گڼ اړخیز وجهي صندوقونه لکه د افغانستان د بیارغونې وجهي صندوق (ARTF) او د افغانستان له پاره د قانون او نظم وجهي صندوق (LOTFA) شرایط کاروي، خو هغه د داسې مدیرانو له خوا ټاکل کیږي چې د متحده ایالاتو تر عملیاتي کنټرول لاندې نه دي. سیگار ډېر ځلې د وجهي صندوقونو له خوا د شرایطو د ځارنې او د متحده ایالاتو د مرستو د کارونې په هکله اندېښنې ښودلې دي.[38]

متحده ایالاتو د افغانستان د بیارغونې له وجهي صندوق (ARTF) سره د خواوشا 2.8 میلیارده ډالرو د ورکړې ژمنه کړې ده. د دغو پیسو مدیریت د نړیوال بانک په لاس کې دی، چې د BDO UK LLP په نامه برتانوي کمپنۍ یې د څارنې د مدیر په توګه په کار ګومارلې ده. بي ډي او خپل د 2015 د فبرورۍ په راپور کې یاده کړې ده چې د هغوی کارمندان نشي کولی چې «د روانو امنیتي اندېښنو له امله» د افغانستان د 34 ولایتونو له جملې څخه پنځو ولایتونو ته لاړ شي.[39] بي ډي او ویلي دي چې هغه د دې مسئلې په سر له نړیوال بانک سره خبرې کوي. له ای آر ټي ایف سره د متحده ایالاتو د کړې ژمنې د اندازې په پام کې نیولو سره، د یادې مسئلې په هکله خبرې اترې به د متحده ایالاتو له پاره مهمې وي.

د شرایطو ترسره کول به د LOTFA له پاره، چې د ملګرو ملتونو د پرمختیايي پروګرام (UNDP) له خوا کنټرولېدونکې اداره ده او د افغانستان د کورنیو چارو وزارت او افغان ملي پولیسو ته د تادیاتو مدیریت او ملاتړ برابروي، هم یوه جنجالي مسئله وي. د متحده ایالاتو، اروپايي اتحادیې، او جاپان په شمول پنځه لس مرستندویان LOTFA ته پیسې ورکوي. د 2015 د جون په پای کې، د کورنیو چارو وزارت او د ملګرو ملتونو پرمختیايي پروګرام (UNDP) د LOTFA له پاره یو درې مرحله یي پروګرام چې هره مرحله یې 18 میاشتې وخت نیسي اعلان کړ چې په دې کې د هرې مرحلې په پای کې د مشخصو معیارونو په وړاندې د پرمختګ بیاکتنه شامله ده. د مثال په توګه، وړاندیز شوي شرایط باید د 2016 تر ډسمبر پورې پوره کړای شي او د LOTFA د تادیاتو د مدیریت وظیفه باید د کورنیو چارو وزارت ته په لاس ورکول شي چې په دې کې 100% پولیسو ته د ځانګړیو هویت کارډونو صدور، په کمپیوټري سیستمونو کې د پرسونل او تادیاتو د چټکې تازه کوونې ثبتول، د 100% اتومات تادیاتو ترسره کول، او د تادیاتو د پروسې مستقل تایید هم شامل دي.[40] LOTFA به خواوشا 843 میلیونه ډالر د مالیې وزارت ته په لاس ورکړي چې د افغان ملي پولیسو تنخاګانې ترې ورکړي، او 38 میلیونه ډالر نور به د امنیت او عدالت په برخو کې د ظرفیتونو په پیاوړتیا او ریفورمونو باندې ولګوي.[41]

له افغانستان سره د مرستو په مشروطیت کې یو بل تغیر د ټوکیو د دوه اړخیزې ځواب ویني د چوکاټ بیاکتنه ده چې افغانستان او نړیوالو مرستندویانو پرې په 2012 کال کې هوکړه کړې ده. د هغه چوکاټ له مخې د مرستندویانو د مرستې یوه برخه د انتخاباتو او فساد ضد ګامونو په برخو کې له ریفورمونو سره د افغانانو په اجرأتو یا «سختو ترسره کېدونکو کارونو» پورې مشروطه شوې ده. د ځینې هدفونو په ترسره کولو کې د افغانانو له ناکامۍ څخه وروسته، او د ملي وحدت د نوي افغان حکومت په رامنځته کېدلو سره، ګوندونه په دې متفق شول چې په چوکاټ باندې بیاکتنه وکړي. د بهرنیو چارو وزارت وايي «هدف دا دی چې تازه کړای شوی چوکاټ د لوړپوړو چارواکو په مجلس کې تایید کړای شي چې اوس د سپټمبر په اوایلو کې په کابل کې دایرېدونکی دی.»[42]

د مشروطیت په کارولو کې یو بل د پام وړ ټکی دا دی چې هغه د مرستې په ترلاسه کوونکي هېواد باندې څه تاثیر لري. UKAN یا د برتانیا د مرستو شبکه چې یونیسیف، پاملرنه (CARE)، او اکسفام د خپلو 37 غړو موسساتو په ډله کې شمېرې، په دا وروستیو وختونو کې داسې څرګندونه وکړه چې د پالیسۍ ځینې شرایط سره له دې چې «ولسواکو پروسو یا د هېواد اړتیاوو ته یې لږ پام کړی دی همدارنګه د هېوادونو اقتصادي ګټو په ځانګړې توګه د جوړښت د برابرۍ د شرایطو – خصوصي کولو، د سوداګرۍ ازادولو، او د حکومتي سکټور د ریفورمونو له پاره تاواني ثابتې شوې دي.»[43]

UKAN همدارنګه یادونه کوي چې د مشروطیت ډېرښت کولی شي چې په هغو هېوادونو چې لا له پخوا څخه کمزورۍ اداري ظرفیت لري اداري بوج رامنځته کړي: «دا د مخ پر ودې هېوادونو له پاره غیرعادي نه ده چې د مرستندویانو د ګروپونو له خوا چې هر یو یې جلا لومړیتوبونه لري د یو شمېر شرایطو د تطبیق غوښتنه ترې وشي.»[44] د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت تاییدوي چې: «د تشویقي پروګرامونو په تطبیق کې لویه اندېښنه دا ده چې ګڼ مرستندویان به د مرستو له پاره ګڼ غیرهماهنګ شرایط وړاندې کړي چې دا به د افغان حکومت چارواکي وتړي او د اړتیاوړ پرمختیايي مرستې جریان به ټکنی کړي.»[45]



**د متحده ایالاتو د انجنیرۍ د قطعې په یوه** پروژه کې، غټ ماشینونه ځمکه د داسې یوه مرکز د جوړولو له پاره چمتو کوي چې افغان عسکرو ته په کې ځای جوړ کړي. (د متحده ایالاتو د اردو عکس، د مایک بیمان له خوا)

د OECD د ګڼ ملتیزې ادارې چې متحده ایالات یې یو غړی دی د پالیسی یوه پاڼه د یوه بل احتیاط یادونه کوي: «د شرایطو تحمیل د مالکیت پر عکس کار کوي، دا د مرستو د مؤثریت یو اساس دی چې وروسته له هغه راڅرګند شو چې له بهر څخه د پالیسیو د تحمیلولو پخوانی هڅې مؤثري نه دي ثابتې شوي.»[46] د OECD ژبه د غني او لاکهارټ د *کتاب ناکام دولتونه* او د *هغوی د کامیابی تګلار* کتاب دا برخه را اخلي چې وایي شرایط باید په یوه «مستقله ستراتیژۍ» کې په ګډه رامنځته کړای شي.

په اجرأتو او نتایجو باندې د مشروطیت د معیار په توګه تمرکز کول د پالیسی په اساس مشروطیت ښکاره بدیل یا الټرنیټیف دی. البته، لکه څنګه چې نړیوال بانک د 2005 کال په یوه بیاکتنه، *مشروطیت بیا ترغور لاندې ونیول شو (Conditionality Revisited)*، کې ولیدل، د نتایجو په اساس [مشروطیت] بالقوه ستونزې «د حقیقي نتایجو، د نتایجو د ناڅرګندو زنځیرونو، او د اړوندو اطلاعاتو او ارقامو په هکله په تصمیم نیونه کې د حکومتونو په محدوده ځواب وینه» باندې مشتملې دي.[47] د سټانفورډ پوهنتون کراسنر وروسته یوې مشابه نتیجې ته ورسېد: «دا ډېره سخته ده چې د بهرنی مرستې لاسته راوړنې (د مرستې حقیقي نتایج) د مرستو په مقابل کې روښانه وګڼل شي،» او دا ښه څرګنده خبره ده. کراسنر څرګندوي چې مرستندویان ډېر کم په مرسته ترلاسه کوونکیو هېوادونو کې فعالیتونه کنټرولوي، د ځایي چاپېریالونو په هکله لږ معلومات لري، او دا ورته سخته وي چې د ډېرو عواملو د فعالیت په صورت کې د مرستو تاثیرات په ګوته کړي.[48]

په افغانستان کې حتی په پام سره برابر شوی مشروطیت او د نه اجرأتو په مقابل کې د سختو جریمو تحمیلول کولی شي چې د عملي حقیقتونو په برخه کې ستونزې راپورته کړي. د متحده ایالاتو د دفاع وزارت راپور ورکوي چې حتی تر 2015 پورې هم «د [پرمختیایي] فنډونو په اجرأتو کې چې د نړیوالو مرستندویانو له خوا ورکول شوي دي د افغان حکومت بریالیتوب لږ دی.» دا په دې معنی چې مالي جریمې له هغو فنډونو څخه اخیستل کیږي چې په بل ډول یې د کارولو احتمال نه وي، چې په نتیجه کې یې عملي تاثیر کمېږي.»[49]

په داسې حالتونو کې، د شرایطو د پوره کولو له پاره دا ډېره مؤثره ده چې د جریمو ابنښودلو پرځای تشویقي تادیات په پام کې ونیول شي. تشویقي فنډونه کېدای شي چې هغو افغان حسابونو ته ورکول کړای شي چې چټکې اړتیاوې لري او تغیرات راوستلی شي یا کار کولی شي – لکه CSTC-A چې همداسې چاره له یو شمېر فنډونو سره کوي – یا دا چې داسې ګڼ اړخیزو وجهي صندوقونو ته ور واچول شي چې په هغو کې وروستی نېټې، چې د دوه اړخیزې مرستې له پاره د تخصیص په مقصد ټاکل شوي وي، نورې د اجرأ وړ نه وي. دغه ډول چلندونه کولی شي چې دا خطر له منځه وېسي چې د شرایطو په اساس جریمې ښایي داسې تش تهدیدونه وګڼل شي چې هغه به ترسره نشي یا نشي کېدای چې ترسره شي.

## د عملي کېدلو وړ مشروطیت له پاره لس کارونه

متحده ایالات او د هغه نړیوال ایتلافي شریکان – که څه هم چې د هغوی پرسونل او مالي حضور په افغانستان کې مخ پر ځوړ روان دی - له دې سره یوه قوي ستراتیژیکه علاقه مندي لري چې وګوري چې دغه هېواد په یوه ثبات لرونکي، د پاینت وړ هېواد باندې واوړي چې بیا په نورو هېوادونو باندې د ترهګرو د حملې له پاره په مورچل باندې بدل نه شي.

# د مرستو له پاره د عملي کېدلو وړ شرطونو وضع کول

هغه اندېښنې له یوې لسیزې د ډېرې مودې راهیسې د بیارغونې له پاره د پراخو مرستو د ورکړې اساس جوړوي. د دغه ډول مرستو په لګولو کې، OECD داسې نتیجه اخیستې ده چې، «مرستندویان په دې کې په حقه دي چې په شفافیت او په صداقت سره د کارونو په ترسره کولو باندې تاکید وکړي» او په دې توګه د خپلو پیسو یا فنډونو ساتنه وکړي چې بشري حقونو ته په درناوي ولګېږي او د لګېدلو پیسو د نتایجو په هکله اطمینان ترلاسه کړي. که نه وي، «مالیه ورکوونکي به له مرستندویو پروګرامونو سره له خپل ملاتړ څخه لاس په سر شي.»[50]

هغه اندېښنې او پاملرنې د مشروطیت غوښتنه کوي، چې هغه په عمومي سطحه یوه قوي عقلي غوښتنه لري. خو په عملي توګه، حقیقي نتایج ښیي چې مشروطیت یوه وسیله ده، نه یو د جادوګرۍ کمربند. کله چې خبره تخنیکي وسایلو ته راځي، د طرحې یا پلان جوړونې مسایل، د وظیفې له پاره مناسبوالی، ماهرانه استعمال، په پام سره کېدونکی تعدیل، او اندازه کول کولی شي چې د بریالیتوب او ناکامۍ ترمنځ توپیر رامنځته کړي. په عین حال کې، د افغانستان په څېر لړ عاید لرونکي، جنګ ځپلي، له ستراتیژیک پلوه ګټور هېواد ته مرسته برابرول په داسې طریقو چې هم له مرستندویانو سره مرسته وکړي او هم له مرسته ترلاسه کوونکیو سره د مشروطیت د طرحه کولو او تطبیقولو ستونزه لا ډېره ښیي.

حتی د قضیو د څېړنو، د نظارت د راپورونو، او تحقیقاتي معلوماتو یوه عمومي بیاکتنه وړاندیز کوي چې د هوښیار مشروطیت مثالونه د ډیزاین یا طرحې، مذاکرې، او تطبیق په برخو کې چې د مرستندویانو هدفونه او علاقه مندی، او په عین حال کې د مرسته ترلاسه کوونکیو لومړیتوبونو، وړتیاوو، ټولنیز جوړښت، او د کار استقلال ته د درناوي مشروع هیلې په پام کې نیسي یو شمېرمشابهتونه لري. له افغانستان – یا د عین ډول حالاتو لرونکیو هېوادونو سره اوس یا په راتلونکي وخت کې – د بیارغونې د مرستو په ورکړه کې د عملي کېدلو وړ مشروطیت تطبیقول کیدای شي چې د لسو چمتو کوونکیو وظیفو او د هغو د اړوندو پوښتنو په کتلو سره برابر کړای شي:

1. **په چوکاټ کې راوستل او ژمنتیا یا ملاتړ کول:** آیا وړاندیز شوي شرایط د هغوی د لاسته راوړنو او مجموعي هدفونو ترمنځ یوه اساسي اړیکه لري؟ آیا د په پام کې نیول شویو شرایطو شمېرمناسب دی، په داسې نتایجو پورې محدود دي چې د مرستو ترلاسه کوونکیو په کنټرول کې وي، او آیا داسې برابر شوي دي چې د غیرضروري اجرآتو او د راپور ورکولو د بار مخه ونیسي؟ آیا افغان چارواکي، کارمندان، او نور برخه وال چې هغوی باید تطبیقات وکړي او هغو کسان چې د هغو تطبیقاتو په واسطه به متاثر کیږي د شرایطو په هکله ښه پوهول شوي او حمایه کوي یې، چې په دې توګه هغوی د شرایطو او د هغو شرایطو د ترسره کولو د ګټو په هکله پوهېدلي وي؟
2. **د څېړنې په مخکې خنډونه:** آیا د شرایطو فرضیې او وړاندیزونه له محلي نورمونو، توقعاتو، او عملیو سره کتل شوي دي څو په دې توګه عملي خنډونه په ګوته کړي، د غیرضروري ټکر مخه ونیسي، او نرموونکي اقدامات رامنځته کړي؟
3. **هماهنګي ترسره کول:** آیا په پلان کې نیول شوي شرایط د نورو ادارو، دوه اړخیزو مرستندویانو، او وجهي صندوقونو له شرایطو سره کتل شوي دي څو په دې توګه د تناقضاتو او په افغان وزارتونو باندې د بارونو مخه ونیسي یا یې راکم کړي؟
4. **وړتیاوې په پام کې نیول:** آیا د شرایطو چمتوکوونکیو د افغان موسساتو د تخنیکي او د منابعو د ظرفیت اړوند یوه حقیقي ارزونه کړې ده څو په دې توګه غوښتل کېدونکي نتایج ترلاسه کړي او د آډیټ او نور تایید له پاره اړتیاوړ اطلاعاتو او ارقامو ته لاس رسی برابر کړي؟
5. **د مخالفت کوونکیو ارزول:** آیا د شرطونو برابروونکیو هغه اشخاص یا ګروپونه په ګوته کړي دي چې هغوی به غوښتي شرایط د هغوی د شخصي، موسساتي، یا ګروپي ګټو له پاره یو ګواښ وګڼي، او په دې توګه به هغوی د دې په مقابل کې ودرېږي، مخه به یې ونیسي یا به یې په خطر کې واچوي؟

6. **د مدني ټولنې د شريکانو لټون:** آيا د مشروطيت په طرحه کې دا په پام کې نيول شوې ده چې په افغان مدني ټولنه کې څنګه له غيردولتي فعالينو لکه رسنيو، مذهبي مشرانو، تحقيقاتي موسساتو، او مشورتي ګروپونو سره تماس ونيول شي چې د دولت له خوا د مرستو د مشروطيت شرايط حمايه (يا يې لږ تر لږه مخالفت ونه) کړي.
7. **د انعطاف برابرول:** آيا د مشروطيت برابروونکيو د اقتصادي بحران، امنيتي ګواښونو، طبيعي آفتونو، يا د مرستو ترلاسه کوونکي له کنټرول څخه بهر د نورو عواملو له امله چې د يوه شرط د پوره کولو يا پر وخت ترسره کولو مخه نيسي، د شرايطو د لغوه کولو، وخت اوږدولو، يا د شرايطو د تعديل له پاره انعطاف په پام کې نيولی دی؟ په عين اهميت سره، آيا انعطاف برابرول د هغو نتايجو اعتبار ته صدمه رسوي چې د هڅو د کمي له امله رامنځته کيږي؟
8. **د انګېزو سره ګډول:** آيا په وړانديز شوي مشروطيت کې د تشويقيو او جريمو يو ترکيب شته چې د مرستو ترلاسه کوونکيو له پاره تشويقي پاملرنې زياتې کړي؟
9. **د ضربې مخنيوی:** آيا د مشروطيت جريمې په داسې طريقو جوړې شوې دي چې هغه د اجرأتو پيغام ولېږدوي، خو د غوښتل شويو پروګرامونو د بشپړې بندېدا او په فعاليت باندې د بوختو مجربو کارمندانو د تيت پرک کېدلو مخه ونيسي؟
10. **د انتقال د پروسې په جريان کې تحرک:** چېرې چې مناسبه ده، آيا مشروطيت داسې طرحه شوی دی چې خپل ځان د مرسته ترلاسه کوونکيو موسساتو په سيستمونو او د هغو موسساتو په کاري کلتورکې ننباسي او په دې توګه غوښتل شوي پروسې او نتايج د مرستو د ځانګړي پروګرام او د هغه له مالي تشويقاتو څخه وروسته دوام وکړي؟

لکه څرنګه چې CSTC-A سيګارته خپلو د 2015 د فبرورۍ په معلوماتو کې ښودلې ده، دغو او نوروممکنه احتياطي چارو ته د پاملرنې مهم دليل دا دی چې «مشروطيت ته د حساب کتاب ورکولو او د مرستندوی يا ډونر د باوري کولو له پاره ضرورت دی» ځکه چې «مشخص شوي هدفونه او د معيارونو د نه پوره کولو په وړاندې جريمې د يوې اداري اجرائي چلند تشويقوي.»[51]

متحده ايالاتو چې له افغانستان سره د راتلونکيو کالونو له پاره د مرستو وعده کړې ده، حساب کتاب ورکول، د مرستندويانو يا ډونرانو اعتماد ترلاسه کول، په اجرأتو کې بدلون، او نتايج په لوړه سطحه د غوښتنې وړ دي. هوښيار مشروطيت کولی شي چې د دغو نتايجو په ترلاسه کولو کې مرسته وکړي – او ښايي چې يو مخکي تر مخکي شرط وي. د ګډو ځواکونو سرقوماندان جنرال مارتين ډېمپسي د عراق په هکله د يوې پوښتنې په ځواب کې دا اړتيا په ګوته کړه، خو همدغه وړانديزونه د افغانستان له پاره هم د عملي کېدلو وړ دي. هغه وويل چې، «ملاتړ بايد مشروط وي،» چې د مرستو د ترلاسه کوونکيو عمل ته به اړتيا لري. جنرال زياته کړه چې که چېرې محلي حکومت په دې کې پاتې راځي چې يو پراخ دولت جوړ کړي او شکايتونه حل کړي، «بيا به هرهغه څه چې مونږ يې کوو دوام ونه مومي، او هسې به وي لکه په يخ چې وليکل شي او لمر ته کېښودل شي.»[52]

# د مشروطيت په هکله د سر د سړي نظر

د متحده ایالاتو د اردو د تورن جنرال ټډ سیمونایټ وظیفه دا ده چې افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونه حمایه کړي. نو نوموړی غواړي چې هغوی يو شمېر ودانۍ پرېږدي.

«هغوی له 360 څخه ډېرې اضافي ودانۍ لري» چې ائتلاف د هغو د څراغونو، تودولو، او ترمیم له پاره پیسې لګوي – دا هغه پیسې دي چې د هغه CSTC-A کولی شي چې د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو په نورو هدفونو ولګوي. پروګرام داسې وو چې کله چې نوې ودانۍ د کارولو له پاره تیارې شي بیا به زړې ودانۍ پرېښودل شي، خو د افغانستان وزارتونو چې امنیتي مرستې یې ترلاسه کولې په اکثرو زړو ودانیو کې پاتې کېدلو ته دوام ورکړ.

نو سیمونایټ خپلو افغان شریکانو یا ملګرو ته څو انتخابونه ورکوي: یا اضافي ودانۍ بل چا ته په کومکي شکل پرېږدئ، خرڅې یې کړئ یا یې شاړې کړئ یا دا چې د مرستو پیسې به له لاسه ورکړئ. د کورنیو چارو وزارت چې افغان ملي پولیس ځواک کنټرولوي په یوه لیک کې 104 داسې ودانۍ په ګوته کړې چې هغوی نه کارولې. خو په هغه لیک باندې لاسلیک نه وو. «مونږ وویل، یا دې وزیر پرې لاسلیک وکړي یا دا چې تاسو به 19 میلیونه ډالر ترلاسه نه کړئ.» جنرال سیمونایټ د افغانستان د دفاع وزارت سره هم همداسې وکړل چې یاد وزارت اوس د 29 میلیونه ډالرو له لاسه ورکولو سره مخامخ دی.

سیمونایټ داسې یو څوک دی چې په مشروطیت باندې کلک باور لري. «له [افغانانو] سره د حساب کتاب کولو ترټولو ښه طریقه دا ده چې پیسې کنټرول کړئ» داسې چې کمزوري اجرأت په کې جریمه ووینې – خو همدارنګه داسې چې د ښو اجرأتو او ښه چلند په مقابل کې یې ونازوئ.

د افغانستان د امنیت د انتقال د ګډې قوماندانۍ (CSTC-A) لوی مسؤلیتونه دا دي چې د مرستو پیسې منظمې لارې ته برابرې کړي او افغان دفاعي او امنیتي ځواکونو ته اداري، د تجهیزاتو پیرودنه او مراقبت، ودانیو او د هغو د مراقبت او قراردادونو له پاره مالي ملاتړ برابر کړي. خو پر دې سربېره، د سیمونایټ تمرکز د هغه په ستراتیژیکو ماموریتونو باندې دی: (1) د جګړې د عسکرو حمایه کول او (2) د مرستندویانو د اعتماد د ساتنې له پاره د اړتیاوړ مالي ډسپلین نافذول.

د نورو خلکو اعتماد په نظامي ماموریتونو کې لږ څرګندېږي، خو افغانستان یو عادي نظامي ماموریت نه دی. لکه څرنګه چې سیمونایټ یادونه کوي « که مونږ مرستندویانو ته د دې خبرې ثابتولو ته دوام ورنه کړو چې مونږ پیسې په صحیح توګه لګوو، پیسې به په بله لاره لاړې شي.» او دا په دې معنی چې د افغان دفاعي او امنیتي ځواکونو شمېر به راکمېږي. دغه ځواک به د وخت په تېرېدلو او څنګه چې شرایط ایجابوي کوچنی شي، خو «که مونږ یوه ډېره، ډېره ښه د ښکته کېدلو لاره ونه لرو چې څنګه مونږ د دغه ځواک شمېر برابر کړو، بیا به تاسو یوه کمره ته ورسېږي، چې هغه به تاسو ته د بې کاره عسکرو یو غټ شمېر پرځای پرېږدي، او دا بیا ډېره بده ده.» هغه په خپلو خبرو کې د «عراق» نوم نه اخلي.

نو د مرستندویانو د اعتماد ساتل یو داسې کار دی چې د ماموریت له پاره اهمیت لري، او «زه فکر کوم چې د دې کار له پاره چې شرطونه لګول یوه لاره ده.» د کورنیو چارو د وزارت له پاره یو شرط دا وو چې ټول پولیس پرسونل د 2015 د مارچ تر 1 نېټې پورې د افغانستان د بشري منابعو د معلوماتي مدیریت په سیستم (AHRIMS) کې کوډبندي شي. سیمونایټ وایي چې «هغوی ډېر سخت کار وکړ،» خو د مارچ تر 1 نېټې پورې یوازې 80% کار وشو. نوموړی وایي، «زما د ټیم غړي ما ته په منډه راغلل او ویې ویل چې 80% - دا ښه دی. ته نشې کولی چې هغوی جریمه کړې.» خو ائتلاف د هغوی د شرط په اساس مرسته وځنډوله.* د جولای په پیل کې، تقریبا 96% ملي پولیس په AHRIMS کې کوډبندي شول. جنرال وایي، «زه فکر کوم چې دا یوازې له دې امله وشول چې هغوی پوهېدل چې د دغه کار په ترسره کولو سره هغوی کولی شي چې د هغو پیسو بیاترلاسه کولو ته دوام ورکړي چې په هغوی درېدلې وې.»

خو افغانان دغه مالي ډسپلین څنګه اخلي؟ سیمونایټ وایي چې د وزارتونو او اردو په لوړو سطحو ژمنه یا ملاتړ ښه دی: «دغه مشران په صحیح توګه پوهېږي» چې دا د هغوی په ګټه ده چې شرایط پوره کړي او د مرستندویانو اعتماد وساتي. نوموړی زیاتوي چې، «هغوی د خپل هېواد په وړاندې احساس لري،» او په دې ارزښت قایل دي چې هغوی به ونشي کولی چې له نړیوالې مرستې پرته له یاغیانو څخه د خپل هېواد ساتنې ته دوام ورکړي.

سیمونایټ یو شمېر اندېښنې لري. «مونږ تل د 'مشاورینو د داخلي وژنې' په هکله وارخطا یو – مرستندویان افغان چارواکو ته د مشورې یا شرایطو ګنې کربنې وضع کوي چې د ترسره کولو او راپور ورکولو محدوده وړتیا لري. او دا چې د CSTC-A حضور د «مرکز- او- ساحو» له بنې څخه چې پرسونل یې په کابل کې د مرکز او افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونه د ساحو په بڼه ول، یوازې یوه مرکزي حضور ته راټولېږي، «زه د هغو تماسي نقطو د [له لاسه ورکولو] په هکله وارخطا یم چې په ساحه کې دي. د هغه برعکس اقدام داسې دی چې په وزارت کې او په تکتیکي سطحو د CSTC-A د ملکي ماموړینو کوچنې ټیمونه ولري څو د ملاتړ او څارنې چارو ته دوام ورکړي.

هغه همدارنګه وروسته له هغه چې متحده ایالاتو او ائتلاف د جګړې په عاجلو غوښتنو تمرکز او کنټرول وکړ د افغان ظرفیتونو د جوړونې د ننګونو په هکله وارخطا دی. نوموړی وایي چې یوه جیګپوړي افغان چارواکي چې د CSTC-A په یوه لست یې بیاکتنه کوله، وویل چې هغوی داسې جوړه کړه لکه افغانانو چې ډېرې ستونزې لرلې. سیمونایټ د هغه چارواکي خبره یادوي

* 255400 ډالر په مارچ او اپریل کې، بیا 1.4 میلیونه ډالر په مې کې.




**د CSTC-A قوماندان** تورن جنرال ټډ سیمونایټ د 2015 د جون پر 16مه په کابل کې په مالیې وزارت کې د نظارت او همغږۍ په مجلس کې افغان مېلمنو او د ائتلاف شریکانو ته خبرې کوي. (د دفاع د وزارت عکس، چې بریدمن ګرېډ چارېټي ایدګاراخیستی دی)

چې ویل یې، «مونږ به هېڅکله سیستمونه نه وای لرلي: ائتلاف تل مونږ ته پام وکړ. تاسو هېڅکله مونږ پرېښنودلو چې ناکام شو.» سیمونایټ موافق دی «چې دغه د لومړیو 13 یا 14 کالو ستراتیژي وه؛ او دا هغه څه وو چې تاسو باید د جګړې د ګټلو له پاره کړي وای.» خو اوس شیان فرق لري.

سیمونایټ وایي چې له کالونو راهیسې، «مونږ هغوی ته ډېر زیات د سون مواد (تېل) ورکړل – مونږ نه غوښتل چې هغوی دې هېڅکله له کمي سره مخامخ شي،» خو ډېرغلا یا ورک شول. له هغه را وروسته د افغانستان د امنیت د انتقال قوماندانۍ (CSTA-A) د سون د موادو (تېلو) ورکړه ډېره راکمه کړه څو له مستندې اړتیا سره برابر شي. نوموړی وضاحت ورکوي چې په هغه سطحه، که یو څوک د هغې 20% په تور بازار کې خرڅ کړي، نتایج یې اوچته معلومېږي، لکه دا چې افغان عسکرو په کندهار کې د درې شپو په مخه د جنراټورونو د نه چلېدا له امله څراغونه او بخارۍ نه لرل. سیمونایټ وایي، نتایج خلک دې ته هڅوي چې غله مسؤلو چارواکو ته وروسپاري، او عسکر دې ته هڅوي چې خپلو مشرانو ته شکایت وکړي.

سیمونایټ وایي چې، د ضیاع، تقلب، او سوء استفادې په مقابل کې په مبارزه کې د مرستې کولو تر څنګ، مشروطیت هم کولی شي چې افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونه په یوه لا ښه استازې یا نماینده موسسه بدل کړي. که چېرې داسې لارې چارې ولټول شي چې عرادې د څلورو کالو پرځای اوه کاله دوام وکړي، او د بېسونو د جنرېټرونو برېښنا داسې شي چې په ساعت کې د یوه کیلو واټ پر سر له 53 سنټو څخه په ساعت کې د یوه کیلو واټ پر سر 22 سانټو ته راښکته کړای شي په دې کې پیسې سپمول کېږي، چې ګټه یې نړیوالو مرستندویانو، افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو، او د متحده ایالاتو مالیه ورکوونکیو ته رسېږي.

سیمونایټ د مشروطیت په برخه کې د افغان حکومت د لوړپوړو چارواکو په ملاتړ حساب کوي: «جمهور رییس غني ښایي له بل هر چا څخه ښه پوهېږي چې هغه به د دغه ځواک د ساتنې اوسمبالونې وس ونه لري، مګردا چې مونږ ورسره په دې برخه کې مرسته وکړو.»

جنرال وایي چې د جګړې د حمایه کولو هدفونه، د بودجې د سپمولو له پاره لارې چارې موندل، او د مرستندویانو اعتماد ځینې وختونه په خپلو کې سره ټکر کوي، «خو مونږه هره ورځ د پام وړ پرمختګ وینو.»

*یادښت: په دې مهمو ټکو کې راغلي معلومات له تورن جنرال سیمونایټ سره په 7/1/2015 نېټه د سیګار د تحقیق او تحلیل د ریاست د درې میاشتني راپور د ټیم له خوا له شوې مرکې څخه را اخیستل شوي دي.*

«اوس چې مونږ هر ډالر د افغانانو په روزلو، مشوره ورکولو، مرسته کولو، او نظارت کولو باندې لګوو، باید په افغانستان کې له 2001 کال راهیسې زمونږ د تقریبا یو ټریلیون ډالرو پانګونې د خوندي کولو د بیمې د پوښښ په بڼه وګڼل شي.»

*— ځانګړی عمومي مفتش جان اېف سوپکو*

سرچینه: سیګار، د متحده ایالاتو د استازو جرګې د څارنې او حکومتي ریفورم د کمېټې، د ملي امنیت فرعي کمېټې ته د ثبت له پاره بیانیه، د اپریل 29 مه، 2015

# 2 د سیګار ځارنیز



# د سیګار څارنیز محتویات


| | |
|---|---|
| **تفتیشونه** | 22 |
| **پلټنې** | 44 |
| **ځانګړې پروژې** | 47 |
| **زده شوي درسونه** | 51 |
| **څېړنې** | 52 |
| **درې میاشتني مهم ټکي: سیګار او د تدارکاتو ملي کمېټه د اداري فساد پر ضد یو له بل سره یوځای کیږي** | 56 |
| **درې میاشتني مهم ټکي: د افغانستان د دفاع وزارت له لغوه شوي قرارداد څخه 214 میلیونه ډالر سپماوې** | 60 |
| **د سیګارد نظارت نور فعالیتونه** | 65 |
| **د سیګار بودجه** | 69 |
| **د سیګار پرسونل** | 69 |


**عکس په تېر مخ کې**
د افغانستان د کابل ښار په لمنو کې په یوه مرکز کې له لاریو سره نژدې
د انتقالاتو کانټینرونه لیدل کیږي. (د سیګارعکس، اخیستونکی مایکل ګراهام)

# د سیګار د څارنه فعالیتونه

په دې درې میاشتنی موده کې سیګار 21 تفتیشونه، پلټنې، خبرتیایي لیکونه، او نور مواد صادر کړي دي. د سیګار د اجرأتو تفتیشونو د متحده ایالاتو د حکومت په هغو هڅو باندي بیاکتنه وکړه چې د ملکي هوا نوردی په برخه کې د افغانانو وړتیاوو ته وده ورکوي او په افغانستان کې د قانون حاکمیت پراخوي، په داسې حال کې چې د هغه مالي تفتیشونو له 37.4 میلیونو ډالرو څخه ډېرې د پوښتنې وړ پیسې په ګوته کړې. سیګار همدارنګه یو ځانګړی د پروژې راپور خپور کړ چې په افغانستان کې د 64,000 مربع فټه پراخ د نه غوښتني وړ، بې ضرورته او نه کارول شوي قوماندې او کنټرول د مرکز په هکله د تقریبا دوه کالونو د ځېړنې لنډیز وړاندې کوي.

د اجرأتو په هکله د سیګار له تفتیشونو څخه یوه دا وموندله چې د فدرالي هوانوردی اداره (FAA) په دې نه وه توانېدلې چې د افغانستان له پاره د هوایي ترافیکو کافي شمېر کنټرولونکي وروزي څو په یوازې ځان د فضایي مدیریت عملیات پرمخ بوځي، او دا چې متحده ایالات په دې نه وو توانېدلي چې له پلان سره سم په 2014 کال کې د فضایي مدیریت مسؤلیتونه افغان لوري ته وسپاري. د اجرأتو یوه بل تفتیش راپو ورکړ چې د متحده ایالاتو حکومتي اداري داسې یوه هراړخیزه ستراتیجي نه لرې چې په افغانستان کې د قانون د حاکمیت په پراختیا کې مرسته وکړي، او دا چې د اجرأتو د مدیریت ستونزمن سیستمونه د اداراتو له پاره دا سختوي چې د قانون د حاکمیت د پروګرامونو د مؤثریت په هکله په پوره توګه تصمیم ونیسي.

په دې ربعه کې، د داخلي کنټرول د عیبونو او د نه اجرأتو د ستونزو په نتیجه کې، د سیګار مالي تفتیشونو له 37.4 میلیونو ډالرو څخه ډېر داسې وموندل چې لګښتونه یې د پوښتنې وړ ول. تر ننه پورې، د سیګار مالي تفتیشونو موندلي چې له 279.5 میلیونو ډالرو څخه د ډېرو پیسو لګښتونه د پوښتنې وړ دي او 289,880 ډالر د فدرالي پیسو او نوروعوایدو ګټه چې باید حکومت ته تادیه شوي وای، نه ده شوې. د 2015 د جولای له 30مې راهیسې، تمویلوونکي اداري د 39 تفتیشونو په هکله یوې اداري پرېکړې ته رسېدلې دي او د تقریبا 11.6 میلیونه ډالرو تر پوښتنې لاندې مبلغونو د بېرته را اېستلو لاري چارې لټوي.

سربېره پر دې، په دې ربعه کې سیګار دوه د پلټنې راپورونه خپاره کړل. یوه راپور وموندله چې د مخدره توکو پرضد د عدالت مرکز (Counter Narcotics Judicial Center) کې د پروژې اعمار تر ډېره حده د ترون شرایط پوره کړي ول، البته په جوړونه کې دوه عیبونه موجود ول، او دا چې د توقیف مرکز هغسې چې غوښتنه یې کېده کارول کېده. دویم راپور وموندله چې د کندهار په هوایي ډګر کې د دفاعي لوجیستیک د اداري ساتنځی (warehouse) په صحیح توګه جوړ شوی وو، البته کوچني عیبونه په کې موجود ول، خو د جوړوني په برخه کې اورده ځنډونه د دې سبب وګرځېدل چې له دغې ودانۍ څخه تر دې وخته ګټه وانه خیستل شي.

په دې ربعه کې، په سیګار کې د ځانګړیو پروژو اداري د افغانستان په هلمند ولایت کې په لیدرنیک کمپ کې د قوماندې او کنټرول د 64000 مربع فټه پراخ د قوماندې او کنټرول د مرکز (د «64K» ودانۍ) په هکله یو راپور خپور کړ. دغه راپور د دغه نه غوښتل شوي، بې ضرورته، او نه استعمال شوي مرکز د جوړوني په هکله د سیګار د تقریبا دوه کاله ځېړنې نتیجه ده.

## ورکول شوی ثبوت

- 15-56-TY ثبوت: د افغان ملي امنیتي ځواکونو شمېر ولې ستونزه ده: غلط او غیرباوري معلومات، او په بودجه کې په شامله مرسته باندې محدوده څارنه د متحده ایالاتو د مالیه ورکوونکیو میلیونونه ډالر په خطر کې اچوي.

## بشپړشوي اجرائي تفتیشونه

- 15-58-AR تفتیش: ملکي هوانوردي
- 15-68-AR تفتیش: په افغانستان کې د قانون حاکمیت

## بشپړ شوي مالي تفتیشونه

- 15-59-FA مالي تفتیش: د افغانستان د ماین پاکې او بیارغونې د موسسې (OMAR) له خوا د شویو لګښتونو تفتیش
- 15-61-FA مالي تفتیش: د انتخاباتو او سیاسي پروسې د پیاوړتیا د ګروپ (CEPPS) له خوا د شویو لګښتونو تفتیش
- 15-63-FA مالي تفتیش: د DRS د تخنیکي خدمتونو د شرکت له خوا د شویو لګښتونو تفتیش
- 15-64-FA مالي تفتیش: د انټرنیوز شبکې له خوا د شویو لګښتونو تفتیش
- 15-66-FA مالي تفتیش: د CACI ټکنالوجیز شرکت له خوا د شویو لګښتونو تفتیش
- 15-69-FA مالي تفتیش: د پاسیفیک آرکیتیکټس اینډ انجنیرز شرکت له خوا د شویو لګښتونو تفتیش
- 15-71-FA مالي تفتیش: د کلیبریټ انټرنیشنل له خوا د شویو لګښتونو تفتیش
- 15-72-FA مالي تفتیش: د ابل – 3 خدمتونه شرکت له خوا د شویو لګښتونو تفتیش
- 15-73-FA مالي تفتیش: د آی آر ډي له خوا د شویو لګښتونو تفتیش
- 15-75-FA مالي تفتیش: د AECOM د نړیوالي انکشافي موسسې- (SIKA-West) له خوا د شویو لګښتونو تفتیش
- 15-76-FA مالي تفتیش: د AECOM د نړیوالي انکشافي موسسې- (SIKA-East) له خوا د شویو لګښتونو تفتیش

## بشپړې شوې پلټنې

- 15-70-IP پلټنه: د نشه بیزو توکو پرضد د عدالت په مرکز کې د توقیف خونه
- 15-74-IP پلټنه: په کندهار هوایي ډګر کې د ساتنځی (warehouse) مرکز

## د ځانګړیو بشپړو شویو پروژو نتایج

- 15-57-SP راپور: په لیدرنیک کمپ کې د قوماندې او کنټرول مرکز
- 15-60-SP استعلام: د ګازو د پروسیس د عملیاتو پروژه
- 15-62-SP استعلام: د افغانستان د ښوونې او روزنې ارقام
- 15-65-SP استعلام: د تره خېلو د برېښنا دستګاه
- 15-67-SP استعلام: د پې سي ایچ د روغتیایي مرکزونو له پاره مکاني جغرافیوي کوارډینیتونه

د خانګړيو پروژو اداري همدارنګه د متحده ایالاتو د دفاع وزارت ته ولیکل څو د 43 میلیونه ډالرو په ارزښت د ګازو د تصفيي د هغې پروژې په هکله معلومات وغواړي چې د تجارت او ثبات د عملياتو د وظيفوي ځواک (TFBSO) له خوا تطبیق شوي ده. د متحده ایالاتو نړیوالي پرمختیایي اداري (USAID) ته یو استعلام د دې له پاره ولیږل شو چې د هغو اطلاعاتو او ارقامو په هکله معلومات ورکړي چې د دغې اداري له خوا په افغانستان کې د هغې د ښوونیزو او روزنیزو پروګرامونو د نظارت، تمویل، او ارزونې له پاره کارول کېدل. د متحده ایالاتو نړیوالي پرمختیایي اداري (USAID) ته نورو ليکونو د تره خېلو د برېښنا د دستګاه د نه کارولو او د روغتیا له پاره د شراکت د قراردادونو (PHC) په واسطه د روغتیایي پاملرنې د تمویل شویو مرکزونو د موقعیت د معلوماتو د صحت په هکله اندېښني راپورته کړې.

د راپور ورکولو د مودې په جریان کې، د سیګار څېړنو د پام وړنتایج ترلاسه کړل. په دې توګه تقریبا 214.7 میلیونه ډالر د متحده ایالاتو حکومت ته په لګښتونو کې وسپمول شول؛ له 6.9 میلیونه ډالرو څخه ډېر له خصوصي فیصلو څخه بېرته ترلاسه شول؛ او جریمې، خسارې یا تاوان اخیستنې، او استردادونه له 675,000 ډالرو څخه پورته شول. همدارنګه، څلور کسان ونیول شول، اته جنایي اتهامات ولګول شول، شپږ محکومیتونه ترسره شول، او پنځه محاکمې وشوې. سربېره پر دې، 17 کسان په افغانستان کې د متحده ایالاتو نظامي تاسیساتو ته له ورتګ څخه منع کړای شول. سیګار 27 نوې څېړنې پیل کړې او 40 نورې يې بندې کړې، او په دې توګه یې د ټولو روانو څېړنو شمېر 310 ته پورته کړ. تر ننه پورې د سیګار د څېړنو په نتیجه کې د ټولو سپماوو اندازه له 794 میلیونه ډالرو څخه اوړي.

د سیګار د تعویق او مخنیوي پروګرام په 17 اشخاصو او 25 شرکتونو باندې د متحده ایالاتو د حکومت د قراردادونو ترلاسه کول وځنډول یا یې پرې بند کړل. له 2008 کال راهیسې تر ننه پورې، د سیګار له خوا د شويو معرفيو یا راجع کونو شمېر تر 650 پورې رسیږي چې 343 اشخاص او 307 شرکتونه په کې شامل دي. د دغو اشخاصو له جملې څخه اته یې د جنایي تورونو په اساس د ځنډونې یا تعویق له پاره معرفي شول چې دغه تورونه د هغوی په مقابل کې د داسې بد چلند له امله لګول شوي ول چې په افغانستان کې په بیارغوني پورې اړوند وو یا یې په دې برخه کې تاثیر کاوه.

## تفتیشونه

سیګار په افغانستان کې د بیارغوني د هڅو مربوط پروګرامونو او پروژو د اجرأتو تفتیشونه، پلټنې، او مالي تفتیشونه ترسره کوي. کانګرس ته له وروستي راپور راهیسي، سیګار د اجرأتو دوه ت، دوه تفتیشونه، او 11 د مالي تفتیشونو راپورونه صادر کړي دي. په دې درې میاشتنۍ موده کې، سیګار همدارنګه درې نوي د اجرأتو تفتیشونه پیل کړل، چې د اجرأتو د روانو تفتیشونو شمېر يې 15 ته راورساوه. د اجرأتو د تفتیش خپرو شويو راپورونو د افغانستان د ملکي هوانوردۍ د سیستم د بیارغونې له پاره د متحده ایالاتو د هڅو او په افغانستان کې د قانون د حاکمیت د انکشاف په هکله معلومات وړاندې کړل. د اجرأتو تفتیشونو په ټولیزه توګه پنځه سپارښتنې وکړې؛ پلټنو دوه سپارښتنې لرلې. مالي تفتیشونو 37.4 میلیونه ډالر د پوښتنې وړمبلغ په ګوته کړ چې د داخلي کنټرول د عیبونو او د نه مطابقت د مسایلو له امله پټ پاتې وو.

**د اجرأتو تفتیشونه:** دغه ډول تفتیشونه د کافي، مناسبو شواهدو په اساس چې په یادو معیارونو برابر وي د یوې ارزونې په اساس اطمینان یا نتایج وړاندې کوي. د اجرأتو تفتیشونه بې طرفه تحلیلونه وړاندې کوي څو مدیریت او هغه کسان چې واک په لاس کې لري وکولی شي معلومات وکاروي او د پروګرام اجرأتو او عملیاتو ته وده ورکړي، لګښتونه کم کړي، او د مسؤلو لوریو له خوا د پرېکړو کولو له پاره لاره هواره کړي څو د عامه محاسبې یا مسؤلیت منني له پاره د اصلاحي ګامونو نظارت وکړي یا یې رامنځته کړي. د اجرأتو تفتیشونه د حکومت د په عمومي سطحه منل شویو معیارونو (GAGAS) او د عمومي مفتش د فدرالي ادارو له پاره د تمامیت او کفایت په هکله د عمومي مفتشانو د شورا (CIGIE) له خوا ترسره کیږي.

**پلټنې:** پلټنې د یوې موسسې د عملیاتو، پروګرامونو، یا پالیسیو د طرحې، تطبیق، او/ یا نتایجو سیستماتیکي او خپلواکي ارزونې دي. سیګار پلټنې د پلټنو او ارزونو په برخه کې د CIGIE د کیفیت د معیارونو په اساس کوي، څو کانګرس او خلکو ته په ټول افغانستان کې د تعمیراتو او زېربناء د جوړښت د کیفیت په هکله معلومات ورکړي؛ او په عمومي توګه، د هغه حد ارزونه وکړي چې تر هغه پورې د قرارداد د شرایطو په پام کې نیولو سره مرکزونه جوړ شوي وي، له ارادې سره سم کارول شوي وي، او مراقبت یې کیږي.

**مالي تفتیشونه:** په دې هکله یوه خپلواکه ارزونه او یو مناسب اطمینان وړاندې کوي چې آیا د یوې موسسې راپور ورکول شوی حالت، نتایج، او د منابعو استعمال د ټاکلو معیارونو په پام کې نیولو سره وړاندې کیږي. سیګار مالي تفتیشونه د GAGAS په اساس کوي، چې دا هم هغه شرایط په پام کې نیسي چې د تفتیش د معیارونو په هکله د تایید شویو عامه محاسبینو د ځرګندونو په امریکایي انسټیټیوټ کې شامل دي او هم نور اضافي معیارونه چې په GAGAS کې وړاندې کیږي. سیګار همدارنګه په هغو مالي تفتیشونو باندې بیاکتنه کوي چې د خپلواکو یا مستقلو عامه محاسبینو (IPA) له خوا ترسره کیږي. کله چې یو خپلواک عامه محاسب یو مالي تفتیش ترسره کوي، سیګارد مناسبو کرنلارو په اساس مخکې ځې څو د IPA د غوښتل شوي کار او د مسؤلیت د درجې په پام کې نیولو سره چې د سیګار له خوا د هغه کار په برخه کې منل شوی دی له GAGAS سره مطابقت یقیني کړي

## د اجرأتو د تفتیش خپاره شوي راپورونه

په دې ربعه یا درې میاشتنی موده کې سیګار دوه د اجرأتو تفتیشونه خپاره کړل چې د افغانستان د ملکي هوانوردۍ د سیستم د بیارغونې او په افغانستان کې د قانون د حاکمیت د انکشاف په هکله یې معلومات راټول کړي ول.

### 15-58-AR تفتیش: ملکی هوانوردي

**د متحده ایالاتو هڅو د افغانستان وړتیاوو ته انکشاف ورکړ، خو افغان حکومت د فضایي مدیریت چارې له پلان سره سمې ترلاسه نه کړې**

له 2002 کال راهیسې، د متحده ایالاتو حکومت، اصلا د دفاع وزارت او د فدرالي هوانوردۍ اداري، تقریبا 562.2 میلیونه ډالر په دې ولګول چې د افغانستان د ملکي هوانوردۍ سیستم بیا ورغوي. د ټرانسپورټ او ملکي هوانوردۍ وزارت او د افغانستان د ملکي هوانوردۍ اداره د ملکي هوانوردۍ د سیستم نظارت پرغاړه لري. افغان حکومت مرسته وکړه چې د ملکي هوانوردۍ یوه ستراتیجي او د هوانوردۍ د عمل پلان (AAP) جوړ کړي، چې متحده ایالاتو او نورو ته یې هغه ګامونه وړپه ګوته کړل چې کولی شي له لارې یې هغوی د هوانوردۍ ظرفیت لوړ کړي او هوایي فضا او هوایي ډګرونه ملکي کنټرول ته ورانتقال کړي. د هوانوردۍ د عمل پلان (AAP) په اساس، د متحده ایالاتو د دفاع وزارت، د هوانوردۍ فدرالي اداره مسؤل دي چې د افغانستان د ټرانسپورټ او ملکي هوانوردۍ له وزارت سره د ملکي هوانوردۍ د ظرفیت په جوړونه، ملکي کنټرول ته د هوایي فضایي مدیریت د خدمتونو د ورانتقالولو، او د ملکي هوانوردۍ د زېربناء د انکشاف په برخو کې مرسته وکړي. د فدرالي هوانوردۍ د اداري یو کلیدي هدف دا وو چې د هوانوردۍ یو روزنیز پروګرام جوړ کړي، چې په هغه کې د هوایي ټرافیک د کنټرول روزنه هم شامله وي، څو په دې توګه د هوایي فضا د مدیریت خدمتونه د 2014 کال تر پایه پورې افغانانو ته په لاس ورکول شي.

د دغه تفتیش هدفونه دا ول چې تر هغه حده پورې ارزونه وکړي چې تر هغه پورې د متحده ایالاتو د دفاع وزارت او د فدرالي هوانوردۍ اداري (1) مرسته کړې چې د افغانستان دا وړتیا پیاوړې کړي چې د ملکي هوانوردۍ سیستم وچلوي او مراقبت یې وکړي، او (2) د هوا د فضایي مدیریت خدمتونه د 2014 کال په پای کې افغان حکومت ته ورانتقال کړي دي.

له 2002 کال راهیسې، د متحده ایالاتو حکومت، اصلا د دفاع وزارت او د فدرالي هوانوردۍ اداري، له افغانستان سره مرسته وکړه چې خپل د ملکي هوانوردۍ سیستم، چې د نسکورېدلو په پوله ولاړ وو، بیا ورغوي. که څه هم چې د دفاع وزارت په نظامي برخه کې تمرکز درلود، د هغه فعالیتونو په غیرمستقیم ډول د ملکي هوانوردۍ سیستم ته ګټه ورسوله. د مثال په توګه، د دفاع وزارت افغان حکومت ته د 159.2 میلیونو ډالرو په قیمت د هوانوردۍ اړوند مخابرات، دجهت ښودنې یا نوېګېشن، او اکتشافي وسایل برابر کړل. د فدرالي هوانوردۍ اداري مرسته وکړه چې (1) د ملکي هوانوردۍ افغان پرسونل وروزي، (2) د ټرانسپورټ او ملکي هوانوردۍ د وزارت د تنظیم رژیم ته انکشاف ورکړي، او (3) د کابل د نړیوال هوایي ډګر زېربناء او خدمتونو ته وده ورکړي. د مثال په توګه، د فدرالي هوانوردۍ اداري 8.3 میلیونه ډالر په دې ولګول چې د الوتنو د را رسېدلو - روانېدلو (approach-control) اکتشافي سیستم ولګوي او د هوایي ډګر د کنټرول برج بیاورغوي، او 1.9 میلیونه ډالر نور یې په دې ولګول چې یوه امنیتي ودانۍ او د هوایي ډګر د حدودو کټاره جوړه کړي. د فدرالي هوانوردۍ اداري همدارنګه مرسته وکړه چې په 2013 کال کې د ملکي هوانوردۍ اداره تاسیس کړي او هم یې د افغانستان د ملکي هوانوردۍ د قانون په جوړولو کې مرسته وکړه.

د فدرالي هوانوردۍ اداره د هغې له هڅو سره سره په دې ونه توانېده چې د افغانستان له پاره کافي شمېر د هوایي ترافیکو کنټرولونکي وروزي څو د فضایي مدیریت خدمتونه په یوازې سر پرمخ وېسي. په پام کې وه چې د فدرالي هوانوردۍ د اداري د هوایي ترافیکو د کنټرول اساسي روزنه په وظیفه کې د موجود حالت روزنې سره بشپړه شي، خو د امنیتي اندېښنو له امله، افغان زده کوونکي په دې ونه توانېدل چې هغو اسانتیاوو ته لاس رسی ومومي چې هغوی ورته په وظیفه کې د موجود حالت د روزنې

**د اجرأتو بشپړ شوي تفتیشونه**

- 15-58-AR تفتیش: ملکي هوانوردي: د متحده ایالاتو هڅو د افغانانو وړتیاوې زیاتې کړې، خو افغان حکومت له پلان سره سم د فضایي مدیریت چارې ترلاسه نه کړې.
- 15-68-AR تفتیش: په افغانستان کې د قانون حاکمیت: د متحده ایالاتو اداري ستراتیژي نه لري او نشي کولی چې د هغو پروګرامونو د مؤثریت په هکله پوره تصمیم ونیسي چې له 1 بیلیون ډالرو څخه ډېر قیمت لري.




**د کابل نړیوال هوایي ډګر** په افغانستان کې د ملکي هوانوردۍ یوه مهمه برخه ده. له 2002 کال راهیسې، د متحده ایالاتو حکومت تقریبا 562.2 میلیونه ډالر په دې لګولي دي چې د افغانستان د ملکي هوانوردۍ سیستم بیارغونه حمایه کړي. (سیګار، عکس کیوسین اخیستی دی)

له پاره اړتيا لرله. د فدرالي هوانوردئ اداري هڅه وکړه چې زده کوونکي په بهر کې وروزي، خو د زده کوونکيو له پاره د پاسپورټونو او ويزو په ترلاسه کولو کې له ستونزو سره مخامخ شول، او يو شمېر زده کوونکي له روزني اخيستلو څخه وروسته افغانستان ته بېرته رانه غلل. د فدرالي هوانوردئ اداري همدارنګه په بهر کې له روزنيزو انستيټيوټونو سره رابطه وکړه چې افغانستان ته استادان ولېږي، خو دغه کار د ملاتړو خدمتونو، لکه د خوندي استوګنځيو د نشتوالي له امله بريالی نه شو.

متحده ايالاتو پلان درلود چې د فضا د مديريت مسؤليتونه د 2014 کال په پای کې بېرته افغانانو ته وسپاري، خو، په يوحساب د هوايي ترافيکو د تاييد شويو کنټرولوونکيو د نشتوالي له امله دا کار ونه شو. په 2013 کال کې، متحده ايالات په دې پوه شول چې بنايي دغه مديريت انتقال نشي او له افغانانو سره يې د هغو خدمتونو له پاره يو قرارداد جوړ کړ. افغان حکومت خپل تصميم دې ته راورساوه چې په منځ کې دوه قراردادیان پاتې شول، خو قرارداد يې څکه ورنه کړ چې مناقصي يې ډېرې لوړې وې. د هوايي خدمت د مختل کېدلو د احتمال له امله، د متحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزارت د دغه هېواد د دفاع وزارت تر مديريت لاندې يو قرارداد په لنډمهالي ډول په 29.5 ميليونه ډالرو تمويل کړ څو د 2015 کال تر سپتمبر پورې خدمتونه وړاندې کړي. که چېرې د دغه قرارداد له پای ته رسېدلو څخه مخکې په ده پسې بل قرارداد ونشي، کېدای شي چې له متحده ايالاتو څخه غوښتنه وشي چې يوبل لنډمهالی پلان تمويل کړي. که څه هم چې افغانستان بنايي په پيل کې د يوه قرارداد د تمويل له پاره يو څه مرستې ته اړتيا ولري، د وخت په تېرېدلو سره، افغان حکومت دا وس لري چې د فضايي مديريت د خدمتونو د برابرولو له پاره د پام وړ اندازه پيسي برابرې کړي. په څانګړې توګه، د قرارداد د تمويل له پاره د افغان حکومت وړتيا، که هغه د پروازونو په سر راټولېدونکي لګښتونه ډېرکړي او دغه ټول عوايد د فضايي مديريت په خدمتونو باندې ولګول شي چې د همداسي يوه کار وعده يې هم کړې ده، بيا بنايي له شوي پلان سره سمه ډېره شي.

سيګارسپارښتنه کوي چې د متحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزير دې، تر ممکن حده پورې، دا يقيني کړي چې افغان حکومت يو نوی د فضا د مديريت د خدمتونو قرارداد د 2015 کال په سپتمبر کې د دفاع وزارت د موجود قرارداد له ختمېدلو څخه مخکې ورکړي.

### 15-68-AR تفتيش: په افغانستان کې د قانون حاکميت

**د متحده ايالاتو اداري ستراتيژي نه لري او نشي کولی چې د هغو پروګرامونو د مؤثريت په هکله پوره تصميم ونيسي چې له 1 بيليون ډالرو څخه ډېر قيمت لري.**

په افغانستان کې، منصفانه، مؤثر، او شفاف قضاوت ته لاس رسی محدود دی. اکثر وختونه دا سخته وي چې د افغانستان رسمي محکمو ته لاس رسی وشي او اکثر وختونه يې افغان وګړي فاسدې ګڼي. د متحده ايالاتو د سولې د انسټيټيوټ په وينا، اکثرو افغانانو ته غير رسمي عدلي ميکانيزمونه د انصاف ترلاسه کولو «غوره» لاره ښکاري، خو اکثر وختونه د هغو نتايج د نړيوالو بشري حقونو په معيارونو برابر نه وي.

له 2003 کال راهيسې، د متحده ايالاتو حکومت د متحده ايالاتو د دفاع وزارت، د عدليې وزارت، د بهرنيو چارو وزارت، او د متحده ايالاتو د نړيوالي پرمختيايي اداري (USAID) له لارې د دې له پاره کار کړی دی چې په افغانستان کې د قانون حاکميت ته انکشاف ورکړي. دغوهڅو د عدلي سيستم، د اصلاحاتو سيستم (د توقيف مرکزونه او محبسونه)، غيررسمي عدلي سيستم، د قضائيه قوې ريفورم، حقوقي ښوونه او روزنه، عامو خلکو ته رسېدنه، او د اداري فساد ضد هڅو په څېريو شمېر ساحو باندې تمرکز کړی دی.

د دغه تفتيش هدفونه دا وو چې هغه حد معلوم کړي چې تر هغه پورې (1) هغه ستراتيژئ او هدفونه چې د متحده ايالاتو د حکومت مرسته رهبري کوي تازه وي او د قانون د حاکميت د مرستي ساحه په منظمه توګه تعريف کړي؛ (2) د متحده ايالاتو اداري په بشپړ ډول د متحده ايالاتو د حکومت پروګرامونه او تمويل په ګوته کړي او مسؤليت يې واخلي؛ (3) د قانون د حاکميت د موجودو پروګرامونو د اجرأتو په اساس د مديريت سيستمونه هغه پرمختګ ارزوي چې د پروګرام د هدفونو په ترسره کولو او د متحده ايالاتود ستراتيژيکو هدفونو د ترسره کولو په برخه کې په مرسته کولو کې



**د سیګارد قانون د حاکمیت د تفتیش د یوې برخې په توګه،** مفتشینو په پروان کې د عدالت مرکز(Justice Center) څخه لیدنه وکړه. (د سیګارعکس چې مایکل ګراهام اخیستی دی)

شوی وي؛ او (4) د متحده ایالاتو حکومت د خپلو هدفونو په ترسره کولو او هغه حد ته په رسېدلو کې له ستونزو سره مخامخ شوی دی چې تر هغه پورې هغه دغه ننګوني بیان کړې وي.

سیګار وموندل چې د متحده ایالاتو اداري د قانون د حاکمیت یوه داسې هراړخیزه ستراتیژي نه لري چې د خپلو هڅو د پلانولو او رهبري کولو په برخه کې ترې کار واخلي. که څه هم چې د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت د دې له پاره کار کوي چې یوه نوې ستراتیژي نهایي کړي، خو هغه به د افغانستان له پاره د متحده ایالاتو د قانون د حاکمیت د هغې پخوانی ستراتیژی په نسبت کمزورې وي چې د 2009 په سپتمبر کې تایید شوې وه. د مثال په توګه، د متحده ایالاتو د سفارت چارواکو سیګار ته وویل چې، د ستراتیژی دغه نوې مسوده د 2009 کال د ستراتیژی پرعکس، هغه د څارنې او ارزونې برخې نه لري چې د دې ټکي په معلومولو کې مرسته وکړي چې آیا ستراتیژیک هدفونه ترسره کیږي. د یوې تایید شوې ستراتیژی له موجودیت څخه پرته، ښايي د متحده ایالاتو هڅې په ټولو ادارو کې په منظمه توګه همغږې نشي، د متحده ایالاتو او افغان پرمختیایي هدفونو او مقصدونو سره د برابرې له پاره ونه ځارل شي، یا په مؤثره توګه مدیریت نشي چې په دې توګه د متحده ایالاتو د مالیه ورکوونکیو د پیسو صحیح لګښتونه یقیني کړي.

سیګار معلومه کړه چې د متحده ایالاتو د دفاع وزارت، د عدلیې وزارت، د بهرنیو چارو وزارت، او د متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایي اداري (USAID) له 2003 کال راهیسې لږ تر لږه په 66 پروګرامونو باندې له 1 بیلیون ډالرو څخه ډېرې پیسې لګولې دي څو په افغانستان کې د قانون حاکمیت ته انکشاف ورکړي. خو دغه پیسې ټول هغه لګښتونه نه ښیي چې په یاد هدف باندې شوي دي ځکه چې د متحده ایالاتو د دفاع وزارت ونه شوای کولی چې د لګول شویو پیسو پوره شمېر وړاندې کړي.

سیګار د قانون د حاکمیت له 66 بشپړو شویو او روانو پروګرامونو څخه په شپږو باندې بیاکتنه وکړه، چې ټول لګښت یې لږ تر لږه 635 میلیونه ډالرو ته رسېده، او د شپږو واړو پروګرامونو د اجرأتو د مدیریت په سیستمونو کې یې ستونزې وموندلې چې د پروګرام د هدفونو د ترسره کولو سطحه یې غیرشفافه ښودله. د مثال په توګه، د بهرنیو چارو د وزارت د اصلاحاتو د سیستم د ملاتړ پروګرام (State's Corrections System Support Program) چې تقریبا 259.5 میلیونه ډالر لګښت لري د 2012 کال تر اکتوبر– د پروګرام له پیل څخه تر شپږو کلونو پورې – د اجرأتو د مدیریت پلان، چې د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت یې غوښتنه کوي، نه درلود، او یوازې د 2014 کال

په مارچ کې د پروګرام د اجرأتو د لاسته راوړنو او نتايجو د ارزولو له پاره يو بسيا پلان جوړ شو. دا چې د متحده ایالاتو د دفاع وزارت، د عدليې وزارت، د بهرنيو چارو وزارت، او د متحده ایالاتو نړیوالي پرمختيايي اداري په سيستماتيک ډول د هغوی د پروګرامونو د لاسته راوړنو ارزونه نه کوله او راپور يې پرې نه ورکاوه، دا روښانه نه ده چې په افغانستان کې د قانون د حاکميت د انکشاف له پاره له 1 بيليون ډالرو څخه له ډېر لګښت څخه په مجموعي توګه کوم نتايج ترلاسه شوي او څه اغېزې يې لرلې.

دوه لويې ننګوني په افغانستان کې د قانون د حاکميت د انکشاف له پاره د متحده ایالاتو هڅې په دوامداره توګه ننګوي: (1) د افغانستان په عدلي سکټور کې پراخ اداري فساد، او (2) په دې هکله د اطمينان نشتوالی چې آيا افغان حکومت د متحده ایالاتو د پروګرام فعاليتونو او ريفورمونو ته دوام ورکولی شي يا ورکوي. د متحده ایالاتو د دفاع وزارت، د عدليې وزارت، د بهرنيو چارو وزارت، او د متحده ایالاتو د نړیوالي پرمختيايي اداري چارواکو داسې ګامونه اخيستي دي چې دغه ننګونې يا چلېنجونه له منځه وړي. د مثال په توګه، ادارو پخوا هڅې کړې وې چې په عدلي سکټور کې اداري فساد کم کړي؛ خو د متحده ایالاتو د دفاع وزارت، د عدليې وزارت، د بهرنيو چارو وزارت او د متحده ایالاتو د نړیوالي پرمختيايي اداري چارواکو او د قانون د حاکميت کارپوهانو سيګار ته وويل چې د متحده ایالاتو له خوا د اداري فساد پر ضد هڅې له دې امله بريالی نه وې چې د افغانستان حکومت د نورو شيانو تر څنګ ډېره سياسي اراده او ژمنتيا نه لرل چې په عدلي سيستم کې د اداري فساد پر ضد مبارزه وکړي.

سربېره پر دې، د ګډو تخصيصاتو قانون 2012، (2011) Pub. L. No. 112-74 په دولت او د متحده ایالاتو په نړیواله پرمختيايي اداره (USAID) غږ کوي چې په افغانستان کې د بيارغونې د پروګرامونو د پايښت د وړتيا په هکله غور وکړي. البته، د دغو ادارو چارواکو سيګار ته وويل چې هغوی نه پوهېږي چې آيا افغانان به وکولی شي چې دغه کار ته دوام ورکړي، او هغوی د قانون د حاکميت د يو شمېر خاصو پروګرامونو په هکله اندېښنې راپورته کړې. دغه ننګونې به د متحده ایالاتو په راتلونکيو مرستو او د هرو هغو لاسته راوړنو د پايښت په وړتيا باندې تاثير وکړي چې په افغانستان کې د قانون د حاکميت د انکشاف په برخه کې شوي دي.

سيګار د متحده ایالاتو د بهرنيو چارو وزارت ته يوه سپارښتنه وکړه چې د افغانستان له پاره د قانون د حاکميت په برخه کې د متحده ایالاتو د يوې نوې ستراتيژۍ جوړونې ته وده ورکړي، نهايي يې کړي او د اجرأتو ارزونه وکړي. سيګار د متحده ایالاتو د دفاع وزارت ته يوه سپارښتنه وکړه چې په راتلونکي وخت کې د قانون د حاکميت د هرو هڅو فعاليتونه او مالي تمويل پل پسې واخلي او دغه معلومات د متحده ایالاتو د بهرنيو چارو وزارت ته چې په افغانستان کې د قانون د حاکميت د انکشاف د مرستو مشر تنظيمونکی دی ورکړي.

سيګار همدارنګه د متحده ایالاتو د دفاع وزارت، د عدليې وزارت، د بهرنيو چارو وزارت، او د متحده ایالاتو نړیوالي پرمختيايي اداري (USAID) ته دوه سپارښتنې وکړې: (1) چې د قانون د حاکميت د روانو پروګرامونو له پاره د اجرأتو د مديريت په موجودو پلانونو باندې بياکتنه وکړي او راتلونکيو پلانونو ته انکشاف ورکړي څو يقيني کړي چې د پروګرام بهير په متواتر ډول څارل کيږي او په هکله يې راپور ورکول کيږي؛ او (2) چې وارزوي چې آيا روان او راتلونکي پروګرامونه د پايښت وړ دي او آيا او څنګه به هغه دوام ومومي. که چېرې داسې وي چې پروګرامونه بايد دوام ومومي يا دا چې نوي پروګرامونه رامنځته شي، اداري بايد د افغان حکومت ژمنتيا ترلاسه کړي څو د متحده ایالاتو د ماليه ورکوونکيو د پيسو له لګېدلو څخه مخکې د يوه رسمي، ليکلي توافق په اساس د هغوی په ملاتړ کې مرسته وکړي.

## د اجرأتو نوي تفتيشونه اعلان شول

په دې ربعه کې، سيګار د اجرأتو درې نوي تفتيشونه پيل کړل. هغوی به د افغانستان د سرکونو د زېربناء د مراقبت له پاره د متحده ایالاتو هڅې، په افغانستان کې د څمکو د اصلاحاتو د جاري ساتلو له



**د متحده ایالاتو د نړیوالي پرمختيايي اداري (USAID)**
د قانون د حاکميت د ثبات – غير رسمي څانګه په دره نور کې د کورنۍ د قانون ورکشاپ ترسره کوي. (د USAID عکس)

### د اجرأتو نوی تفتيشونه

- د افغانستان د سرکونو د زېربناء د مراقبت له پاره د متحده ایالاتو هڅې
- په افغانستان کې د څمکو د اصلاحاتود ملاتړله پاره د د متحده ایالاتو د نړیوالي پرمختيايي اداري (USAID) هڅې
- د افغان حکومت د کارمندانو او تخنيکي مشاورينو له پاره د متحده ایالاتو له خوا د تنخاګانو اکمالات

پاره د متحده ایالاتو د نړیوالي پرمختیایي ادارې (USAID) هڅې، او د افغان حکومت د کارمندانو او تخنیکي سلاکارانو له پاره د متحده ایالاتو له خوا د تنخاګانو اکمالات وارزوي.

## د افغانستان د سرکونو د زېربناء د ساتلو له پاره د متحده ایالاتو هڅې

په 2002 کال کې، د کلونو جګړې او غیرکافي پیسو د نشتوالي له امله، د افغانستان د سرکونو زېربناء تر ډېره حده له منځه تللي حالت کې وه یا دا چې ګډه وډه وه، چې په ټول هېواد کې اټکل 50 کیلومتره (تقریبا 30 میله) پوخ سرک موجود وو. په یوه هڅه کې چې د مرکزي حکومت حضور پراخ کړای شي، اقتصادي وده برابره کړای شي، او د هغه د اتباعو له پاره د تګ راتګ ازادي وده وکړي، افغان حکومت او نړیوالې ټولنې د سرکونو د زېربناء پروژو ته لومړیتوب ورکړ. د متحده ایالاتو د نړیوالي پرمختیایي ادارې (USAID) د معلوماتو له مخې، له 2002 کال راهیسې، د متحده ایالاتو او نړیوالو شریکانو له خوا له 9200 کیلومترو (تقریبا 5700 میلو) څخه ډېرې لویې لارې او ځایي او ولایتي سرکونه جوړ یا بیاجوړ کړای شول، چې له دې منځه له 2100 کیلومترو (تقریبا 1300 میله) څخه ډېر یې د متحده ایالاتو د نړیوالي پرمختیایي ادارې (USAID) بشپړ کړل. د متحده ایالاتو د نړیوالي پرمختیایي ادارې (USAID) په هڅو سربېره، د متحده ایالاتو د دفاع وزارت، د قوماندان د چټک غبرګون د پروګرام [Commander's Emergency Response Program (CERP)] د فنډونو له لارې په افغانستان کې د سرکونو د جوړوني له پاره له 159 میلیونه ډالرو څخه ډېر لګولي دي.

د نویو سرکونو پر جوړوني او د موجودې زېربناء پر بیارغوني سربېره، د متحده ایالاتو حکومت د افغانانو د دې ظرفیت په انکشاف باندې کار کړی دی چې د سرکونو زېربناء جوړه کړي او مراقبت یې وکړي. په پیل کې د متحده ایالاتو نړیوالي پرمختیایي ادارې (USAID) په دې لړ کې د 53 میلیونه ډالرو په لګښت د سرکونو د مراقبت یونټ (RMU) پروګرام پیل کړ. له 2008 څخه تر 2012 پورې، د متحده ایالاتو نړیوالي پرمختیایي ادارې (USAID) له مشاورینو سره قراردادونه وکړل چې افغانانو ته د سرکونو د مراقبت طریقې ور وښیي. په 2012 کال، نړیوال بانک د RMU پروګرام په لاس کې واخیست، او د متحده ایالاتو نړیوالي پرمختیایي ادارې (USAID) د سرکونو د سکټور د استحکام پروګرام، چې د مراقبت یو نوی پروګرام وو، پیل کړ. د سرکونو د سکټور د استحکام پروګرام، چې تمه ده چې تر 2017 کال پورې به چارې پرمخ بوځي، هدف دا دی چې افغان حکومت ته تخنیکي عملیات او د مراقبت مرستې برابرې کړي څو په دوامداره توګه د سرکونو په ساتلو کې مرسته وکړي.



**سیګار یو داسې تفتیش پیل کړی دی** چې د افغانستان د سرکونو د جوړولو او مراقبت په برخو کې د متحده ایالاتو د هڅو تفتیش کوي. (د USAID افغانستان عکس)

په يوه هڅه کې چې افغانستان د سرکونو د مراقبت په برخه کې په خپلو پښو ودرېږي، د افغانستان حکومت په تېلو باندې ماليه ولګوله. د افغانستان حکومت اټکل کوي چې کله چې نوې ماليه پوره تطبيق شي د هغې له لارې به په کال کې تقريبا 60 ميليونه ډالر ټول کړي.

دغه تفتيش به د سرکونو د پاينښت او د سرکونو د روان مراقبت د ترسره کولو له پاره د افغان حکومت د وړتيا د پياوړتيا له پاره د متحده ايالاتو په هڅو باندې بياکتنه وکړي. په ځانګړې توګه، سيګار پلان لري چې (1) په افغانستان کې دننه د متحده ايالاتو له خوا د تمويل شويو سرکونو اندازه او موجود حالات معلوم کړي؛ (2) هغه حد وارزوي چې ترهغه پورې د متحده ايالاتو ادارو په مستقيمه يا د افغانستان د زېربناء د وجهي صندوق له لارې په غيرمستقيمه توګه د سرکونو د جوړوني، بياجوړوني تمويل شويو پروژو خپل ذکرشوي هدفونه پوره کړي دي؛ او (3) د سرکونو د مراقبت د اجرأ او تمويل له پاره د افغانستان د حکومت د وړتيا په برخه کې موجودې ننګونې، که موجودې وي، په ګوته کړي.

## په افغانستان کې د ځمکو د اصلاحاتو د ملاتړ په برخه کې د متحده ايالاتو د نړيوالي پرمختيايي ادارې (USAID) هڅې



**چاروا‌کي او ولسي** خلک په جلال اباد کې په يوه ورکشاپ کې د ځمکو ادعاوې تشخيصوي. سيګار په افغانستان کې د ځمکو د اصلاحاتو د حمايه کولو په برخه کې د USAID د هڅو يو تفتيش پيل کړی دی. (د USAID عکس چې ګاري هنټر او انا سواف اخيستی دی)

له لسيزو اوږدې جګړې او بې ځايه کېښې څخه وروسته، ځمکه د يوه افغان وګړې اصلي شتمني او د شخړې يو اساسي علت دی. په افغانستان کې د ځمکو مالکيت او ثبت د افغانستان د ګڼو وزارتونو له خوا اداره کېږي چې په دې کې له ملي کچې څخه نيولې بيا د ولسواليو تر سطحې پورې اداري ښکېلې دي، او د ځمکې په سر لانجې په رسمي او غير رسمي قضايي سيستمونو دواړو حل کېږي. د فساد ضد ګډه د څارنې او ارزونې خپلواکه کمېټه يادونه کوي چې د افغانستان د ځمکو د حاکميت په برخو کې رواني پراخې ستونزې د اقتصادي ودې مخه نيسي او د اداري فساد او د ځمکو د غصب سبب ګرځي.

له 2004 کال راهيسې، د افغانستان د ځمکو د تصدی د سيستمونو – هغه اداري جوړښت چې د قضايي يا عنعنوي قانون له مخې دا معلوموي چې ځمکې ته لاس رسی څنګه خوندي دی او څوک کولی شي چې ويې کاروي، د ريفورمونو له پاره د متحده ايالاتو مرسته د USAID د دوه لويو پروګرامونو له لارې ترسره شوه چې د افغانستانو وزارتونو ته په قانوني او تخنيکي مرسته، لکه د حقوقي چوکاټونو په وده، د ځمکو په سروې ګانو او نقشه ايستنو، د مالکيت د اسنادو د سيستمونو په انکشاف باندې يې تمرکز کاوه، او په دې برخه کې يې کار کاوه چې په مزارشريف او جلال اباد کې د استوګنې غيررسمي لويو مېنو يا ښارګوټو ته رسمي بڼه ورکړي. د افغانستان د کان کيندنې د قانون او اقتصادي انکشاف، کرنې، د قانون د حاکميت، د ښځو د حقونو، کډوالو او بې ځايه شويو خلکو، او د نشه يېزو توکو پر ضد د مبارزې د حمايې په شمول د متحده ايالاتو د بيارغونې نورې هڅې په ژوره توګه د ځمکو د اصلاحاتو په مسايلو پورې تړلې دي. سيګار په دغو ټولو برخو کې کار کړی دی.

د 2004 په سپتمبر کې، د متحده ايالاتو نړيوالې پرمختيايي ادارې (USAID) د مخ پر ودې بازارونو محدود شرکت (Emerging Markets Group Limited) ته د 29.2 ميليونه ډالرو په ارزښت يو درې کلن قرارداد ورکړ څو د ځمکو د مالکيت د اسنادو او اقتصادي بياجوړوني فعاليت (LTERA) تطبيق کړي. د متحده ايالاتو نړيوالې پرمختيايي ادارې (USAID) دغه قرارداد د دوه نورو کلونو له پاره يعنې د 2009 کال تر اکتوبر پورې اوږد کړ، او په دې توګه يې د قرارداد ټول لګښت 56.3 ميليونه ډالرو ته لوړ کړ. د ځمکو د مالکيت د اسنادو او اقتصادي بياجوړوني د فعاليت (LTERA) هدفونه دا ول چې د ځمکو د مالکيت په اسنادو او ثبت باندې تمرکز وکړي او د افغانستان حکومت سره مرسته وکړي چې په ښاري سيمو کې د ځمکو د تصرف تأمين ته وده ورکړي، او د دولت ترمالکيت لاندې شرکتونو په خصوصي کېدنه باندې کار وکړي.

د ځمکو د مالکيت د اسنادو او اقتصادي بياجوړوني د فعاليت (LTERA) څخه وروسته، د 2011 کال په جنورۍ کې، د متحده ايالاتو نړيوالې پرمختيايي ادارې Tetra Tech ARD ته يو قرارداد ورکړ چې په افغانستان کې د ځمکو د اصلاحاتو (LARA) پروګرام تطبيق کړي. د دغه قرارداد د اجرأ نېټه د 2011 له جنورۍ څخه د 2014 تر جنورۍ پورې وه او 42 ميليونه ډالر ارزښت يې درلود. په افغانستان کې د ځمکو د اصلاحاتو (LARA) بيان شوی هدف دا وو چې يو روغ، دوامدار او د افغانانو تر مالکيت او اداري لاندې د ځمکو د مارکېټ چوکاټ ته، چې پانګه اچونه او د محصولاتو

وده تشویقوي، د ځمکو په سر شخړې حلوي یا کموي او د حکومت په مشروعیت باندې اعتماد رامنځته کوي، او په دې توګه په افغاني ټولنه کې ثبات ته وده ورکوي، انکشاف ورکړي.

دا تفتیش به په افغانستان کې د ځمکو د ریفورم د حمایه کولو له پاره د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) په هڅو بیاکتنه وکړي. په ځانګړې توګه، سیګار پلان لري چې دغه حد داسې وټاکي چې (1) د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې د ځمکو د اصلاحاتو پروګرامونه د هغوی هدفونه او مقصدونه پوره کړي، او (2) افغان حکومت وکولی شي چې هره هغه لاسته راوړنه وساتي چې د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) د ځمکو د اصلاحاتو د مرستې له لارې ترلاسه شوې دي.

## د افغانستان د حکومت د کارمندانو او تخنیکي مشاورینو له پاره د متحده ایالاتو له خوا د تنخاګانو اکمالات

له 2002 کال راهیسې، متحده ایالاتو او نورو نړیوالو مرستندویانو په میلیونونه ډالر په دې لګولي دي چې د افغانستان د حکومت د زرګونو کارمندانو او تخنیکي مشاورینو تنخاګانې تادیه یا اکمال کړي.
د دغو تادیاتو هدف دا دی چې د افغانستان حکومت سره د په کارپوهو افغانانو په ورجلبولو او ساتلو کې مرسته وکړي څو په حکومت کې یا د حکومت ترڅنګه کار وکړي، او په دې توګه د عوایدو په برخه کې د افغان حکومت د کمیو او د حکومتي کارمندانو د تنخاګانو په برخه کې لاس وکړي چې له حکومت څخه بهرد ورته موقفونو د کارمندانو له تنخاګانو سره برابرې شي.

د 2010 په اکتوبر کې، سیګار یو د تفتیش راپور خپور کړ چې د متحده ایالاتو له خوا د تنخاګانو د اکمال پروګرامونه یې ارزول (وګورئ د سیګار 5-11 تفتیش، د *افغان حکومت کارمندانو او تخنیکي مشاورینو ته د متحده ایالاتو له خوا په برابره شوې مرسته کې د نابرابریو او د خوندیتوب د نشتوالي د له منځه وړلو له پاره د اړتیا وړ چارې*، د 2010 د اکتوبر 29مه). تفتیش د نورو شیانو ترڅنګ دا وموندل چې:

- د تنخاګانو له پاره د متحده ایالاتو او مرستندویانو د مرستو پوره اندازه نه وه معلومه،
- د تنخاګانو له پاره د متحده ایالاتو مرسته په اداروکې په ناسم ډول تطبیق شوې وه،
- د مرستندویانو کارونو د پایښت اوږدمهالې وړتیا او د ظرفیت انکشاف کمزورۍ کاوه، او
- د افغان حکومت د بشري منابعو او د تادیاتو سیستمونو کې غټې کمزورۍ موجودې وې.

د تفتیش د موندلو په نتیجه کې، سیګار په افغانستان کې د متحده ایالاتو سفیر ته 10 سپارښتنې وکړې څو د متحده ایالاتو له خوا د تنخاګانو د اکمالاتو په برخه کې ځواب وینې او منظم توب ته وده ورکړي.
د راپور د یوې مسودې په ځواب کې، په کابل کې د متحده ایالاتو سفارت د راپور له موندنو او سپارښتنو سره موافقه وښوده.

دا تفتیش به د افغانستان د حکومت کارمندانو او تنخنیکي مشاورینو ته د متحده ایالاتو د ادارو له خوا د تنخاګانو په اکمالاتو باندې بیاکتنه وکړي. په ځانګړې توګه، مونږ پلان لرو چې هغه حد معلوم کړو چې د متحده ایالاتو ادارې یې له 2010 کال راهیسې لري: (1) چې د افغانستان د حکومت کارمندانو او تخنیکي مشاورینو ته یې د تنخاګانو اکمالات کړي دي؛ (2) د افغانستان د حکومت کارمندانو او مشاورینو ته د ورکول شویو تنخاګانو د اکمالاتو په هکله یې د همغږۍ او نظارت میکانیزمونه پلي کړي دي؛ او (3) د افغانستان حکومت په اوږدمهالي ظرفیت او تداوم باندې یې د تنخاګانو د اکمالاتو تاثیر ارزولی دی.

## مالي تفتیشونه

سیګارخپل د مالي تفتیش پروګرام په 2012 کال کې وروسته له هغه پیل کړ چې کانګرس او د نظارت ټولنې له سمندر څخه د پورې غاړې ناڅاپي عملیاتو په ملاتړ کې د شویو قراردادونو او بلاعوضه مرستو په نظارت او تفتیشونو کې د خالیګاوو په هکله اندېښنې وښودلې. سیګار د سیالۍ یا رقابت له لارې د محاسبې مستقلې ادارې انتخابوي چې مالي تفتیشونه ترسره کړي او دا یقیني کړي چې د تفتیش کار د متحده ایالاتو د حکومت د تفتیش کولو په معیارونو برابر دی. مالي تفتیشونه د فدرالي عمومي مفتش له ټولنې سره همغږي کیږي څو د مالي تفتیش پوښښ پراخ کړي او د کارونود دوه ځلې ترسره کېدا مخه ونیسي.

په دې درې میاشتنۍ موده یا ربعه کې، سیګار د افغانستان د بیاجوړونې له پاره د متحده ایالاتو له خوا د تمویل شویو قراردادونو، بلاعوضه مرستو، او د همکارۍ د تړونونو 11 مالي تفتیشونه ترسره کړل. د سیګار د مالي تفتیشونو پروګرام لکه څنګه چې په 2.1. جدول کې ښودل شوي دي په ټولیزه توګه 53 مالي تفتیشونه بشپړ کړي دي چې له 4 بیلیونه ډالرو څخه ډېرلګښتونه یې په کې تفتیش کړي دي او 26 نورمالي تفتیشونه یې روان دي چې تقریبا د 2.7 بیلیونه ډالرو په ارزښت لګښتونه تفتیش کوي. دا تفتیشونه د متحده ایالاتوحکومت او امریکایي مالیه ورکوونکیو ته په اطمینان ورکولو کې مرسته کوي چې هغه پیسې چې په دغو بلاعوضه مرستو کې ورکول شوي دي هغسې وکارول شوې چې تمه یې کېده. دغه تفتیشونه د هغو لګښتونو په هکله پوښتنه کوي چې نشي کېدای تایید کړای شي یا دا چې احتمالا په غیرقانوني توګه شوي دي.

سیګار د هرمالي تفتیش راپورهغې تمویلوونکې ادارې ته ورصادروي چې بلاعوضه مرسته (ې) یې کړې وي. تمویلوونکې اداره مسؤله ده چې د پوښتنې وړمبلغونو په هکله چې د راپور د تفتیش په موندنو کې مشخص شوي وي وروستی تصمیم ونیسي. د دغه پروګرام له پیل راهیسې، د سیګار مالي تفتیشونو له 279.5 میلیونه ډالرو څخه ډېر د پوښتنې وړ لګښتونه او 289.880 ډالر په مخکې اخیستل شویو فدرالي فنډونو یا نورو عایداتي مبلغونو چې حکومت ته د تادیه کولو وړ ول، د نه تادیه شویو سودونو په شکل په ګوته کړي دي. د 2015 د جولای له 30مې راهیسې تمویلوونکې ادارې د 39 بشپړو شویو مالي تفتیشونو په هکله یوې اداري پرېکړې ته ورسېدې او په دې توګه د 11.6 میلیونه ډالرو د پوښتنې وړ پیسو د استرداد په لټه کې دي. د تمویلوونکیو ادارو له پاره دا وخت ته اړتیا لري چې د تفتیش موندنې او سپارښتنې په غورسره په پام کې ونیسي. په نتیجه کې، د سیګار د ګڼو صادرو شویو مالي تفتیشونو په هکله باید اداري تصمیمونه ونیسي. د سیګار مالي تفتیشونو همدارنګه د 192 اجرائي موندنو او 231 د داخلي کنټرول د موندنو په هکله تفتیش شویو موسساتو او تمویلوونکیو ادارو ته خبر ورکړی دی.

د سیګارمالي تفتیشونه ځلورځانګړي هدفونه لري:

- په دې هکله یو نظر ورکوي چې آیا د مرستې له پاره د ځانګړي هدف مالي شرحه له ټولو مادي جهتونو، ترلاسه شویو عوایدو، شویو لګښتونو، د متحده ایالاتو د حکومت له خوا د مستقیما پیرودل شویو شیانو صحیح معلومات وړاندې کوي او له هغې مودې سره یې میزان برابر دی چې تفتیش شوې ده او دا چې آیا دا ټولې چارې د قرارداد له شرایطو او په عمومي توګه د محاسبې له منل شویواصولو یا نورو هراړخیزو اساساتو سره برابرې دي.
- د مرستو د قرارداد په هکله د تفتیش شوې موسسې د داخلي کنټرول په هکله ارزونه کوي او کافي اندازه معلومات پرې ترلاسه کوي؛ او د موادو په هکله د داخلي کنټرول د کمزورتیاوو په شمول د پام وړعیبونه په ګوته کوي او په هکله یې راپور ورکوي.

جدول 2.1

| د سیګار د مالي تفتیش پوښښ (بیلونه ډالر) | |
|---|---|
| 53 بشپړ شوي تفتیشونه | $4.0 |
| 26 روان تفتیشونه | 2.7 |
| **ټولټال** | **$6.7** |

یادونه: عددونه نژدې پوره عددونو ته ورغونډ کړای شوي دي. په پوښښ کې هغه د تفتیش وړ قېمتونه شامل دي چې د متحده ایالاتو له خوا د افغانستان د بیارغونې تمویل شویو قراردادونو، بلاعوضه مرستو، او د همکارۍ د تړونونو ترلاسه کوونکیو ترلاسه کړي دي.

منبع: د سیګار د تفتیشونو او پلټنو ریاست

**د پوښتنې وړمبلغونه:** په مخکې ورکول شویو فدرالي فنډونو یا د عوایدو په نورو مبلغونوباندې چې حکومت ته د تادیه کېدلو وړ دي په احتمالي توګه د نه توجیه وړ ترپوښتنې لاندې قېمتونو او نه تادیه شویو سودونومجموعه

**د پوښتنې وړ قیمتونه:** هغه لګښتونه چې معلومه شوې وي چې غیرمجاز یا غیرقانوني دي. د تر پوښتنې لاندې قیمتونو دوه ډولونه غیرقانوني قیمتونه (له یوه قانون څخه سرغړونه، تنظیمول، قرارداد، بلاعوضه مرسته، د همکارۍ موافقه او داسې نور.. یا د پیسو غیرضروري لګښت) او نه حمایه شوي قیمتونه دي (هغه قیمتونه چې د یوه تفتیش پر وخت کافي اندازه اسناد یا کاغذي تاییدونه نه لري).

**د ځانګړي هدف مالي شرحه:** د یوې ورکول شوې مودې په جریان کې د یوې ورکول شوې مرستې یوه مالي شرحه چې ټول هغه عواید په کې شامل وي چې ترلاسه شوي وي، هغه قیمتونه چې لګول شوي وي، او تر هغو وروسته هر پاتې شوی میزان.

- داسي ازموینې ترسره کوي چې معلومه کړي چې آیا تفتیش شوي موسسې، د ټولو داخلي اړخونو په پام کې نیولو سره، د ورکول شوي قرارداد شرایط او د اجرأ وړ قوانین او مقررات ترسره کړي دي؛ او هم د موادو نه مطابقت مشخص کړي او په هکله یې راپور ورکړي.
- دا مشخصه کړي او په هکله یې راپور ورکړي چې آیا تفتیش شوي موسسې کافي اندازه اصلاحي چارې ترسره کړي دي چې له پخوانیو فعالیتونو څخه د ترلاسه شویو موندنو اوسپارښتنو په هکله راپور ورکړي او حل یې کړي.

د بشپړو شویو او روانو مالي تفتیشونو یو لسټ کېدای شي د دې درې میاشتنې راپور په ج ضمیمه کې وموندل شي.

## خپاره شوي مالي تفتیشونه

په دې درې میاشتنې موده کې، سیګار د افغانستان د بیارغونې له پاره د متحده ایالاتو له خوا د تمویل شویو قراردادونو، بلاعوضه مرستو، او د همکارۍ د تړونونه 11 مالي تفتیشونه بشپړ کړي دي. دغو مالي تفتیشونو په ګوته کړه چې 37.4 میلیونه ډالر لګېدلې پیسې د داخلي کنترول د عیبونو او د نه مطابقت د مسایلو له امله د پوښتنې وړ دي. په دغو عیبونو او د نه اجرأتو په ستونزوکې د سیالی له لارې د تدارکاتو د پروسیجرونو نه تعقیبول، د سوداګرۍ د سطحې یا بزنس کلاس هوایي ټکټونه چې د منلو وړ توجیهاتو څخه پرته پیرودل شوي ول، کارمندانو او د خدمتونو وړاندې کوونکیو ته د بانکي خدمتونو یا د انټرنټ له لارې د تادیاتو پرځای د 80% په اندازه نغدي تادیاتو لګښتونه، د نه منظورې شوي اضافه کارۍ لګښت، په خطرې شرایطو کې د کار له امله 35% تادیات، د آویزونو او ملاتړو اسنادو په ساتنه کې ناکامي، له امریکایي ډالرو څخه خایې پیسو ته د اړونې غلط نرخونه، د څارنې او ارزونې د راپورونو په سپارلو کې ناکامي، د ځانګړیو ساحوي دفترونو په لګښتونو کې غلط تخصیصونه، افغان حکومت ته د متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) له خوا د مالیاتو د ورکولو نه جبران وړ آویزونه، د غیرمستقیمو لګښتونو له امله اضافي آویزونه صادرول، د شیانو د موجودۍ د ریکارډونو او تجهیزاتود ترتیب نه بشپړتیا، او له 5 میلیونه ډالرو څخه د ډېرښت په صورت کې په محلي تدارکاتو باندې د حکومت د تایید په ترلاسه کولو کې پاتې راتګ شامل ول.

### 15-59-FA مالي تفتیش: د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت اړوند په افغانستان کې د ماین پاکۍ، چاودونکیو توکیو د له منځه وړلو، او د ماینونو په هکله د خبرتیا فعالیتونه

**د ماین پاکۍ او د افغانستان د بیارغونې د موسسې (اومر) له خوا د شویو لګښتونو تفتیش**

د 2010 د اپریل او د 2014 د مارچ ترمنځ، د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت د وسلو د له منځه وړلو او کمولو موسسې نهه بلاعوضه مرستې چې ټول ارزښت یې له 15.6 میلیونه ډالرو څخه ډېر وو د ماین پاکۍ او د افغانستان د بیارغونې موسسې (اومر) ته ورکړې. د دغو بلاعوضه مرستو اساسي هدفونه دا ول چې په افغانستان کې په کلیوالي او ښاري سیمو کې اوسېدونکیو ته د استوګنې خوندي چاپیریالونه، او د بې خایه شویو خلکو د راستنېدنې له پاره ښه شرایط برابر کړي. د مثال به توګه، د یوې بلاعوضه مرستې په نتیجه کې په کابل، ننګرهار، او هرات کې په ټولیزه توګه 2316217 مربع فته ځمکه چې ماینونه په کې ول او 18 ولسونه د ځمکنیو ماینونو او ناچاودو توکو په واسطه متاثر شوي ول، پاکه کړای شوه. د سیګار مالي تفتیش، چې د ډاویس اینډ ایسوسیټس سیرټیفاید پبلک اکاونټنټس یا پي ایل ایل سي (ډاویس) له خوا اجرأ شوی دی، د 15668124 ډالرو لګول شویو پیسو بیاکتنه وکړه چې په هغو کې 15666000 د 2010 د اپریل د 1 او د 2014 د مارچ د 31 ترمنځ په بلاعوضه مرستو کې حساب شوي وې. پاتې 2124 ډالر د متحده ایالاتو حکومت پسې نه وې حساب شوې.

## بشپړ شوي مالي تفتیشونه

- 15-59-FA مالي تفتیش: د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو د وزارت له خوا په افغانستان کې د ماین پاکۍ، چاودونکیو توکیو د له منځه وړلو، او د ماینونو په هکله د خبرتیا فعالیتونه: د هغو لګښتونو تفتیش چې د ماین پاکۍ او د افغانستان د بیارغونې د موسسې له خوا شوي دي.
- 15-61-FA مالي تفتیش: د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) له خوا په افغانستان کې په انتخاباتو کې د برخه اخیستنې پراخ پروګرام: د هغو لګښتونو تفتیش چې د انتخاباتو او سیاسي پروسې د پیاوړتیا له پاره شرکت له خوا شوي دي.
- 15-63-FA مالي تفتیش: د متحده ایالاتو د پوځي واحد له خوا د افغان ملي پولیسو او افغان ملي اردو د مخابراتي وسایلو د روزنې او ساتنې پروژې: د هغو لګښتونو تفتیش چې د DRS د تخنیکي خدمتونو د شرکت له خوا شوي دي.
- 15-64-FA مالي تفتیش: د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) له خوا د افغانستان د رسنیو د انکشاف او پیاوړتیا پروژه: د هغو لګښتونو تفتیش چې د انټرنیوز شبکې له خوا شوي دي.
- 15-66-FA مالي تفتیش: د متحده ایالاتو د پوځي واحد د انجنیرۍ چارو حمایه: د هغو لګښتونو تفتیش چې د CACI ټکنالوجیز له خوا شوي دي.
- 15-69-FA مالي تفتیش: د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو د وزارت له خوا د افغانستان د عدلیې د سکټور د حمایې پروګرام II: د هغو لګښتونو تفتیش چې د پاسفیک آرکیتیکچرز او انجنیرز له خوا شوي دي.
- 15-71-FA مالي تفتیش: د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت اړوند په افغانستان کې له قربانیانو سره د مرستې او ظرفیت جوړونې پروګرام: د هغو لګښتونو تفتیش چې د کلییر پت انټرنېشنل له خوا شوي دي.
- 15-72-FA مالي تفتیش: د متحده ایالاتو د پوځي واحد اړوند د کورنیو چارو د وزارت پروګرام: د هغو لګښتونو تفتیش چې د اېل – 3 خدمتونه شرکت له خوا شوي دي.
- 15-73-FA مالي تفتیش: د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې د جنوبي سیمو د کرنیزې پراختیا پروګرام: د هغو لګښتونو تفتیش چې د آی آر ډي له خوا شوي دي.
- 15-75-FA مالي تفتیش: د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې اړوند ثبات په کلیدی سیمو غرب کې: د هغو لګښتونو تفتیش چې د AECOM د نړیوالې پرمختیایي ادارې له خوا شوي دي.
- 15-76-FA مالي تفتیش: د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې اړوند ثبات په کلیدی سیمو شرق کې: د هغو لګښتونو تفتیش چې د AECOM د نړیوالې پرمختیایي ادارې له خوا شوي دي.

ډیویس د اومر په داخلي کنټرولونو کې یوه د موادو کمزورتیا او درې داسې موارد په ګوته کړل چې په هغو کې له قوانینو، مقرراتو یا د بلاعوضه مرستو له شرایطو او مقرراتو سره د موادو نه مطابقت ښکاره کېده. اومر د تدارکاتو د فدرالي اداري د پالیسیو مطابق کار نه وو کړی. په ځانګړې توګه، ډیویس ولیدل چې اومر د 2156695 ډالرو په ارزښت د موټرو د کرایه کولو له پاره د تدارکاتو یوه رقابتي پروسه نه وه کارولې. په مشابه ډول، اومر د امنیتي خوندیتابه د ټیمونو د برابرولو له پاره د تدارکاتو د رقابت د پروسې اسناد نه لرل، او نه یې هم د 2830 ډالرو د تادیاتو سند درلود. سربېره پر دې، ډیویس راپور ورکړ چې اومر د نغدو پیسو د ایستنې له پاره د اعظمي حد د ټاکنې له لارې د نغدو پیسو د استعمال د کمولو له پاره خپلې پالیسی هم نه وې تعقیب کړې چې په دې توګه کېدای شي چې د غلا اود پیسو د بدې استفادې احتمال ډېرشي. په پای کې، ډیویس متوجه شو چې اومر ځایي کارکوونکیو او قراردادیانو ته په تنخاګانو باندې لګېدلې مالیې په صحیح توګه نه وې منفي کړې.

د داخلي کنټرول د کمزورتیا اود موادو د نه مطابقت د مواردو په نتیجه کې، ډیویس 2159525 ډالر په نه حمایه شویو لګښتونو کې په ګوته کړل. ډیویس هېڅ غیرمجاز لګښتونه په ګوته نه کړل.

ډیویس د تفتیش په پخوانیو راپورونو او نورو ارزونو بیاکتنه وکړه چې کېدای شوای د ځانګړې هدف په مالي شرحه باندې یې اثر کړی وای. ډیویس په پخواني تفتیش کې درې نتیجې په ګوته کړې او داسې پرېکړه یې وکړه چې اومر له هغو څخه دوه مسئلې د تر تفتیش لاندې پروژې په برخه کې حل کړې دي. اومر د مناقصې د یوې رقابتي پروسې د اجرآتو د مستند کولو په برخه کې د تفتیش یوه پخوانی موندنه په صحیح توګه نه ده حل کړې. په دې تفتیش کې هم یوه مشابه موندنه په ګوته شوه.

ډیویس د اومرد ځانګړې هدف د مالي شرحې په هکله یوه اصلاح شوې نظریه وړاندې کړه، او په نظریه کې هغوی دا ټکی په ګوته کړ چې ډیویس د غیرمجازلګښتونو یو د پام وړ مقدار نه دی ایستلی، چې ټول 2,159,525 شوي دي، چې په شرحه کې وړاندې کړای شوی دی.

د تفتیش د نتایجو په اساس، سیګارسپارښتنه کوي چې د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو د وزارت د بلاعوضه مرستو مدیر دې:

1. د مجازتوب په هکله پرېکړه وکړي او لکه څنګه چې مناسبه ده، په راپور کې په ګوته شوي، 2,159,525 ډالر د پوښتنې وړ مبلغ دې بېرته ترلاسه کړي.
2. اومر ته دې سپارښتنه وکړي چې په راپور کې یاده شوې د داخلي کنټرول یوه ستونزه دې حل کړي.
3. اومر ته دې سپارښتنه وکړي چې په راپور کې یادې شوې درې د نه مطابقت ستونزې دې حل کړي.

## 15-61-FA مالي تفتیش: د متحده ایالاتو د نړیوالي پرمختیایي ادارې له خوا په افغانستان کې په انتخاباتو کې د ګډون پراخ پروګرام

**د شویو لګښتونو تفتیش د انتخاباتو او سیاسي پروسې د پیاوړتیا د کنسرسیوم له خوا شوی دی**

د 2008 کال د سپتمبر پر 28 مه، د متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) د انتخاباتو او سیاسي پروسې د پیاوړتیا کنسرسیوم (CEPPS) سره د 40 میلیونه ډالرو په ابتدایي لګښت یوه د همکارۍ موافقه لاسلیک کړه څو په افغانستان کې په انتخاباتو کې د ګډون پراخ پروګرام حمایه کړي.



**د کابل جنوب ختیځ ته په کلیوالي سیمو کې**، یو ماین خنثی کوونکی په خوندي لباس کې د اومر د ماین پاکې د موسسې له پاره کار کوي. (عکس په افغانستان کې د کاناډا د سفارت له خوا اخیستل شوی دی)

**نه حمایه شوي لګښتونه:** هغه چې د کافي اندازه اسنادو په واسطه نه وي حمایه شوي یا دا چې د مخکې تر مخکې اړتیا وړتایید سند ونه لري.

**غیرمجاز لګښتونه:** هغه چې د موافقې، جاري قوانینو، یا مقرراتو په اساس منع شوي وي.

سرچینه: د سیګار د تفتیشونو او پلټنو ریاست

د پروګرام اساسي هدفونه دا ول چې (1) د کاندیدانو او رایه ورکوونکیو وړتیا پیاوړې کړي چې په راروانو انتخاباتو کې برخه واخلي، او (2) عامه خبرتیا او د انتخاباتو د پروسې نظارت پراخ کړي. تمه وه چې دغه پروګرام د 2009 او 2012 په انتخاباتو کې د خلکو یوه مؤثره اوپه خبرتیا ولاړه برخه اخیستنه پراخه کړي. او همدارنګه، داسې مرسته او ملاتړ برابر کړي چې په انتخاباتي پروسه کې شفافیت او پراخه برخه اخیستنه یقیني کړي. د سیګارمالي تفتیش چې د ډیویس له خوا ترسره شو د هغو 10,040,492 ډالرو لګښت بیاکتنه وکړه چې لګښت یې د 2012 د اکتوبر له 1 څخه د 2013 د سپتمبر تر 30 مې پورې په یاده موافقه باندې اچول شوی وو.

ډیویس د CEPPS په داخلي کنټرولونو کې دوه د پام وړ کمزورتیاوې او دوه عیبونه په ګوته کړل، او ویې موندل چې په درې موادو کې د همکارۍ د تړون له شرایطو سره د پام وړ نه مطابقت موجود دی. په ځانګړې توګه، CEPPS په دې نه وه توانیدلی چې په فرعي قرادادونو کې د 894,126 ډالرو له پاره د سیالۍ له لارې د تدارکاتو د پروسې له پاره کافي اندازه حمایوي اسناد وړاندې کړي. په نتیجه کې، CEPPS نه وه توانېدلی چې ثابته کړي چې دغه لګښتونه د منلو وړ دي، او دا چې د متحده ایالاتو حکومت ښایي تر ټولو ښه ارزانه قیمت نه وي ترلاسه کړی. سربېره پر دې، CEPPS داسې حمایوي اسناد وړاندې نه کړل چې د ټاکلیو مصارفو، لکه سفر، د پیسو بدلول، یا د محلي مالیې د تادیاتو د وجایبو له پاره د همکارۍ د تړون له اجرأ وړ مقرراتو او شرایطو سره سمون ولري، چې په نتیجه کې 175,467 ډالر د غیرمشمول لګښتونو په توګه پاتې کیږي.

د داخلي کنټرول د دغو عیبونو او د نه مطابقت د مواردو په نتیجه کې، ډیویس وموندل چې په ټولیزه توګه 1,070,576 ډالر د پوښتنې وړ دي، چې په دې کې د 895,109 ډالرو حمایوي اسناد نشته او 175,467 ډالرپه غیرمشمول لګښتونو کې راځي.

ډیوډ د پخواني تفتیش راپورونه او نورې ارزونې، چې کېدای شوای د ځانګړې هدف په مالي شرحه باندې یې د پام وړ تاثیر کړی وای، ترلاسه کړل او بیاکتنه یې پرې وکړه. ډیویس په پخواني تفتیش کې د قراردادونو له پاره د انتخاب د نامناسبې پروسې او د اسنادو د ساتنې له پاره د خاصو کنټرولونو د نشتوالي په برخه کې دوه موندنې ګوته کړې. د اسنادو له بیاکتنې او ارزونې څخه وروسته، ډیویس دې نتیجې ته ورسېد چې CEPPS هغه دوه ستونزې په مناسب ډول حل کړې وې، او دا چې د نورو ګامونو اخیستلو ته اړتیا نه وه.

ډیویس د فرعي قراردادونو، سفر، او نورو مستقیمو لګښتونو چې په ټولیزه توګه 1,070,576 ډالر د پوښتنې وړ لګښتونه کیږي اړوند د کافي اندازې حمایوي اسنادو د نشتوالي له امله د ځانګړې هدف د مالي شرحې په هکله یوتعدیل شوی نظر صادر کړ.

د تفتیش د نتایجو په اساس، سیګار سپارښتنه کوي چې د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) د موافقې مدیر:

1. د مجازتوب په هکله پرېکړه وکړي او لکه څنګه چې مناسبه ده، په راپور کې په ګوته شوې، 1,070,576 ډالر د پوښتنې وړ مبلغ دې بېرته ترلاسه کړي.
2. CEPPS ته دې سپارښتنه وکړي چې په راپور کې یادې شوې د داخلي کنټرول څلورستونزې دې حل کړي.
3. CEPPS ته دې سپارښتنه وکړي چې په راپور کې یادې شوې درې د نه مطابقت ستونزې دې حل کړي.

### FA-15-63 مالي تفتیش: د متحده ایالاتو د پوځي واحد له خوا د افغان ملي پولیسو او افغان ملي اردو د مخابراتي وسایلو د روزنې او ساتنې پروژې:

**د شویو لګښتونو تفتیش د DRS د تخنیکي خدمتونو د شرکت له خوا شوی دی.**

د متحده ایالاتو د اردو د قراردادونو قوماندانۍ (ACC) د DRS د تخنیکي خدمتونو شرکت ته دوه وظیفوي قراردادونه ورکړل. د 2012 د جون په 17مه د اردو د قراردادونو قوماندانۍ 0004 نمبر وظیفوي حکم چې ابتدايي مبلغ يې 25 میلیونه ډالر وو، صادر کړ څو افغان ملي پولیسو ته مخابراتي وسایل او روزنیز ملاتړ برابر کړي. د 2012 د سپتمبر پر 7مه، د اردو د قراردادونو قوماندانۍ 0005 نمبر وظیفوي حکم چې ابتدايي مبلغ يې 18 میلیونه ډالر وو صادر کړ چې افغان ملي اردو د مخابرو د مراقبت، د مواصلاتو د مراقبت او د سیستمونو د انجنیرۍ په برخو کې وروزي.

د 2013 د سپتمبر له 29 مي راهیسي په 0004 وظیفوي حکم کې د ځینو تعدیلاتو او په 0005 وظیفوي حکم کې د اوو تعدیلاتو په راوستلو سره د دغو قراردادونو قیمت 86 میلیونه ډالرو ته لوړ کړای شو.

د سیګار مالي تفتیش چې د کرووی هوروات ایل ایل پي (کروهوروات) له خوا ترسره شو، په هغو 45,402,656 ډالرو لګښت باندې بیاکتنه وکړه چې د 2012 د جون له 17 څخه د 2013 د سپتمبر تر 29 مي پورې په دغو دوه وظیفوي حکمي قراردادونو پسې حساب شوي دي.

کرووي هوروات یو د پام وړ عیب په داخلي کنټرولونو کې په ګوته کړ او یو يې د وظیفوي حکمونو له مقرراتو او شرایطو سره د نه مطابقت مورد وموند. کرو وي ځینې داسې موارد وموندل چې په هغو کې د DRS د پروژې رییس په حکومت پسې په اونۍ کې له 72 ساعتونو څخه د ډېرې غیرمجاز اضافه کارۍ لګښتونه حساب کړي ول او دا کار یې د قرارداد کوونکي مدیر له مخکې تر مخکې تایید څخه پرته کړی وو. ډي آر ایس په دې نه وو توانېدلی چې داسې اسناد وړاندې کړي چې په ټاکلي مهالویش کې دننه د دغو استثناأتو له پاره د حکومت تایید وښيي.

د داخلي کنټرول د دغې کمزورتیا او د نه مطابقت د مورد په نتیجه کې، کروهوروات په ګوته کړه چې په ټولیزه توګه 1,408 ډالر تر پوښتنې لاندې لګښتونه دي، چې ټول يې غیرحمایه شوي یا غیرمستند لګښتونه دي. کروهوروات هېڅ غیرمجاز لګښتونه په ګوته نه کړل.

کروهوروات هېڅ داسې پخواني تفتیشونه، بیاکتنې، یا ارزونې چې د DRS له خوا د قرارداد تطبیق پورې اړه ولري یا دا چې د څانګړي هدف د مالي شرحې مواد وي په ګوته نه کړل.

کروهوروات د DRS د څانګړي هدف د مالي شرحې په هکله یو نه تعدیل شوی نظر صادر کړ. کروهوروات وښودله چې شرحه د تفتیش د مشخصې دورې ترلاسه شوي عواید، ترسره شوي لګښتونه، او میزان په مناسب ډول، او د پام وړ ټولو اړخونو په پام کې نیولو سره وړاندې کوي.

د تفتیش د نتایجو په اساس، سیګار سپارښتنه کوي چې د اردو د قرارداد کولو په قوماندانۍ کې مسؤل قرارداد کوونکی مدیر:

1. د مجازتوب په هکله پرېکړه وکړي او لکه څنګه چې مناسبه ده، په راپور کې په ګوته شوي، 1,408 ډالر د پوښتنې وړمبلغ دې بېرته ترلاسه کړي.
2. DRS ته دې سپارښتنه وکړي چې په راپور کې یاده شوې د داخلي کنټرول ستونزه دې حل کړي.
3. DRS ته دې سپارښتنه وکړي چې په راپور کې یاده شوې د نه مطابقت ستونزه دې حل کړي.

## 15-64-FA مالي تفتیش: د متحده ایالاتو د نړیوالي پرمختیایي ادارې (USAID) د افغانستان د رسنیو د انکشاف او پیاوړتیا پروژه

**د هغو لګښتونو تفتیش چې د انټرنیوز شبکې له خوا شوي دي**

د 2010 په نومبرکې، د متحده ایالاتو نړیوالي پرمختیایي ادارې (USAID) له انټرنیوز شبکې (انټرنیوز) سره د 21.9 میلیونه ډالرو په ارزښت یو د همکارۍ تړون لاسلیک کړ چې د افغانستان د رسنیو د انکشاف او پیاوړتیا پروژه تطبیق کړي. د دغې پروژې هدف دا وو چې د افغانستان د رسنیو سکټور ته د خپرونو د سیمه ییزو سټیشنونو د حمایه کولو، د محلي رسنۍ د ظرفیتونو د لوړولو، او د رسنیو ټکنالوجۍ ته د لاس رسي د پراختیا له لارې انکشاف ورکړي. له 13 تعدیلاتو څخه وروسته، د همکارۍ د موافقې ټوله تایید شوې بودجه تقریبا 32 میلیونه ډالرو ته پورته شوه او د اجرأتو دوره د 2013 د ډسمبر تر 31مې پورې وغزېده. د سیګار مالي تفتیش چې د کروهوروات له خوا ترسره شوی وو د لګښتونو په 32,697,186 ډالرو باندې چې د 2010 د نومبر له 1 څخه د 2013 د ډسمبر تر 31 مې پورې په یادې موافقې پسې حساب شوي ول بیاکتنه وکړه.

کروهوروات د انټرنیوز په داخلي کنټرولونو کې دوه غټې کمزورتیاوې او دوه د پام وړعیبونه په ګوته کړل، او درې یې داسې موارد په ګوته کړل چې په هغو کې د همکارۍ د موافقې له مقرراتو او شرایطو سره مطابقت موجود نه وو. د داخلي کنټرول عیبونه او د نه مطابقت موارد دواړه په ګډه د دې سبب شول چې د نغدي مدیریت، د مالي شرحو او څارنې او ارزونې د پلانونو په هکله د راپور ورکولو د شرایطو، د پروګرام د عوایدو د سره یوځای کولو، او د غیرمستقیمو لګښتونو د محاسبې په برخو کې ځلور موندنې رامنځته شي. په «عمومي او اداري» غیرمستقیمو لګښتونو کې د انټرنیوز په محاسبو کې یو شمېر فرعي ترلاسه کوونکیو ته تادیات شامل ول، په داسې حال کې چې د هغه د مذاکره شوي غیرمستقیم لګښت د اندازې په موافقه او د تنظیم په اداره کې ټول فرعي تادیات مستثنی شوي ول. په دې توګه، ښایي چې انټرنیوز د متحده ایالاتو نړیوالي پرمختیایي ادارې پسې 194,446 ډالر اضافي لګښت حساب کړی وي.

د داخلي کنټرول د دغو کمزورتیاوو او د نه مطابقت د مواردو په نتیجه کې، کروهوروات په ګوته کړه چې په ټولیزه توګه 194,446 ډالرترپوښتنې لاندې لګښتونه دي، چې ټول یې غیرحمایه شوي یا غیرمستند لګښتونه دي. په تر پوښتنې لاندې لګښتونو کې هېڅ غیرمجاز لګښتونه شامل نه ول.

سربېره پر دې، کرو هوروات وموندله چې انټرنیوز د دې له پاره چې عاجلې نغدي اړتیاوې پوره کړي له اړتیا څخه ډېرې پیسې یا فنډونه اېستلي دي چې په نتیجه کې یې د متحده ایالاتو حکومت ته په ګټه کې 2,717 ډالر تاوان وراړولی دی.

کروهوروات هېڅ داسې پخواني تفتیشونه، بیاکتنې، یا ارزونې چې د انټرنیوز له خوا د افغانستان د رسنیو د انکشاف او پیاوړتیا پروژې تطبیق پورې اړه ولري یا دا چې د ځانګړي هدف د مالي شرحې له پاره مهم وي په ګوته نه کړل.

کروهوروات د انټرنیوز د ځانګړي هدف د مالي شرحې په هکله یو نه تعدیل شوی نظر ورکړ. کروهوروات وښودله چې شرحه د مشخصې تفتیش شوې دورې ترلاسه شوي عواید، شوي لګښتونه، او میزان په مناسب ډول، او د ټولو مهمو اړخونو په پام کې نیولو سره وړاندې کوي.

د تفتیش د نتایجو په اساس، سیګار سپارښتنه کوي چې د متحده ایالاتو د نړیوالي پرمختیایي ادارې (USAID) د قراردادونو مدیر:



**د ښځو د موسسې غړې او د هرات نور** اوسېدونکي د هرات د ملټي میډیا په نوي مرکز کې د یوې ساده ویډیوي کمرې د کارولو په هکله روزنه ترلاسه کوي. (د متحده ایالاتو د نړیوالي پرمختیایي ادارې عکس)

1. د مجازتوب په هکله پرېکړه وکړي او لکه څنګه چې مناسبه ده، په راپورکې په ګوته شوي، 194,446ډالر د پوښتنې وړمبلغ دې بېرته ترلاسه کړي.
2. له انټرنیوز څخه دې 2,717 ډالر ګټه ټوله کړي.
3. انټرنیوزته دې سپارښتنه وکړي چې په راپور کې یادې شوې څلور د داخلي کنټرول ستونزې دې حل کړي.
4. انټرنیوزته دې سپارښتنه وکړي چې په راپور کې یادې شوې درې د نه مطابقت ستونزې دې حل کړي.

### 15-66-FA مالي تفتيش: د اردو د انجنيري حمايي څانګه
#### د CACI ټکنالوجيز له خوا د شويو لګښتونو تفتيش

د 2006 د مارچ په 2مه، د متحده ایالاتو د اردو د قراردادونو قوماندانی د CACI ټکنالوجیز شرکت ته داسې یو قرارداد ورکړ چې په یوه ټاکلي وخت کې به یو شمېر داسې خدمتونه وړاندې کوي چې له پیل نه یې اندازه معلومه نه وي. د اردو د قراردادونو قوماندانی تر دغه قرارداد لاندې دوه وظيفوي حکمونه (0096 او 0127) ورکړل چې ټول ارزښت یې 429 میلیونه ډالر وو.

د اردو د قراردادونو قوماندانی 0096 وظيفوي حکم چې اعظمي ارزښت یې 198 میلیونه ډالر او د اجرأ موده یې د 2010 د سپتمبر له 20مې څخه د 2014 د فبروری تر 28مې پورې وه د 2010 د سپتمبر په 20 مه صادر کړ. د دغه وظيفوي حکم په هدف کې د سیستم انجنیری او تخنیکي مرستې تر پروګرام لاندې انجنیري او د پروګرام مدیریت، لوجیستیک، او ټرانسپورټ شامل ول. د مثال په توګه، دغه وظيفوي حکم د افغانستان د نشه ییزو توکو پر ضد پولیسو له پاره د مرکزونو د بیارغونې غوښتنه کوله.

د 2011 د سپمتبر په 16 مه د اردو د قراردادونو قوماندانی 0127 وظيفوي حکم صادر کړ، چې هدف یې دا وو چې د متحده ایالاتو اردو ته انجنیري او لوجیستیکي حمایه برابره کړي. د دغه وظيفوي حکم اعظمي قیمت 231 میلیونه ډالر، او د اجرأ موده د 2011 د سپتمبر له 16مې څخه د 2014 د سپتمبر تر 15مې پورې وه. د سیګار مالي تفتیش، چې د کرو هوروات له خوا ترسره شوی وو د 263,188,060 ډالرو په اندازه لګښتونو بیاکتنه شوې وه چې د 2010 د سپتمبر له 20مې څخه د 2014 د اپریل تر 30مې پورې په یادو وظيفوي حکمونو باندې حساب شوي وې.

کرو هوروات پنځه غټې کمزورتیاوې، دوه د پام وړعیبونه، او څلور داسې موارد وموندل چې په هغو کې د وظيفوي حکمونو له مقرراتو او شرایطو سره مطابقت موجود نه وو. کارمندانو ته د خطري شرایطو له امله د څانګړیو تادیاتو په ارزونه کې، CACI د متحده ایالاتو په حکومت پسې دومره تادیات حساب کړي ول چې د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو د وزارت له 35% اساسي اجورې څخه ډېر ول. په یو شمېر مواردو کې، د خطري شرایطو له امله تادیات د اساسي اجورې د تادیاتو له 50% څخه ډېر شول. همدارنګه، CACI د کار د اوږدو شویو اونیو د اضافه کارۍ د تادیاتو له پاره د قرارداد کوونکي مدیر مخکې تر مخکې تایید نه وو ترلاسه کړی. په نتیجه کې، ښایي چې د متحده ایالاتو حکومت کارګرانو ته دومره اجوره ورکړې وي چې نامناسبه یا غیرضروري وي. البته قرارداد کوونکي مدیر څرګنده کړه چې د اوږده شوي کار اونۍ په وظيفوي حکم کې شاملې وې او دا یې وښودله چې دا د اجرأتو د ټولې دورې له پاره ضروري وه. د 0096 نمبر وظيفوي حکم د 2011 د اګست په 8مه تعدیل شو، او د اجرأتو یوه داسې بیاکتل شوې کاري شرحه یې برابره کړه چې د 96 ساعتونو اوږدې شوې کاري اونۍ یې منظورې کړې. البته، 0127 وظيفوي حکم په مشابه ډول نه وو تعدیل شوی.

د داخلي کنټرول د دغو عیبونو او د نه مطابقت د مواردو په نتیجه کې، کروهوروات په ټولیزه توګه 192,708 ډالر تر پوښتنې لاندې لګښتونو په توګه په ګوته کړل، چې په دې کې 152,976 ډالر غیرحمایه شوي لګښتونه او 39,732 غیرمجاز لګښتونه شامل ول.

کروهوروات هېڅ داسې پخوانی بیاکتنې یا ارزونې په ګوته نه کړې چې هغه د څانګړې هدف په مالي شرحه باندې یو د پام وړ تاثیر ولري.

کروهوروات د CACI د ځانګړي هدف د مالي شرحي په هکله د نظر نه لرلو بیانیه صادره کړه ځکه چې CACI د مدیریت د استازیتوب داسي لاسلیک شوی لیک وړاندي نه کړچي هغه د کمپنی د مالي شرحو صحت تصدیق کړي. CACI یو لیک لاسلیک نه کړ ځکه چې هغوی داسي احساس کړه چي په دي هکله اصول نه ول موجود چي د ځانګړي هدف مالي شرحي باید څنګه تیاري شي او په دي توګه تر داسي لزوم لاندي نه راتلل چي یو د مدیریت د استازیتوب لیک دي لاسلیک کړي. البته، دغه لیک د متحده ایالاتو د حکومت له خوا د تفتیش له پاره د منل شویو معیارونو لاندي د مدیریت د مسؤلیتونو یوه ضروري برخه دی او له هغه څخه پرته، کروهوروات نه شوای کولی چي یو نظر صادر کړي.

د تفتیش د نتایجو په اساس، سیګار سپارښتنه کوي چي د اردو د قرارداد کولو په قوماندانی کي مسؤل قرارداد کوونکی مدیر:

1. د مجازتوب په هکله پرېکړه وکړي او لکه څنګه چي مناسبه ده، په راپور کي په ګوته شوي، 192,708 ډالر د پوښتني وړ مبلغ دي بېرته تر لاسه کړي.
2. CACI ته سپارښتنه وکړي چي په راپور کي يادي شوې د داخلي کنټرول اوه ستونزي حل کړي.
3. CACI ته سپارښتنه وکړي چي په راپور کي يادي شوي د نه مطابقت څلورستونزي حل کړي.

## 15-69-FA مالي تفتیش: د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو د وزارت اړوند د افغانستان د عدلي سکتورحمایوي پروګرام II

**د هغو لګښتونو تفتیش چي د پاسیفیک آرکیتیکټس اینډ انجنیرز شرکت له خوا شوي دي.**

د 2010 د می په 31مه، د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت پاسیفیک آرکیتیکټس اینډ انجنیرز شرکت (PAE) ته د 24 میلیونه ډالرو په ارزښت یو وظیفوي حکم صادر کړ چي د افغانستان د عدلي سکتور حمایوي پروګرام II (JSSP II) تطبیق کړي. د دغه پروګرام هدف دا وو چي تخنیکي مرسته او روزنه وړاندي کړي اوپه دي توګه د عدلي موسساتو او کارپوهانو ظرفیتونه پیاوړي کړي څو د افغانستان خلکو ته مناسب او مؤثرعدلي خدمتونه ترسره کړي. له ورپسي تعدیلاتو څخه وروسته، د پروګرام تمویل له 144 میلیونه ډالرو څخه پورته لاړ، او د اجرأتو دوره د 2013 د سپتمبر تر 24مي پوري وغزېده. د سیګار مالي تفتیش چي د کروهووارت له خوا وشو په هغو 139,538,326 ډالرو باندي چي لګول شوي دي او د 2010 د می له 31مي څخه د 2013 د سپتمبر تر 24مي پوري په نوموړي وظیفوي حکم پسي حساب شوي دي بیاکتنه وکړه.

کروهوروات یوه غټه کمزوري په داخلي کنټرولونو کي او یو د نه مطابقت مورد په اجرأ وړ مقرراتو کي وموندل. کروهوروات وموندله چي PAE د ملکیت د مدیریت په برخه کي د تدارکاتو له فدرالي پالیسیو سره سم کار نه دی کړی. په ځانګړي توګه، PAE نه وه توانېدلي چي د وظیفوي حکم اړوند حکومتي ملکیتونو په هکله د موجودی بشپړ لست وړاندي کړي. کروهوروات همدارنګه د 2012 په اګست او د 2013 په سپتمبر کي د موجودی د اخیستل شویو لستونو ترمنځ توپیرونه وموندل، او داسي پرېکړه یي وکره چي PAE داسي یوه لاره چاره نه ده لټولي چي دغه توپیرونه له منځه وېسي.

د داخلي کنټرول د عیب او د نه مطابقت د مورد په نتیجه کي، کروهوروات په مجموعي توګه 6,458 ډالر داسي په ګوته کړل چي د پوښتني وړ ول، چي تول یي نه حمایه شوي یا بي اسنادو لګښتونه ول. کروهوروات هېڅ غیرمجاز لګښتونه په ګوته نه کړل.

کروهوروات هېڅ داسي پخواني بیاکتني یا ارزوني په ګوته نه کړې چې د افغانستان د عدلي سکټور د حمایوي پروګرام له خوا د PAE تطبیق پورې اړه ولري یا دا چې د ځانګړي هدف د مالي شرحي له پاره مهمي وي.

کروهوروات د PAE د ځانګړي هدف د مالي شرحي په هکله یو غیرتعدیل شوی نظر خپور کړ، او دا یې یاده کړه چې هغه د تفتیش شوې دورې له پاره د موادو په ټولواړخونو کې، د ترلاسه شویو عوایدو، شویو لګښتونو، او میزان په هکله مناسب معلومات وړاندې کوي.

د تفتیش د نتایجو په اساس، سیګارسپارښتنه کوي چې د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت کې د قرارداد کولو مسؤل مدیر:

1. د مجازتوب په هکله پرېکړه وکړي او لکه څنګه چې مناسبه ده، په راپورکې په ګوته شوي، 6,458 ډالر د پوښتني وړمبلغ دې بېرته ترلاسه کړي.
2. PAE ته سپارښتنه وکړي چې په راپورکې یاده شوې د داخلي کنټرول یوه ستونزه حل کړي.
3. PAE ته سپارښتنه وکړي چې په راپور کې یاده شوې د نه مطابقت یوه ستونزه حل کړي.

## 15-71-FA مالي تفتیش: د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو د وزارت اړوند په افغانستان کې له قربانیانو سره د مرستې او ظرفیت جوړونې ګډ پرورګرام

### د هغو لګښتونو تفتیش چې د کلییر پت انټرنیشنل له خوا شوي دي.

د 2010 د مارچ په 9مه، د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت کلییر پت انټرنیشنل (CPI) ته 3,000,000 ډالر بلاعوضه مرسته ورکړه چې په افغانستان کې له قربانیانو سره د مرستې او ظرفیت جوړونې ګډ پروګرام (IVA-CBP) حمایه کړي. د دغه پروګرام هدف دا وو چې د متحده ایالاتو د مرستې اندازه او ساحه د جګړې د پاتې چاودونکیو توکو لکه ماینونو او ناچاودو توکو قربانیانو ته پراخه کړي. له درې نورو اضافي مرستو څخه وروسته، د پروګرام تمویل 12,988,530 ډالرو ته پورته شو، او د اجرأتو دوره د 2014 د مارچ 31مې ته وغزېده. د سیګار مالي تفتیش چې د کروهوروات له خوا ترسره شو په 12,988,530 ډالرو چې په لګښتونو لګېدلي او د 2010 د مارچ له 9مې څخه د 2014 د مارچ تر 31مې پورې په بلاعوضه مرستې پسې حساب شوې وې بیاکتنه وکړه.

کروهوروات د CPI په داخلي کنټرولونو کې پنځه مادي کمزورۍ او پنځه د نه مطابقت موارد چې د IVA-CBP د بلاعوضه مرستو له مقرراتو او شرایطو سره یې لرل وموندل. په ځانګړې توګه، کروهوروات دا نتیجه ترلاسه نه کړه چې آیا 11 آویزونه چې له 4.8 میلیونه ډالرو څخه ډېر ارزښت یې درلود له بیا تمویل څخه مخکې لګېدلي ول یا دا چې د CPI غیرمستقیم لګښتونه په مناسب ډول محاسبه شوي ول. سربېره پر دې، کروهوروات وموندله چې د مصارفو اکثرو معاملو د بیاکتنې ثبوتونه نه لرل، او دا چې حمایه کوونکې اسناد یې موجود نه ول. په نتیجه کې، کروهوروات ونه شوای کولی چې پرېکړه وکړي چې آیا دغه لګښتونه مجاز ول او په بلاعوضه مرستو پسې حسابېدای شوای، او په دې توګه یې په حکومت پسې د حساب شویو نه حمایه شویو آویزونو د نه مطابقت د پام وړ ستونزې رابرسېره کړې. کروهوروات همدارنګه ډېر داسې موارد ولیدل چې په هغو کې وسایل د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو د وزارت له منظورۍ څخه پرته ایسته غورځول شوی ول. کروهوروات همدارنګه 98,618 ډالر تر پوښتنې لاندې لګښتونه وموندل چې د سیالۍ له لارې د مناقصې له پاره یې حمایه کوونکي اسناد نه لرل.

د داخلي کنټرول د دغو عیبونو او د نه مطابقت د مواردو په نتیجه کې، کروهوروات په مجموعي توګه 5,390,804 ډالر د پوښتنې وړ لګښتونه په ګوته کړل، چې ټول یې نه حمایه شوي لګښتونه ول. کروهوروات هېڅ غیرمجاز لګښتونه په ګوته نه کړل.

کروهوروات د IVA-CBP په هکله د CPI د کار په اړوندو پخوانیو د تفتیش راپورونو باندې بیاکتنه وکړه او دې نتیجې ته ورسېد چې داسې پخوانۍ موندنې نه وې موجودې چې د دغه تفتیش په جریان کې دې تعقیب ته ضرورت ولرې.

کروهوروات د CPI د ځانګړې هدف په مالي شرحه باندې یوه د نظر نه لرلو بیانیه صادره کړه ځکه چې CPI د مدیریت د استازیتوب یو لاسلیک شوی لیک، چې هغه د یوې کمپنۍ مالي شرحې تایید کړې او باید داسې غیرقانوني کارونه څرګند کړې چې د تفتیش په جریان کې پیښېږي، وړاندې نه کړ. دغه لیک د حکومت د تفتیش د معیارونو په اساس د مدیریت د مسؤلیتونو یو ضروري جز دی. د CPI مشر مالي مدیر وویل چې هغه وخت چې د دغې پروژې ډېره برخه تطبیقېدله نوموړی د CPI کارمند نه وو. له دې امله، هغه په دې کې د راحت احساس نه کاوه چې د مدیریت د استازیتوب لیک دې لاسلیک کړي.

د تفتیش د نتایجو په اساس، سیګار سپارښتنه کوي چې د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت د بلاعوضه مرستومدیر:

1. د مجازتوب په هکله پرېکړه وکړي او لکه څنګه چې مناسبه ده، په راپورکې په ګوته شوي، 5,390,804 ډالر د پوښتنې وړمبلغ دې بېرته ترلاسه کړي.
2. CPI ته سپارښتنه وکړي چې په راپورکې یادې شوې د داخلي کنټرول ېنځه ستونزې حل کړي.
3. CPI ته سپارښتنه وکړي چې په راپورکې یادې شوې د نه مطابقت پنځه ستونزې حل کړي.

## 15-72-FA مالي تفتیش: د متحده ایالاتو د اردو د واحد اړوند د کورنیو چارو د وزارت پروګرام

**د هغو لګښتونو تفتیش چې د L-3 خدمتونه شرکت له خوا شوي دي.**

د 2010 د اپریل په 30 مه، د متحده ایالاتو د اردو د قراردادونو قوماندانۍ د 32.2 میلیونه ډالرو په ارزښت یو یو کلن قرارداد ایل – 3 خدمتونه شرکت (ایل – 3) ته چې په 2015 کال کې یې نوم په انجیلیتي ایل ایل سي (انجیلیتي) باندې اړولی دی، ورکړ – څو د کورنیو چارو د وزارت پروګرام پلې کړي. د دغه قرارداد هدف دا وو چې د افغانستان د کورنیو چارو د وزارت وړتیاوو ته د انکشاف ورکولو په برخه کې مرسته وکړي څو په خپلواک ډول د افغان ملي پولیسو د پلان، پروګرام، او مدیریت په برخو کې کار وکړي. له تعقیبي تعدیلاتو څخه وروسته، د پروګرام مالي تمویل 24.5 میلیونه ډالرو ته راښکته کړای شو او د پروګرام د بشپړولو نېټه د 2011 د اپریل 30 مه وټاکل شوه. د سیګار مالي تفتیش، چې د کروهوروات له خوا ترسره شوی دی په هغو 24,285,460 ډالرو باندې، چې د 2010 د می له 10 مې څخه د 2011 د اپریل تر 30مې پورې په قرارداد پسې په لګښتونو کې حساب شوي دي، بیاکتنه وکړه.



**د متحده ایالاتو د اردو د قراردادونو قوماندانۍ یو قرارداد د دې له پاره ورکړچې** د افغان ملي پولیسو د ارکانو لکه د افغان ملي پولیسو د عامه نظم د افسرانو په شمول د کورنیو چارو د وزارت وړتیاوو ته په انکشاف ورکولو کې مرسته وکړي. (د کورنیو چارو د وزارت عکس چې عبیدالله بهرام او فواد واحدي اخیستی دی)

کروهوروات په داخلي کنټرول کې دوه د پام وړعیبونه او د قرارداد له مقرراتو او شرایطو سره د نه مطابقت یو مورد په ګوته کړ. په داخلي کنټرول کې عیبونه او د نه مطابقت یو مورد په ګډه د نغدي مدیریت د پروسیجرونو او مالي راپور ورکوونې په برخه کې د دوه موندنو سبب وګرځېدل. په مشخص ډول، کروهوروات څلور داسې آویزونه په ګوته کړل چې حکومت ته د تادیاتو له پاره له سپارلو څخه مخکې یې د L-3 د مدیریت له خوا په صحیح توګه بیاکتنه او تایید نه ول شوي. سربېره پر دې، L-3 د قرارداد د څارنې راپورونه چې حکومت یې غوښتنه کوله وړاندې نه کړل.

کروهوروات هېڅ داسې د پوښتنې وړلګښتونه په ګوته نه کړل چې نه حمایه شوي لګښتونه یا غیرمجاز لګښتونه په کې شامل وي.

کروهوروات داسې پخوانی بیاکتنې یا ارزونې په ګوته نه کړې چې هغه د کورنیو چارو د وزارت په پروګرام د L-3 تطبیقاتو پورې اړه ولري یا دا چې د څانګړي هدف د مالي شرحې له پاره مهمې وي.

کروهوروات د L-3 د څانګړي هدف د مالي شرحې په هکله یو نه تعدیل شوی نظر صادر کړ، او دا یې یاده کړه چې هغه د تفتیش د ښودل شوې دورې له پاره د موادو په ټولو اړخونو کې، ترلاسه شوې عواید، شوې لګښتونه، او میزان په مناسب ډول وړاندې کوي.

د دې تفتیش په ټول بهیر کې L-3 یو قراردادي وو. L-3 په 2015 کال کې خپله ښه په اینجیلیتي باندې واړوله. په نتیجه کې، د سیګار سپارښتنې اینجیلیتي ته راجع کېږي، چې اوس د L-3 د کار اړوند د هرو موندنو او ستونزو مسؤل دی او د حلولو له پاره یې باید حساب کتاب ورکړي. د تفتیش د نتایجو په اساس، سیګار سپارښتنه کوي چې د متحده ایالاتو د اردو په قوماندانۍ کې د قراردادونو مسؤل مدیر:

1. انجیلیتي ته سپارښتنه وکړي چې په راپور کې یادې شوې د داخلي کنټرول دوه ستونزې حل کړي.
2. انجیلیتي ته سپارښتنه وکړي چې په راپور کې یاده شوې د نه مطابقت یوه ستونزه حل کړي.

## 15-73-FA مالي تفتیش: د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې د جنوبي سیمو کرنیز پرمختیایي پروګرام

### د آی آر ډي له خوا د شویو لګښتونو تفتیش

د 2011 د اګست په 27مه، د متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) له آی آر ډي سره د تقریبا 65 میلیونه ډالروپه ارزښت یوه د همکارۍ هوکړه وکړه څو د جنوبي سیمو کرنیز انکشافي (SRAD) پروګرام پلې کړي. د جنوبي سیمود کرنیز انکشافي پروګرام اساسي هدفونه دا ول چې اقتصادي ثبات پیاوړی کړي او د افغانستان په جنوبي؛ کندهار او هلمند ولایتونو کې اوږدمهالي کرنیز انکشاف ته وده ورکړي. د همکارۍ د تړون د اجرأتو لومړی دوره د 2012 د اګست په 31مه پای ته ورسېده. تر شپږو تعدیلاتو وروسته، د اجرأتو دوره د 2012 د اکتوبر تر 15مې پورې وغزېده، او د پروګرام مالي تمویل 70 میلیونه ډالرو ته پورته شو. د سیګار مالي تفتیش چې د کرو هوروات له خوا ترسره شو، په هغو 69,834,921 ډالرو باندې چې لګېدلي او د 2011 د اګست له 27مې څخه د 2012 د اکتوبر تر 15 مې پورې په قرارداد پسې حساب شوي ول، بیاکتنه وکړه.

کروهوروات دوه غټې کمزورتیاوې او په داخلي کنټرول کې یو د پام وړعیب، او د همکارۍ د قرارداد له مقرراتو او شرایطو سره د نه مطابقت څلورموارد په ګوته کړل. په مشخص ډول، هغسې چې د فدرالي مقرراتو قانون یې غوښتنه کوله د بازار د مناسب قیمت پر ځای آی ار ډي د مرستنه شویو شیانو له پاره تر ټولو لوړ ارزښت استعمال کړ. سربېره پر دې، د همکارۍ د تړون په اساس آی آر ډي

له 5 میلیونه ډالرو څخه د لوړ قیمت لرونکیو محلي تدارکاتو له پاره د متحده ایالاتود نړیوالي پرمختیایي اداري (USAID) تایید ته اړتیا لرله، په داسي حال کي چي آی آر ډي د هغو محلي تدارکاتو له پاره چي له 5 میلیونه ډالرو څخه لوړ قیمت یي درلود تایید نه وو ترلاسه کړی خکه چي آی آر ډي باور درلود چي د همکاری په تړون کي 1 نمبر تعدیل هغه شرط لغوه کړی دی. خو لکه څنګه چي د متحده ایالاتو نړیوالي پرمختیایي اداري د دي خبري پخلي کړی دی، یادي اداري هغه شرط نه وو لغوه کړی، او لا هم د هغو محلي تدارکاتو له پاره چي قیمت یي له 5 میلیونه ډالرو څخه ډېر وو تایید ترلاسه کولو ته اړتیا پرځای پاتي وه.

په داخلي کنټرول کي د دغو عیبونو او د نه مطابقت د مواردو په نتیجه کي، کرو هوروات 28,417,356 ډالر د پوښتني وړ مبلغ په توګه کړ، چي ټول یي نه حمایه شوي لګښتونه ول. کروهوروات هېڅ غیرمجاز لګښتونه په ګوته نه کړل.

کرو هوروات د تفتیش په دوه داسي راپورونو باندي بیاکتنه وکړه چي د جنوبي سیمو د کرنیز انکشاف (SRAD) پروګرام د هغوی د کار په ساحه کي شامل وو. البته، په پروګرام کي داسي هېڅ موندني یا ستونزي نه وي چي تعقیبولو ته دي اړتیا ولري.

کروهوروات د آی آرډي د ځانګړي هدف د مالي شرحي په هکله یو نه تعدیل شوی نظر صادر کړ، او دا یي یاده کړه چي هغه د تفتیش د بنودل شوي دوري له پاره د موادو په تولو اړخونو کي، تر لاسه شوي عواید، شوي لګښتونه، او میزان په مناسب ډول وړاندي کوي.

د تفتیش د نتایجو په اساس، سیګارسپارښتنه کوي چي د متحده ایالاتو په نړیواله پرمختیایي اداره (USAID) کي د موافقي مسؤل دفتر:

1. د مجازتوب په هکله پرېکړه وکړي او لکه څنګه چي مناسبه ده، په راپورکي په ګوته شوي 28,417,356 ډالر د پوښتني وړمبلغ دي بېرته ترلاسه کړي.
2. آی آر ډي ته سپارښتنه وکړي چي په راپورکي یادي شوي د داخلي کنټرول دري ستونزي حل کړي.
3. آی آر ډي ته سپارښتنه وکړي چي په راپور کي یادي شوي د نه مطابقت څلورستونزي حل کړي.

## 15-75-FA مالي تفتیش: د متحده ایالاتو د نړیوالي پرمختیایي اداري اړوند ثبات په مهمو سیمو کي – غرب

### د AECOM د نړیوالي پرمختیایي اداري له خوا د شویو لګښتونو تفتیش

د 2012 د جنوری په 29مه، د متحده ایالاتو نړیوالي پرمختیایي اداري (USAID) د 62,998,824 ډالرو په ارزښت یو قرارداد د AECOM نړیوال پرمختیایي شرکت (AECOM) ته ورکړ چي د غرب په مهمو سیمو کي د ثبات پروګرام حمایه کړي. د پروګرام ابتدایی هدف دا وو چي د افغانستان په لویدیځو سیمو کي د حکومت د اساسي خدمتونو د وړاندي کولو او له ولایتي حکومتونو سره په همغږۍ کي د ولسونو په مشری نوښتونو د تطبیقاتو له لاري ثبات ته وده ورکړي. تر اتو تعدیلاتو وروسته، د پروګرام مالي تمویل 54 میلیونه ډالرو ته راښکته شو، او د اجرأتو دوره د 2015 د اګست تر 31مي پوري وغزېده. د سیګار مالي تفتیش، چي د ویلیام اډلي اینډ کمپني- ډي سي ایل ایل پي (ویلیام اډلي) له خوا ترسره شو، په هغو 34,412,722 ډالرو باندي چي د 2012 د جنوری له 29مي څخه د 2014 د اګست تر 31مي پوري په قرارداد باندي حساب شوي وي، بیاکتنه وکړه.

ویلیامز اډلي په داخلي کنټرول کي یو عیب په ګوته کړ او د نه مطابقت موارد یي ونه موندل. AECOM د ریکارډونو د مدیریت او په مناسبه توګه د لګښتونو د محاسبي له پاره د تدارکاتو په فدرالي پالیسیو باندي برابر نه وو. په مشخص ډول، ویلیامز اډلي یاده کړه چي د اوو معاملو له پاره حمایوي اسناد چي ټول 284 میلیونه ډالر کیږي د AECOM له عمومي لیجر (د وروستی محاسبي کتاب) سره



**د USAID له خوا یوه ورکول شوي قرارداد** د ثبات په مهمو سیمو کې (SIKA) – لویدیځ، د پروګرام هدفونه حمایه کړل چې غوښتل یې چې اساسي حکومتي خدمتونه وړاندې، او د ولس تر مشرۍ لاندې نوښتونه پلي کړي. په دغو کارونو کې د خارستان د ولسي خلکو له خوا د اضافي اوبو د شبکو پاکول هم شامل وو. (د USAID عکس)

برابر نه ول. ویلیامز اېډلي داسې وموندله چې دغه د پوښتنې وړلګښتونه له دې امله دي چې AECOM د هغو مبلغونو له پاره چې آویزونه یې ورته صادر کړي دي د افغانۍ – امریکایي ډالرو د اړونې نرخونه له هغو نرخونو څخه چې د هغه په ریکارډونو کې دي فرق لري.

د داخلي کنټرول د عیب په نتیجه کې، ویلیامز ایډلي په ټولیزه توګه 284 ډالر د پوښتنې وړ لګښتونو په توګه په ګوته کړل، چې ټول یې نه حمایه شوي یا بې اسنادو لګښتونه ول. د پوښتنې وړ لګښتونو کې کوم غیرمجاز لګښتونه شامل نه ول.

ویلیامز ایډلي د پخواني تفتیش راپورونه او نورې ارزونې ترلاسه کړل او بیاکتنه یې پرې وکړه چې کېدای شوای د ځانګړي هدف په مالي شرحه باندې یې د موادو له مخې اغېز لرلی وای. ویلیامز ایډلي د سیګار د 2014 د سپتمبر له مالي تفتیش څخه د پخواني تفتیش پنځه موندنې په ګوته کړې چې د دې تفتیش ساحې پورې مربوطې وې (وګورئ سیګار 14-94-FA، د *USAID افغانستان لیرې پرتې ټولنې ته د لاس رسي پروګرام: د هغو لګښتونو تفتیش چې د AECOM انټرنېشنل پرمختیایي شرکت له خوا شوي دي، 11/3/2014*). د پخواني تفتیش له پنځو موندنو څخه درې د اسنادو ساتنې پورې تړلې وې – دا داسې یوه ستونزه وه چې په دې تفتیش کې هم وه. د اسنادو له بیاکتنې او ارزونې څخه وروسته، ویلیامز ایډلي تصمیم ونیو چې AECOM د هغو سپارښتنو په هکله چې دغه موندنې یې حل کړې کافي اندازه اصلاحي ګامونه اخیستي ول.

ویلیامز ایډلي د AECOM د ځانګړي هدف د مالي شرحې په هکله یو نه تعدیل شوی نظر صادر کړ، او دا یې یاده کړه چې هغه د تفتیش شوې دورې له پاره د موادو په ټولواړخونو کې، د ترلاسه شویو عوایدو، شویو لګښتونو، او میزان په هکله مناسب معلومات وړاندې کوي.

د تفتیش د نتایجو په اساس، سیګارسپارښتنه کوي چې د افغانستان له پاره د USAID د قراردادونو مسؤل مدیر دې:

1. د مجازتوب په هکله پرېکړه وکړي او لکه څنګه چې مناسبه ده، په راپورکې په ګوته شوي 284 ډالر د پوښتنې وړمبلغ دې بېرته ترلاسه کړي.
2. AECOM ته دې سپارښتنه وکړي چې په راپورکې یاده شوې د داخلي کنټرول یوه ستونزه حل کړي.

## 15-76-FA مالي تفتیش: د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې اړوند ثبات په مهمو سیمو کې – شرق پروګرام

### د AECOM د نړیوالي پرمختیایي ادارې له خوا د شویو لګښتونو تفتیش

د 2011 د ډسمبر په 7مه، د متحده ایالاتو نړیوالي پرمختیایي ادارې (USAID) د 177,054,663 ډالرو په ارزښت یو 18 میاشتنی قرارداد AECOM ته ورکړ چې ثبات په مهمو سیمو کې – ختیځ پروګرام حمایه کړي. د پروګرام ابتدایی هدف دا وو چې د افغانستان په ختیځو سیمو کې د حکومت د اساسي خدمتونو د وړاندي کولو او له ولایتي حکومتونو سره په همغږۍ کې د ولسونو په مشرۍ نوښتونو د تطبیقاتو له لارې ثبات ته وده ورکړي. تر پنځو تعدیلاتو وروسته، اساسي دوره د 2014 د مارچ 6مې ته وغزېده، او 18 میاشتني نوره هم اوږده شوه. د سیگار مالي تفتیش، چې د ویلیام ایډلي له خوا ترسره شو، په هغو 82,925,502 ډالرو لګښتونو باندې چې د 2011 د ډسمبر له 7مې څخه د 2014 د اګست تر 31مې.

پورې په قرارداد باندې حساب شوي وې، بیاکتنه وکړه. ویلیامز ایډلي په داخلي کنټرول کې یو عیب په ګوته کړ او د موادو د نه مطابقت هېڅ موارد یې ونه موندل. AECOM د یوه کارمند د قرارداد اسناد نه وو ساتلي چې ویلیامز ایډلي یې دې ته برابر کړ چې د تنخا په مربوطه لګښتونو کې د 6,807 ډالرو په هکله پوښتنه وکړي. سربېره پر دې ویلیامز ایډلي ولیدل چې د دوه معاملو حمایوي اسناد چې ټول 121 ډالر کېدل د AECOM د محاسبې له عمومي کتاب یا لیجر سره برابر نه ول. ویلیامز ایډلي وموندل چې دغه د پوښتني وړ لګښتونه د دې په نتیجه کې رامنځته شوي ول چې AECOM د افغانی – امریکایي ډالر د اړولو د نرخ له پاره یو ډول آویزونه صادرول خو په ریکارډونو کې یې بل ډول ساتل.

د داخلي کنټرول د عیب له امله، ویلیامز ایډلي په مجموعي توګه 6,928 ډالر د پوښتني وړ مبلغ په توګه په ګوته کړل، چې ټول یې د اسنادو په واسطه نه حمایه شوي لګښتونه ول. تر پوښتني لاندې لګښتونو کې هېڅ غیرمجاز لګښتونه شامل نه ول.

ویلیامز ایډلي د پخواني تفتیش راپورونه او نورې ارزوني ترلاسه کړل او بیاکتنه یې پرې وکړه چې کېدای شوای د ځانګړي هدف په مالي شرحه باندې یې د موادو له مخې اغېز لرلی وای. ویلیامز ایډلي د سیګار د 2014 د سپتمبر له مالي تفتیش څخه د پخواني تفتیش پېنځه موندنې په ګوته کړې چې د دې تفتیش ساحې پورې مربوطې وې (وګورئ سیګار 14-94-FA، د USAID افغانستان لیرې پرتې ټولنې ته د لاس رسي پروګرام: د هغو لګښتونو تفتیش چې د AECOM انټرنېشنل پرمختیایي شرکت له خوا شوي دي، 11/3/2014). د پخواني تفتیش له پنځو موندنو څخه درې د اسنادو ساتنې پورې تړلې وې – دا داسې یوه ستونزه وه چې په دې تفتیش کې هم وه. د اسنادو له بیاکتنې او ارزونې څخه وروسته، ویلیامز ایډلي تصمیم ونیو چې AECOM د هغو سپارښتنو په هکله چې دغه موندنې یې حل کړې کافي اندازه اصلاحي ګامونه اخیستي ول.

ویلیامز ایډلي د AECOM د ځانګړي هدف د مالي شرحې په هکله یو نه تعدیل شوی نظر صادر کړ، او دا یې یاده کړه چې هغه د تفتیش شوې دورې له پاره د موادو په ټولواړخونو کې، د ترلاسه شویو عوایدو، شویو لګښتونو، او میزان په هکله مناسب معلومات وړاندې کوي.

د تفتیش د نتایجو په اساس، سیګار سپارښتنه کوي چې د افغانستان له پاره د USAID د قراردادونو مسؤل مدیر دې:

1. د مجازتوب په هکله پرېکړه وکړي او لکه څنګه چې مناسبه ده، په راپورکې په ګوته شوي 6,928 ډالر د پوښتني وړمبلغ دي بېرته ترلاسه کړي.
2. AECOM ته دې سپارښتنه وکړي چې په راپورکې یاده شوې د داخلي کنټرول ستونزه حل کړي.

## پلټنې

### د پلټنې خپاره شوي راپورونه

په دې درې میاشتنۍ موده یا ربعه کې سیګار دوه د پلټنې راپورونه خپاره کړل. یوه راپور ومونډله چې په CNJC کې د پروژې تعمیراتي چارو تر ډېره حده د قرارداد شرایط پوره کړي دي، خو دوه تعمیراتي عیبونه په کې شته، او دا چې د توقیف مرکز له غوښتنې سره سم کارول کېږي. بل دویم راپور بیا ومونډله چې په کندهار هوايي ډګر کې د DLA ساتنځی (warehouse) سره له دې چې کوچنی عیبونه یې لرل ښه جوړ شوی وو، خو په تعمیراتي چارو کې اوږده ځنډونه د دې سبب شول چې دغه مرکز هېڅ ونه کارول شي.

### IP-70-15 پلټنه: د نشه یيزو توکو پرضد د مبارزې په عدلي مرکز کې د توقیف مرکز

**د پروژې ساختمان د قرارداد اکثر شرایط پوره کړي دي، خو دوه عیبونه په کې باید له منځه لاړ شي.**

د 2012 د اپریل په 12مه، د متحده ایالاتو د بهرنیوچارو د وزارت د سیمه یيزو تدارکاتو حمایوي اداري د 2 میلیونه ډالرو په ارزښت د ثابت قیمت یو قرارداد ضیاء احمدزی تعمیراتي شرکت (ZACC) ته چې یو افغاني شرکت دی ورکړ، څو په کابل کې د نشه یيزو توکو پرضد د مبارزې په عدلي مرکز (CNJC) کې یو نوی د توقیف مرکز جوړ کړي چې د توقیف د پخواني مرکز له پاره د متمم په توګه کار وکړي. د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو د وزارت د نشه یيزو توکو او د قانون د تنفیذ د چارو نړیوالي څانګې (INL) د توقیف د دغه نوي مرکز د جوړوني له پاره پیسې ورکړې. مرکز داسې جوړ شو چې کولی یې شوای چې 300 داسې توقیف شوي کسان چې د محاکمې له پاره انتظار کوي ځای کړي. د CNJC په محوطه یا کمپاونډ کې ګڼې ودانۍ موجودې دي چې مخې ته یې یوه دروازه او یو سرحد موجود دی، او دا ټول بیا په کابل کې د نړیوال هوايي ډګر شمال خوا ته په یوه لوی او په کلک ډول ساتل کېدونکي محوطه کې واقع دي. په دغه محوطه کې نوري امریکایي او افغان اداري، لکه د متحده ایالاتو د نشه یيزو توکو پرضد د مبارزې اداره او د افغانستان د نشه یيزو توکو پرضد د مبارزې پولیس، موجودې دي.

له ضیاء احمدزي تعمیراتي شرکت (ZACC) څخه غوښتنه داسې وه چې د انګلیسي د T توري په بڼه یو دوه منزله تعمیرچې په دواړو منزلونو کې یې د بندیانو کوچنی خونې، یوه د ملاقات ساحه، یوه د تمرین حوېلۍ، او کټاره، او همدارنګه برېښنا، اوبه، او د اضافي اوبو د وتلو سیستمونه چې له موجودو سیستمونو سره تړلي وي، جوړ کړي. ضیاء احمدزي تعمیراتي شرکت ته د یادښت له ترلاسه کولو څخه نیولې 365 ورځې وخت ورکول شوی وو چې د 2012 د جون له 18مې څخه کار پیل کړي او دغه وداني جوړه کړي. په قرارداد کې دوه تعدیلاتو د قرارداد ارزښت 2.1 میلیون ډالرو ته پورته کړ او د اجرآتو موده یې د 2013 د ډسمبر تر 16مې پورې اوږده کړه. دغه وداني بشپړه شوه او د 2013 د ډسمبر په 23مه په رسمي توګه افغان حکومت ته په لاس ورکول شوه.

د دغې پلټنې هدفونه دا ول چې پرېکړه وکړي چې آیا (1) کار د قرارداد له شرایطو او د اجرآ وړ تعمیراتي معیارونو سره سم بشپړ شوی، او (2) دغه نوی د توقیف مرکز هغسې چې اراده وه استعمالېده او مراقبت یې کېده.

سیګار د 2014 د سپتمبر په 14مه او د 2015 د جنوری په 26مه دوه ساحوي پلټنې ترسره کړې، او ویې موندل چې د پروژې ساختمان اکثر قراردادي شرایط پوره کړي ول او دا چې د توقیف مرکز له غوښتنې سره سم کارول کېده. سیګار همدارنګه په جوړونه کې دوه عیبونه ومونډل – چې په بام باندې د رڼا د راډېونو نشتوالی او د بام په حمایوي سیستم کې یو څه ناسم فلزي ویلډونه ول – چې د نشه یيزو توکو او د قانون د تنفیذ د چارو نړیواله څانګه (INL) یې باید حل کړي. دغه عیبونه د ژوند او خوندیتوب ممکنه ستونزې راپورته کوي چې عاجلې توجه ته ضرورت لري.

> **بشپړې شوې پلټنې**
>
> - IP-70-15 پلټنه: د نشه یيزو توکو پرضد د مبارزې په عدلي مرکز کې د توقیف مرکز: د پروژې ساختمان د قرارداد اکثر شرایط پوره کړي دي، خو دوه عیبونه په کې باید له منځه وړل شي.
> - IP-74-15 پلټنه: په کندهار هوايي ډګر کې د 14.7 میلیونه ډالرو په ارزښت د ساتنځی مرکز: د تعمیراتي چارو ځنډ د دې مخه ونیوله چې یاد مرکز دې له غوښتنې سره سم وکارول شي.

سیګار د 2014 د سپتمبر په 14مه او د 2015 د جنوری په 26مه دوه ساحوي پلټنې ترسره کړې، او ويې موندل چې د پروژې ساختمان اکثر قراردادي شرایط پوره کړي ول او دا چې د توقیف مرکز له غوښتني سره سم کارول کېده. سیګار همدارنګه په جوړونه کې دوه عیبونه وموندل – چې په بام باندې د رڼا د راډونو نشتوالی او د بام په حمایوي سیستم کې یو څه ناسم فلزي ویلډونه ول – چې د نشه یيزو توکو او د قانون د تنفیذ د چارو نړیواله څانګه (INL) یې باید حل کړي. دغه عیبونه د ژوند او خوندیتوب ممکنه ستونزې راپورته کوي چې عاجلې توجه ته ضرورت لري.

## 15-74-IP پلټنه: د کندهار په هوايي ډګر کې د 14.7 میلیونه ډالرو په ارزښت ساتنځی

**تعمیراتي خنډونو د دې مخه ونیوله چې یاد ساتنځی هغسې وکارول شي چې تمه یې کېده**

په 2009 کال، د متحده ایالاتو اردو د کندهار په هوایي ډګر کې د دفاعي لوجیستیک د اداري (DLA) د یوه ساتنځي د جوړولو له پاره د قرارداد شرایط چمتو کړل. په هغه وخت کې، د دفاعي لوجیستیک اداري په افغانستان کې د توزیع مرکز نه درلود. د هغه پرځای، یادې اداري مواد له افغانستان څخه بهر د نورو مرکزونو له لارې انتقالول. تر پلان لاندې مرکز په دې تمه جوړېده چې په کندهار کې د توزیع د یوه مرکز په توګه کار وکړي، چې دا به په هېواد کې دننه د افغان عملیاتو په ټول بهیر کې د کاروونکیو له پاره د دفاعي لوجیستیک د اداري تر ملکیت لاندې موادو له پاره د ترلاسه کولو، ذخیره کولو، او صادرولو له پاره اسانتیا برابره کړي. د متحده ایالاتو اردو شرایط برابر کړل، د متحده ایالاتو د انجنیرانو قول اردو (USACE) قرارداد کوونکې اداره او د پروژې مدیر وو، او د دفاعي لوجیستیک اداره کاروونکې وه.

د 2010 د سپتمبر په 15مه، د متحده ایالاتو د انجنیرانو قول اردو (USACE) د 13.5 میلیونه ډالرو په ارزښت یو د ثابت قیمت قرارداد YDA AFCON جاینټ وینچر یا ګډ ترون (YDA AFCON) ته چې د دوه ترکي تعمیراتي کمپنیو یو شرکت وو، ورکړ، څو د کندهار په هوایي ډګر کې د دفاعي لوجیستیک د اداري له پاره د ساتنځیو یا ویرهاوس یو مرکز جوړ کړي. د دغه قرارداد په اساس، دې ته ضرورت وو چې څلور د انتقالولو او ترلاسه کولو ساتنځي، یوه اداري ودانۍ، او حمایه کوونکې مرکزونه جوړ کړي. د دغه کار غوښتنه دا وه چې یو دایمي، نه اور اخیستونکی، د عمومي هدف له پاره ساتنځي مرکز جوړ شي چې د څلورو ساتنځایونو ترمنځ 173,428 مربع فټه د غولي (فرش) ساحه وي. دغه ساتنځي باید فلزي ډانچه لرونکې ودانۍ وي چې د ذخیره کولو د برخو له پاره د تودوخې، هوا کشۍ او ایرکندیشن سیستمونه ولري. اداري ودانۍ باید تقریبا 1,720 مربع فټه وي. په حمایه کوونکیومرکزونو کې قیرشوي سرکونه او د موټرو پارکونه، د کرش تیرو د لارېو پارکینګ او د شیانو د بښکته کولو له پاره د موټرود انتظار ساحې، حد معلوموونکي کتارې، د ساحې روښانولو څراغونه، او ټولو مرکزونو ته د اتصال لارې موجودې وې. د قرارداد د شرایطو په اساس، دغه تعمیراتي کار باید چې د 2011 د اګست تر 30مې یا د یادښت د ورکولو له نېټې څخه چې د 2010 د نومبر له 3 مه وه نیولې په 300 ورځو کې دننه بشپړ شوی وای. د 2013 د اپریل په 25مه، په تعمیراتي کار کې د میاشتو میاشتو ځنډ څخه وروسته د متحده ایالاتو د انجنیرانو قول اردو د شرایطو د نه پوره کولو له امله د نیم قرارداد ختمېدا صادره کړه. د قرارداد په کارې برخو کې چې پای ته رسول شوې او له قرارداد څخه بېلې کړای شوې وې په ساتنځایونو او اداري ودانیو کې د برېښنا په سیستمونو، د اضافي اوبو د اېستنې؛ او د اور د بندولو او د اور د زنګ د سیستمونو د لګولو، ازمویلو؛ د مخابراتي سیستم د نصبولو؛ او د برېښنا په کار کې موجود عیبونه او د دروازو، او د زینو ترځنګ د نیولو د کتارو د جوړولو په برخو کې نیمګړی کار شامل وو.



**د سیګار له خوا د کندهار په هوایي ډګر کې د یوه ساتنځي پلټنې** په تعمیراتي برخه کې د ودانۍ د بهرنې پلستر د ماتېدنې په شمول ګڼ کوچني عیبونه وموندل. (د سیګارعکس چې رونالډ سنیډر اخیستی دی)

د 2013 د مې په 5مه، د متحده ایالاتو د انجنیرانو قول اردو (USACE) د 844,526 ډالرو په ارزښت یو دویم د ثابت قیمت قرارداد ارکیل انټرنیشنل ایل ایل سي ته چې د دغې کمپنۍ مرکز په متحده ایالاتو کې دی ورکړ، څو د ساتنځي پروژه بشپړه کړي. د کار ساحه دا وه چې د مرکز د جنرېټر برېښنايي سیستم بشپړ او وازمویل شي؛ د کندهار د هوايي ډګر د برېښنا د وېش له سیستم څخه د ابتدايي برېښنا ارتباط طرحه او جوړ کړای شي؛ د اور د ګل کولو او د پمپ د ځای په ځای کولو سیستمونه بشپړ او وارزول شي؛ د ځلورو ساتنځایونو او یوې اداري ودانۍ له پاره یو مخابراتي سیستم جوړ کړای شي؛ د ورکو شویو، ماتو شویو، یا په نامناسب ډول طرحه شویو اجزاوو د موقعیت او د هغو د عوضونو د تنصیب په شمول ساتنځایونه بشپړ کړای شي؛ او د پروژې له ساحي سره نښتي د اوبو د وېش له سیستم سره د اوبو د ارتباط د یوځای کولو په شمول اداري ودانۍ بشپړه کړای شي، او د تشناب د نل غزوني کوشېرونه نصب کړای شي. دغه قرارداد د اجرأتو یوه 90 ورځنۍ دوره لرلې او د بشپړولو له پاره یې پلان شوې نېټه د 2013 د اګست 26مه ټاکل شوې ده. خو، وروسته له هغه چې د متحده ایالاتو د انجنیرانو قول اردو (USACE) قرارداد داسې تعدیل کړ چې د پروژې د ساحې له پاره د پاکوالي خدمتونه وړاندې کړي، د اور وژنې او د اور د خطر د زنګ په سیستمونو کې تغیر راولي، او اضافي پرسونل مقررکړي چې د اور د پمپ سیستم او د اور د پمپ کنټرولونکي وازمويي، بیا نو د بشپړتیا نېټه د 2013 د نومبر 10مې ته وغزېده. د دفاعي لوجیستیک اداري (DLA) د 2014 د فبرورۍ په 3مه د ساتنځی بشپړه شوې ودانۍ قبوله کړه.

د دې پلټنې له پاره، سیګار وارزوله چې آیا (1) ساختماني چارې د قرارداد له شرایطو او د ساختمان له اجرأ وړ معیارونو سره سمې بشپړې شوې وې، او (2) دغه مرکز لکه څنګه چې تمه وه کارول کېدلو.

سیګار د 2014 په نومبر او د 2015 په فبرورۍ کې له ساحې څخه لیدنې وکړې. سیګار وموندله چې د 14.7 میلیونو ډالرو په ارزښت دغه د ساتنځایونو مرکز په صحیح توګه جوړ شوی وو، خوګڼ کوچني عیبونه په کې موجود ول. سربېره پر دې، په ساختماني چارو کې اوږده ځنډونه د دې سبب شول چې دغه مرکز هېڅکله هم هغسې چې تمه یې کېده ونه کارول شي. که چېرې دغه مرکز له مهالوېش سره سم جوړ شوی وای، د دفاعي لوجیستیک اداره به په دې توانېدلې وای چې په 2014 کال په کندهار کې د یادې اداري د ماموریت د بشپړېدلو تر وخته له دوه کاله څخه ډېر وخت تري کار واخلي. سیګار همدارنګه وموندل چې د متحده ایالاتو اردو په دې هکله ګام نه وو اخیستی چې د 400,000 ډالرو په ارزښت د هغو تعدیلاتو مخه ونیسي چې د 2013 کال د اګست له پرېکړې څخه چې په کندهار کې به د دفاعي لوجیستیک د اداري ماموریت پای ته رسېږي، وروسته په پروژه کې شوي ول.

سیګار سپارښتنه کوي چې د متحده ایالاتو د مرکزي قوماندانۍ (CENTCOM) قوماندان په افغانستان کې د متحده ایالاتو د ځواکونو قوماندان (USFOR-A) ته هدایت وکړي چې په 90 ورځو کې دننه پرېکړه وکړي، معلومه کړي او بیرته سیګار ته راپور ورکړي چې د 2013 په اګست کې له دې پرېکړې څخه وروسته چې په کندهار کې به د دفاعي لوجیستیک د اداري ماموریت پای ته رسېږي، چا دا تصمیم نیولی وو، او ولې، یې په قرارداد کې تعدیلاتو او په ساتنځي باندې د اضافي پیسو لګولو ته اجازه ورکړې وه.

## نوې اعلان پلټنې

په دې درې میاشتنۍ موده کې، سیګار پنځه نوې پلټنې پیل کړې. هره پلټنه به دا وارزوي چې آیا (1) ساختماني چارې د قرارداد له شرایطو او د ساختمان له اجرأ وړ معیارونو سره سمې بشپړې شوې وې یا بشپړېږي، او (2) د مرکز برخې، که کومه یوه وي، چې نیول شوې دي لکه څنګه چې تمه وه کارول کېږي او مراقبت یې کېږي. دغه پلټنې به وارزوي:

### نوې پلټنې

- د متحده ایالاتو د بهرنیوچارو د وزارت/ د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي اداري له خوا تمویل شوې ساختماني پروژې
- د متحده ایالاتو د دفاع د وزارت له خوا تمویل شوې ساختماني پروژې
- د افغان ملي اردو د کمپ کمانډو III او IV فیزونه یا دورې
- د کورنیو چارو د وزارت د سرمشریزې ودانۍ
- د دفاع وزارت د سرمشریزې حمایوي او امنیتي غونډ

- د متحده اياالتو د بهرنيوچارو د وزارت/د متحده اياالتو د نړيوالي پرمختيايي ادارې له خوا تمويل شوي ساختماني پروژې
- د متحده اياالتو د دفاع وزارت له خوا تمويل شوي ساختماني پروژې
- د افغان ملي اردو د کمپ کمانډو III او IV فيزونه يا دورې
- د کورنيو چارو د وزارت د سرمشريزې ودانۍ
- د دفاع وزارت حمايوي او امنيتي غونډ

## د سيګار د سپارښتنو وضعه

د عمومي مفتش د 1978 قانون، لکه څنګه چې تعديل شوی دی، له سيګار څخه غوښتنه کوي چې د هغه د سپارښتنو په هکله راپور ورکړي. په دې درې مياشتنۍ دوره کې، سيګار 19 هغه سپارښتنې بندې کړې چې د تفتيش او پلټنې په په اتو راپورونو کې شاملې وې. د راپورونو له جملې څخه په پنځو کې يې داسې سپارښتنې شاملې وې چې په نتيجه کې يې 1,140,844 ډالر استرداد ته برابر شول. دغه پيسې په غيرمجاز يا نه حمايه شويو يعنې بې اسنادو قراردادي لګښتونو کې راتللې چې د متحده اياالتو حکومت تاديه کړې وې.

له 2009 څخه د 2015 ترجون پورې، سيګار 184 تفتيشونه، خبرتيايي ليکونه، او د پلټنې راپورونه خپاره کړل او 580 سپارښتنې يې وکړې چې پيسې بېرته ترلاسه کړي، د اداري نظارت ته وده ورکړي، او د پروګرام مؤثرتيا ډېره کړي. سيګار د دغو سپارښتنو له جملې څخه له 80% څخه ډېر بند کړي دي. په عمومي توګه د يوې سپارښتنې بندول د سيګار ارزونه ښيي چې تفتيششوي اداري يا سپارښتنه تطبيق کړې يا دا چې ستونزه يې په بل ډول په مناسبه توګه حل کړې ده. په ځينې مواردو کې، يوه بنده شوې سپارښتنه کېدای شي د تفتيش د کار د تعقيب موضوع وي.

د عمومي مفتش د 1978 قانون، لکه څنګه چې تعديل شوی دی، همدارنګه له سيګار څخه غوښتنه کوي چې له پخوانيو راپورونو څخه د هرو هغو مهمو سپارښتنو په هکله راپور ورکړي چې د هغو په هکله اصلاحي عمل بشپړ کړای شوی دی. په دې درې مياشتنۍ موده کې، سيګار په 39 د تفتيش او پنځو د پلټنې په راپورونو کې د سپارښتنو په هکله د اداري د ګامونو څارنې ته دوام ورکړ. په دې درې مياشتنۍ موده کې، د 12 مياشتو څخه ډېرې پخوانۍ سپارښتنې نشته چې د هغو په هکله بايد ادارو داسې يو اصلاحي پلان رامنځته کړی وای چې سيګار باور لري چې په ګوته شوې ستونزه به حل کړي يا دا چې سپارښتنو ته به په بل ډول ځواب ورکړي. البته، اوه داسې د 12 مياشتو پخوانې د تفتيش راپورونه شته چې په هغو کې سيګار اړوندو ادارو ته انتظار کوي چې خپل منل شوي اصلاحي ګامونه بشپړ کړي.

## ځانګړې پروژې

د سيګار د ځانګړې پروژې اداره د دې له پاره جوړه شوې وه چې رامنځته کېدونکي ستونزې وارزوي او چټک، د عمل وړ راپورونه فدرالي ادارو او کانګرس ته ورسوي. دغه ټيم د افغانستان د بيارغونې د ټولو اړخونو په هکله يو لړ ارزونې ترسره کوي او راپورونه توليدوي. ياده اداره له مفتشينو، تحليلګرانو، څېړونکيو، قانون پوهانو، د موضوع له کارپوهانو، او نورو کارپوهانو څخه تشکيل شوې ده چې هغوی کولی شي چې د رامنځته کېدونکيو ستونزو په هکله په چټکۍ او ګډه سره خپلې تجربې عملي کړي.

په دې درې مياشتنۍ موده يا ربعه کې، د سيګار د ځانګړيو پروژو ادارې د افغانستان په هلمند ولايت کې په ليدرنيک کمپ کې د قوماندې او کنټرول د 64000 مربع فټه پراخ د قوماندې او کنټرول د مرکز (د «64K» ودانۍ) په هکله يو راپور خپور کړ. دغه راپور د دغه نه غوښتل شوې، بې ضرورته، او نه استعمال شوي مرکز د جوړونې په هکله د سيګار د تقريبا دوه کالو څېړنې نتيجه ده.

### ځانګړې بشپړې شوې پروژې

- 15-57-SP راپور: په افغانستان کې په ليدرنيک کمپ کې د 36 ميليونه ډالرو په ارزښت د قوماندې او کنټرول مرکز: نه غوښتل شوی، بې ضرورته، او نه کارول شوی
- 15-60-SP استعلام: د ګازو د تصفيې د عملياتو پروژه
- 15-62-SP استعلام: د افغانستان د ښوونې او روزنې ارقام
- 15-65-SP استعلام: د تره خېلو د برېښنا دستګاه
- 15-67-SP استعلام: د پي سي ايچ د روغتيايي مرکزونو له پاره مکاني جغرافيوي کوارډينيټونه

د څانګړيو پروژو اداري همدارنګه د متحده ايالاتو د دفاع وزارت ته وليکل چې د 43 ميليونه ډالرو په ارزښت د ګازو د تصفيې د پروژې په هکله چې د تجارت او ثبات د عملياتو له پاره د څانګړي ځواک (TFBSO) له خوا تطبيق شوې ده معلومات وغواړي. د متحده ايالاتو نړيوالې پرمختيايي اداري (USAID) ته يو استعلام د دي له پاره وليږل شو چې د هغو اطلاعاتو او ارقامو په هکله معلومات ورکړي چې د دغې اداري له خوا په افغانستان کې د هغې د ښوونيزو او روزنيزو پروګرامونو د نظارت، تمويل، او ارزونې له پاره کارول کېدل. د متحده ايالاتو نړيوالې پرمختيايي اداري (USAID) ته نورو ليکونو د تره خېلو د برېښنا د دستګاه د نه کارولو او د PHC په واسطه د روغتيايي پاملرنې د تمويل شويو مرکزونو د موقعيت د معلوماتو د صحت په هکله اندېښنې راپورته کړې.

## 15-57-SP راپور: په افغانستان کې په ليدرنيک کمپ کې د 36 ميليونه ډالرو په ارزښت د قوماندې او کنټرول مرکز: نه غوښتل شوی، بې ضرورته، او نه کارول شوی

سيګار د 2015 د مى په 20مه د پروژې يو څانګړی راپور خپور کړ چې د ادارې له خوا د افغانستان په هلمند ولايت کې په ليدرنيک کمپ کې د «64K ودانۍ» د تعميراتي چارو د څېړنې نتيجې وړاندې کوي.

سيګار وموندل چې د متحده ايالاتو د دفا وزارت د دغه مرکز له پاره پيسې په دې اساس غوښتې وې چې په افغانستان کې د نظاميانو د 2010 د څپې په وړاندې د چټکو عملياتو له پاره ورته اړتيا ده. خو وروسته بيا، په هلمند کې د څپې عمومي مسؤل تورن جنرال ريچارډ پ. ميلز غوښتنه وکړه چې دغه مرکز دې نه جوړول کيږي ځکه چې اړتيا ورته نشته: په ليدرنيک کمپ کې موجود منابع د ماموريت له پاره بېخي برابر دي. خو، د ودانۍ د جوړولو د لغوې غوښتنه، د هغه وخت د تورن جنرال پيتر م. وانګجېل له خوا، چې باور يې درلود چې دا به «مصلحت» نه وي چې داسې يوه پروژه لغوه کړای شي چې د هغې له پاره د کانګرس له خوا پيسې منل شوې دي، رد کړای شوه. بالاخره، د ودانۍ جوړښت تر ډېره حتى وروسته له هغه چې ياده څپه تېره شوه بشپړ نه کړای شو او له يادې ودانۍ څخه هېڅکله هم کار وانه خيستل شو.



په ليدرنيک کمپ کې **64,000 مربع فټه نه کارول شوی** د قوماندې او کنټرول مرکز په دې درې مياشتنۍ موده کې د سيګار د څانګړې پروژې د راپور موضوع ده. (د سيګار عکس)



د 2013 د مى په يوه ليدنه کې وليدل شول چې په 64K ودانۍ **کې بکسونه په نه پرانستي** او چوکۍ په نه استعمال شوي حالت کې پاتې دي. (د سيګارعکس)

د 64K ودانۍ د جوړښت د لغوه کولو له پاره د جنرال ميلز د مشورې په تعقيبولو کې پاتې راتګ د دې سبب شو چې تقريبا 36 مليونه ډالر ضايع شي.

سره له دې چې اکثرو هغو ادارو او افرادو چې سيګار ورسره د دغې څېړنې پر وخت تماس نيولی دی همکاري کړې ده، ځينې چارواکو، د هغوی په وينا، هڅه کړې چې د سيګار څېړنه ورو يا ټکنۍ کړي.

## 15-60-SP استعلام ليک: د ګازو د تصفيې د عملياتو پروژه

د 2015 د مې په 18مه، د TFBSO د رواني بياکتنې د يوې برخې په توګه، سيګار د متحده ايالاتو د دفاع وزارت ته وليکل چې د وظيفوي ځواک د 43 مليونه ډالرو په ارزښت د ګازو د تصفيې د پروژې په هکله ترې پوښتنه وکړي. سيګار ته د پروژې هدفونه په ګنو دلايلو د نه عملي کېدلو وړ ښکاره شول چې په هغو کې د موټرو د ماشينونو د بدلولو لګښتونه او د ضروري زېربناء نشتوالی هم شامل ول. د 2015 د جون په 18مه، يوه مياشت وروسته له هغه چې سيګار د معلوماتو غوښتنه وکړه، د متحده ايالاتو د دفاع وزارت اداري مرستيال د سيګار استعلام ته داسې ځواب ورکړ، «د متحده ايالاتو د دفاع د وزير اداره نور دا شخصي مهارت نه [لري] چې دغه پوښتنې ځواب کړي يا دا چې د TFBSO معلومات او اسناد چې د WHS له خوا د OSD په مديريه آرشيف کې ساتل کيږي وارزوي.» سيګار به د دې پروژې په هکله خپلې موندنې ژر خپرې کړي.

## 15-62-SP استعلام: د افغانستان د ښوونې او روزنې اطلاعات او ارقام

سيګار د 2015 د جون په 11مه، د متحده اياالاتو نړيوالې پرمختيايي ادارې (USAID) ته وليکل څو د هغو اطلاعاتو او ارقامو د اعتبار په هکله ترې معلومات وغواړي چې USAID په افغانستان کې د ښوونې او روزنې په برخه کې د خپلو تعليمي پروګرامونو د نظارت او تمويل، او همدارنګه د دې له پاره کارول چې د دغو پروګرامونو مؤثرتيا اندازه کړي. د خبري رسنيو په راپورونو کې وروستي تورونه ښيي چې د ښوونې او روزنې په هغو اطلاعاتو او ارقامو يا ډېټا کې چې د افغانستان د حکومت له خوا USAID ته ورکول شوې ول د دې له پاره تقلب شوی ووچې نورې پيسې پرې ترلاسه کړای شي.

متحده اياالاتو او نړيوالو مرستندويانو د افغانستان د ښوونې او روزنې په سکتورکې د پام وړپانګونې کړې دي. د ډېټا يا اطلاعاتو او ارقامو تقلب ښيي چې ښايي دغو مرستندويانو يا ډونرانو د هغو ښوونځيو له پاره هم پيسې ورکړې وي چې زده کوونکي نه ورځي او د داسې ښوونکيو معاشونه يې ورکړي وي چې هغوی ښوونه نه کوي. هغه ارقام چې د متحده اياالاتو پرمختيايي اداره يې د روښانه شاخصونو په توګه يادوي د افغانستان د ښوونې او روني د وزارت د ښوونې او روزنې له معلوماتي سيستم څخه راځي، چې د متحده اياالاتو نړيوالې پرمختيايي ادارې ويلي دي چې هغه نشي کولی چې ريښتيا او دروغ يې معلوم کړي او ښايي چې تقلبي يا په ناسمه توګه محاسبه شوي ارقام په کې شامل وي.

سره له دې چې سيګار دا مهال په افغانستان کې د متحده اياالاتو د حکومت له خوا د لومړنی او ثانوي ښوونې او روزنې د حمايې د څو يو روان تفتيش تر لاس لاندې لري، خو سيګار باور لري چې د نه موجودو يا نه فعالو ښوونځيو، زده کوونکيو، او ښوونکيو په هکله تورونه چټکې پاملرنې ته اړتيا لري. د متحده اياالاتو نړيوالې پرمختيايي ادارې (USAID) د 2015 د جون په 30مه يوه استعلام ته ځواب ورکړ، او څرګنده يې کړه چې، «د افغاني رسنيو راپورونه..... صحيح نه دي،» او «داسې مشخص شواهد يا ادعاوې نشته.... چې د متحده اياالاتو د مرستو پيسې دې غلا کړای شوي وي، او مونږ باوري يو چې د ښوونې او روزنې پروګرامونه په افغانستان کې زمونږ له تر ټولو برياليو پروګرامونو څخه دي.» سيګار په دې لټه کې دی چې په ټول افغانستان کې د ګڼو ښوونځيو وضعه په خپله معلومه کړي. سيګار به په راتلونکيو څو ربعو کې د خپلو موندنو په هکله ګڼ راپورونه خپاره کړي.



**د متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایي ادارې د تره خېلو د برېښنا په دستګاه 355 میلیونه ډالر پانګونه وکړه،** چې په دې ربعه کې د سیګار د یوه استعلام لیک موضوع ده. (د USAID عکس)

## 15-65-SP استعلام: د تره خېلو د برېښنا دستګاه

د 2015 د جون په 19مه، سیګار د متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایي ادارې ته ولیکل څو د تره خېلو د برېښنا د دستګاه د استعمال او کابل ته د عوضي یا بک آپ برېښنا د تأمین په هکله ترې پوښتنه وکړي. د متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) د تره خېلو د برېښنا په دستګاه 355 میلیونه ډالر ولګول، چې هدف یې دا وو څو په افغانستان کې د هېواد په کچه د برېښنا ظرفیت پیاوړی کړي. البته، سیګار اندېښنه لري چې د افغانستان حکومت نشي کولی یا ښایي ونه توانېږي چې دغه دستګاه، حتی په عاجلو حالاتو کې، د مهمو، لنډمهالو اړتیاوو پر وخت، لکه د 2015 د فبروری په وروستیو وختونو کې د واورې د ښوېېدنې پر وخت چې د شمالي د برېښنا د انرژی د موجود سیستم مهمې برخې یې ویجاړې کړې، په بشپړ ډول وچلوي.

د تره خېلو د برېښنا د دستګاه په هکله د USAID OIG د 2014 د جون یوې بیاکتنې وموندله چې دغه د برېښنا دستګاه ډېره کمه کارول کیږي، او د نصب شوي ظرفیت په پام کې نیولو سره ایله 2.2% فعالیت کوي، چې USAID OIG د هغه یو دلیل د چلولو لوړ قېمت – په ځانګړې توګه د ډیزل تېلو لوړ قیمت، ګڼي. د OIG د راپور او ورسره سپارښتنو په ځواب کې، د متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایي ادارې څرګنده کړه چې هغه یا لا له وړاندې یا دا چې تر دې وروسته به داسې بیارغوونکي ګامونه واخلي چې له افغان حکومت او د افغانستان د برېښنا شرکت سره به مرسته وکړي چې دغه دستګاه په لا ډېره منظمه بڼه وکاروي. د متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایي ادارې څرګنده کړه چې ټول اصلاحي ګامونه به د 2014 د ډسمبر تر 31مې پورې تطبیق کړای شي، چې دا د واورې ښوېېدنې له پېښو څخه تقریبا دوه میاشتې مخکې وخت وو.

د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) له ژمنې سره سره چې دغه اصلاحي ګام به اخلي، سیګار اندېښمن دی چې آیا افغان حکومت دا وړتیا لري چې د 2015 د فبروری د واورې ښوېېدنو په نتیجه کې په کابل کې د برېښنا د بندښت په پام کې نیولو سره یاده دستګاه وچلوي. د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې د 2015 د جون په 26مه د سیګار استعلام ته ځواب ورکړ، او په یوه برخه کې یې څرګنده کړه چې اداره «داسې شواهد نه لري چې د افغانستان د برېښنا شرکت (DABS) لکه څنګه چې ستاسو په لیک کې تور لګېدلی وو، د تره خېلو د برېښنا د دستګاه په چلولو کې پاتې راغلی دی.» سیګار د متحده ایالاتود نړیوالې پرمختیایي ادارې ځواب تحلیلوي او د دستګاه د فعالیت نور تحلیلونه به تعقیب کړي.

## 15-67-SP استعلام: د پي سي ایچ د روغتیایي مرکزونو مکاني جغرافیوي کوارډینیټونه

سیګارد 2015 د جون په 25مه د متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایي ادارې ته ولیکل، څو د پي سي ایچ د پروګرام په هکله ترې معلومات وغواړي. دا هغه پروګرام دی چې د متحده ایالاتو نړیواله پرمختیایي اداره یې د افغانستان د عامې روغتیا وزارت سره د په بودجه کې شامل مرستو له لارې تمویلوي. د متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایي ادارې د 2015 د مارچ له میاشتې راهیسې د پي سي ایچ پروګرام له پاره له 210 میلیونه ډالرو څخه ډېر لګولي څو په ټول افغانستان کې د اساسي روغتیایي خدمتونو د ترسره کولو له پاره د عامې روغتیا د وزارت هڅې حمایه کړي.

د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) د ارقامو او مکاني جغرافیوي تصاویرو په هکله د سیګار ابتدایي تحلیلونو داسې پوښتنې راپورته کړي چې آیا د متحده ایالاتو نړیواله پرمختیایي اداره د 641 روغتیایي مرکزونو له جملې څخه چې د پي سي ایچ د پروګرام له خوا تمویلیږي د 510، یا 80% مرکزونو په هکله صحیح معلومات لري. د دې له پاره چې یو مفید نظارت ترسره کړي، د متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایي ادارې او د عامې روغتیا وزارت دواړه دې ته ضرورت لري چې د دغو مرکزونو موقعیتونه وپېژني. د متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایي ادارې د 2015 د جولای په 1 د سیګار استعلام ته ځواب ورکړ، او په یوه برخه کې یې یاده کړه چې دغه اداره «د ملامتیا احساس کوي چې هغه ارقام او معلومات چې سیګار د دغه استعلام د اساس په توګه کارولي ول د هغوی دروغ

او ريښتيا ژرمعلوم نه شول، دا په داسي حال کي ده چي دغه ځانګړي بسته داسي يو شی دی چي د عامي روغتيا وزارت يې وخت په وخت تازه کوي،» او، «په اکثرو مواردو کي د دقيقو مکاني جغرافيوي ارقامو نشتوالی په مؤثره توګه د پي سی ايچ د څارلو په برخه کي زمونږ په وړتيا کي لړوبړ نه راولي.» د دغه ځواب ته د يوې ضميمي په توګه، د متحده ايالاتو نړيوالي پرمختيايي اداري د پي سي ايچ د مرکزونو او اړوندو موقعيتونو يو تازه کړای شوی لست وړاندي کړ. سيګار نوي مکاني جغرافيوي کوارډينيټونه تحليلوي او داسي لاري چاري لټوي چي په مستقل ډول د دغو ريښتينولي معلومه کړي.

د سيګارليک ته د متحده ايالاتو د نړيوالي پرمختيايي اداري ځواب يوه بله انديښنه راپورته کړه. د متحده ايالاتو نړيوالي پرمختيايي اداري په دې اعتراف وکړ چي دغه په دغو کوارډينيټونوکي «د دقت د ستونزو» په هکله خبره وه چي هغي د 2014 په مې کي سيګار ته ورکړل. همدارنګه د متحده ايالاتو د نړيوالي پرمختيايي اداري بيا اعتراف ستونزه لا ډېره کړه چي ويي ويل چي په هغو کوارډينيټونوکي «د دقت د ستونزو» په هکله خبره وه چي هغي سيګار ته ورکړل. په دې توګه، د متحده ايالاتو نړيوالي پرمختيايي اداري سره له دې چي په يادو معلوماتو يې لږ اعتماد درلود يا يې هيڅ نه درلود خو دغه کوارډينيټونه يې د هغو د استعمال په برخه کي له کوم مناسب احتياط څخه پرته د سيګار د جنايي څېړنو له پاره وړاندي کړل.

## زده شوي درسونه

سيګار د ژورو بياکتنو يا د عبرت د درسونو پروګرام -Lessons Learned Prorgram (LLP) پروګرام پيل کړ څو له 2001 کال راهيسي په افغانستان کي د بيارغوني د شويو هڅو هراړخيز تحليلونه وکړي څو تر ټولو ښې تجربې او د عبرت درسونه په ګوته کړي او د هغو سيستماتيکو ستونزو په حلولو کي تري کار واخلي چي د متحده ايالاتو د بيارغوني هڅي هلته ورسره مخامخ کيږي. د ژورو بياکتنو پروګرام (LLP) درې رواني پروژې لري چي د ستراتيژۍ او پلان جوړوني په برخو کي د ادارو يا ايجنسيو ترمنځ د همغږۍ، په افغانستان کي په اداري مرستو کي له بهرنيو شريکانو سره د متحده ايالاتو د همغږۍ، او د نشه يېزو توکو پر ضد د مبارزې په چارو کي د مؤثريت څارنه کوي. د ژورو بياکتنو يوه پروژه به چي په دې ربعه کي اعلان شوې ده په دې موضوع بياکتنه وکړي چي د متحده ايالاتو ادارو په افغانستان کي فساد ته په کومه سترګه وکتل او په وړاندې يې غبرګون وښود، څنګه هغوی هڅه وکړه چي په وړاندې يې مبارزه وکړي، او د نشه يېزو توکو پرضد د مبارزې په هڅو کي د هغو مؤثريت څنګه وو.

## د نوو زده شوو درسونو پروژه

په دې ربعه کي LLP يوه پروژه اعلان کړه چي هغه به په افغانستان کي د اداري فساد پر ضد د متحده ايالاتو د ادارو په مشاهدو او غبرګونونو باندي بياکتنه وکړي.

### په افغانستان کي اداري فساد: د متحده ايالاتو د حکومت مشاهدې او غبرګونونه

د سپتمبر له 11مي څخه وروسته په افغانستان کي د متحده ايالاتو د ښکېلتيا له پيل راهيسي، د متحده ايالاتو حکومت د اداري فساد د خطرونو په هکله پوه شوی دی. د جمهور رييس بش د 2002 د ملي امنيت ستراتيژۍ ياده کړې وه، «فقر، کمزوري تاسيسات، او اداري فساد کولی شي چي کمزوري هېوادونه د هغو په سرحدونو کي دننه د ترهګريزو شبکو او د نشه يېزو توکو د مافياګانو په وړاندي کمزوري کړي.» لکه څنګه چي د متحده ايالاتو چاروکي يې مني، په داسي حال کي چي اداري فساد په افغانستان کي د متحده ايالاتو له مداخلي څخه مخکي موجود وو، د دغه ويجاړوونکی تاثير د تېرو 14 کالو په بهير کي له بد نه بدتر شوی دی. له 2011 څخه تر 2013 پوري له امنيت سره دمرستي د نړيوال ځواک (آيساف) قوماندان جنرال جان آلن په 2014 کال د سنا د بهرنيو اړيکو د فرعي کمېټي په وړاندې اعتراف وکړ چي، «د معاصر افغانستان د اوږدمهالي بقا له پاره لوی ګواښ اداري فساد دی.»

> **د نوو زده شوو درسونو پروژه**
> • په افغانستان کي اداري فساد: د متحده ايالاتو د حکومت مشاهدې او غبرګونونه

اداري فساد هغه څه دی چې له افغان دولت څخه د عوامو حمایه راکموي، چې کېدای شي داسې تاثیر ولري چې له یاغیانو سره خواخوږي ډېره کړي. همدارنګه، اداري فساد د سختو اقتصادي زیانونو سبب هم ګرځي، او کولی شي چې د دولت وظایف ټکني کړي: هغه د افغانستان د اقتصاد مهم سکټورونه ګډوډوي؛ مستقیمه بهرنۍ پانګه اچونه کمزورې کوي؛ له ملي خزانې څخه د رسمي رسیدونو د لارې د کړېدلو سبب ګرځي، او په دې توګه د حکومت د مالي پایښت د ویجاړتیا لامل کیږي؛ او د عامو افغانانو په اوږو یو مالي بار زیاتوي. پراخ اداري فساد داسې یو چاپېریال جوړوي چې په هغه کې د قانون حاکمیت تر ډېره د پوښتنې وړ وي.

په دې توګه، د اداري فساد ستونزه په افغانستان کې د متحده ایالاتو د بیارغونې د هڅو په ټولو اړخونو تاثیرکوي، او زمونږ د مرستې لګښتونه ډېروي په داسې حال کې چې د بهرنۍ پالیسۍ په اصلي هدفونو باندې منفي تاثیرکوي. ترننه پورې، په دې هکله هېڅ سیستماتیک تحلیلونه نشته چې د متحده ایالاتو حکومت له 2001 څخه تر 2014 پورې د اداري فساد پر ضد څنګه چلند وکړ او څه غبرګون یې ښکاره کړ.

دا پروژه به په افغانستان کې د متحده ایالاتو د بیارغونې هڅې او له 2001 څخه تر 2014 پورې موجود شاخصونه سره وګوري څو: (1) له 2001 راهیسې په افغانستان کې د اداري فساد یو پراخ کرونولوجیک مهالوېش جوړ کړي؛ (2) دا تحلیل کړي چې د متحده ایالاتو حکومت څنګه د اداري فساد د ګواښ په هکله پوهېده او دا چې دغه درک د وخت په تېرېدلو سره څنګه تغیر وکړ، او د اداري فساد د ستونزې د له منځه وړلو له پاره د پالیسیو، پروګرامونو، او منابعو په برخوکې د متحده ایالاتو ځواب په ګوته کړي؛ (3) د متحده ایالاتو د ستراتیژیکو هدفونو، ګټو، او خطرونو په وړاندې د متحده ایالاتو د ځواب ویلو (پالیسیو، پروګرامونو، او منابعو) کفایت وارزوي، او دا په ګوته کړي چې د متحده ایالاتو پالیسیو یا ګامونو په کوم ځای کې اداري فساد کم کړی او/یا یې ورسره مرسته کړې ده؛ (4) د اداري فساد په وړاندې د متحده ایالاتو مشاهدې یا درکونه او د هغه په وړاندې غبرګونونه د نړیوالې ټولنې له خوا له داسې هڅو سره مقایسه کړي؛ او (5) او په افغانستان کې د اداري فساد او د اداري فساد په وړاندې له مبارزې څخه د متحده ایالاتو له تجربې څخه زده کړای شوي درسونه په ګوته کړي، او د پالیسي جوړوونکیو اوعملي کوونکیو په وړاندې داسې د عمل وړ سپارښتنې وکړي چې په راتلونکې وخت کې په افغانستان او نورو ځایونو کې د متحده ایالاتو د بیارغونې په هڅو کې اداري فساد یا د هغه خطرڅنګه کم کړي.

## څېړنې

د راپور ورکولو د مودې په جریان کې، د سیګار څېړنو د پام وړ نتایج ترلاسه کړل. په دې توګه تقریبا 214.7 میلیونه ډالر د متحده ایالاتو حکومت ته په لګښتونو کې وسپمول شول؛ له 6.9 میلیونه ډالرو څخه ډېر له خصوصي فیصلو څخه بېرته ترلاسه شول؛ او جریمې، خسارې یا تاوان اخیستنې، او استردادونه له 675,000 ډالرو څخه پورته شول. سربېره پر دې، څلور کسان ونیول شول، اته جنایي اتهامات ولګول شول، شپږ محکومیتونه رامنځته شول، او پنځه محاکمې وشوې. 17 کسان په افغانستان کې د متحده ایالاتو نظامي تاسیساتو ته له ورتګ څخه منع کړای شول. سیګار 27 نوې څېړنې پیل کړې او 40 نورې یې بندې کړې، او په دې توګه یې د ټولو روانو څېړنو شمېر 310 ته پورته کړ. وګورئ 2.1 شکل.

د دې ربعې لاسته راوړنې د جنایي جریمو، خسارو یا تاوان اخیستنو، او استردادونو، خصوصي فیصلو او د سیګار له روانو څېړنو څخه د متحده ایالاتو د حکومت ټولې سپماوې 794 میلیونه ډالرو ته رسوي. څېړنیز نتایج په 101 توقیفونو، 130 جنایي تورونو، 93 محکومیتو، او 69 محاکمو باندې مشتمل دي.

شکل 2.1

**د سیګار څېړنې: د 2015 د جون له 30 مې راهیسې د پرانستو څېړنو شمېر**




سرچینه: د سیګار د څېړنو ریاست، 7/10/2015



**د عمومي مفتش مرستيال الوتکه ګوري**

د افغانستان د بیارغوني له پاره د عمومي مفتش مرستیال جین الویزي له یوې ساحې څخه لیدنه کوي او په جرمني کې په رامستین هوایي اډه کې د متحده ایالاتو د هوایي ځواک له چارواکو سره ګوري. د عمومي مفتش مرستيال الويزي ته د پيرودنې د يوه پروګرام په هکله چې اصلا د افغان د هوايي ځواک له پاره په پام کې دی خصوصي معلومات ورکول شول. سيګار او د متحده ایالاتو هوايي ځواک په ګډه د دغه پروګرام بیاکتنه کوي.

(د سیګار عکس چې جان ډیډونا اخیستی دی)

## ملکي څېړنې د متحده ایالاتو د حکومت له پاره تقریبا 7 میلیونه ډالر په استرداد کې ګټه ورسوله

د 2015 د مې په 28مه، سیګار د متحده ایالاتو د ټرانسپورټ د قوماندانی (USTRANSCOM) له حقوقي مشاورڅخه یادښت ترلاسه کړ چې د مایرسک لاین لمیټډ (MLL) کورني مشاور د هغو کانټینرونو له پاره چې له متحده ایالاتو څخه د ریګا، لاتویا له لارې په نامناسب ډول افغانستان ته انتقالېږي د 6,016,984 ډالرو استرداد تایید کړل. د عین ملکي څېړنې په ارتباط، د 2015 د اپریل په 17مه، د متحده ایالاتو د ټرانسپورټ قوماندانی او امریکن پریزیډنټ لاینز لمیټډ (APL) یوه هوکړه وکړه چې د هغې په اساس به امریکن پریزیډنټ لاینز د متحده ایالاتو د ټرانسپورټ قوماندانی ته 466,273 ډالر تادیه کوي؛ او د 2015 د جون په 1د متحده ایالاتو د ټرانسپورټ قوماندانی او هیګ لیوډ (HL) یوه هوکړه وکړه چې د هغې په اساس به HL د متحده ایالاتو د ټرانسپورټ قوماندانی ته 444,052 ډالر تادیه کوي.

د متحده ایالاتو د ټرانسپورټ قوماندانی (USTRANSCOM) یوه سلسله قراردادونه، چې په مجموعي توګه د «USC-06» قراردادونو په نامه یادیږي، دری نړیوالو ټرانسپورټي او لوجیستیکي کمپنیو MLL, APL او HL ته ورکړل. د USC-06 تر بېلابېلو قراردادونو لاندې، MLL, APL او HL له متحده ایالاتو څخه خواړه او کارګو لاتویا یا د نوروعاجلو بندرونو له لارې اروپا ته ورسول څو په هدف هېواد افغانستان کې د متحده ایالاتو عسکرو ته ورسېږي. په هغه ځای یعني اروپا کې بیا MLL, APL او HL له بېلابېلو لوجیستیکي شرکتونو سره چې یو یې سوپریم لوجسیټیکس FZE (سوپریم) وو داسې قرارداد وشو چې کارګو په پاتې لاره افغانستان ته ورسوي.

وروسته له هغه چې MLL, APL او HL پخپله متحده ایالاتو ته وویل چې هغوی د متحده ایالاتو د ټرانسپورټ قوماندانی (USTRANSCOM) ته د هغوی د ګډ فرعي قراردادي، سوپریم، له امله له حده د زیاتو پیسو آویز ورکړي دی، یوه څېړنه پیل شوه. له خپل لوري د افشا کولو په اساس، سوپریم په غلطۍ سره د لوړ قیمت د یخچال لرونکیو لاریو د کاروني آویزونه لېږلي ول په داسې حال کې چې هغوی اصلا د ټیټ قیمت یخچال لرونکي لاری کارولي وې څو کارګو انتقال کړي، او همدارنګه یې په افغانستان کې دننه بېلابېلو ځایونو ته یو شمېر کانټینرونه د USC-06 د داخلي نرخ څخه چې د هغوی په سر کمپنیو ته یې راپور ورکړی وو ارزان لېږدولي دي. MLL, APL او HL په هغو غلطو آویزونو باندې تکیه کړې وه او وړاندې یې د متحده ایالاتو د ټرانسپورټ قوماندانی ته د تادیاتو د ترلاسه کولو له پاره ورلېږلي ول.

سیګار او په قراردادونو کې د فساد د نړیوال وظیفوي ځواک (ICCTF) بېلابېلو غړو دغه څېړنه ترسره کړه، چې له 25 څخه ډېرو کلیدي کسانو سره یې مرکې وکړې، او له 10,000 څخه ډېر

د قرارداد او تفتیش اسناد يې وکتل. د څېړنې په نتيجه کې د متحده ايالاتوحکومت یوه د پام وړ نتيجه ترلاسه کړه.

## په ملکي قرارداد کوونکي مدير باندې تور ولګول شو او د متحده ایالاتو پوځي افسر خپله ملامتیا ومنله

د 2013 د اګست په 15مه، سيګار ته د یوه شخص له خوا چې غوښتل يې چې محرميت يې بايد خوندي وساتل شي د یوه ټيليفوني شکايت په رارسېدلو سره یوه څېړنه پيل شوه. دغه څېړنه په ريډسټون ارسينل کې د غيرمعياري روټري وينګ ايرکرفټ (NSRWA) پروګرام د اداري او دوه قراردادیانو؛ اویا بالتيکا (AVB) او ايم ډي هيليکاپټرز آی اين سي (MDHI) ترمنځ د غيرقانوني روابطو په هکله وه.

د 2011 په وروستيو او 2012 کې، د متحده ايالاتو د دفاع وزارت عمومي مفتش (DOD IG) هغه قراردادونه چې د روسيه جوړ Mi-17 هليکوپټرو د بيارغونې او د هغوی له پاره له 8 ميليونه ډالرو څخه د اضافي ارزښت د پرزو د اخيستنې په هکله وو تفتيش کړل. د تفتيش هدف دا وو چې وښيي چې آيا د متحده ايالاتو اردو د هغو پرزو له پاره صحيح قيمتونه تاديه کړي دي، آيا هغه پرزې ضروري وې، او آيا د قرارداد کولو له پاره مناسبې پروسې تعقيب شوې وې.

په NSRWA کې د قراردادونو يوې مديرې، تيريسا ميبيرې، د متحده ايالاتو د حکومت په استازيتوب د پرزو قرارداد تاييد کړ او د هغه په تطبيق کې يې يو مهم رول درلود. د تفتيش په ټول بهير کې، د متحده ايالاتو د دفاع وزارت عمومي مفتش (DOD IG) ميبيرې ته د قراردادونو د اسنادو له پاره ګڼې غوښتنې ور وړاندې کړې څو د اضافي پرزو يا سپيرپارټس په پيرودلو کې شوي تصميمونه توجيه کړي. د 2015 د جون په 2مه، د الاباما په شمالي ولسوالی کې، د ميبيرې په مقابل کې د جنايي معلوماتو دوسيه وړاندې کړای شوه او د افغان هوايي ځواک له پاره د Mi-17 هليکوپټرونو د ترميم او پيرودنې د تفتيش په برخه کې چې د متحده ايالاتو د دفاع د وزارت د عمومي مفتش (DOD IG) له خوا ترسره کېده د هغې د خنډ ګرځېدلو تور پرې ولګول شو. ميبيرې چمتووالی ونيو، او خپلو ترلاس لاندې کسانو ته يې هدايت وکړ چې يو شمېر غلط او زاړه اسناد سره چمتو کړي، چې بيا هغې DOD IG ته د هغه د غوښتنو په ځواب کې ورکړل.

د دې څېړنې په ارتباط، د 2015 د اپريل په 7مه، د الاباما په شمالي ولسوالی کې، د متحده ايالاتو د اردو د ډګروال ناربرټ ويرجيز په مقابل کې د جنايي معلوماتو دوسيه ثبت کړای شوه. په دغو معلوماتو کې د ګټو د ټکر له امله جنايي اتهامات، DOD IG ته د غلطو معلوماتو سپارنې، او د شخصي مالي شتمنيو په فورمه کې د غلطو معلوماتو په ورکولو سره چې له NSRWA سره د پروژې د مدير په توګه د ويرجيز له کار څخه را اخيستل شوې وه، د NSRWA په کارونو کې د Mi-17 او د افغانستان اړوند نورد هليکوپټرو قراردادونه شامل ول.

ويرجيز اعتراف وکړ چې، هغه د یوه حکومتي چارواکي په توګه له MDHI سره د يوې «بهرنۍ نظامي معاملې» په هکله په خبرو اترو او د یوه قرارداد په داسي برابرولو سره چې د هغې له لارې هغې کمپنۍ تاديات له اصلي موافقه شوي وخت څخه مخکې ترلاسه کړل، په داسي حال کې چې ويرجيز له هغې کمپنۍ سره د خپلې راتلونکي وظيفي په هکله په خبرو اترو بوخت وو، د ګټو د ټکر په یوه جنايي پېښه کې لاس درلود. ويرجيز همدارنګه اعتراف وکړ چې هغه د AVB د قراردادونو په برخه کې د تفتيشونوپه ترسره کولو کې د DOD IG د کار مخه ونيوله او شواهدو وښودله چې نوموړي له AVB

ځخه يو روليکس لاسي ساعت د خپلي مېرمني له پاره د حق الزحمي په توګه قبول کړی وو. سربېره پر دي، ويرجيز اعتراف وکړ چي هغه د «خپلو محرومالي شتمنيو په راپور» کي چي د اخلاقي چلند يوه حکومتي فورمه ده، د دروغو څرګندونه کړې وه. هغه دا نه وه ياده کړې چي هغه له AVB ځخه يو لاسي ساعت ترلاسه کړی دی، هغه له MDHI ځخه د وظيفي وړانديز قبول کړی او دا چي هغه له MDHI ځخه د 30,000 ډالرو يو چيک ترلاسه کړی دی.

د جنايي معلوماتو په نتيجه کي، د 2015 د اپريل په 20مه، ويرجيز په ټولو دري واړو جنايي جرمونو؛ د ګټو په ټکر، د دفاع وزارت عمومي مفتش (DOD IG) ته په غلطو څرګندونو، او د خپلو مالي شتمنيو په فورمه کي د غلطو معلوماتو وړاندي کولو، په هکله اعتراف وکړ.

د دغو موضوعاتو څېړنه پېچلي وه، چي له 150 ځخه ډېرې مرکي يا مصاحبې په کي وشوې، د لوی فدرالي منصفه هيئت له خوا 137 احضاريې، د ايميل له لارې د لټون د څلورو حکمونو، د انټرنټي موادو د لټون، او لږ تر لږه د 500,000 اسنادو بياکتنه په کي شامله وه. دغه څېړنه د سيګار، د تحقيقاتو د فدرالي اداري (FBI)، د دفاعي جنايي څېړنو د اداري (DCIS)، او د متحده اياالاتو د اردو د جنايي څېړنو د قوماندانی (USACID) له خوا ترسره کېږي.

## په جنايي تورونو او په ملامتيا باندې په اعتراف کې د رشوت د څېړنې نتايج

د 2015 د جون په 4مه، د نيويارک په شمالي ولسوالی کي، د متحده اياالاتو د اردو د درستيزوالی ډلګی مشر متيو لوبيس بيليد يوځل جنايي تور په وړاندي چي نوموړی په کي د يوه حکومتي چاروکي له خوا د غيرمشروع رشوت د ترلاسه کولو په توطيه تورن شوی وو، په خپل جرم اعتراف وکړ.

د 2015 د جون په 1، د کنټکي په لوېديزه ولسوالی کي يوه اندازه جنايي معلومات وړاندی کړای شول، چي د متحده اياالاتو د اردو ډلګی مشر راميرو پينا په کي د يوه حکومتي چاروکي له خوا د غيرمشروع رشوت د ترلاسه کولو په توطيه تورن شوی وو.

په دواړو افرادو باندې د رشوت اخيستنې څېړنه وشوه چي تمرکز په کي په هغو افغان قرارداديانو باندې وو چي د افغانستان په بګرام هوايي ډګر کي يي د بشري مرستو د انګړ (HA Yard) اړوند حکومتي قراردادونو د ورکړې په بدل کي د متحده اياالاتو نظامي پرسونل ته رشوتونه ورکول.

د HA Yard موسسه د هغو لباسونو، خوړو، د ښوونځيو د لوازمو، او نورو شيانو له پاره د ذخيره کولو د يوه مرکز په توګه کار کوي چي د افغانانو له پاره د بشري مرستو په حمايه کي نظامي يونټونو ته ورکول کيږي. د HA Yard موسسه، د قوماندان د چټک غبرګون د پروګرام له لارې، د متحده اياالاتو قوماندانانو ته دا وړتيا په لاس ورکوي چي د بشري مرستو چټکو اړتياوو ته ځواب ووايي.

بيلي په HA Yard موسسه کي د پروژې د پېرودونکي مدير په توګه په خپل موقف کي له افغان خدمت وړاندي کوونکيو ځخه 12,000 ډالر په غيرمشروع رشوتونو کي ترلاسه کړي ول ځو د هغوی د قراردادونو برياليتوب تاييد کړي او هغوی ته مالونه برابر کړي.

پينا په HA Yard کي د پروژې د پېرودونې د چارو مدير وو او تقريبا 100,000 ډالر يي په غيرمشروع رشوتونو کي قبول کړي ول. د جنايي معلوماتو په اساس، ادعا کيږي چي پينا د رشوت د پيسو له جملي ځخه 22,000 ډالر کور ته خپلي مېرمني ته چي په فورټ کمپبيل کي اوسېدله د مبارکی په کارډونو کي لېږلي وې. هغه به په يو ځل له دري ځخه تر څلورو نوټونو پورې چي له 300 ځخه تر 400 ډالرو پورې به کېدلې په هر کارډ کي هر ځل لېږلي ځو په پست خونه کي پاکټ ته د چا پام ور وانه وړي. سربېره پر دي، پينا د رشوت پيسې داسي کارولي وې چي يو هارلي - ډيوېډسن موټرسايکل يي پرې اخيستی وو او خپل او د خپلي کورنی لګښتونه يي پرې تاديه کړي ول.

# سیګار او د تدارکاتو ملي اداره په ګډه د اداري فساد پرضد مبارزه کوي



**د سیګار او د تدارکاتو د ملی اداری (NPA) چاروکي** 2015 د جون په 22 مه په کابل کې د ملاقات په حال کې (د سیګار عکس)

د ملي وحدت حکومت د تدارکاتو ملي اداره (NPA) د دې له پاره تاسیس کړه چې د افغانستان د عامه تدارکاتو په سیستم کې شفافیت ته وده ورکړي. د تدارکاتو ملي اداره له سیګار او همدارنګه د نظارت له ملي او بین المللي سازمانونو سره کار کوي څو دغه هدف ترلاسه کړي. د 2015 په فبروري کې، د سیګار د څېړنو ریاست جمهور رییس غني ته د دفاع وزارت په یوه نژدې 1 بیلیون ډالري قرارداد کې د اداري فساد په برخه کې د خپلو موندنو په هکله معلومات ورکړل؛ تر هغه وروسته، جمهور رییس غني هغه قرارداد لغوه کړ او د دفاع وزارت هغه چاروکي یې تعلیق کړل چې ادعا کېده چې په اداري فساد کې لاس لري.

هره اونۍ، د سیګار د څېړنو د ریاست یو استازی د تدارکاتو د ملي کمېسیون (NPC) په مجلسونو کې چې د جمهور رییس غني تر مشرۍ لاندې جوړېږي، برخه اخلي، چې په هغو کې د تدارکاتو ملي اداره د تدارکاتو ملي کمېسیون ته د بېلابېلو وزارتونو قراردادونه چې مخکې د تدارکاتو ملي اداري ته د بیاکتنې له پاره سپارل شوي وي، وړاندې کوي. د تدارکاتو ملي اداره په قراردادونو باندې بیاکتنه کوي او بیا یې د تدارکاتو ملي کمېسیون ته د تایید، نه تایید، یا بلې چارې له پاره سپاري.

سیګار د CSTC-A قوماندان تورن جنرال ټډ سیمونایټ یا د هغه له استازو سره یو ځای کیږي او د تدارکاتو د ملي کمېسیون په غونډو کې برخه اخلي. تورن جنرال سیمونایټ یا د هغه استازي، له نژدې څخه د هغو قراردادونو په هکله په خبرو اترو کې دخیل دي چې د افغانستان د دفاع او کورنیو چارو وزارتونو پورې اړه لري. په عمومي توګه، د تدارکاتو د ملي کمېسیون په غونډو کې د متحده ایالاتو یوازنې استازي CSTC-A او سیګار دي.

د دې له پاره چې د تدارکاتو له ملي اداري سره نوره مرسته وشي څو اداري فساد کنټرول کړي، د سیګار د څېړنو ریاست د تدارکاتو د ملي اداری د تدارکاتو کارپوهانو ته د تقلب په هکله د خبرتیا معلومات ورکوي. دغه معلومات به له هغوی سره مرسته وکړي چې په تدارکاتو کې د تقلب شاخصونه معلوم کړي او په دې به وپوهېږي چې کله چې دغه ډول شاخصونه موندل کیږي چې څه ګامونه پورته کړي.

د سیګار د تعلیق او منع کولو پروګرام هم د تدارکاتو له ملي اداري سره کار کوي. د 2015 د جون په 22مه، د سیګار استازو د تدارکاتو د پالیسی رییس ډاکټر مرتضی نوري او د تدارکاتو د ملي اداري له عمومي رییس یما یاري سره د جمهوري ریاست په ماڼی کې ولیدل څو د افغانستان د عامه تدارکاتو په قانون کې د ممانعت د قواعدو د وروستیو مصوباتو په هکله ورسره خبرې اترې وکړي. د دغه ملاقات په جریان کې، نوري او یاري روښانه کړه چې نویو مقرراتو د افغانستان د حکومت دا وړتیا ځنګه پیاوړې کړه چې د ممانعت د پروسې له لارې د قراردادونو نظارت وکړي، هغه میکانیزمونه چې د هغو په واسطه هغه اداره لرله چې خپل د ممانعت پروګرام تطبیق کړي، او په دې هکله نظرونه چې په تدارکاتو کې ټکرونه څنګه کېدای شي حل کړای شي.

سربېره پر دې، سیګار په دې هکله یوه خلاصه وړاندې کړه چې هغوی په افغانستان کې د تعلیق او منع کولو مسایل څنګه حل کړي دي، د هغو قراردادونو د خاوندانو او مرتبطینو د موجود مسؤلیت د بیاکتنې له پاره اړتیا چې په تقلب او کمزورو اجراًتو باندې تورن دي، او د قراردادونو د ورکړې د مدیریت د سیستم له پاره د عمومي خدمتونو د اداري د سیستم په څېر آنلاین ډېټابیسونو کارول څو د ممانعت د پرېکړو په هکله په عمومي سطحه موجود معلومات وړاندې کړي.



**د تدارکاتو د ملي ادارې عمومي رییس یما یاري** او ځانګړی عمومي مفتش سوپکو د جمهور رییس غني په مشرۍ د تدارکاتو د ملي کمېسیون له یوه ملاقات څخه وروسته د جمهوري ریاست د ماڼۍ په ساحه کې روان دي. (د سیګارعکس، چې ټام نیبلاک اخستی دی)



**جمهور رییس غني او د سیګار ځانګړې استازې** لینډي سویل د تدارکاتو د ملي کمېسیون د یوه ملاقات په پای کې لاسونه سره ورکوي. (د افغانستان د اسلامي جمهوریت عکس، چې احمد مختار غني زي اخیستی دی)

د تدارکاتو د ملي ادارې له خوا د ممانعت د پروګرام تطبیق د سیګار او نورو ادارو له خوا چې په افغانستان کې په قراردادونو باندې نظارت کوي د هڅو بشپړوونکی دی. د څه وخت له پاره، سیګار د افغانستان په لوی څارنوالۍ او د افغان حکومت په نورو ادارو کې د شریکانو په لټه کې وو څو هغه جنایي موضوعات تعقیب کړي چې د بیارغونې او د تدارکاتو په نورو قراردادونو پورې تړلي وي. البته، تر اوسه پورې، افغان حکومت داسې لارې چارې نه لرلې چې ممانعت وکاروي او داسې افرادو او شرکتونو ته د نورو قراردادونو د ورکړې مخه ونیسي ځکه چې دغه ټکی د افغانستان د عامه تدارکاتو په قانون کې نه وو مدون شوی.

د 2015 په اپریل کې، د تدارکاتو ملي ادارې د ممانعت مقررات تطبیق کړل. دغه مقررات اجازه ورکوي چې په تقلب کې ککړ یا د کمزورو اجرأتو لرونکي قراردادیان د تدارکاتو د ملي ادارې له خوا ټاکل شوې د ممانعت د یوې مستقلې، پنځه کسیزې کمېټې د فیصلې په اساس له یو څخه تر پنځو کالونو پورې د قرارداد له ترلاسه کولو څخه محروم کړي. دغه پروسه همدارنګه قراردادي ته د لیکلي یادښت د وړاندې کولو او یوه چانس ورکولو ته اړتیا لري څو د ممانعت کمېټې ته د سپارل شویو اسنادو په وړاندې لیکلي او شفاهي ځوابونه ورکړي. یو ځل چې د ممانعت په هکله یوه پرېکړه وشي، د تدارکاتو د ملي ادارې عمومي رییس د هغې د بیاکتنې مسؤل دی څو

د افغانستان له قانون سره سم د هغې د مطابقت او د ممانعت د پروسیجرونو په هکله اطمینان ورکړي. د دې پروسې د یوې برخې په توګه، د تدارکاتو ملي اداره یو آنلاین ډېټابیس جوړوي څو د ممانعت په برخه کې د خپلو پرېکړو په هکله شفافیت وړاندې کړي او قراردادونو مدیریت ته د خپلو پرېکړو په هکله یادښت ورکړي. د 2015 له جون راهیسې، د تدارکاتو د ملي ادارې د ممانعت کمېټې په عمل لاس پورې کړی او نهه قراردادیان یې منع کړي دي او د دې تر څنګ 21 نور د کمېټې له خوا ترغور لاندې دي.

سیګار اراده لري چې د تدارکاتو په ملي اداره کې زمونږ له همکارانو سره چې دغه اداره خپل د ممانعت یا له امتیاز څخه د محرومولو پروګرام جوړوي، له نژدې څخه کار کولو ته دوام ورکړي. د تدارکاتو ملي اداره دغه کار د ښو مشاهدو او تجربو په شریکولو سره د بیارغونې په قرارداد کې د تقلب او د کمزورو اجرأتو د له منځه وړلو له لارې کوي څو په دې توګه یقیني کړي چې قراردادیان به د خپلو کړیو کارونو په مقابل کې ځواب ویونکي وي.

د سیګار او د تدارکاتو د ملي کمېسیون، او د تدارکاتو د ملي ادارې ترمنځ شراکت او همکاري په افغانستان کې د اداري فساد پر ضد جګړه کې مرسته کوي.

## د توطیې نتیجې په جرم باندې په اعتراف او په محاکمه کې

د 2015 د مې په 21مه، د جورجیا په منځنۍ ولسوالۍ کې د متحده ایالاتو د اردو ډلګۍ مشر جیمز نوریس په 51 میاشتو حبس، درې کاله تر نظارت لاندې امتحاني دوره محکوم شو او محکمې حکم وکړ چې نوموړی دې 176,000 ډالر د تاوان په توګه تحویل کړي. د 2015 د فبرورۍ په 11مه، نوریس اعتراف وکړ چې یو ځل یې رشوت اخیستی دی.

د 2015 د جون په 9مه، د جورجیا په منځنۍ ولسوالۍ کې د متحده ایالاتو د ولسوالۍ په محکمه کې د یوه جنايي تورله لګېدلو څخه وروسته، د متحده ایالاتو د اردو پخوانی کارپوه انتوني ډ. ټران د کلیفورنیا په شمالي ولسوالۍ کې له یوه حکومتي چارواکي څخه په یو ځل رشوت اخیستلو باندې اعتراف وکړ.

په ګردېز کې د پرمختګ په عملیاتي مرکز (FOB) کې د ورکو شویو تېلو د راپورونو په اساس، سیګار د توطیه کوونکیو نوریس، ټران، د متحده ایالاتو د ډلګۍ مشر سینیکا ډ. هامپټن، او یوه بل شخص څېړنه پیل کړه. دغې څېړنې په مجموعي توګه د 59,000 ګیلن تېلو، چې د 600,000 ډالرو په خواوشا کې قیمت یې درلود، ورکېدل تایید کړل، او یاد شوي څلور کسان داسې په ګوته شول چې د تېلو د ورکېدلو په ارتباط یې د رشوت اخیستنې په یوه پلان کې لاس درلود.

نوریس او هامپټن بالاخره اعتراف وکړ چې له محلي افغان ډرایورانو څخه به یې د ورځې تقریبا 2,000 ډالر اخیستل او په مقابل کې به یې ډرایورانو ته اجازه ورکوله چې له بیس څخه په زرګونو ګیلنه تېل وباسي. دواړو کسانو د رشوت پیسې په خپلو شخصي شیانو کې د پټولو له لارې متحده ایالاتو ته انتقال کړي دي.

نوریس اعتراف وکړ چې یوازې هغه ته د دغې توطیې په جریان کې په مجموعي توګه 100,000 ډالر ورکول شوي دي. هغه همدارنګه اعتراف وکړ چې یو کاډیلاک ایسکیلاډ او یو په شخصي خوښه چمتو کړای شوی هارډکور چپرز موټرسایکل یې په هغو پیسو اخیستی دی چې د رشوت اخیستنې له پروګرام څخه یې ترلاسه کړې وې.

ټران اعتراف وکړ چې هغه له افغان ډرایورانو څخه تقریبا 20,000 ډالر په غیرمشروع توګه په رشوتونو کې اخیستي دي او په مقابل کې یې هغوی ته اجازه ورکړې ده چې تقریبا 12,000 ګیلنه تېل له بېس څخه غلا کړي. ټران اعتراف وکړ چې هغه د رشوت پیسې په خپلو شخصي شیانو کې د پټولو له لارې متحده ایالاتو ته انتقال کړې دي، او په هغو پیسو یې یو ډاج چلینجر موټر اخیستی دی. سربېره پر دې، ټران اعتراف وکړ چې هغه له هامپټن څخه د دې په مقابل کې چې د دغو جنايي فعالیتونو په هکله به مقاماتو ته خبر نه ورکوي نغدې پیسې ترلاسه کړې وې.

په پام کې ده چې هامپټن د 2015 په جولای کې محاکمه کړای شي.

## د متحده ایالاتو د اردو ډلګۍ مشر ونیول شو او تور پرې ولګول شو

د 2015 د مې په 20مه د هاوایي په ولسوالۍ کې له یوې تورلګونې یا اتهام څخه وروسته د متحده ایالاتو د اردو ډلګۍ مشر ماروین ل. وییر د پرې لګول شوي خیانت، رشوت اخیستنې، پیسو وینځلو، او غلا په تور ونیول شو. دغه تور په وییر باندې په افغانستان کې له جلال اباد سره نژدې په FOB فینټي بېس کې د تېلو د غلا په پروګرام کې د هغه د ښکېلتیا د ادعا په اساس ولګول شو. سیګار د ICCTF له نورو غړو سره په ګډه دغه څېړنه ترسره کړه.

د 2011 او 2012 کلونو په جریان کې، د متحده ایالاتو اردو په FOB Fenty کې د جیټ الوتکو تېل ذخیره کړل څو هم په بیس کې وکارول شي او هم ترې د پرمختګ د عملیاتو نورو بېسونو اوهم په افغانستان کې چټکو عملیاتي بیسونو ته انتقال کړای شي. د تېلو انتقال د محلي افغان قراردادي په کار ګومارلو سره ترسره شو، چې تېل یې په 3,000 ګیلن ظرفیت لرونکي ټانکر لاریو کې چې «جنګله

لرونکي لارۍ» بلل کېدې ولېږدول شول. وییر او د هغه توطیه جوړوونکي ملګري، د متحده ایالاتو د اردو ډلګۍ مشر ریجینالډ ډیکسن او د متحده ایالاتو د کارپوه لیری ایمنس، او د افغان لارۍ لرونکي قراردادي کارمندانو په ګډه داسې یوه توطیه جوړه کړې وه چې په هغې کې تقلبي د انتقالاتو د حرکت غوښتنلیکونه (TMRs) جوړ کړای شوي ول، چې له FOB Fenty څخه بل موقعیت ته د تېلو لېږد یې منظور کړی وو. په پټو موقعیتونو او د ورځې په وختونو کې چې شک راپورته کېدل یې کمول، توطیه کوونکیو په غیرقانوني توګه جنګله لرونکي لارۍ ټانکرونه له تېلو څخه ډکول او د جنګله لرونکیو لاریو ډرایورانو ته یې تقلبي د انتقالاتو د حرکت غوښتنلیکونه ورکول، چې هغوی د FOB Fenty د تلاشۍ په په پوسته کې وړاندې کول څو له بیس څخه د هغوی وتل پرې توجیه کړي.

په ځواب کې، د دې له پاره چې غلا ته لاره هواره شي، د افغان لاریو د کمپنۍ کارمندانو وییر، ډیکسن، او ایمنس ته د غلا شویو تېلو د هرې 3,000 ګیلن تېل لېږدوونکي جنګله لرونکي لارۍ په مقابل کې تقریبا 6,000 ډالر ورکول. د متحده ایالاتو حکومت داسې اټکل کوي چې دغو درې کسانو لږ تر لږه د 135,000 ګیلن تېلو غلا ته لاره هواره کړې وه.

ایمنس او ډیکسن د 2012 د جون په 8مه په خپل جرم اعتراف وکړ.

## د متحده ایالاتو قراردادي د رشوت له امله محاکمه کړای شو

د 2015 د اپریل په 30مه، د نیویارک په ختیځه ولسوالۍ کې، اکبراحمد شېرزی په 48 میاشتو حبس، درې کاله تر څارنې لاندې امتحاني دورې، او د 54,000 ډالرو جریمې په ورکولو محاکمه شو.

د سیګار اود کورنۍ امنیت د کډوالۍ او ګمرکاتو د تنفیذ د وزارت د کورنۍ امنیت څېړونکیو شېرزی په 2013 کې ونیو، او د 2014 په فبرورۍ کې هغه په یوه جنایي معلوماتو باندې اعتراف وکړ او په نوموړي باندې یوه حکومتي چارواکي ته د رشوت ورکولو تور ولګول شو.

شېرزی د لاریو د یوه شرکت یو مستقل قراردادي وو چې په افغانستان کې یې فعالیت کاوه او هغه دا مسؤلیت درلود چې د متحده ایالاتو تاسیساتو ته تېل ور ورسوي. د 2013 په اپریل کې، شېرزي د متحده ایالاتو د عسکري خدمت له یوه غړي سره تماس ونیو څو د تېلو د وړلو د هغوماموریتونو په هکله چې شېرزي نه وو ترسره کړي او د متحده ایالاتو د حکومت له خوا «له توقع سره سم نه جوړ» په توګه طبقه بندي شوي ول، په دې معنی چې هغه تېل هېڅکله هم رسول شوي نه ول، ورسره خبرې اترې وکړي. هغه د عسکري خدمت غړي ته د رشوت وړاندیز وکړ څو په TMRs کې داسې لاسوهنه وکړي چې د تېلو د رسونې ترسره کول وښیي او په دې توګه به د شېرزي شرکت هم تادیات ترلاسه کړي او هم به د هرې ناکامې شوې رسونې په مقابل کې د 75,000 ډالرو جریمې مخه ونیسي.

د عسکري خدمت غړي د سیګار د ځانګړیو استازو تر څارنې لاندې، له شېرزي سره لیدنو ته دوام ورکړ څو په ریکارډونو کې د لاسوهنې په بدل کې د تادیاتو په هکله ورسره خبرې اترې وکړي. بالاخره، په دوه جلا جلا مواردو کې، شېرزي د عسکري خدمت غړي ته په مستقیم ډول نغد رشوتونه ورکړل. په یوه بل مورد کې، شېرزي داسې ترتیب ونیو چې د رشوت پیسې د حوالې له لارې چې د پیسو د انتقال یو غیر رسمي سیستم دی متحده ایالاتو ته انتقال کړای شي. شېرزي د عسکري خدمت غړي ته په مجموعي توګه 54,000 ډالر ورکړل چې په TMRs کې لاسوهنه وکړي.

## دوه قراردادي کارمندان د توطیه جوړونې په تورمحاکمه شول

د 2015 د مې په 19مه، د فلوریډا په منځنۍ ولسوالۍ کې، الن سیمونس ته د یو کال او یوې ورځې حبس، د درې کالو تر څارنې لاندې ازادۍ او د متحده ایالاتو د حکومت په وړاندې د توطیه جوړونې د خیانت له امله د 189,000 ډالرو د جریمې ورکولو سزا ورکول شوه.

# د افغانستان د دفاع وزارت سره د شوي قرارداد له فسخه کولو څخه د 214 میلیونه ډالرو سپماوې

د 2014 په اګست کې سیګار د یوه شکایت په اساس، چې قراردادیانو چې د 1 بیلیون ډالرو په ارزښت د افغانستان د دفاع وزارت له پاره د تېلو قرارداد له پاره یې مناقصې وړاندې کولې د خپلو مناقصو د پورته وړلو له پاره او د تېلو د قېمتونو د ډېر ښودلو له پاره توطیې جوړې کړې وې، یوه څېړنه پیل کړه. دغه قرارداد د افغانستان د امنیت د انتقال د ګډې قوماندانۍ (CSTC-A) له خوا د افغانستان دفاع وزارت ته د مستقیمې مرستې له لارې تمویلېده. په لومړنیو تورونو کې دا جزیات راښکاره شول چې رقابت کوونکیو څنګه د تېلو د تأمین د شپږو شارټ لسټ شویو قراردادیانو له منځه د دوه شرکتونو مخه ونیوله چې خپلې مناقصې، د دفاع د وزارت د تېلو د هغه پنځه کلن قرارداد له پاره چې په ټول افغانستان کې به افغان ملي اردو ته تېل رسوي، په ټاکلي وخت سره وسپاري.

یو شرکت د مناقصې ځای ته پرلاره چېرې چې د مناقصې اسناد سپارل کېدل د پولیسو له خوا د تقلبي ترافیکي سرغړونې په تور توقیف کړای شو، په داسې حال کې چې د دویم شرکت موټر چې هغه هم د خپلې مناقصې د اسنادو د سپارلو له پاره ټاکلي ځای ته په لاره وو، د یوې لارۍ له خوا ووهل شو. دا چې هغه دوه شرکتونه د مناقصې د پرانستنې له پاره ناوخته شول، له دې امله هغوی له سیالۍ څخه واېستل شول او د هغوی مناقصې قبولې نه کړای شوې. ادعاوو ښودله چې هغو څلورو قراردادیانو چې د مناقصې ځای ته په وخت سره رسېدلي ول مخکې د متحده عرب اماراتو په دوبۍ کې سره لیدلي ول، څو خپلې مناقصې پورته کړي او د خپلو قراردادونو لوړ قیمتونه داسې برابر کړي چې څلورواړه کمپنۍ یا شرکتونه د تېلو د هغو قراردادونو په نسبت چې هغوی له نورو وزارتونو او ریاستونو سره کول ډېرې پیسې ترلاسه کړي.

څېړنې وښوده چې څلورو توطیه جوړونکیو کمپنیو خپل قېمتونه سره برابر کړي او د خپلو قراردادونو مناقصې یې ترتیب کړې وې. د قرارداد د اسنادو یوې څېړنې وښودله چې د ډیزلو او پېټرولو له پاره د هغوی قیمتونه سره ورته ول، او دا له دې حقیقت سره سره داسې وو چې دغو شرکتونو ادعا کوله چې هغوی تېل له څلورو بېلابېلو موقعیتونو څخه پېري او خپل قیمتونه یې د څلورو کاملا بېلابېلو ریاضیکی طریقو په کارولو سره محاسبه کړي ول. د تېلو او قراردادونو کارپوهانو څرګنده کړه چې په 1,000,000,000,000 کې د څلورم لسیز تر ټکي پورې د تېلو د قیمتونو د مقایسې تصادفونه 1 وو، او دا چې د تېلو په برخه کې د هغوی د کلونو کار په دوران کې هغوی هېڅکله هم له داسې شي سره نه دي مخامخ شوي. کارپوهانو داسې نظر ورکړ چې د قرارداد مناقصې یوه توطیه وه او دا چې قیمتونه په داسې یوه طریقه سره جوړ کړای شوي دي چې دغو شرکتونو ته ښه موقعیت ورکړي څو د هغوی ګټې له مناسبت او توجیه څخه ډېرې لوړې کړي. د قرارداد ارزښت تقریبا 1 بیلون ډالر (999,456,936 ډالر) وو. څېړنې وښوده چې، که هغه نور دوه شارټ لسټ شوي مناقصه کوونکي د پولیسو له خوا نه وای توقیف کړای شوي یا د یوه موټر له خوا د هغوی موټر نه وای وهل شوی او هغوی نه وای ایسار شوي، کېدای شي چې د دفاع وزارت د هغوی له جملې څخه که دوه نه وای لږ تر لږه یوه ټیټه مناقصه قبوله کړې وای، چې په دې توګه یې کولی شوای چې حکومت ته له 200 میلیونه ډالرو (214,691,617 ډالر) څخه ډېره ګټه ور واړوي. د ټیټو مناقصو له جملې څخه یوه 784,765,319 ډالر وه.

د مناقصو په ترتیبولو او د قیمت په ثابت ساتلو سربېره، څېړنې وښودله چې یادو څلورو قراردادیانو د افغانستان د دفاع وزارت نظامي قوماندانانو، د قرارداد کولو چارواکو، او مالي مشاورینو/مقاماتو ته هم رشوتونه ورکړي ول څو یقیني کړي چې قرارداد په مشخص ډول توطیه جوړوونکیو قراردادیانو ته ورکول شي. د مناقصې د نېټې له پرانستې څخه مخکې، رقابت کوونکیو قراردادیانو ته نور رشوت وړاندې شوی وو څو له دې سره موافقه وکړي چې خپلې مناقصې به نه سپاري. رقابت کوونکیو د رشوت قبلول رد کړي وو او پوره اراده یې لرله چې خپلې مناقصې وسپاري، خو بالاخره منع کړای شوي ول. د مناقصې د پرانستې له نېټې څخه وروسته، له توقیف کړای شویو قراردادیانو څخه یوه یو شکایت ثبت کړ چې په تعقیب یې بل رشوت ورته وړاندې کړای شو چې شکایت نه لاس په سر شي او چوپ پاتې شي. هغه قراردادي چې غوښتنه ترې شوې وه بیا د رشوت اخیستل رد کړل. شکایت رد کړای شو او ادعاوې راپورته کړای شوې، خو هېڅکله ثابتې نه کړای شوې چې د شکایتونو ادارې د ادعا د نه منلو په مقابل کې رشوت ترلاسه کړې دی.

د 2015 د فبرورې په 1، سیګار افغان جمهور رییس ډاکټر اشرف غني ته د قضیې په هکله معلومات ورکړل، چې هغه سمدلاسه د دفاع وزارت قرارداد فسخه کړ. موقتي او نښلوونکي قراردادونه وشول څو افغان ملي اردو ته کافي اندازه تېل ورسول شي چې د هغوی د ماموریتونو اړتیاوې پوره کړي. ټول توطیه کوونکي قراردادیان له رقابت څخه واېستل شول. دا چې د قرارداد له پاره پیسې د متحده ایالاتو د اردو له خوا برابرې کړای شوې وې، د دفاع وزارت د قرارداد په فسخه کېدل سره د متحده ایالاتو حکومت ته له 200 میلیونه ډالرو څخه ډېر وسپمول شول. د قرارداد په فسخه کولو سربېره، جمهور رییس غني د دفاع وزارت پنځه لوړپوړي نظامي چارواکي او یو ملکي مشاور له کاره ګوښه کړل.

د 2015 د جون په 18مه، د ماساچوسیتس په ولسوالی کې، دیمیتري جین نویل په یوه کال او یوه ورځ حبس محکوم شو او حکم ورته وشو چې د متحده ایالاتو د حکومت په وړاندې د تقلب په توطیه کې د لاس لرلو په جرم دې 157,000 ډالر تاوان تادیه کړي.

سیمونس او جین نویل هغه توطیه جوړوونکي ول چې په افغانستان کې د PAE له خوا په کار ګومارل شوي ول. PAE د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت سره قرارداد درلود چې د افغانستان د محبسونو کارمندان وروزي. سیمونس په PAE کې له نورو سره د همغږۍ مسؤل وو چې د افغانستان د محبسونو کارمندانو ته د روزنې یا ټرېننګ په بشپړولو سره څه شمېر او څه ډول یونیفورمونه وغوښتل شي او برابر کړای شي. جین نویل د لوجیستیک/تدارکاتو ناظر یا سوپروایزر وو.

سیمونس، جین نویل، او ګڼو نورو د امینزیان لوجیستیکي خدمتونه (امینزیان) په نامه یو شرکت جوړکړچې د یوه فرعي قراردادي په توګه PAE ته یونیفورمونه برابر کړي. امینزیان به بیا PAE ته غلط او تقلبي آویزونه سپارل او د داسې شیانو تادیات به یې غوښتل چې هېڅ به برابر کړای شوي نه ول. وروسته له هغه چې امینزیان ته به تادیات وشول، سیمونس او جین نویل او د هغوی د توطیې ملګرو به ترلاسه شوي پیسې په خپلو کې سره وېشلې.

سیګار او د بهرنیو چارو وزارت دغه څېړنه ترسره کړه.

## د متحده ایالاتو د قراردادي کارمند د متحده ایالاتو د شتمنۍ په غلا کولو باندې اعتراف کوي

د 2015 د مې په 21مه، د ایلینایس په شمالي ولسوالی کې، د رایتیون یو پخواني کارمند، ټیموتي ماورر، د یوه کال او یوې ورځې په حبس او تر دوه کالو پورې تر څارنې لاندې ازادۍ باندې محکوم شو، او حکم ورته وشو چې 152,697 ډالر جریمه ورکړي.

دغه څېړنه وروسته له هغه پیل شوه چې د 2013 او 2014 کلونو په جریان کې د شین ډنډ په هوایي مرکز کې د متحده ایالاتو د حکومت تر ملکیت لاندې کمپیوټرونو د سیستماتیکي غلا په هکله راپورونه ورکول شول. شواهدو وښودله چې ماورر 11 څکوړې چې غلا کړای شوي کمپیوټرونه په کې تاو ول بېرته متحده ایالاتو ته خرڅوونکیو ته ورلېږلي دي چې بیا یې خرڅ کړي. د شین ډنډ په هوایي مرکز کې د تجهیزاتو د موجودۍ مسؤلو چارواکو د غلا کړای شویو وسایلو ارزښت 332,702 ډالر ښودلی دی.

## سیګار د متحده ایالاتو د اردو کارمند د 2.5 میلیونه ډالرو غلا د رسوا کولو له امله ستایي.

د سیګار ځانګړي استازي ویلیام هوبا د متحده ایالاتو د اردو ډلګۍ مشر جستین ټیمپل ته د 2015 د مې په 28مه په بګرام هوایي مرکز کې د تېلو د غلا د په ګوته کولو او په هکله یې د راپور ورکولو له امله یوه جایزه ورکړه. د ټیمپل او هوبا د کار له لارې، د لږ تر لږه 2.5 میلیونه ډالرو غلا په ګوته شوه، او په راتلونکي کې د متحده ایالاتو حکومت ته د میلیونونو ډالرو د تاوان وراوښتلو مخه ونیول شوه. د څېړنې په نتیجه کې د افغان ملي اردو د یوه تورن جنرال، دوه ډګروالانو، دوه ډګرمنانو، یوه تورن، او دوه ډلګی مشرانو؛ د افغان ملي پولیسو د دوه ساتنمنانو؛ او د ملي امنیت د ریاست د یوه بریدمن؛ او د لوی څارنوالی د یوه کارمند په شمول د افغانستان د عملیاتو د همغږۍ د ګروپ 12 (AOCG) تنه پرسونل د بګرام نظامي تاسیساتو ته له لاس رسي څخه منع کړای شول.



**د سيګار ځانګړی استازی هوبا** (په منځ کې) ډلګۍ مشر ټيمپل (چپ) ته، په داسې حال کې چې ډګرمن فيليپ يارک (ښې) ورته ګوري، د بګرام په هوايي مرکز کې د تېلو د غلا د رسوا کولو او په هکله يې په راپور ورکولو کې د مرستې له امله جايزه ورکوي. (د سيګارعکس)

هغه افغان پرسونل چې په AOCG کې مقرر شوي دي د بګرام په هوايي بېس کې د استوګنې او خوراک دواړو له اسانتيا څخه برخمن دي، اجازه لري چې بېس ته هم په خپلو دفتري موټرو او هم په خپلو شخصي موټرو کې تګ راتګ وکړي، او کولی شي چې له امنيتي ساتونکيو څخه پرته لاړ شي. د AOCG هغه لوړپوړي افغان غړي چې اوبرنګه نښه «بليو بيج» لري کولی شي چې پرته له دې چې هغوی يا يې موټر تلاشي شي د بګرام هوايي بېس ته ننوځي يا ترې وځي. د دغې وظيفې له لارې، دغه افغان پرسونل همدارنګه د بګرام د هوايي بېس د پرچون تېلو مرکز ته غيرمحدود لاس رسی لري، او کولی شي چې د خپلو شخصي او دفتري موټرو له پاره ترې تېل ترلاسه کړي.

ټيمپل ومونډله چې دغوموټرونو په ورځ کې دوه او درې ځلې تېل اچول، چې اکثر به يې د موټرو د تېلو د ټانکيو د ښکاره ظرفيت او جايز مقدار په نسبت ډېر تېل اخيستل. ټيمپل اټکل وکړچې يوازې په درې اونيو کې يوازې په 28 موټرو 19,000 ګيلنه تېل پمپ شوي ول. د ټيمپل او هوبا له خوا د ټولو موجودو افغان موټرو فزيکي څېړنې وښوده چې لږ ترلږه د نيمو موټرو ټانکۍ لويې کړای شوې وې، دوه د تېلو ټانکۍ يې درلودې، او داسې سيستمونو يې لرل چې له ټانکۍ نه به تېل په کې ورڅڅېدل، چې دا ټولو داسې نښې لرلې چې تازه، تازه استعمال شوي ول.

د AOCG د حمايوي کارمندانو له مرکو څخه معلومه شوه چې د AOCG اکثرو افغان کارمندانو به د تېلو، خوړو، بوتلي اوبو، او د ساختماني موادو غلا کوله. د AOCG د افغان پرسونل مرکې اکثر بې معنی وې. هيچا د تېلو د اضافي مقدار د اخيستلو مسؤليت نه مانه او ټولو د غلا په نورو ډولونو کې له لاس لرلو څخه انکار کاوه.

د مرکو نتايج په الفا کمپ کې، چې د بګرام د هوايي بېس د ځانګړيو ځواکونو له دوه کمپونو څخه يو دی، د قوماندانۍ کارمندانو ته وړاندې کړای شول، څو د AOCG افغان کارمندان د هغوی د عملونو له امله وپوښتل شي. ټيمپل مرستندوی اسناد وړاندې کړل چې هغه موټر او موټروانان يې ښودل چې په يوه ټاکلې ورځ د ځانګړيو ګيلنونو مسؤل ول. د الفا کمپ قوماندان د يوې هراړخيزې داخلي څېړنې امر وکړ او غوښتنه يې وکړه چې ټيمپل دې د افغان AOCG د يو کال د تېلو د لګښت بياکتنه وکړي. بياکتنې وښوده چې په 15 مياشتو کې افغان AOCG پرسونل له 3.5 مليون ډالرو څخه د ډېرو تېل مصرف کړي دي، چې له دې جملې څخه تقريبا 1 مليون ډالر داسې ښکارېدل چې قانوني دي.

## ځنډونې يا تعليقات او ممانعتونه

په دې ربعه کې، د سيګار د تعويق او مخنيوي پروګرام 17 اشخاص او 25 شرکتونه په افغانستان اومتحده ايالاتو کې د سيګار له خوا د ترسره شويو څېړنو د يوې برخې په توګه د ترلاسه شويو شواهدو په اساس تعليق يا ممانعت ته راجع کړل. د دغو اشخاصو له جملې څخه اته يې د جنايي تورونو په اساس د ځنډونې يا تعويق له پاره معرفي شول چې دغه تورونه د هغوی په مقابل کې د هغوی د داسې بد چلند له امله لګول شوي ول چې په افغانستان کې په بيارغونې پورې اړوند وو يا يې په دې برخه کې تاثير کاوه. لکه څنګه چې په 2.2 شکل کې ښودل شوي دي، له 2008 کال راهيسې تر ننه پورې، د سيګار له خوا د شويو معرفيو يا راجع کوونو شمېر تر 650 پورې رسيږي چې 343 اشخاص او 307 په کې شرکتونه دي.

د 2015 د جون له پای راهيسې، د سيګار د دې هڅو په نتيجه کې چې له تعليق او مخنيوي يا ممانعت څخه داسې کار واخلي چې په افغانستان کې د تقلب، اداري فساد، او کمزورو اجرأتو مسايل حل کړي، په مجموعي توګه 105 تعليقات، 343 نهايي شوي ممانعتونه، او 28 داسې په ځانګړی نهاد نومول کيدل افراد او کمپنۍ په ګوته شوي دي چې د متحده ايالاتو له خوا د بيارغونې په تمويل شويو پروژو کې ښکېل ول. د پروګرام له پيل راهيسې 14 اضافي افراد او شرکتونه له قرارداد څخه د مستثنی کولو پرځای

شکل 2.2

**د سيګار ځېرنې: د ځنډونو يا تعليقاتو او مخنيويو يا ممانعتونو له پاره ډېرېدونکې راجع کوونې، د 2011 د مالي کال 2 ربعه - د 2015 د مالي کال 3 ربعه**




سرچينه: د سيګار د ځېړنو رياست، 7/10/2015

له حکومت سره د اداري مطابقت په موافقو کې نيول شوي دي. د 2015 د درېيمې ربعې په جريان کې، د سيګار د معرفيو يا راجع کوونو په نتيجه کې د دغې ادارې د تعليق او مخنيوي د چارواکو له خوا درې تعليقونه او اوه نهايي شوي مخنيوي رامنځته شوي دي.

ځنډونې او مخنيوي د دې له پاره مهمې وسيلې دي چې يقيني شي چې ادارې د مرستو قراردادونه يوازې مسؤلو ادارو ته ورکړي. د سيګار پروګرام درې هغه ننګونې ځوابوي چې د متحده ايالاتو پاليسي او د قرارداد کولو احتمالي چاپېريال په افغانستان کې ورسره مخامخ دی: د چټک عمل اړتيا، په افغان اتباعو او افغان شرکتونو باندې د متحده ايالاتو د قضايي صلاحيت محدوديت او د انتخاب هغه ننګونې چې د فرعي قرارداديانو د ګڼو طبقو له په کار اچولو څخه په ميراث کې راپاتې دي. سيګار د داسې لارو لټون ته ادامه ورکوي چې د دغو ننګونو په وړاندې په افغانستان او متحده ايالاتو دواړو کې د معلوماتي سرچينو او ځېړنيزو وسايلو له لارې د حکومت غبرګونونه پراخ کړي. سيګار د داسې ځېړنو د بشپړولو له لارې چې سيګار په کې برخه اخلي، د تعليقاتو او مخنيويو له پاره اشخاص يا ادارې معرفي کوي – دا داسې ګامونه دي چې شرکتونه يا اشخاص د فدرالي قراردادونو يا مرستو له ترلاسه کولو څخه مستثنی کوي.

په اکثرو مواردو کې، د سيګار معرفي يا راجع کوونه د يوې قراردادي ادارې له خوا د جنايي تعقيب يا اصلاحي ګام له پاره د يوې ادعا د نه قبلولو له امله واقع کيږي او په دې توګه دا هغه اساسي ترميم دی چې په اجرأتو کې د قراردادي غيرقانوني چلند څرګندوي. ادارو ته د معرفيو په ترسره کولو کې، سيګار د ادارې له خوا د يو تعليق يا مخنيوي د تصميم له پاره بنسټونه جوړوي. سيګار په دې لړ کې د يوې

**د ځانګړی نهاد نومول کيدل:** د ملي دفاع د 2015 د صلاحيت د قانون د 841 جز په اساس د عمومي خدمتونو د ادارې په سيستم کې د قراردادونو د ورکولو د مديريت له خوا د قراردادونو له ترلاسه کولو څخه د هغو افرادو او موسساتو محروومول چې د مرکزي قوماندانۍ (CENTCOM) د قوماندان له خوا معرفي شوي وي او دا احتمال موجود وي چې قرارداد يې لاسونو ته ورشي په داسې حال کې چې هغوی د ياغيانو يا ترهګرو ګروپونو ته د پام وړ مرسته رسولې وي. د ځانګړی نهاد نومول کيدل د نامعينې مودې له پاره دي او د داسې يوه يادښت په توګه کار کوي چې قراردادونه او فرعي قراردادونه داسې افرادو او موسساتو ته ورکول شي چې د مرکزي قوماندانۍ د قوماندان له خوا په ګوته شوي وي د عامه پاليسۍ د يوې برخې په توګه بنايي محدود، ختم يا فسخه شي.

**د اداري مطابقت موافقې:** هغه موافقې چې د تعليق او ممانعت يا مخنيوي د چارواکو او قراردادیانو ترمنځ د مذاکراتو په نتيجه کې د ممانعت د عوض په توګه شوې وي.

سرچينه: د سيګار تعليقات او ممانعتونه

اداري له پاره تول اړتیاوړ حمایوي اسناد برابروي څو د اړوند قراردادي له خوا د ننګوني یا مقابلې په صورت کې، د هغه تصمیم ملاتړ وکړي. په افغانستان کې د قراردادونو د چاپېریال د بدلېدونکي ماهیت او د قراردادي د غیرقانوني چلند او/یا کمزورو اجرآتو په اساس، په یوه موقع سیګار ته دا ضروري ښکاره شوه چې افراد یا شرکتونه د اداري د تعلیق او مخنیوي د چاروکو له خوا د ګنو مواردو د په پام کې نیولو له پاره معرفي کړای شي.

د تعلیق او ممانعت په برخه کې د سیګار تاکید په دې حقیقت سره ښودل شوی دی چې د تعلیق او ممانعت له پاره د 650 معرفیو له جملې څخه 623 معرفی یا راجع کووني د 2011 کال له دویمې ربعې راهیسې شوي دي. د 2015 د جولای له 1 څخه مخکې، د 12 میاشتنی مودې په بهیر کې، د سیګار د تعلیق او ممانعت د پروګرام له خوا د معرفیو یا راجع کوونو په نتیجه کې 165 اشخاص او شرکتونه له حکومت سره له قرارداد کولو څخه واپسټل شول. د دغې مودې په جریان کې د سیګار معرفی یا راجع کووني د غلا، تقلب، کمزورې اجرآ، له یاغیانو سره د مالي ملاتړ، او د بیارغونې د قراردادونو د یوې برخې په توګه د ناسم مدیریت ادعاوې ښیي چې ارزښت یې تقریبا 800.3 میلیونه ډالرو ته رسیږي.

## د متحده ایالاتو د دفاع وزارت د 28.8 میلیون ډالري قراردادونو په ورکړه کې د رشوت له امله د دوه اشخاصو او 15 شرکتونو تعلیق

د 2015 د می په 4 مه، د سیګار، DCIS، او نورو ادارو چې په ICCTF کې یې برخه اخیستې وه، له خوا د یوې ترسره شوې څېړنې په نتیجه کې، سیګار جیمز اداس، عمرجمیل، او 15 شرکتونه یا کمپنۍ چې په جمیل پورې یې اړه لرله، د رشوت او پرعوایدو د جعلي مالیاتو د تادیاتو د توطیې د ادعاوو په اساس، د اردو د تعلیق او ممانعت چارواکي ته د تعلیق له پاره ورمعرفي کړل. په څانګړې توګه، اداس، چې د اردو یو متقاعد افسر او د عراق/افغانستان د قراردادونو په ګډه قوماندانی کې یو ملکي قراردادي دی، له خپل موقف څخه په استفادې سره، د 2004 د اپریل او د 2006 د مارچ تر منځ د جمیل شرکتونو ته د لږ تر لږه 15 اساسي قراردادونو ورکړې ته چې تقریبا 28.8 میلیونه ډالر ارزښت یې درلود لاره هواره کړه.

د یوې اوږدې او د څو ادارو له خوا ترسره شوې څېړنې په نتیجه کې، داسې معلومه شوه چې سم چې اداس لومړی قرارداد جمیل ته ورکړ، جمیل هغه ته 50,000 ډالر نغد ورکړل. په هغه پسې بیا، اداس په JCC-I/A کې د خپل کار له پای ته رسولو څخه وروسته له جمیل څخه د تادیاتو غوښتلو ته ادامه ورکړه، چې تقریبا 455,828 ډالر یې د وایر ټرانسفر یا بانکي حساب له لارې او 72,000 ډالر نور یې د 2010 د اپریل او د 2013 د جولای ترمنځ له جمیل او د هغه له ملګرو څخه د سامانونو او خدمتونو په بڼه ترلاسه کړي دي. د ګنو تادیاتو او سوغاتو ترمنځه، جمیل اداس ته له 40,000 ډالرو څخه ډېر د هغه د بچیانو د په زوی ولی نیولو له امله، د قیمتي چاقوګانو د پېرودلو، د هغه کور ته د اضافه خرڅ او د ونو او په نیالګیو باندې د ځمکې د ښکلي کولو په حساب ورکړي دي. په ځواب کې، اداس اساسي یا لومړنیو قراردادیانو ته ګڼې سپارښتنې د دې له پاره ورکړي دي څو هغوی تشویق کړي چې جمیل او د هغه شرکتونه د فرعي قراردادي په توګه مقرر کړي.

د 2015 د فبروری په 20مه، د متحده ایالاتو د ویرجینیا د ختیځې ولسوالۍ د ولسوالۍ په محکمه کې یوه جنایي دوسیه پرانستل شوه چې په هغې کې اداس په یو ځل رشوت اخیستنه او یو ځل د مالیې د تقلبي

راپور په وړاندې کولو باندې تورن شوی وو. تر هغه وروسته، د 2015 د اپریل په 23مه، د متحده ایالاتو د ویرجینیا په ختیځه ولسوالی کې د ولسوالی په محکمه کې د یوه جنایي تور دوسیه ثبت شوه چې جمیل په کې په یو ځل توطیه جوړونه او یو ځل رشوت ورکوونه باندې تورن کړای شو. د سیګار د معرفی یا راجع کوونې په اساس، اردو د 2015 د جولای په 9مه اداس، جمیل، او د جمیل شرکتونه له حکومت سره له قرارداد کولو څخه تعلیق کړل.

### په FOB Rocco کې د کټارو او ماین پاکی له پاره د 1.6 میلیونه ډالر ارزښت لرونکي تقلبي قرارداد له امله د شمس ګروپ انټرنېشنل، دوه اشخاصو، او پنځو شرکتونو منع کول

د سیګار له خوا د معرفی په نتیجه کې د اردو د تعلیق او ممانعت چارواکې، د 2015 د مارچ په 28مه، روبرټ بیرتولیني، هارون شمس خان، شمس ګروپ انټرنېشنل، او پنځه اړوندې کمپنی د 54 میاشتو په مخه منع کړې. دا کار د سیګار له خوا د معرفی په اساس وشو.

ممانعت د هغو موندنو په اساس وشو چې د لیکشور انجنیري خدمتونو د شرکت یوه کارمند بیرتولیني له خان څخه د دې په بدل کې غیرقانوني تادیات ترلاسه کړي ول چې شمس ګروپ ته به دا صلاحیت ورکوي چې د افغانستان په سروبي سیمه کې په FOB Rocco کې به د افغان ملي اردو له پاره د مرکزونو د جوړولو له پاره د 1.6 میلیونه ډالرو په ارزښت د امنیت د لا قوي کولو او ماین پاکی قرارداد ورکوي. بیرتولیني د خپل مستخدم له معلوماتو یا تایید څخه پرته، د قرارداد په تعدیل کې 980,000 ډالر د یوې امنیتي کټارې د نصبولو او 680,000 ډالر نور د ماین پاکی د کار له پاره منظور کړل. د دغو تعدیلاتو د منظورۍ له پاره په مقابل کې، خان تقریبا 60,000 ډالر بیرتولیني ته د بانک له لارې ور ولېږل چې د بیرتولیني د زوی په نامه بانکي حساب څخه یې استفاده کړې وه چې هغه ته خان د وظیفې یو د دروغو وړاندیز کړی وو. خان دغه غیرمستقیم تادیات داسې کړی وو چې تر دې نامه لاندې یې پټ کړې چې هغه د بیرتولیني زوی ته په راتلونکي وخت کې د مخکې تر مخکې تنخا تادیات کوي.

د 2014 د جولای په 30مه، د متحده ایالاتو په اریزونا ولسوالی کې د بیرتولیني پرضد جنایي معلومات ثبت شول چې هغه یې په یو ځل داسې توطیې تورن کړ چې بانکي جعلکاري یې کړې او د غیرقانوني تادیاتو په معاملو کې دخیل دی. د بیرتولیني له خوا د اعتراف تر داخلولو او یوې وروستی جنایي فیصلې څخه وروسته د 2014 د ډسمبر په 16مه نوموړی په درې میاشتې حبس، اوه میاشتې په کورکې نظربندی، او د 59,975 ډالرو په جریمه باندې محکوم شو.

## د سیګارد نظارت نور فعالیتونه

### ځانګړی عمومي مفتش د متحده ایالاتو د ولسي جرګې د نظارت او حکومتي ریفورم د کمېټې اړوند د ملي امنیت د فرعي کمېټې په وړاندې بیان ورکوي.

د 2015 د اپریل په 29مه، ځانګړي عمومي مفتش جان ایف سوپکو د متحده ایالاتو د ولسي جرګې د نظارت او حکومتي ریفورم د کمېټې اړوند د ملي امنیت د فرعي کمېټې په وړاندې بیان ورکړ. د سوپکو په څرګندونو کې د افغان ملي امنیتي ځواکونو د پرسونل د شمېر، د ناسمو او غیرمعتبرو ارقامو په برخو کې د پټو ستونزو، او په بودجه کې د شاملي مرستي په برخه کې د محدود نظارت په هکله خبرې اترې وشوې.

**وړاندې کړای شوي ثبوتونه**

- 15-56-TY ثبوت: د افغان ملي امنیتي ځواکونو شمېر ولي ستونزه ده: ناسم او غیراعتباري ارقام، او په بودجه کې شامل مرسته باندې محدود نظارت د متحده ایالاتو د مالیه ورکوونکیو میلیونونه ډالر په خطر کې اچوي.

سوپکو دا په ګوته کړه چې، دا چې په ټول افغانستان کې د متحده ایالاتو حضور راکم شوی دی، له دې امله د تصمیم نیوونکیو او تطبیقوونکیو ادارو، لکه د متحده ایالاتو د دفاع وزارت، د بهرنیو چارو وزارت، او د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) تکیه د افغان حکومت او نورو نړیوالو شریکانو له خوا د بیارغونې د هڅو په هکله په ورکول شویو ارقامو باندې ورځ تر ورځې ډېرېږي. په دې برخه کې د افغان ملي امنیتي ځواکونو د پرسونل د شمېر په هکله اساسي معلومات هم شامل دي.

په داسې حال کې چې، د افغان ملي اردو او افغان ملي پولیسو اود هغوی ته د تادیاتو په هکله د سیګار وروستي تفتیشونه داسې اندېښنې راپورته کوي چې نه متحده ایالات او نه د هغوی افغان متحدین په صحیح توګه پوهېږي چې څومره افغان عسکر او پولیس د وظیفې ترسره کولو له پاره موجود دي، یا، په نورو ټکو، د هغوی د عملیاتي وړتیاوو حقیقي ماهیت څه دی. دغه ډول اساسي معلومات په ځانګړې توګه د 2015 د جګړې په فصل کې مهم دي، چې افغانان د خپل امنیت بشپړمسؤلیت پرغاړه لري.

سربېره پر دې، سوپکو په خپل ثبوت کې روښانه کړه چې دغه ارقام له افغان ملي امنیتي ځواکونو سره د متحده ایالاتو د مرستو اساس جوړوي. دا چې متحده ایالات دې ته دوام ورکوي چې د افغان ملي امنیتي ځواکونو د تنخاګانو او نورو اړتیاوو له پاره خپلې مرستې په بودجه کې شاملې مرستې ته واړوي، دا ډېره زیاته مهمه ده چې دغه مرسته د صحیح او معتبرو ارقامو په اساس وی، او دا چې افغان حکومت وکولی شي چې دغه ډول فنډونه اداره کړي او په وړاندې یې ځواب ویونکی واوسي.

سوپکو بیان کړه چې، دا چې نورې څېړنیزې ادارې خپل پرسونل کموي، سیګار به د افغان ملي امنیتي ځواکونو د پرسونل او د تنخاګانو د ورکولو په برخو کې د لا ښو کنټرولونو په تطبیق کې د متحده ایالاتو او د افغانستان د حکومتونو د پرمختګ څارنې ته دوام ورکړي، د دغو ارقامو د تایید له پاره به کړنلارې پیاوړې کړي، او د افغان ملي امنیتي ځواکونو د تنخاګانو او نورو اړتیاوو د پوره کولو له پاره د متحده ایالاتو له خوا په بودجه کې د شاملې مرستې نظارت ته به وده ورکړي. دا ډېره مهمه ده چې په افغانستان کې د 2015 د مارچ له 31مې راهیسې د تقریبا 15 بیلیونه ډالرو تخصیص شویو خو نه لګول شویو مرستو، او په راتلونکیو کالونو کې د متحده ایالاتو له خوا د بیلیونونو نورو ژمنې دا یقیني کړي چې دغه پانګونه چې له 2001 کال راهیسې پیل شوې ده، ضایع نشي.

## سیګار له INTOSAI سره د افغانانو د روزنې په برخه کې همکاري کوي



**د 2015 په جون کې،** د عمومي مفتش مرستیال جین الویزي (له چپې خوا نه دویم) د ناروی په اوسلو کې مېشتو د INTOSAI چارواکو سره ولیدل (د سیګارعکس)

د 2015 په فبروري کې، ځانګړي عمومي مفتش سوپکو د افغانستان جمهور رییس اشرف غني سره ولیدل چې د افغانستان د بیارغونې له پاره په پروګرامونو او عملیاتو کې د نورو شیانو ترڅنګ ضایعات، تقلب، او سؤ استفاده په ګوته کړي او مخه یې ونیسي. د ملاقات پر وخت، جمهور رییس غني د افغان مفتشینو د روزنې په برخه کې د سیګار د مرستې غوښتنه وکړه. په ځواب کې، سیګار وښودله چې د تفتیش د عالي موسساتو نړیوال سازمان (INTOSAI) د دغه ډول روزنې په برابرولو کې تر ټولو ښه دی. INTOSAI د تفتیش د ملي سازمانونو – چې د تفتیش د عالي موسساتو (SAIs) په نامه یادیږي یو خپلواک نړیوال پیوستون دی – او دا مهال د افغانستان د تفتیش د ملي سازمان، د تفتیش عالي ریاست په شمول 192 غړي لري. د INTOSAI ماموریت دا دی چې انکشاف او د پوهې انتقال ته وده ورکړي، په نړیواله سطحه حکومتي تفتیش پیاوړی کړي، او په اړوندو هېوادونو کې د خپلو غړو ماهرانه ظرفیتونه، موقف او نفوذ غښتلی کړي.

د 2015 په جون کې، د عمومي مفتش مرستیال جین الویزي او د پروګرام د ځانګي سرتحلیلګر ګلین لیویس د ناروی په مرکز اوسلو کې مېشتو د INTOSAI چارواکو سره، چې د افغانستان د تفتیش د عالي ادارې په شمول په ګرده نړۍ کې د تفتیش د عالي موسساتو (SAIs) د انکشاف د پیاړتیا مسؤل

دي، وليدل. دغو چاراواکو وويل چې د تفتيش عالي اداره په نورو مخ پر ودې هېوادونو کې د تفتيش د ادارو په څېر له ډېرو ننګونو سره مخامخ ده. د مثال په توګه، دغه موسسات ټول اړتيا لري چې د تفتيش نړيوال معيارونه پلي کړي، او تخنيکي او تشکيلاتي ظرفيتونه دواړه پياوړي کړي. که څه هم چې بنايي د افغانستان د تفتيش عالي موسسه د با استعداده او کار ته لېوالو کارپوهانو يو کدر ولري، خو بيا هم هغه د پام وړ موسساتي کمزورتياوو سره مخامخ ده. د دې له پاره چې د افغانستان د تفتيش عالي اداره مؤثره وي، دغه موسسه بايد د پارلمان پوره ملاتړ ولري، خو په عين وخت کې په کار دی چې خپلواکه وي، او په دې هکله ضروري اطمينانونه ترلاسه کړي چې پارلمان د دغې ادارې موندنو ته په جدي سترګه وګوري. يو قوي حقوقي چوکاټ او يو ملاتړی چاپېريال او تر څنګه يې په کارپوه مفتشين کولی شي دې ته لاره هواره کړي چې د افغانستان د تفتيش عالي اداره حقيقي ارزونه وړاندې کړي.

په دا وروستيو وختونو کې، د افغانستان په شمول په نازک حاله هېوادونوکې، INTOSAI د تفتيش د عالي موسسو (SAIs) په وړاندې د محدود دوه اړخيز ملاتړ په وړاندې لاس په کار شوی دی، څو د ظرفيت انکشافات يي پياوړي کړي. په مشخص ډول، د افغانستان د تفتيش عالي اداره پلان لري چې د INTOSAI او جيګپوړو SAIs په تخنيکي ملاترپخپله د خپلو روانو اجرأتو او ظرفيت يوه ارزونه وکړي. د ناروی پرمختيايي اداره به دغه پروژه تمويل کړي. دغه د خپل ځان پخپله ارزونه داسې طرحه شوې ده چې د تفتيش له نړيوالو معيارونو سره خپل اجرأت ګوري او د صلاحيت او خپلواکۍ، موسساتي وړتياوو، د ترسره شوي تفتيش د کيفيت، او همدارنګه د تفتيش د کار د پوښښ او مهالوېشونو په شمول ګڼې برخې به وپوښي. د افغانستان د تفتيش عالي اداره دا مهال داسې يوه کاري ډله جوړوي چې پخپله د خپلې ادارې ارزونه ترسره کړي. د INTOSAI چاراواکي او جيګپوړي SAIs به د 2015 په سپتمبر کې د افغانستان له استازو سره وګوري چې هغوی ته روزنه يا ټريننګ برابر کړي. د INTOSAI چاراواکي هيله من دي چې د 2016 تر مارچ پورې به يو راپور بشپړ کړای شي.

د INTOSAI د چاراواکو په وينا، پخپله د خپل ځان ارزونې څخه تمه دا ده چې د عمل د داسې يوه پلان د جوړولو په هکله معلومات وړاندې کړي چې د راتلونکي وخت مرستې او روزنې هڅو ته لاره برابره کړي. هغه به د تفتيش عالي ادارې ته د موجودو پياوړتياوو او کمزورتياوو يوه خلاصه وړاندې کړي او د انکشاف له پاره د شرايطو په ګوته کولو کې به مرسته وکړي. تمه ده چې دغه ارزونه به له مرستندويانو او شريکانو سره د ظرفيت د انکشاف له پاره د اضافي احتمالي ملاتړ په هکله د خبرو اترو قوي بنسټونه جوړ کړي.

## د عمومي مفتش مرستيال د هارورډ په جان اېف کينيډي حکومتي پوهنتون کې خبرې کوي

د 2015 د مې په 1، د عمومي مفتش مرستيال الويزي د هارورډ په جان اېف کينيډي حکومتي پوهنتون کې خبرې وکړې. الويزي د جيګپوړو مديريه همکارانو د پروګرام يوه ګروپ ته وينا وکړه، او په افغانستان او په فدرالي حکومت کې د نظارت د اهميت په هکله يې خبرې اترې وکړې. د عمومي مفتش مرستيال همدارنګه تشريح کړه چې، سره له دې چې په تاريخي لحاظ په افغانستان کې نتايج لوړدي، د قرارداد په مديريت کې ستونزې له هغو څخه چې په متحده ايالاتو کې دي فرق نه لري. په بيانيه کې، الويزي په دې هکله معلومات ورکړل چې سيګار څنګه کار کوي چې د ماليه ورکوونکيو په پيسو کې تقلب، ضايعات، او له هغو څخه بده استفاده را لوڅ او افشا کړي.

## ځانګړی عمومي مفتش د ويل کارنيل د طب پوهنځي کې خبرې کوي.

د 2015 د مې په 5مه، ځانګړي عمومي مفتش د ويل کارنيل د طب پوهنځي کې، په افغانستان کې د بيا رغونې په هڅو کې د خيالي کيسو په مقابل کې د ريښتياو د معلومولو د ننګونو په هکله خبرې وکړې. سوپکو د افغانانو د ژوند د متوقع اوږدوالي په هکله د احصايو او شمېرنو، د افغانستان د ښوونې او روزنې د سيستم، او د افغانستان د امنيتي پرسونل په شمول د بيارغونې ګڼې داسې ساحې په ګوته کړې چې په هغو کې ارقام د پوښتنې وړ يا غيراعتباري دي. سوپکو په خپلو خبرو کې د بيارغونې دپراخو هڅوپه هکله يوه لنډه تاريخچه او د سيګار او د هغه د کار په هکله يوه خلاصه وړاندې کړه.

## ځانګړی عمومي مفتش د ستراتيژيکو او نړيوالو څېړنو مرکز (CSIS) کې خبرې کوي

ځانګړي عمومي مفتش سوپکو د 2015 د مې په 13مه د ستراتيژيکو او نړيوالو څېړنو په مرکز کې د افغان امنيتي ځواکونو د موجودې د معلومولو په هکله خبرې وکړې. سوپکو دې ته اشاره وکړه چې نوموړي د افغان جمهور رييس اشرف غني او اجرائيه رييس عبدالله عبدالله، او همدارنګه په افغانستان کې د متحده ايالاتو د نظامي مشرانو رهبرۍ تشويق کړې دی. د عمومي مفتش بيانيې همدارنګه د سيګار د کار، په مشخصه توګه د افغان ملي امنيتي ځواکونو د وړتياوو، د افغان ملي امنيتي ځواکونو د پرسونل د شمېر، او د افغان ملي امنيتي ځواکونو د اوږدمهالي پايښت د لرليد، په هکله په اندېښنو باندې تاکيد وکړ.

## د عمومي مفتش مرستيال د بالتيک په دفاعي پوهنځي کې د ژورې بياکتنې په نړيوال کانفرنس کې خبرې کوي

د 2015 د جون په 2مه، د عمومي مفتش مرستيال الويزي د بالتيک په دفاعي پوهنځي کې د ژورې بياکتنې په نړيوال کانفرانس کې خبرې وکړې. الويزي د سيګار د تېرو فعاليتونو په هکله رڼا واچوله او په ځانګړې توګه د افغان ښځو د ملاتړ له پاره د متحده ايالاتو د هڅو د ارزونې په برخه کې د سيګار د کار په هکله وغږېد. د عمومي مفتش مرستيال د سيګار د تفتيش د دوه خپرو شويو راپورونو او همدارنګه د افغان ښځو د پياوړتيا له پاره د متحده ايالاتو د نړيوالې پرمختيايي ادارې (USAID) له خوا د يوه پروګرام د تطبيق او نظارت څارنې ته د دوام ورکولو له پاره د سيګار د پلانونو په هکله خبرې اترې وکړې. کېدای شي چې د دغه پروګرام لګښت له 216 ميليونو ډالرو څخه تر 416 ميليونه ډالرو پورې ورسېږي.

## د عمومي مفتش مرستيال د ناټو د 2015 د بشپړتيا جوړونې په کالني ډسپلين کانفرانس کې خبرې کوي

د عمومي مفتش مرستيال الويزي د 2015 د جون په 10مه د ناټو د 2015 د بشپړتيا جوړونې په کالني ډسپلين کانفرانس کې خبرې وکړې. الويزي د کانفرانس برخه والو ته د ضياع، تقلب، او بدې استفادې په مقابل کې د سيګار د مبارزې د جزياتو په شمول د سيګار د تېر په هکله خبرې وکړې. د عمومي مفتش مرستيال تشريح کړه چې اداري فساد د افغانستان د بيارغونې په هڅو کې څومره پراخ او ستونزمن دی، او دا يې په ګوته کړه چې د افغانستان نوی د وحدت حکومت د هغه پر ضد په مبارزه کې د پرمختګ نښې ښيي. الويزي خپله بيانيه په دې ټکي په تاکيد کولو سره پای ته ورسوله چې د ناټو غړي دې په خپلو نظامي تاسيساتو کې د صداقت لوړمعيارونه داسې پلي کړي چې د افغان شريکانو له پاره يوه بېلګه وګرځي.

## د عمومي مفتش مرستیال د سمندري ځواک د لوړو زده کړو د پوهنتون پروګرام ته خبرې کوي

د عمومي مفتش مرستیال الویزي د 2015 د جولای په 16مه، د سمندري ځواک د لوړو زده کړو د پوهنتون د بهرنی سیمې د افسرانو ګډ پروګرام ته په پیچلیو عملیاتو کې د ملکي – نظامي روابطو په هکله خبرې وکړې. الویزي وویل چې که د متحده ایالاتو حکومت غواړي چې په پیچلیو عملیاتو کې بریالی شي په کار دی چې په نظامي او ملکي، دواړو برخو کې د تېر په نسبت په لا ښه ډول په ګډه سره کار وکړي. الویزي وویل چې د سیګار کار د نورو هغو موندنې حمایه کړې چې د ملکي او نظامي ادارو تر منځ په همغږۍ کې پاتې راتګ په افغانستان کې د ماموریت د بریالیتوب په وړاندې یو لوی خنډ وو.

## د سیګار بودجه

سیګار په ګډه او د پرمختګ د تخصیصونو په قانون کې د 2015 مالي کال له پاره له کانګرس څخه د 56.9 میلیونه ډالرو یوه بودجه ترلاسه کړه. دغه بودجه (1) د تفتیشونو او پلټنو، (2) څېړنو، (3) مدیریت او حمایې، او (4) د څېړنې او تحلیل د څانګو، او همدارنګه د ځانګړیو پروژو د ټیم او د ژورو بیاکتنو د پروګرام له لارې، د سیګار د نظارت فعالیتونه او لاسته راوړنې حمایه کوي.

## د سیګار پرسونل

د سیګار د کارمندانو شمېر کانګرس ته د تېر راپور راهیسې په خپل حال پاتې دی چې د ربعې په پای کې 194 کارمندان په کې کار کوي. د ربعې په پای کې، 29 کارمندان په کابل کې د متحده ایالاتو په سفارت کې، او څلور نور کارمندان د بګرام په هوایي مرکز کې ول. په کندهار کې د سیګار دفتر د ربعې په جریان کې بند کړای شو. سیګار په کابل کې په خپل دفتر کې څلور محلي افغانان په کار وګومارل څو د څېړنو او تفتیشونو له ریاستونو سره مرسته وکړي. سربېره پر دې، سیګار خپل مقیم کارمندان افغانستان ته د لنډې مودې له پاره د کارمندانو په مقرریو سره حمایه کوي. په دې ربعه کې، سیګار 16 کارمندان په افغانستان کې په لنډمهالو کارونو باندې ګومارلي ول چې په مجموعي توګه 256 ورځې کار یې وکړ.



**ځانګړې استازې لینډي ساویل،** تورن جنرال ډان هوګس (چپ)، او تورن جنرال ټډ سیمونایټ د جولای په 5 مه د افغانستان د تدارکاتو د ملي کمېسیون په مجلس کې چې د جمهور رییس غني له خوا د جمهوري ریاست په ماڼۍ کې جوړ شوی وو، برخه واخیسته. (د سیګار عکس)

”افغان وګړي هیله مند دي چې مذاکرات د ښه نیت
او ارادې سره دوام ولري. موږ هیله مند یو چې
مذاکرات په هیواد کې د تلپاتي ټیکاو او باوقار سولې
پایله ولري.“

*— افغان ولسمشر اشرف غني*

سرچینه: په *واشنګټن پوسټ* کې نقل شوي، ”افغانان او پاکستانیان د طالبانو سره خبرو کې بیلابیل پرمختګونه په ګوته کوي“، د جولای 8، 2015.

# 3
# د بیا رغونی
# نوی وضیعت



# د بیا رغونی نوی وضیعت معلوماتو لړلیک


| | |
|---|---|
| **عمومي کتنه** | 73 |
| **د مالی وجوهو وضعیت** | 76 |
| **امنیت** | 92 |
| **حکومت** | 134 |
| **اقتصادی او ټولنیزه پرمختیا** | 162 |


**په تیر مخ کې عکس**
افغان میرمنې په بامیان ولایت کې د ملګرو ملتونو په افغانستان کې د مرستندویه ماموریت (یوناما) د ښوونې او رهبریت برنامه کې ګډون کوي. (د فردین واعظي لخوا د یوناما عکس)

# د بیا رغونې نوې وضعیت

## عمومي کتنه

د افغان حکومت پلاوي او افغان طالبانو د جولای په 7 نیټه په پاکستان کې له یوبل سره وکتل چې دې ته د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د "سولې د خبرو اترو لومړی رسمي ناستې" نوم ورکړ. د راپورونو له مخې د طالبانو او حقاني شبکې لوړ پوړو مشرانو پدې ناسته کې ګډون درلود. ولسمشر اشرف غني ویلي چې تمه کیږي دوهمه ناسته به د جولای په اخر او د اګست په پیل کې ترسره شي. داسې ویل کیږي چې د خبرو اترو په تړاو طالبان په دوه ډرو تقسیم شوي. د مثال په توګه د طالبانو اړوند یوې ویب پاڼې د لومړي مخ کالم دغه خبرې رټلې، مګر وروسته بیا پرته له کومو توضیحاتو څخه له پاڼې لرې شوی. په هرصورت، د جولای په 15 د راپورونو له مخې د طالبانو مشر ملا عمر د خبرو اترو څخه د "سیاسي هڅو" او "سوله ایز لارو" په حیث یادونه کړې چې د "نیواک پای ته رسولو" مشروع طریقه ده.

د ولسي جرګې د کاري نیټې پای ته رسیدو 30-60 ورځې دمخه ټاکنو ته د قانوني اړتیا سربیره، د ولسمشر غني او اجرایه رییس عبدالله عبدالله ترمینځ د ټاکنیزو اصلاحاتو پرسر دوام لرونکي اختلاف له امله د پارلمان مهالویش شوي ټاکنې ځنډیدلي. که څه هم د ولسي جرګې کاري موده د جون په 22، 2015 پای ته ورسیده مګر ټاکنې ترسره نه شوې. د جون په 19 نیټه غني اعلان وکړ چې ولسي جرګه به د ټاکنو په لاره اچول کیدو او د پایلو تر معلومیدو پورې خپل کار ته دوام ورکړي. ولسمشر دا هم وویل چې د ټاکنو لپاره به د یوې میاشتې په موده کې نیټه اعلان شي.

د متحده ایالاتونو ځواکونه – افغانستان (USFOR-A) په تیره ربع کې سیګار خبر کړ چې د امریکا دفاع وزارت (DOD) اوس د افغان ملي امنیتي ځواکونو (ANSF) لپاره د افغان ملي دفاع او امنیت ځواکونه (ANDSF) اصطلاح کاروي. سیګار د راپور ورکولو دې ربع کې د DOD دغه نوې اصطلاح کارولې.

په جون کې، د ملګرو ملتونو (UN) عمومي منشي په افغانستان کې جګړې پورې اړوند تاوتریخوالي د ډیریدو راپور ورکړ ځکه چې ANDSF په لټه کې و د وده کونکي ترهګریز فعالیتونو مخه ونیسي چې دې د ترهر وخت ډیر ملکي مرګ ژوبلې پایله درلوده. ترهګرو حتی د روژې سپیڅلې میاشت کې هم د ملکیانو په نښه کولو ته لیوالتیا ښودله. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو پلاوي د ملکیانو په نښه کونکي بریدونو د سمدستي درولو غوښتنه وکړه.

پدې ربع کې، DOD او د هوډمن ملاتړ ماموریت (RS) چارواکو خبر ورکړ چې د عراق او مینځني ختیځ اسلامي دولت ډلې (ISIL) په افغانستان کې شتون پیدا کړی، که څه هم دوی اضافه کړه چې نوموړې ډله دلته "نوې او کوچنۍ ده." د DOD چارواکي وای په افغانستان کې د ISIL شتون اساسا د طالبانو ناراض غړي دي چې ځانته یې دغه نوم غوره کړی. ملګرو ملتونو راپور ورکړی چې د اپریل په 18 نیټه په جلال اباد کې د ځان مرګي برید په شمول د ISIL د ډیرې بریدونو پیل سربیره، "د ISIL لخوا د دوی عملیاتي شتون یا فعالیت تراوسه روښانه ندی."

د دې ربع په پای کې، د دفاع وزارت (MOD) بې د تاييد شوې وزير پاتې دی. MOD د سپتمبر 29، 2014 راهيسې، له کله چې غني د ولسمشر په توګه لوړه کړې وزير نلري.

پدې ربع کې، د سيګار لخوا د ANDSF مياشتنې ارزونې راپور (MAAR) پر بنسټ، ANDSF د تيرې ربعې په پرتله د لړ ظرفيت لرونکی و ارزول شو. د ANDSF د قطعې په کچه محرم ارزونو له امله، دغه ټاکل د "وړ" يا لوړې درجې ارزول شوي کټګوريو شمير پر بنسټ رامينځته شوې. هوډمن ملاتړ ماموريت هم د 2016 پای پورې د وزارتې دفترونو ترلاسه کيدونکې تمه شوې ظرفيت ټيټولو سره د افغان وزارتونو لپاره خپلې وړاندوينې اصلاح کړې.

افغانستان 1394 مالي کال (FY) (د دسمبر 22، 2014 – دسمبر 21، 2015) د ضعيف نغدې ذخيرو او د پام وړ شاته پاتې پورونو سره پيل کړ، پداسې حال کې چې د عوايدو راټولولو اصلاحات په پارلمان کې پاتې دي. د 1394 مالي کال لومړيو څلور مياشتو کې، د عوايدو راټولول د بودجې اهدافو څخه 5.9% کم و، مګر د 1393 مالي کال ورته دورې څخه 7.5% لوړ وو. داخلي عوايد تر دې دمه د افغانستان د 1.2 ميلياردو ډالرو ټولټال بوديجې 48% سلنه يا 576 ميليون ډالر تاديه کړې، چې پاتې برخه يې د ډونرانو (بسپنه ورکوونکو) لخوا پوښل کيږي.

پدې ربع کې، د متحده ايالاتو خزاينو د افغانستان عامه مالي مديريت سيستمونو پياوړې کولو او د مالي سيکتور څارلو په موخه د افغان ماليې وزارت (MOF) لپاره د تخنيکي مرستې او ظرفيت جوړونې برنامو رامينځته کول پيل کړل. سربيره پردې، د پيسو نړيوال فنډ د نهه مياشتو مودې لپاره د افغانستان کوچنې اقتصاد پاليسيو او جوړښتې اصلاح اجنډا نظارت کول پيل کړل، چې د کارمندانو د نظارت برنامې ترون د افغان دولت سره په تيره ربع کې ترسره شوی وو.

پدې ربع کې د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرمونو دفتر (UNODC) د *نړی مخدره توکو راپور* 2015 کې راپور ورکړی چې د افغانستان د ترياکو له هرځايه ډير کښت د هيواد او نړيوالې ټولنې لپاره د خورا لوی ننګونې په حيث پرځای پاتې دی. د بهرنيو چارو وزارت د نړيوالو ترياکو او قانون پلې کولو چارو دفتر (INL) هم د *افغانستان د مخدره توکو د استعمال ملې سروی* 2015 خپره کړه. سروی موندلې چې د ټول نفوس 11% – شاوخوا 13% لويان او 9% ماشومان يو يا ډير ډوله مخدره توکې کاروي. د دې په پرتله د UNODC نړيوال اټکل د مخدره توکو کارولو لپاره 5.2% دی. د INL لپاره پدې ربع کې د يوې دريمې ډلې د نظارت راپور موندلې چې د ترياکو کښت کمولو لپاره د بزګرانو سره د مرستې هيڅ ډول برنامه به پدې نږديو کې بريالی نه وي، که څه هم د عايد ودې هڅولو لپاره برنامې کولی شي په اوږده موده کې د ترياکو کښت راکمولو لپاره لاره هواره کړي.

# د بیا رغونی نوی وضیعت

د 2015 کال د جون تر 30 پورې، له 2002 کال راهیسې د افغانستان د هوساینې او بیارغونې لپاره شاوخوا 109.7 میلیارده ډالر مختص شوي. له دغه ټولټال څخه نږدې 92.38 میلیارده ډالر د اوه لویو بیارغونې مرستو لپاره مختص شوي، او شاوخوا 11.89 میلیارده ډالر په پایپلاین کې د احتمالي مصرف لپاره پرځای پاتې دي. د بیارغونې مجموعي تمویل په 2015 کال کې د افغانستان لپاره د DOD د مخدره توکو له مینځه وړلو او د مخدره توکو سره مبارزې فعالیتونو لپاره د تمویل پلان شوي برنامو له امله په تیر ربع کې راپور ورکړل شوي تمویل څخه یو څه کم شوی.

# د مالی وجوهو وضعیت محتویات


د افغانستان د بیارغونې لپاره د متحده
ایالاتو لخوا ځانګړې شوې بودیجه 78

د افغانستان د بیارغونې د تمویل لیکه 80

د افغانستان د امنیتی ځواکونو مالی صندوق 82

د افغانستان د امنیتي ځواکونو بودیجوي
فعالیتونه 83

د قوماندان د بیړني غبرګون برنامه 84

د افغانستان د زېربنا صندوق 85

د سوداګرۍ او ثبات عملیاتو لپاره کاري ځواک 86

د امریکا دفاع وزارت د مخدره توکو
له مینځه وړلو او د مخدره توکو سره
د مبارزې فعالیتونه 87

د اقتصادي ملاتړ صندوق 88

د نشه يېزو توکو د کنټرول او د قانون
د تنفيذ نړیواله اداره 89

د افغانستان لپاره د بیارغونې نړیوال تمویل 90

# د مالی وجوهو وضعیت

د سیګار قانوني حکم پوره کولو لپاره دا برخه په افغانستان کې د بیارغوني فعالیتونو لپاره د متحده ایالاتو مختص شوي، مکلف شوي او مصرف شوي مرستو وضعیت تشریح کوي. له 2002 مالي کال راهیسې د 2015 د جون تر 30 پورې متحده ایالاتو د افغانستان د هوساینې او بیارغوني لپاره شاوخوا 109.66 میلیارده ډالر مختص کړي. دا ټولټال په لاندې توګه تخصیص شوی:

- د امنیت لپاره 65.04 میلیارده ډالر (4.43 میلیارده ډالر د تریاکو سره مبارزې نوښتونو لپاره)
- د حکومتولی او پراختیا لپاره 31.85 میلیارده ډالر (3.77 میلیارده ډالر د تریاکو سره مبارزې نوښتونو لپاره)
- د بشردوستانه مرستې لپاره 2.90 میلیارده ډالر
- د ملکي عملیاتو لپاره 9.87 میلیارده ډالر

شکل 3.1 د متحده ایالاتو لویې مرستې ښیې چې دغه هڅو ته ورکړل شوې.

شکل 3.1

**د افغانستان بیارغوني هڅو لپاره د متحده ایالاتو ملاتړ کونکې مرستې** (میلیاردونه ډالر)




یادونه: شمیرې ګردې (صحیح عدد) شوي. د بهرنیو چارو وزارت او د USAID ډیری حسابونو لپاره د 2015 مالي کال د تخصیص مقدارونه د افغانستان لپاره نا تایید شوي تخصیصات منعکس کوي او د کانګرس نهایی تصویب ته په تمه دي.
[a] په ډیری ادارو کې DOJ، د بهرنیو چارو وزارت، DOD، USAID، د مالیې وزارت، USDA، DEA، BBG او سیګار شامل دي.

سرچینه: DOD، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځوابونه، 7/17/2015، 7/13/2015، 7/8/2015، 10/22/2012، 10/14/2009، او 10/1/2009؛ د بهرنیو چارو وزارت، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځوابونه، 7/14/2015، 6/25/2015، 4/15/2015، 4/15/2014، 6/27/2013، 10/5/2012، او 6/27/2012؛ د مالیې وزارت، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/9/2015؛ OMB، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځوابونه، 4/16/2015، 7/14/2014، 7/19/2013 او 1/4/2013؛ USAID، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځوابونه، 7/16/2015، 10/15/2010، 1/15/2010، او 10/9/2009؛ DOJ، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځوابونه، 7/14/2015 او 7/7/2009؛ USDA، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/2009؛ DFAS، "د مالي کال برنامې او فرعي حسابونو جون 2015 له مخې د 1002 AR(M) تخصیص وضعیت،" 7/17/2015؛ Pub. L. Nos. 113-235، 113-76، 113-6، 112-74، 112-10، 111-212، او 111-118.

**ASFF:** د افغانستان د امنیتی ځواکونو مالی صندوق
**CERP:** د قوماندان د چټک غبرګون پروګرام
**AIF:** د افغانستان د زیربنا صندوق
**TFBSO:** په افغانستان کې د سوداګری او ثبات د عملیاتو له پاره وظیفوي ځواک
**DOD CN:** د امریکا دفاع وزارت د مخدره توکو له مینځه وړلو او د مخدره توکو سره د مبارزې فعالیتونه
**ESF:** د اقتصادي ملاتړ صندوق
**INCLE:** د نشه یيزو توکو د کنټرول او د قانون د تنفیذ نړیواله اداره
**نورې:** نورې بودیجې

## د افغانستان د بیارغوني لپاره د متحده ایالاتو لخوا ځانګړي شوې بوديجه

لکه څنګه چې په شکل 3.2 کې ښودل شوي، د 2015 کال د جون تر 30 نیټې پورې د افغانستان هوساینې او بیارغونې لپاره مجموعي تخصیصات شاوخوا 109.66 میلیارد ډالرو ته رسیدلي. دا مجموعه د بیارغونې مرستې څلور لوی کټګوریو کې تقسیمیږي: امنیت، حکومتولي او پراختیا، بشردوستانه، او څارنه او عملیات. د دغه مرستو شاوخوا 8.21 میلیارد ډالر د ترياکو سره مبارزې نوښتونه ملاتړ کوي چې دواړه امنیت (4.43 میلیارد ډالر) او حکومتولی او پراختیا (3.77 میلیارد ډالر) کې دي. د متحده ایالاتو تخصیصاتو اړوند بشپړو معلوماتو لپاره ضمیمه B وګورئ.

لکه څنګه چې په شکل 3.3 کې ښودل شوي د مدغم شوي او نور دوام لرونکي تخصیصاتو قانون 2015، د 2015 مالي کال لپاره اضافي 6.40 میلیارد ډالر چمتو کړي. امنیت د ترټولو لوی تخصیص کټګوري په حیث پاتې دی. د افغان ملي دفاع او امنیت ځواکونو (ANDSF) د روزنې، تجهیز او ملاتړ تخصیصات په ګډه د نورو ټولو بیارغوني مرستو کټګوریو څخه ډیره برخه جوړوي – د 2015 مالي کال تمویل له 64.2% ډیر.




**د متحده ایالاتو اوه لوی فنډونو ته ورکړل شوی مقدار له 2002 مالي کال راهیسې په افغانستان کې د بیارغوني ټولټال مرستې له 84.2% څخه ډیر (نږدې 92.38 میلیارد ډالر) وړاندې کوي. لدغه مقدار څخه، نږدې 88.8% (له 82.02 میلیارد ډالرو څخه ډیر) مکلف شوې، او 82.6% (له 76.32 میلیارد ډالرو څخه ډیر) مصرف شوې. د مختص شوي دې فنډونو د اټکل له مخې 4.16 میلیارد ډالرو وخت تیر شوی.**

شکل 3.2

**د 2015 کال د جون تر 30 پورې د تمویل کټګوری له مخې مجموعي تخصیصات** (میلیاردونه ډالر)




یادونه: شمیرې غیر اعشاري شوي دي. DOD د FY 2011 ASFF څخه 1 میلیارد ډالر بیا پروګرام کړي. DOD د FY 2012 ASFF څخه 1 میلیارد ډالر بیا پروګرام کړي. Pub. L. No. 113-6 د FY 2012 ASFF څخه 1 میلیارد ډالر فسخ کړي. DOD د FY 2013 ASFF څخه 178 میلیون ډالر بیا پروګرام کړي. Pub. L. No. 113-235 د FY 2014 ASFF څخه 764.38 میلیون ډالر فسخ کړي. DOD د FY 2011 AIF څخه 101 میلیون ډالر او د FY 2013 AIF څخه 179.5 میلیون ډالر ESF ته د USAID لخوا پلي شوي زیربنایي پروژو تمویل لپاره انتقال کړل. د بهرنیو چارو وزارت او د USAID ډیری حسابونو لپاره د 2015 مالي کال د تخصیص مقدارونه د افغانستان لپاره نا تایید شوي تخصیصات منعکس کوي او د کانګرس نهایی تصویب ته په تمه دي.

سرچینه: DOD، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځوابونه، 7/14/2015، 7/17/2015، 7/13/2015، 7/8/2015، 10/22/2012، 10/14/2009، او 10/1/2009؛ د بهرنیو چارو وزارت، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځوابونه، 6/25/2015، 4/15/2015، 4/15/2014، 6/27/2013، 10/5/2012، او 6/27/2012؛ د مالیې وزارت، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/9/2015؛ OMB، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځوابونه، 4/16/2015، 7/14/2014، 7/19/2013 او 1/4/2013؛ USAID، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځوابونه، 7/16/2015، 10/15/2010، 1/15/2010، او 10/9/2009؛ DOJ، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځوابونه، 7/14/2015 او 7/7/2009؛ USDA، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/2009؛ DFAS، "د مالي کال برنامې او فرعي حسابونو جون 2015 له مخې د 1002 AR(M) تخصیص وضعیت،" 7/17/2015؛ Pub. L. Nos. 113-235، 113-76، 113-6، 112-74، 112-10، 111-212، او 111-118.

متحده ایالات غواړي د خپلې پراختیایي مرستې لږترلږه 50% د افغانستان دولت د مستقیم بودجې له لارې مصرف کړي.[53] دا مرسته یا مستقیم د افغان دولت نهادونو ته چمتو کیږي یا د څو اړخیزو وجهي صندوقونو ته مرستو له لارې چې دغه نهادونه هم د افغان دولت بودجه ملاتړ کوي.[54] له 2002 راهیسې، متحده ایالاتو د مستقیم بودجې مرسته کې نږدې 9.55 میلیارد ډالر چمتو کړي. پدې کې د افغان دولت وزارتونو او نهادونو ته شاوخوا 5.49 میلیارد ډالر او درې څو اړخیزو وجهي صندوقونو ـ د نړیوال بانک د افغانستان بیارغوني وجهی صندوق (ARTF)، د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د پراختیا برنامې د قانون او نظم وجهی صندوق (LOTFA) او د اسیا پراختیایي بانک د افغانستان زیربنا وجهی صندوق (AITF) ته نږدې 4.06 میلیارد ډالر چمتو کول شامل دي. جدول 3.1 افغان دولت او څو اړخیزو وجهی صندوقونو ته د متحده ایالاتو ورکړل شوي مستقیم بودجه ښيي.

جدول 3.1

**له 2002 راهیسي افغانستان ته د متحده ایالاتو د مستقیم بودجې مرسته** (میلیونونه ډالر)

| | |
|---|---|
| **له دولت څخه دولت ته** | |
| د دفاع وزارت | $4,946 |
| د بهرنیو چارو وزارت | 92 |
| USAID | 454 |
| **څو اړخیزو وجهی صندوقونو ته** | |
| LOTFA | $1,519 |
| ARTF | 2,433 |
| AITF | 105 |

یادونه: شمیرې غیر اعشاري شوي دي. ارقام هغه مقدارونه منعکس کوي چې متحده ایالاتو د افغان دولت نهادونو او څو اړخیزو وجهي صندوقونو ته د مستقیم بودجې مرسته کې چمتو کړي. تر 2015 کال د جون 30 پورې USAID د دولت څخه دولت ته مرستې لپاره شاوخوا 1.2 میلیارد ډالر مکلف کړي دي.

سرچینه: DOD، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 6/25/2015؛ USAID، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/12/2015؛ نړیوال بانک، "ARTF: د 2015 د جون تر 21 پورې په مالي حالت د مدیر راپور (د FY 1394 د 6 مې میاشتې پای)"، مخ 5؛ UNDP، "د افغانستان لپاره د قانون او نظم وجهي صندوق (LOTFA) د پروژې پرمختګ کلنی راپور 2014،" 4/1/2015، مخ 66؛ سیګار، د UNDP د LOTFA درې میاشتنې او کلنې راپورونو تحلیل، 7/19/2015.

شکل 3.3

**د مالي کال، مقدار او کټګورۍ له مخې تخصیصات** (میلیاردونه ډالر)




یادونه: شمیرې ګردې شوي دي. DOD د FY 2011 ASFF څخه 1 میلیارد ډالر بیا پروګرام کړي. DOD د FY 2012 ASFF څخه 1 میلیارد ډالر بیا پروګرام کړي. Pub. L. No. 113-6 د FY 2012 ASFF څخه 1 میلیارد ډالر فسخ کړي. DOD د FY 2013 ASFF څخه 178 میلیون ډالر بیا پروګرام کړي. Pub. L. No. 113-235 د FY 2014 ASFF څخه 764.38 میلیون ډالر فسخ کړي. DOD د FY 2011 AIF څخه 101 میلیون ډالر او د FY 2013 AIF څخه 179.5 میلیون ډالر ESF ته د USAID لخوا پلي شوي زیربنایی پروژو تمویل لپاره انتقال کړل. د بهرنیو چارو وزارت او د USAID دیرې حسابونو لپاره د 2015 مالي کال د تخصیص مقدارونه د افغانستان لپاره نا تایید شوي تخصیصات منعکس کوي او د کانګرس نهایی تصویب ته په تمه دي.

سرچینه: DOD، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځوابونه، 6/25/2015، 7/14/2015، 7/17/2015، 7/13/2015، 7/8/2015، 10/22/2012، 10/14/2009، او 10/1/2009؛ د بهرنیو چارو وزارت، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځوابونه، 4/15/2015، 4/15/2014، 6/27/2013، 10/5/2012، او 6/27/2012؛ د مالیې وزارت، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/9/2015؛ OMB، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځوابونه، 4/16/2015، 7/14/2014، 7/19/2013 او 1/4/2013؛ USAID، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځوابونه، 7/16/2015، 10/15/2010، 1/15/2010، او 10/9/2009؛ DOJ، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځوابونه، 7/14/2015 او 7/7/2009؛ USDA، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/2009؛ DFAS، "د مالي کال برنامې او فرعي حسابونو جون 2015 له مخې د AR(M) 1002 تخصیص وضعیت،" 7/17/2015؛ Pub. L. Nos. 113-235، 113-76، 113-6، 112-74، 112-10، 111-212، او 111-118.

## د افغانستان د بیارغونې د تمویل لیکه

له 2002 راهیسې کانګرس د افغانستان هوساینې او بیارغونې لپاره نږدې 109.66 میلیارډ ډالر مختص کړي دي. لدغه مقدار څخه 92.38 میلیارډ ډالر (84.2%) د بیارغونې اوه لوی فنډونو ته مختص شوي و، لکه څنګه چې جدول 3.2 کې ښودل شوي.

جدول 3.2

**مختص شوي، مکلف شوي او مصرف شوي مجموعي مقدارونه FY 2002–2015** (میلیاردونه ډالر)

| | مختص شوي | مکلف شوي | مصرف شوي | پاتي |
|---|---|---|---|---|
| د افغانستان د امنیتي ځواکونو مالي صندوق (ASFF) | $60.67 | $55.15 | $53.48 | $5.46 |
| د قوماندان د چټک غبرګون پروګرام (CERP) | 3.68 | 2.28 | 2.27 | 0.02 |
| د افغانستان د زېربنا صندوق (AIF) | 1.04 | 0.84 | 0.43 | 0.48 |
| په افغانستان کې د سوداګرۍ او ثبات د عملیاتو له پاره وظیفوي ځواک (TFBSO) | 0.82 | 0.77 | 0.61 | 0.17 |
| د امریکا دفاع وزارت د مخدره توکو له مینځه وړلو او د مخدره توکو سره د مبارزې فعالیتونه (DOD CN) | 2.86 | 2.75 | 2.75 | 0.11 |
| د اقتصادي ملاتړ صندوق (ESF) | 18.61 | 16.12 | 13.34 | 4.53 |
| د نشه یېزو توکو د کنټرول او د قانون د تنفیذ نړیواله اداره (INCLE) | 4.69 | 4.12 | 3.45 | 1.13 |
| **تولټال 7 لوی فنډونه** | **$92.38** | **$82.02** | **$76.32** | **$11.89** |
| د بیارغونې نور فنډونه | 7.42 | | | |
| ملکي عملیات | 9.87 | | | |
| **تولټال** | **$109.66** | | | |

یادونه: شمیرې غیر اعشاري شوي دي. پاتې مقدار د شاوخوا 4.2 میلیارډ ډالرو کمولو وروسته چې د مکلف کیدو دمخه یې نیټه پای ته رسیدلې، د اوه لوی بیارغونې فنډونو تولټال مصرف منعکس کوي. د DOD CN مکلف شوي او مصرف شوي فنډونه هغه مقدارونه منعکس کوي چې د افغانستان لپاره مصرف کیدو په موخه د اردو خدماتو او دفاع ادارو ته انتقال شوي. ارقام تر دې نیټې پورې د انتقالاتو، فسخ او بیا پروګرامولو فعالیتونه ښیې.

سرچینه: سیګار، د DOD، بهرنیو چارو وزارت او USAID لخوا د قانون اړوند او درې میاشتني مکلفیت او مصرف چمتو شوي ډېټا تحلیل، 7/19/2015.

شکل 3.4

**د مصرف کیدو لپاره پاتي مجموعي مقدار**

(میلیاردونه ډالر)




د 2015 د جون تر 30 پورې د بیارغونې اوه لوی فنډونو لپاره مختص شوي مقدار شاوخوا 11.89 میلیارډ ډالر د ممکنه مصرف لپاره پاتي دي، لکه څنګه چې په شکل 3.4 کې ښودل شوي. دا فنډونه به د ANDSF روزنې، تجهیز، او پیاوړي کولو؛ د زېربنا جاري لوی پروژو بشپړولو لپاره، لکه د AIF او ESF لخوا چې تمویل شوي؛ د تریاکو تولید او قاچاق سره مبارزې لپاره؛ او د قانون پلي کولو ته وده ورکولو، د عدلیه سیکتور قوي کولو، او د بشري حقونو هڅولو لپاره وکارول شي.

د 2014 دسمبر په 16 ولسمشر اوباما د مدغم شوي او نور دوام لرونکي تخصیصاتو قانون 2015 لاسلیک کړ، چې د مالي کال پاتي برخې لپاره د متحده ایالاتو حکومت تمویلوي او د اوه لوی فنډونو څخه خلورو ته اضافي 5.27 میلیارډ ډالر چمتو کوي، لکه څنګه چې د جدول 3.3 په حاشیه کې ښودل شوي. د نوي پروژو لپاره AIF او TFBSO هیڅ اضافي تمویل ندی ترلاسه کړی. د 2015 جون تر 30 پورې د FY 2015 له 883.49 میلیون ډالرو څخه ډیر تمویل مکلف شوی او د دغه مقدار 439.29 میلیون ډالر مصرف شوي. د دغه فعالیت نږدې ټوله برخه د ASFF څخه وه.

جدول 3.3

**د 2015 مالي کال مختص شوي مقدارونه**

(میلیونونه ډالر)

| | مختص شوي |
|---|---|
| ASFF | $4,109.33 |
| CERP | 10.00 |
| ESF | 900.00 |
| INCLE | 250.00 |
| **تولټال 4 لوی فنډونه** | **$5,269.33** |

یادونه: شمیرې ګردې شوي دي. ESF او INCLE د افغانستان لپاره نا تایید شوي تخصیصاتو مقدارونه منعکس کوي او د کانګرس نهایی تصویب ته په تمه دي.
ESF او INCLE د افغانستان لپاره نا تایید شوي تخصیصاتو مقدارونه منعکس کوي او د کانګرس نهایی تصویب ته په تمه دي.

سرچینه: DOD، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/13/2015؛ د بهرنیو چارو وزارت، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/15/2015؛ .Pub. L. No. 113-235

کانګرس د FY 2013 لپاره د بیارغوني اوه لوی فنډونو ته له 8.08 میلیارد ډالرو ډیر مختص کړي. لدغه مقدار څخه نږدې 2.01 میلیارد ډالر د 2015 جون تر 30 پورې د ممکنه مصرف لپاره پاتې دي، لکه څنګه چې جدول 3.4 او شکل 3.5 کې ښودل شوي.

جدول 3.4

| د 2013 مالي مختص شوي، مکلف شوي او مصرف شوي مقدارونه (میلیونونه ډالر) | مختص شوي | مکلف شوي | مصرف شوي | پاتې |
|---|---|---|---|---|
| د افغانستان د امنیتي ځواکونو مالي صندوق (ASFF) | $4,946.20 | $4,800.74 | $4,625.42 | $175.32 |
| د قوماندان د چټک غبرګون پروګرام (CERP) | 200.00 | 42.07 | 37.33 | 4.74 |
| د افغانستان د زېربنا صندوق (AIF) | 145.50 | 130.31 | 69.09 | 61.22 |
| په افغانستان کې د سوداګرۍ او ثبات د عملیاتو له پاره وظیفوي ځواک (TFBSO) | 138.20 | 134.08 | 79.15 | 54.93 |
| د امریکا دفاع وزارت د مخدره توکو له مینځه وړلو او د مخدره توکو سره د مبارزې فعالیتونه (DOD CN) | 255.81 | 255.81 | 255.81 | 0.00 |
| د اقتصادي ملاتړ صندوق (ESF) | 1,802.65 | 1,705.37 | 399.43 | 1,305.94 |
| د نشه ییزو توکو د کنټرول او د قانون د تنفیذ نړیواله اداره (INCLE) | 593.81 | 579.87 | 176.98 | 402.89 |
| **ټولټال 7 لوی فنډونه** | **$8,082.17** | **$7,648.24** | **$5,643.20** | **$2,005.04** |

یادونه: شمیرې غیر اعشاري شوي دي. پاتې مقدار د شاوخوا 434 میلیون ډالرو کمولو وروسته چې د مکلف کیدو دمخه یې نیټه پای ته رسیدلې، د اوه لوی بیارغوني فنډونو ټولټال مصرف منعکس کوي. د DOD CN مکلف شوي او مصرف شوي فنډونه هغه مقدارونه منعکس کوي چې د افغانستان لپاره مصرف کیدو په موخه د اردو خدماتو او دفاع ادارو ته انتقال شوي. ارقام تر دې نیټې پورې د انتقالاتو، فسخ او بیا پروګرامولو فعالیتونه ښیي.

سرچینه: سیګار، د DOD، بهرنیو چارو وزارت او USAID لخوا د قانون اړوند او درې میاشتني مکلفیت او مصرف چمتو شوي ډیټا تحلیل، 7/19/2015.

شکل 3.5

**د 2013 مالي د مصرف کیدو لپاره پاتې مقدار**

(میلیاردونه ډالر)




کانګرس د FY 2014 لپاره د بیارغوني اوه لوی فنډونو ته نږدې 5.63 میلیارد ډالر مختص کړي. لدغه مقدار څخه له 2.44 میلیارد ډالرو ډیر د 2015 جون تر 30 پورې د ممکنه مصرف لپاره پاتې دي، لکه څنګه چې جدول 3.5 او شکل 3.6 کې ښودل شوي.

جدول 3.5

| د 2014 مالي مختص شوي، مکلف شوي او مصرف شوي مقدارونه (میلیونونه ډالر) | مختص شوي | مکلف شوي | مصرف شوي | پاتې |
|---|---|---|---|---|
| د افغانستان د امنیتي ځواکونو مالي صندوق (ASFF) | $3,962.34 | $3,400.88 | $2,933.76 | $1,028.58 |
| د قوماندان د چټک غبرګون پروګرام (CERP) | 30.00 | 6.65 | 6.29 | 0.36 |
| د افغانستان د زېربنا صندوق (AIF) | 199.00 | 135.45 | 3.22 | 195.78 |
| په افغانستان کې د سوداګرۍ او ثبات د عملیاتو له پاره وظیفوي ځواک (TFBSO) | 122.24 | 106.87 | 82.26 | 39.99 |
| د امریکا دفاع وزارت د مخدره توکو له مینځه وړلو او د مخدره توکو سره د مبارزې فعالیتونه (DOD CN) | 238.96 | 127.55 | 127.55 | 111.41 |
| د اقتصادي ملاتړ صندوق (ESF) | 852.00 | 3.49 | 0.18 | 851.82 |
| د نشه ییزو توکو د کنټرول او د قانون د تنفیذ نړیواله اداره (INCLE) | 225.00 | 16.60 | 11.50 | 213.51 |
| **ټولټال 7 لوی فنډونه** | **$5,629.54** | **$3,797.48** | **$3,164.75** | **$2,441.43** |

یادونه: شمیرې غیر اعشاري شوي دي. پاتې مقدار د شاوخوا 23 میلیون ډالرو کمولو وروسته چې د مکلف کیدو دمخه یې نیټه پای ته رسیدلې، د اوه لوی بیارغوني فنډونو ټولټال مصرف منعکس کوي. د DOD CN مکلف شوي او مصرف شوي فنډونه هغه مقدارونه منعکس کوي چې د افغانستان لپاره مصرف کیدو په موخه د اردو خدماتو او دفاع ادارو ته انتقال شوي. ارقام تر دې نیټې پورې د انتقالاتو، فسخ او بیا پروګرامولو فعالیتونه ښیي.

سرچینه: سیګار، د DOD، بهرنیو چارو وزارت او USAID لخوا د قانون اړوند او درې میاشتني مکلفیت او مصرف چمتو شوي ډیټا تحلیل، 7/19/2015.

شکل 3.6

**د 2014 مالي د مصرف کیدو لپاره پاتې مقدار**

(میلیاردونه ډالر)



# د افغانستان د امنیتی ځواکونو مالی صندوق

کانګرس د افغانستان امنيتي ځواکونو فنډ (ASFF) رامينځته کړ ترڅو د ANDSF تجهيزات، تحويلی، خدمات، روزنه، او تمويل برابر کړي، په بيله بيا تسهيلات او د زيربنا ترميم، بيا نوي کول، او ساختماني چارې.[55] د ANDSF جوړولو لپاره لومړنی مسؤل نهاد د امنيتي ليږد ګډه قومانده – افغانستان دی.[56] مخکې لدې چې د ASFF فنډونه مکلف شي د افغانستان د سرچينو د څار شورا (AROC) لخوا بايد يو مالي او د فعاليت پلان تصويب شي.[57]

د مدغم شوي او نور دوام لرونکي تخصيصاتو قانون 2015 د 2015 کال لپاره ASFF ته نږدې 4.11 ميليارد ډالر مختص کړي چې د ټولټال مجموعي تمويل مقدار له 60.67 ميليارد ډالرو څخه ډيروي.[58] د 2015 جون تر 30 پورې، د ASFF ټولټال تمويل له 55.15 ميليارد ډالرو څخه ډير مکلف شوي، چې له دغه څخه له 53.48 ميليارد ډالرو څخه ډير مصرف شوي دي.[59] شکل 3.7 د مالي کال له مخې ASFF لپاره چمتو شوي مقدارونه په ګوته کوي.

د امريکا دفاع وزارت راپور ورکړی چې د ربع په اوږدو کې مجموعي مکلفيتونه تر له 2.07 ميليارد ډالرو څخه ډير شوي، او مجموعي مصرفونه نږدې 1.89 ميليارد ډالر ډير شوي.[60] شکل 3.8 د ASFF لپاره چمتو شوي، مکلف شوي او مصرف شوي مقدارونو مجموعي پرتله وړاندې کوي.

شکل 3.7

**د مالي کال له مخې د ASFF مختص شوي فنډونه**

(ميليارډونه ډالر)




شکل 3.8

**د ASFF فنډونه، مجموعي پرتله**

(ميليارډونه ډالر)




يادونه: شميرې غير اعشاري شوي دي.
[a] د امريکا دفاع وزارت د 1 FY 2011 ASFF ميليارد ډالر بياپروګرام کړي دي.
[b] د امريکا دفاع وزارت د 1 FY 2012 ASFF ميليارد ډالر بيا پروګرام کړي دي؛ نور 1 ميليارد ډالر په Pub. L. No. 113-6 کې فسخ شوي دي.
[c] د امريکا دفاع وزارت د 178 FY 2013 ASFF ميليون ډالر بياپروګرام کړي دي.
[d] د 764.38 FY 2014 ASFF ميليون ډالر په Pub. L. No. 113-235 کې فسخ شوي دي.

سرچينه: DFAS، "د مالي کال برنامې او فرعي حسابونو جون 2015 له مخې د AR(M) 1002 تخصيص وضعيت،" 7/17/2015؛ DFAS، "د مالي کال برنامې او فرعي حسابونو مارچ 2015 له مخې د AR(M) 1002 تخصيص وضعيت،" 4/17/2015؛ Pub. L. Nos. 113-235، 113-76، او 113-6.




**د ASFF د فنډونو ترمينالوژي (اصطلاحات)**

د امريکا دفاع وزارت د ASFF فنډونه د مختص شوي، مکلف شوي، يا مصرف شوي په توګه راپور کړي

**تخصيصات:** د ژمنو لپاره ټولټال شته پيسې

**مکلفيتونه:** د پيسو د تاديه کولو لپاره ژمنې

**مصرفونه:** هغه پيسې چې مصرف شوي

سرچينه: DOD، د سيکار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/13/2010.

## د افغانستان د امنيتي ځواکونو بوديجوي فعاليتونه

د امريکا دفاع وزارت په ASFF کې د بودجې فعاليت درې ګروپونو ته فنډ مختص کوي:

- دفاعي ځواکونه (افغان ملي اردو، ANA)
- کورني ځواکونه (افغان ملي پوليس، ANP)
- اړوند فعاليتونه (د توقيف لومړني عمليات)

د هر بودجې فعاليت ته فنډونه بيا د فعاليت څلور فرعي ګروپونو ته مختص کيږي: زيربنا، تجهيزات او ټرانسپورټيشن، روزنه او عمليات، او پياوړتيا.[61] د AROC اداره بايد د هر خدمت اړتياو لپاره د اړتيا او اکتساب پلان تصويب کړي چې په کال کې له 50 ميليون ډالرو ډير وي او د غيرمعياري تجهيزاتو اړتيا چې له 100 ميليون ډالرو ډير وي.[62]

د 2015 د جون تر 30 پورې، د امريکا دفاع وزارت د ANDSF نوښتونو لپاره له 53.48 ميليارد ډالرو څخه ډير مصرف کړي دي. لدغه مقدار څخه نږدې 35.77 ميليون ډالر د ANA لپاره مصرف شوي، او نږدې 17.34 ميليارد ډالر د ANP لپاره مصرف شوي دي؛ پاتې نږدې 370.66 ميليون ډالر اړوند فعاليتونو کې لګول شوي دي.[63]

لکه څنګه چې په شکل 3.9 کې ښودل شوي دي، د مرستو تر ټولو لويه برخه د ANA لپاره مصرف شوي ـ له 14.29 ميليارد ډالرو څخه ډير ـ د ANA د سرتيرو پياوړتيا ملاتړ لپاره مصرف شوي. د ANP لپاره مصرف شوي مرستو څخه ـ نږدې 7.01 ميليارد ډالر هم د ANP ځواکونو د پياوړتيا لپاره مصرف شوي، لکه څنګه چې په شکل 3.10 کې ښودل شوي دي.[64]

شکل 3.9

**د فرعي فعاليت ګروپ له مخې د ANA لپاره د ASFF مصرفونه، مالي کال 2005 - د جون 30، 2015**

(ميلياردونه ډالر)




شکل 3.10

**د فرعي فعاليت ګروپ له مخې د ANP لپاره د ASFF مصرفونه، مالي کال 2005 - د جون 30، 2015**

(ميلياردونه ډالر)




يادونه: شميرې ګردې شوي دي.

سرچينه: DFAS، "د مالي کال برنامې او فرعي حسابونو جون 2015 له مخې د AR(M) 1002 تخصيص وضعيت،" 7/17/2015.

---

**د بودجې فعاليت ګروپونه:** د هر تخصيص يا مرستي حساب کټګورياني چې د تخصيص يا مرستې لخوا تمويل کيدونکي مقاصد، پروژې، يا د فعاليتونو ډول په ګوته کوي

**د فرعي فعاليت ګروپونه:** د محاسبه کولو ګروپونه چې د قوماندې مصارف کاري يا د فعاليت ساحو ته ورماتوي

سرچينه: د امريکا دفاع وزارت، جزوه *7110.1-M* د دفاع وزارت د بودجې لاربسود جزوه، په 9/28/2009 خپره شوې؛ د نوي ځانګه، د روغتيا تسهيلاتو مدير جزوه، مخ 5، په 10/2/2009 خپره شوې.

## د قوماندان د بیړني غبرګون برنامه

د قوماندان د بیړني غبرګون برنامه (CERP) په افغانستان کې د متحده ایالاتو قوماندانانو ته وړتیا ورکوي د خپل مسؤلیت په ساحو کې د هغه برنامو ملاتړ له لاري عاجل بشردوستانه هوسایني او بیارغوني ارتیاو ته ځواب ووایی چې سمدستي د ځایی خلکو سره مرسته پکي کیږي. د دې برنامې له لارې تمویل د کوچنیو پروژو لپاره دی چې د هرې پروژې لګښت د 500,000 ډالرو څخه لږ اټکل شوی وي.[65] د CERP تمویل شوې هره پروژه ممکن د 2 میلیون ډالرو څخه لوړه نشي.[66]

د مدغم شوي او نور دوام لرونکي تخصیصاتو قانون 2015 د CERP لپاره 10 میلیون ډالر مختص کړي دي، چې ټولټال مجموعي تمویل نږدې 3.68 میلیارد ډالرو ته لوړوي.[67] لدغه مقدار څخه د امریکا دفاع وزارت راپور ورکړی چې له 2.28 میلیارد ډالرو څخه ډیر مکلف شوی دی، چې بیا له دې څخه د 2015 د جون تر 30 پورې نږدې 2.27 میلیارد ډالر مصرف شوي دي.[68] شکل 3.11 د مالي کال له مخې د CERP تخصیصات ښیي، او شکل 3.12 د CERP پروژو لپاره د مختص شوي، مکلف شوي او مصرف شوي مقدارونو مجموعي پرتله ښیي.




**د CERP فنډونو ترمینالوژي**

د امریکا دفاع وزارت د CERP فنډونه د مختص شوي، مکلف شوي، یا مصرف شوي په توګه راپور کړي

**تخصیصات:** د ژمنو لپاره ټولټال شته پیسې

**مکلفیتونه:** د پیسو د تادیه کولو لپاره ژمنې

**مصرفونه:** هغه پیسې چې مصرف شوي

سرچینه: د امریکا دفاع وزارت، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/14/2010.

شکل 3.11

**د مالي کال له مخې د CERP تخصیصات**
(میلیونونه ډالر)




شکل 3.12

**د CERP مرستې، مجموعي پرتله**
(میلیونونه ډالر)




یادونه: شمیرې ګردې شوي دي. په معلوماتو کې ممکن د ادارو ترمینځ انتقالات شامل وي.

سرچینه: د امریکا دفاع وزارت، د سیګار د معلوماتو غوښتنو ته ځوابونه، 7/17/2015 او 4/17/2015؛ OMB، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 1/4/2013؛ Pub. L. Nos. 113-235، 113-76، 113-6، 112-74 او 112-10.

## د افغانستان د زېربنا صندوق

د افغانستان د زېربنا صندوق (AIF) په 2011 مالي کال کې رامينځته شوی و ترڅو د زېربنا هغه لوی، د لوړ لومړيتوب پروژو لپاره تاديه وکړي چې د متحده اياالتو ملکي – نظامي هڅې مالتړ کوي. کانګرس د AIF لخوا تمويل کيدونکي پروژو د دواړه د امريکا دفاع وزارت او د بهرنيو چارو وزارت لخوا په ګډه انتخابول او اداره کول غوښتلي دي. AIF د FY 2011 څخه تر FY 2014 پورې تخصيصات ترلاسه کړي. د امريکا دفاع وزارت د AIF لپاره د FY 2015 مرستو غوښتنه نده کړې. د AIF تمويل شوي هره پروژه اړ ده چې د پياوړتيا لپاره يې يو پلان شتون ولري او يوه شرح چې نومورې پروژه څنګه په افغانستان کې د ترهګرۍ سره مبارزې ستراتيژي مالتړ کوي.[69]

AIF په مجموعي ډول تر 1.32 ميليارد ډالرو پورې تخصيصات ترلاسه کړي دي؛ په هرصورت، لدغه مرستو څخه 280.5 ميليون ډالر د USAID د شمال ختيځ بريښنا سيستم د انتقال لينونو پروژې لپاره د اقتصادي مالتړ بوديجه (ESF) ته انتقال شوي دي، چې د AIF پاتې مجموعي مقدار 1.04 ميليارد ډالرو ته راکموي.[70] شکل 3.13 د مالي کال له مخې د AIF تخصيصات ښيي.

د 2015 د جون تر 30 پورې، د AIF ټولټال تمويل څخه نږدې 840.03 ميليون ډالر مکلف شوي دي. که څه هم AIF به اضافي تمويل ترلاسه نکړي، خو د AIF ډېرې پروژې لا هم په وده کې دي – د AIF مکلف شوي مرستې نږدې 51% او د مرستو ټول 280.5 ميليون ډالر چې ESF ته انتقال شوي د مصرف لپاره پاتې دي.[71] لکه څنګه چې په شکل 3.14 کې ښودل شوي، د AIF د مرستو يوازې 425.82 ميليون ډالر مصرف شوي دي.




**د AIF د فنډونو ترمينالوژي**

د امريکا دفاع وزارت د AIF فنډونه د مختص شوي، مکلف شوي، يا مصرف شوي په توګه راپور کړي

**تخصيصات:** د ژمنو لپاره ټولټال شته پيسې

**مکلفيتونه:** د پيسو د تاديه کولو لپاره ژمنې

**مصرفونه:** هغه پيسې چې مصرف شوي

سرچينه: د امريکا دفاع وزارت، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/13/2012.

شکل 3.13

**د مالي کال له مخې د AIF تخصيصات**

(ميليونونه ډالر)




شکل 3.14

**د AIF مرستې، مجموعي پرتله**

(ميليونونه ډالر)




يادونه: شميرې ګردې شوي دي.

[a] د FY 2011 رقم کې 101 ميليون ډالر شامل ندي چې USAID ته د AIF پروژې د پلي کولو لپاره انتقال شوي و.

[b] د FY 2013 رقم کې 179.5 ميليون ډالر شامل ندي چې USAID ته د AIF پروژې د پلي کولو لپاره انتقال شوي وو.

سرچينه: DFAS، "د مالي کال برنامې او فرعي حسابونو جون 2015 له مخې د AR(M) 1002 تخصيص وضعيت،" 7/17/2015؛ DFAS، "د مالي کال برنامې او فرعي حسابونو مارچ 2015 له مخې د AR(M) 1002 تخصيص وضعيت،" 4/17/2015؛ Pub. L. Nos. 113-76، 113-6، 112-74 او 112-10




**د TFBSO د فنډونو ترمينالوژي**

د امريکا دفاع وزارت د TFBSO فنډونه د مختص شوي، مکلف شوي، يا مصرف شوي په توګه راپور کړي

**تخصيصات:** د ژمنو لپاره ټولټال شته پيسي

**مکلفيتونه:** د پيسو د تاديه کولو لپاره ژمني

**مصرفونه:** هغه پيسي چي مصرف شوي

د امريکا دفاع وزارت، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/13/2010.

## د سوداګرۍ او ثبات عملياتو لپاره کاري ځواک

په 2010 کې، د سوداګرۍ او ثبات عملياتو لپاره کاري ځواک (TFBSO) په افغانستان کې خپل کارونه پيل کړل چې هدف يې د هيواد ټيکاو او افغانانو لپاره د اقتصادي فرصتونو په رامينځته کولو او بيکاري کمولو سره د اقتصادي تاوتريخوالي سره مبارزه وه. د TFBSO صلاحيتونه د 2014 د دسمبر په 31 پای ته ورسيدل او TFBSO خپل عمليات د 2015 د مارچ په 31 ودرول. د TFBSO پروژو کې د خصوصي پانګوونې اسانولو، صنعتي پراختيا، د بانکي او مالي سيستم پراختيا، کرنيزې تنوع او تجديد، او د انرژي پراختيا فعاليتونه شامل و.[72]

که څه هم د امريکا دفاع وزارت په 2015 مالي کال د ملي دفاع واکمنۍ قانون 2015 کې د TFBSO پروژو لپاره د اضافي تمويل واک نه درلود، TFBSO د اداري ترلو پورې اړوند لګښتونو لپاره د حفظ او مراقبت، اردو حسابونو څخه د تمويل يوڅه مقدار ترلاسه کولو ته دوام ورکړ.[73] د 2015 د جون تر 30 اوږدو پورې، له 2009 مالي کال راهيسې د TFBSO لپاره له 822.85 ميليون ډالرو څخه ډير مختص شوي دي. له دغه مقدار څخه له 765.78 ميليون ډالرو څخه ډير مکلف شوي دي او له 612.53 ميليون ډالرو څخه ډير مصرف شوي دي.[74] شکل 3.15 د مالي کال له مخې د TFBSO لپاره مختص شوي مقدارونه ښيي، او شکل 3.16 د TFBSO او د دې پروژو لپاره د مختص شوي، مکلف شوي او مصرف شوي مقدارونو مجموعي پرتله ښيي.

شکل 3.15

**د مالي کال له مخې د TFBSO تخصيصات**

(ميليونونه ډالر)




شکل 3.15

**د TFBSO مرستې، مجموعي پرتله**

(ميليونونه ډالر)




يادونه: شميرې ګردې شوي دي. د TFBSO لپاره مختص شوي 822.85 ميليون ډالرو مقدار څخه 366.05 ميليون ډالر د متحده اياالتو د پانګو د څارنې، ملکي کارمندانو، سفر، امنيت، او نورو عملياتي لګښتونو تاديې د حفظ او مراقبت، اردو حساب څخه کيږي؛ د FY 2015 ټول تمويل له دغه حساب څخه وو.

سرچينه: د امريکا دفاع وزارت، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/8/2015 او 10/4/2011؛ Pub. L. Nos. 113-76، 113-6، 112-74 او 112-10.

## د امریکا دفاع وزارت د مخدره توکو له مینځه وړلو او د مخدره توکو سره د مبارزې فعالیتونه

د امریکا دفاع وزارت د مخدره توکو له مینځه وړلو او د مخدره توکو سره د مبارزې فعالیتونو فنډ (DOD CN) د مخدره توکو تجارت او اړوند فعالیتونو سره مبارزې له لارې د افغانستان د ټیکاو د هڅو ملاتړ کوي. د امریکا دفاع وزارت د مخدره توکو قاچاقبرانو پروړاندې نظامي عملیاتو ملاتړ؛ د افغانستان د مخدره توکو له مینځه وړو عملیاتو پراخولو؛ او د افغان قانون پلي کونکو نهادونو ظرفیت جوړولو ــ په شمول د افغان سرحدي پولیسو ــ د مسلکي روزنې، تجهیز او تسهیلاتو، د تریاکو سره مبارزې مرستې لپاره DOD CN کاروي.[75]

د DOD CN فنډونه د کانګرس لخوا د ټولو نظامي خدماتو لپاره یوې واحدې بودجې لیکې ته مختص شوي دي. د امریکا دفاع وزارت فنډونه د تریاکو سره مبارزې مرکزي انتقال حساب (CTA) څخه نظامي خدماتو او د دفاع ادارو ته بیا پروګرام کوي، کوم چې د انتقال شوي فنډونو مکلفیتونه تعقیبوي.[76]

پدې ربع کې د امریکا دفاع وزارت راپور ورکړ چې د 2015 مالي کال لپاره د DOD CN مختص شوي فنډونه به عملیاتي اړتیاو کې د پام وړ کمښت له امله پدې مالي کال کې اجرا نشي. دا فنډونه به د امریکا دفاع وزارت نورو اړتیاو د تمویل لپاره بیا پروګرام شي. د بیا پروګرام کولو فعالیت د DOD CN لپاره مجموعي تخصیصات 2.86 میلیارد ډالرو ته راکم کړي دي. لدغه مقدار څخه نږدې 2.75 میلیارد ډالر د 2015 د جون تر 30 پورې د DOD CN پروژو لپاره نظامي خدماتو او د دفاع ادارو ته انتقال شوي دي.[77] شکل 3.17 د مالي کال له مخې د DOD CN تخصیصات ښیې او شکل 3.18 د DOD CN CTA څخه د مختص شوي او انتقال شوي مقدارونو مجموعي پرتله وړاندې کوي.




**د DOD CN فنډونو ترمینالوژي (اصطلاحات)**

د امریکا دفاع وزارت د DOD CN فنډونه د مختص شوي، مکلف شوي، یا مصرف شوي په توګه راپور کړي

**تخصیصات:** د ژمنو لپاره ټولټال شته پیسې

**مکلفیتونه:** د پیسو د تادیه کولو لپاره ژمنې

**مصرفونه:** هغه پیسې چې مصرف شوي

سرچینه: د امریکا دفاع وزارت، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/13/2010.

شکل 3.17

**د مالي کال له مخې د DOD CN تخصیصات**

(میلیونونه ډالر)




شکل 3.18

**د DOD CN مرستې، مجموعي پرتله**

(میلیونونه ډالر)




یادونه: شمیرې ګردې شوي دي. د تیر کال تنظیمات د مکلفیت ختمولو او/یا څو کلونو د تدارک تمویل بیا په لیکه کولو په ګوته کولو لپاره په دوره ای ډول ترسره شوي دي. د 2015 مالي کال د DOD CN د بهرني احتمالي عملیاتو لپاره فنډونه په عملیاتي اړتیاو کې د پام وړ کمښت له امله دې مالي کال کې د اجرا کیدو وړ ندي. د امریکا دفاع وزارت حسابدار د امریکا دفاع وزارت اړتیاو تمویل لپاره د فنډونو بیا پروګرام کولو لپاره د متحده ایالاتو کانګرس دمخه تصویب غوښتلو پروسه پرمخ وړي.

[a] د امریکا دفاع وزارت د مکلفیت او مصرف لپاره ټول فنډونه نظامي خدماتو او د دفاع ادارو ته بیا پروګراموي.

سرچینه: د امریکا دفاع وزارت، د سیګار د معلوماتو غوښتنو ته ځوابونه، 7/13/2015 او 4/10/2015.

## د اقتصادي ملاتړ صندوق

د اقتصادي ملاتړ صندوق (ESF) برنامې د هیوادونو لنډمهاله او اوږدمهاله سیاسي، اقتصادي او امنیتي اړتیاو پوره کولو سره مرستې په واسطه د متحده ایالاتو ګټو ته پرمختګ ورکوي. د ESF برنامې د تروریزم سره مبارزې ملاتړ کوي؛ ملي اقتصاد ته وده ورکوي؛ او د خورا روڼ او شفاف حکومت لپاره د اغیزناک، د لاسرسي وړ، خپلواک حقوقي/قانوني سیستمونو رامینځته کولو کې مرسته کوي.[78]

د 2015 کال لپاره ESF ته 900 میلیون ډالر مکلف شوي و، چې د ESF لپاره مجموعي تمویل له 18.61 میلیارد ډالرو څخه ډیروي، پشمول د AIF څخه ESF ته د USIAD شمال ختیځ بریښنا سیستم لینونو انتقال پروژو لپاره انتقال شوي مقدارونو. له دغه مقدار څخه له 16.12 ملیارد ډالرو څخه ډیر مکلف شوي دي، چې نږدې 13.34 میلیارد ډالر یې مصرف شوي دي.[79] شکل 3.19 د مالي کال له مخې د ESF تخصیصات ښیي.

USAID راپور ورکړی چې په تیر ربع کې راپور ورکړل شوي مقدار څخه د 2015 د جون تر 30 پورې مجموعي مکلفیتونه تر له 184.62 میلیون ډالرو څخه ډیر پورې کم شوي او مجموعي مصرفونه نږدې 253.15 میلیون ډالرو پورې ډیر شوي.[80] شکل 3.20 د ESF برنامو لپاره د مختص شوي، مکلف شوي او مصرف شوي مقدارونو مجموعي پرتله وړاندې کوي.




**د ESF فنډونو ترمینالوژي**

USAID د ESF فنډونه د مختص شوي، مکلف شوي، یا مصرف شوي په توګه راپور کړي

**تخصیصات:** د ژمنو لپاره ټولټال شته پیسې

**مکلفیتونه:** د پیسو د تادیه کولو لپاره ژمنې

**مصرفونه:** هغه پیسې چې مصرف شوي

سرچینه: USAID، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/15/2010.

شکل 3.19

**د مالي کال له مخې د ESF تخصیصات**
(میلیاردونه ډالر)




شکل 3.20

**د ESF مرستې، مجموعي پرتله**
(میلیاردونه ډالر)




یادونه: شمیرې غیر اعشاري شوي دي. تازه معلومات په تیر ربع کې د راپور ورکړل شوي مکلفیت رقم څخه د ټیټ پایله درلوده. د 2011 مالي کال رقم کې 101 میلیون ډالر شامل دي چې له AIF څخه ESF انتقال شوي دي. د 2013 مالي کال رقم کې 179.5 میلیون ډالر شامل دي چې له AIF څخه ESF انتقال شوي دي. د 2015 مالي کال رقم د افغانستان لپاره ناتایید شوی مقدار تخصیص منعکس کوي د کانګرس تصویب ته په تمه دی.

سرچینه: USIAD، د سیګار د معلوماتو غوښتنو ته ځواب، 7/16/2015 او 4/9/2015؛ د بهرنیو چارو وزارت، د سیګار د معلوماتو غوښتنو ته ځوابونه، 4/15/2015 او 4/15/2014.

## د نشه ييزو توکو د کنټرول او د قانون د تنفيذ نړيواله اداره

د متحده ايالاتو د نړيوال ترياکو او قانون پلي کولو چارو دفتر (INL) د قانون حاکميت لوړولو او ترياکو توليد او قاچاق سره مبارزې لپاره د نشه ييزو توکو د کنټرول او د قانون د تنفيذ نړيواله اداره (INCLE) اداره کوي. INCLE د INL ډيری برنامې ګروپونه ملاتړ کوي، په شمول د پوليس، ترياکو سره مبارزه، او د قانون حاکميت او قضا.[81]

د بهرنيو چارو وزارت راپور ورکړی چې INCLE ته د FY 2015 لپاره 250 ميليون ډالر مختص شوي و، چې د INCLE لپاره مجموعي تمويل له 4.69 ميليارد ډالرو څخه ډيروي. له دغه مقدار څخه، له 4.12 ميليار ډالرو څخه ډير مکلف شوي دي چې له 3.45 ميليارد ډالرو څخه ډير يې مصرف شوي.[82] شکل 3.21 د مالي کال له مخې د INCLE تخصيصات ښيي.

د بهرنيو چارو وزارت راپور ورکړی چې د 2015 د مارچ تر 31 پورې د مجموعي مکلفيتونو په پرتله د 2015 د جون تر 30 پورې مجموعي مکلفيتونه نږدې 41.65 ميليون ډالر کم شوي دي. مجموعي مصرفونه د 2015 د مارچ تر 31 پورې مصرفونو په پرتله د 2015 د جون تر 30 پورې نږدې 113.37 ميليون ډالر ډير شوي.[83] شکل 3.22 د INCLE لپاره د مختص شوي، مکلف شوي او مصرف شوي مقدارونو مجموعي پرتله وړاندې کوي.

شکل 3.21

**د مالي کال له مخې د INCLE تخصيصات**

(ميليارډونه ډالر)




شکل 3.22

**د INCLE مرستې، مجموعي پرتله**

(ميليارډونه ډالر)




يادونه: شميرې ګردې شوي دي. معلوماتو کې ممکن د ادارو ترمينځ انتقالات شامل وي. تازه معلوماتو په تير ربع کې د راپور ورکړل شوي مکلف مقدار په پرتله د ټيټ پايله درلوده. د 2015 مالي کال رقم د افغانستان لپاره ناتاييد شوی مقدار تخصيص منعکس کوي او د کانګرس تصويب ته په تمه دی.

سرچينه: د بهرنيو چارو وزارت، د سيګار د معلوماتو غوښتنو ته ځوابونه، 7/14/2015 او 4/15/2015.




**د INL فنډونو ترمينالوژي (اصطلاحات)**

INL د INCLE او د INL نور فنډونه د مختص شوي، مکلف شوي يا مصرف شوي په توګه راپور کړي

**تخصيصات:** د ژمنو لپاره ټولټال شته پيسې

**مکلفيتونه:** د پيسو د تاديه کولو لپاره ژمنې

**مصرفونه:** هغه پيسې چې مصرف شوي

سرچينه: د بهرنيو چارو وزارت، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/9/2010.

## د افغانستان لپاره د بيارغوني نړيوال تمويل

د متحده ايالاتو له خوا چمتو شوې مرستې سربيره نړيواله ټولنه د افغانستان هوساينې او بيارغوني هڅو ملاتړ د تمويل لپاره د پام وړ مقدار چمتو کوي. لکه څنګه چې د سيګار تير درې مياشتني راپورونو کې په ګوته شوي دي، د نړيوال تمويل ډيرى چمتو شوې برخه د وجهى صندوقونو له لارې اداره شوې. د وجهى صندوقونو له لارې چمتو شوې مرستې لومړى راټول او بيا د بيارغوني فعاليتونو لپاره توزيع کيږي. دوه مهم وجهي صندوقونه د افغانستان بيارغوني وجهى صندوق (ARTF) او د افغانستان لپاره د قانون او نظم وجهى صندوق (LOTFA) دی.[84]

## د افغانستان بيارغوني وجهى صندوق ته مرستې

د افغانستان عملياتي او پراختيايي بودجو ترټولو لوى نړيوال سهم د ARTF له لارې راځي. له 2002 څخه تر د 2015 د جون تر 21 پورې نړيوال بانک راپور ورکړى چې 34 مرستندويان نږدې د 9.03 ميليارد ډالرو ژمنه کړې چې لدغه څخه نږدې 8.16 ميليارد ډالر تاديه شوي دي.[85] نړيوال بانک په وينا، مرستندويان د افغان مالي کال 1394 لپاره چې د 2014 دسمبر 22 څخه د 2015 دسمبر 21 پورې دی، ARTF ته له 1.09 ميليارد ډالرو څخه ډير ژمنه کړې.[86] شکل 3.23 د 1394 مالي کال لپاره ARTF ته 11 لوى ډونران ښيي.

شکل 3.23

**د 2015 د جون تر 21 پورې د مرستندويان له خوا د 1394 مالي کال لپاره د ARTF مرستې** (ميليارډونه ډالر)




يادونه: شميرې ګردې شوې دي. 1394 مالي کال = 12/21/2015–12/22/2014.

سرچينه: نړيوال بانک، "ARTF: د 2015 د جون تر 21 پورې په مالي حالت د مدير راپور (د FY 1394 د 6 مې مياشتې پای)"، مخ 1.

د 2015 د جون تر 21 پورې متحده ایالاتو له 2002 راهیسي د 2.78 میلیارد ډالرو څخه د ډیرو ژمنه کړې او له 2.43 میلیارد ډالرو څخه ډیر یې تادیه کړې دي.[87] متحده ایالات او انګلستان ARTF ته ترټولو دوه لوی مرسته کونکي دي، چې په ګډه د ټولټال مرستو نږدې 47% ورکوي، لکه څنګه چې په شکل 3.24 کې ښودل شوي دي.

ARTF ته مرسته کول د تمویل په دوه چینلونو باندې تقسیم شوي ــ د بیا پیښیدونکي لګښت (RC) کړکۍ او د پانګوونې کړکۍ.[88] د نړیوال بانک په وینا، د 2015 د جون تر 21 پورې د ARTF فنډونو له 3.48 میلیارد ډالرو څخه ډیر افغان دولت ته د RC کړکۍ له لارې مصرف شوي ترڅو د بیا پیښیدونکي لګښتونو سره مرسته وکړي لکه د ملکي کارمندانو معاشونه.[89] د RC کړکۍ د افغان دولت عملیاتي لګښتونه ملاتړ کوي ځکه چې د دولت داخلي عواید د بیاپیښیدونکي لګښتونو ملاتړ لپاره کافي ندي. د دې ډاډ ترلاسه کولو لپاره چې د RC کړکۍ کافي تمویل لاسته راوړي، نو ډونران ARTF ته ممکن د خوښې وړ پروژو لپاره خپلې کلنۍ مرستې له نیمایی څخه ډیر "غوراوي" (تخصیص) ونکړي.[90]

د پانګوونې کړکۍ د پراختیا برنامو لګښتونه ملاتړ کوي. د نړیوال بانک په وینا، د 2015 د جون تر 21 پورې، د پانګوونې کړکۍ له لارې تمویل شوي پروژو لپاره نږدې 3.89 میلیارد ډالر ژمن شوي دي، چې له دې څخه له 3.00 میلیارد ډالرو څخه ډیر مصرف شوي دي. نړیوال بانک 20 فعالې پروژې د له 2.56 میلیارد ډالرو څخه ډیر ګډ ارزښت سره راپور کړې، چې له دې څخه نږدې 1.68 میلیارد ډالر مصرف شوي دي.[91]

## د افغانستان لپاره د قانون او نظم وجهی صندوق مرستې

د ملګرو ملتونو د پراختیا برنامه (UNDP) د ANP معاشاتو او د کورنیو چارو وزارت ظرفیت جوړونې تادیاتو لپاره LOTFA اداره کوي.[92] د LOTFA خورا اخرني موجود معلوماتو له مخې، له 2002 راهیسي، مرستندویان LOTFA ته د 3.86 میلیارد ډالرو څخه د ډیرو ژمنه کړې ده، چې له دغه څخه د 2014 دسمبر 31 پورې له 3.79 میلیارد ډالرو څخه ډیر تادیه شوي دي.[93] متحده ایالاتو د نوموړي فنډ د رامینځته کیدو راپدیخوا له 1.52 میلیارد ډالرو څخه ډیر ټول تادیه کړي دي مګر 3.89 میلیون ډالر ژمن پاتې دي.[94] شکل 3.25 د 2002 راهیسي LOTFA ته خلور لوی ډونران ښیي

د LOTFA د ملاتړ اومه مرحله د 2015 جنورې په 1 پیل شوه او د 2015 د جون په 30 نیټه پای ته ورسیده. نوموړې مرحلې ټولټال 293.07 میلیون ډالر اټکل شوې بودجه درلوده. د 2015 د اپریل تر 30 پورې ــ د خورا وروستي دوه میاشتني پرمختګ شته راپور له مخې ـ له 149.87 میلیون ډالرو څخه ډیر د ANP او د مرکزي زندانونو ریاست د کارمندانو معاشاتو پوښلو لپاره مصرف شوي دي. د معاشاتو او اړوند لګښتونو سربیره، 1.29 میلیون ډالر د ظرفیت جوړولو مختلف نوښتونو باندې مصرف شوي، او 847,590 ډالر د UNDP د برنامې مدیریت واحد کې مصرف شوي دي.[95]

د LOTFA اتمه مرحله د 2015 جولای په 1 پیل شوه. نوموړې مرحله د اټکل له مخې د 883.56 میلیون ډالرو بودجه لري او د 2016 تر دسمبر 31 پورې پرمخ تلو ته پلان شوې.[96]

شکل 3.24

**د مرستندویان لخوا د ARTF تادیه شوي مرستې، 2002 – د 2015 د جون 21**

**ټولټال تادیه شوي:** 8.16 میلیارد ډالر




یادونه: شمیرې ګردې شوي دي. په "نورو" کې 28 ډونران شامل دي

سرچینه: نړیوال بانک، " ARTF: د 2015 د جون تر 21 پورې په مالي حالت د مدیر راپور (د FY 1394 د 6 مې میاشتې پای)"، مخ 5.

شکل 3.25

**له 2002 راهیسي LOTFA ته د مرستندویان مرستې، د 2014 دسمبر تر 31 پورې**

**ټولټال تادیه شوي:** 3.8 میلیارد ډالر




یادونه: شمیرې ګردې شوي دي. EU = اروپایی اتحادیه. په "نورو" کې 18 ډونران شامل دي.

سرچینه: UNDP، "د افغانستان لپاره د قانون او نظم وجهی صندوق (LOTFA) د پروژې پرمختګ کلنی راپور 2014،" 4/1/2015، مخونه 65–66؛ د LOTFA کلني راپورونه، 7/19/2015.

# د امنیت محتویات


مهم مسایل او پیښنې 93

په افغانستان کې د متحده ایالاتو ځواکونه 97

پدې ربع کې د ANDSF ځواک وده دوام لري 98

د دفاع او کورنیو چارو وزارتونو لپاره د RS تیټ توقوعات 103

افغان سیمه ایز پولیس 105

د امنیت ساتنې ځواکونه 107

افغان ملي اردو 108

افغان ملي پولیس 114

په ANDSF کې د ښځو وضعیت 119

د ANDSF طبي/روغتیا پاملرنې ته وده ورکول 120

د ANDSF د محرم معلوماتو وضعیت 121

د نا چاودل شوي توکو لرې کول 121

د تریاکو سره مبارزه 122

# امنیت

د 2015 جون تر 30 پورې د متحده ایالاتو کانګرس د افغانستان ملي دفاع او امنیت ځواکونو (ANDSF) ملاتړ لپاره له 65 میلیارد ډالرو ډیر مختص کړي دي. کانګرس د افغانستان د امنیتي ځواکونو صندوق (ASFF) د ANDSF جوړولو، تجهیز، روزني او تیکاو لپاره رامینځته کړ، چې پکې د دفاع وزارت (MOD) او د کورنیو چارو وزارت (MOI) اړوند ټول ځواکونه شامل دي.

د متحده ایالاتو ډیری چمتو شوي فنډونه (مالي منابع) د ASFF له لارې ترتیب شوي او یا د امنیتي لیږد ګډه قومانده – افغانستان (CSTC-A) له لارې یا د دفاعي امنیت د مرستي اداري له لارې مکلف شوي دي. د ASFF لپاره مختص شوي 60.7 میلیارد ډالرو څخه د 2015 جون تر 30 پورې شاوخوا 55.2 میلیارد ډالر مکلف شوي او 53.5 میلیارد ډالر مصرف شوي دي.[97]

دا برخه د افغان ملي اردو (ANA)، افغان ملي پولیسو (ANP)، د دفاع وزارت او د کورنیو چارو وزارت د ارزونو په اړه غږیږي؛ د افغان امنیتي ځواکونو جوړولو، تجهیز، روزني او تیکاو لپاره د متحده ایالاتو د فنډونو د استعمال څرنګوالي په اړه عمومي لید وړاندي کوي؛ او په افغانستان کې د غیرقانوني تریاکو کښت او سوداګرۍ سره د مبارزې هڅو په اړه تازه معلومات وړاندې کوي.

## مهم مسایل او پیښنې

## د امنیتي پیښو په ډیریدو سره ملکري ملتونه د ملکي مرګ ژوبلې د ډیریدو راپور ورکوي

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه ماموریت (UNAMA) په وینا، په افغانستان کې جګړې پورې تړلی تاوتریخوالی ډیر شوی ځکه چې ANDSF غواړي د ترهګرو فعالیتونه محاصره کړي چې ډیروالی یې د ملکي مرګ ژوبلې د لوړیدو لامل شوی.[98] د مثال په توګه، ملګري ملتونه د 2015 اپریل په 24 د طالبانو د پسرلي عملیاتو د پیل یوه اونۍ وروسته په وسله والو نښتو کې 45% ډیروالی راپور کوي، او د 2014 په ورته دوره کې د 24% ملکي مرګ ژوبلې ډیروالی.[99] د ملګرو ملتونو په وینا، د 2013 کال د 8,615 په پرتله په 2014 کې له 10,000 څخه ډیر ملکیان وژل شوي دي، او د یوناما استازي په افغانستان کې پدې کال کې د ملکي مرګ ژوبلې د ډیریدو وړاندوینه کړې.[100]

ترهګرو حتی د روژې مبارکي میاشت کې هم د ملکي وګړو په نښه کولو ته دوام ورکړ. د 2015 جولای په 12 نیټه په خوست کې یوه کلي ته نږدې افغان امنیتي پوسته باندې یو موټر بم وچاودل شو چې

---

**د افغانستان ملي دفاع او امنیت ځواکونه (ANDSF):** د دفاع وزارت او د کورنیو چارو وزارت ځواکونه. د دفاع وزارت ځواکونو کې افغان ملي اردو (ANA) – پشمول د افغان هوایی ځواکونو (AAF)، د افغان ملي اردو د ځانګړي عملیاتو قوماندانې (ANASOC) او د ځانګړي ماموریت قطعه (SMW) – او د نوي تسهیلاتو د ساتني ځواکونه (FPF) شامل دي. د کورنیو چارو وزارت کې افغان ملي پولیس (ANP) – په شمول د افغان یونیفارم پولیس (AUP)، افغان سرحدي پولیس (ABP)، افغان د عامه نظم پولیس (ANCOP)، د افغانستان د تریاکو نشه یي توکو سره د مبارزې پولیس (CNPA)، او د پولیسو د خاص قطعې عمومي قوماندانې (GCPSU) – افغان سیمه ایز پولیس (ALP)، او د افغان عامه محافظت ځواک (APPF) شامل دي. د CNPA، ALP، FPF او APPF پرسونل د ANDSF مجاز ځواک 352,000 شمیر کې ندي حساب شوي.

سرچینه: OSD-P، د سیګار سره د بریښنالیک مکاتبه، 4/13/2015.

شکل 3.26

په هره ورځ کې د راپور شوي امنیتي پیښو اوسط شمیره




د مودې په جریان کې ټولټال پیښې

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 5,033 | 5,075 | 5,199 | 5,456 | 5,864 | 4,649 | 5,284 | 5,922 | 4,267 | 3,783 |

یادونه: ټولې راپور شوې پیښې ندي تایید شوي.

سرچینه: ملګري ملتونه، د عمومي منشي راپور، په افغانستان کې اوضاع او د نړیوالې سولې او امنیت لپاره یې مفهوم، 6/10/2015، مخ 4؛ 2/27/2015، مخ 4؛ 12/9/2014، مخ 5؛ 9/9/2014، مخ 6؛ 6/18/2014، مخ 5؛ 3/7/2014، مخ 5؛ 12/6/2013، مخ 6؛ 9/6/2013، مخ 6؛ 6/13/2013، مخ 5؛ او 3/5/2013، مخ.

په پایله کې یې 27 ملکیان مړه او لږترلږه 10 نور ټپیان شول.[101] د 2015 جولای په 13 نیټه په بغلان کې په یوه جومات کې د شپې خواړو او د دولت لخوا د تیلو او وریژو توزیع لپاره په راټولو شویو خلکو باندې بم وچاودل شو چې پکې له 40 څخه ډیر ملکي وګړي ټپیان شول.[102] په افغانستان کې د ملګرو ملتونو استازي د ملکي وګړو په نښه کونکو بریدونو د سمدستي درولو غوښتنه وکړه او وې ویل "د دې جنګي جرم مجرمین باید کرم وکنل شي."[103]

که څه هم امنیتي پیښې د تیرې ربعې په پرتله لږې راپور شوې، لکه څنګه چې په شکل 3.26 کې ښودل شوي، په خورا وروستي راپور ورکولو دوره کې لږې ورځې وې، نو ځکه په هره ورځ کې د پیښو اوسط په 2014 یا 2013 ورته دورو کې شوي پیښو څخه لوړ و.[104] ملګرو ملتونو راپور ورکړی چې ترټولو ډیرې امنیتي پیښې په سهیلي، سهیل ختیځ، او ختیځ سیمو کې دوام لري. مګر حتی شمالي او شمال ختیځ سیمو کې هم چې یوځه خوندي سیمې دي د 2014 کال ورته دورې په پرتله امنیتي پیښې 12% ډیرې شوې دي.[105] د یوناما یوه استازي راپور ورکړ چې کندز ولایت د 250 ملکي وګړو مرګ ژوبله تجربه کړه چې په ټولو شمال ختیځ سیمې ولایتونو کې ترټولو لوړه شمیره ده.[106]

**امنیتي پیښې:** راپور شوې پیښې چې پکې وسله والې نښتې، د سړک غاړې ماینونه، هدفي وژنې، انسان تښتول، ځان مرګي بریدونه، جرمي فعالیتونه، او ګواښونه شامل دي. حتمي نده چې راپور ورکړل شوې پیښې واقعیې پیښې وي.

سرچینه: سیګار، د ملګرو ملتونو د راپور تحلیل، 12/9/2014.

ملګرو ملتونو د 2015 فبرورې 15 څخه د 2015 اپريل تر 30 نېټه پورې 5,033 امنيتي پېښې ثبت کړې دي. په محاسبه کې 160 ترورونه او 40 د ترور کولو هڅې او په 2014 کې د ورته دورې څخه د انسان تښتولو 21.3% ډېروالی شامل دي. وسله والې نښتې (54%) او د IED پېښې (28%) د ټولو امنيتي پېښو 82% جوړوي.[107] که څه هم طالبانو اعلان وکړ چې د دوی اصلي هدف به "بهرني نيواک ګر" په بيله بيا د دولت افسران او افغان امنيتي ځواکونه وي، ملګرې ملتونو راپور ورکړی چې د بريدونو له 1% لږ يې د ايتلافي مرکزونو (بيسونو) پرورانديې ول. په هرصورت، د 2015 جون په 9 په بګرام هوای ډګر د راکټ بريد يوه پېښه کې د امريکا دفاع وزارت (DOD) يو ملکي ووژل شو.[108] د طالبانو اکثريت جګړه د ANDSF او د افغان دولت چارواکو او د تسهيلاتو پرورانديې وه.[109]

د NGOs لپاره د افغان مشورتي ګروپ يوه وياند راپور ورکړ چې پدې کال کې د بشردوستانه مرستې 26 کارمندان وژل شوي او نور 17 ټپيان او 40 تښتول شوي دي.[110] يوه بريد د چيک مرستندويه ډله په بلخ ولايت کې هدف لاندې راوسته او د نوموړې ډلې نهه کارمندان يې ووژل.[111]

> "د ډېرې اړتيا پدې دوره کې، دا په ځانګړې توګه ځورونکې خبره ده چې د بشري مرستې کارمندان د مخ په ډېرېدونکې توګه د هدف لاندې راځي."
>
> *ــــمارک باوډن، د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د عمومي منشي د معاون ځانګړی استازی*

سرچينه: يوناما، "مطبوعاتي اعلاميه: د ملګرو ملتونو چارواکی وايي، افغان جګړه د زرهاو مرګ ژوبلې لامل ګرځي،" 6/7/2015 .

## د ناټو د دفاع وزيرانو غونډه

د ناټو د دفاع وزيرانو په تير جون کې په بروکسل کې يې يوه ترلې غونډه درلوده چې د هوډمن ملاتړ ماموريت (RS) پکې په ګوته کړي او مشخص کړي کې چې څنګه د ظرفيت جوړونې او نهادي پراختيا له لارې د ANDSF غوره ملاتړ وکړي.[112] په ګډون کونکو کې د امريکا دفاع وزير اشټون کارټر، د RS قوماندان جنرال جان کمپبيل، او د افغانستان د دفاع وزارت سرپرست وزير محمد معصوم ستانکزی شامل و.[113] د ناټو عمومي منشي جينس ستولټينبرګ وويل وزيرانو افغانستان ته د ناټو ژمنې له سره تاييد کړې.[114]



**د ناټو د دفاع وزيرانو کنفرانس** د سرپرست وزير محمد معصوم ستانکزي سره چې د ناټو عمومي منشي جينس ستولټينبرګ او د RS قوماندان جنرال جان کمپبيل سره ويني، د 2015 جون 25. (د ناټو عکس)

## د طالبانو د پسرلي عملیات (بریدونه)

د اپریل په 24 طالبانو په دسمبر 2014 کې د ناټو محاربوي ماموریت پای ته رسیدو راهیسې خپل لومړي د پسرلي بریدونه پیل کړل.[115] افغان امنیتي ځواکونه خورا ډیر خورا شوي ځکه چې په ټول هیواد کې امنیتي ګواښونو ته غبرګون ښیي.[116] د طالبانو د پسرلي عملیاتو پیل کیدو راهیسې ANDSF د خورا لوړې مرګ ژوبلې سره مخ شوی دی؛ د مئی 2015 مرګ ژوبله د تیرې میاشتې څخه 33% لوړه وه.[117]

په جون کې دفاع وزارت راپور ورکړ چې په ټول افغانستان کې 40 څخه تر 50 ولسوالۍ د امنیتي ګواښونو سره مخ دي، یادونه یې کړې چې ډیری ترهګر هلته دي چیرې چې د ANDSF شتون محدود دی. دفاع وزارت زیاته کړه چې دوی د 34 ولایتونو څخه په 14 ولایتونو کې د ترهګرۍ پروړاندې روان عملیات درلودل.[118] ځایي رسنیو راپور ورکړی چې د 2015 په لومړیو شپږ میاشتو کې ترهګرو په لوی شمیر ګروپونو سره بریدونه ترسره کړل چې په پایله کې یې ډیری ولسوالۍ ونیولې.[119] په خپلو پسرلني بریدونو کې طالبان په پکتیا، بدخشان، کندهار او هلمند کې په امنیتي پوستو کې افغان پولیسو او سرتیرو باندې بریدونه کوي.[120]

ترهګرو له ځانه په کابل کې د لوی بریدونو په لاره اچولو وړتیا ښودله مګر ANDSF دغه پیښو ته غبرګون ښودلو وړتیا درلودله. د جون په 22 طالبانو د افغانستان په پارلمان په هغه ورځ برید وکړ چې وکیلانو د دفاع وزارت نوماند ته رایه ورکوله.[121] شپږ وسله والو د پارلمان په دروازه کې د موټر بم ځان مرګي وروسته د پارلمان ودانۍ ته د ننوتلو هڅه وکړه. افغان امنیتي ځواکونو برید دفع کړ او په نهایت کې یې بریدګر ووژل.[122] د پارلمان هیڅ کوم غړی ټپي نه شو مګر برید کونکو یوه میرمن او یو 10 کلن ماشوم ووژل شو نور 31 ملکیان ټپیان شول.[123] په مئی کې طالبانو د افغانستان عدلیه وزارت د موټرو تم ځای کې یو موټر بم وچاو کله چې ملکي کارمندان د رخصتۍ وروسته خپلو کورونو په لور ستنیدل.[124] دغه برید کې پنځه وګړي مړه او لږ ترلږه 42 ټپیان شول.[125]

## د عراق او ختیځ اسلامي دولت په افغانستان کې

پدې ربع کې د امریکا دفاع وزارت او د هوډمن ماموریت چارواکو خبرداری ورکړ چې د عراق او مینځني ختیځ اسلامي دولت (ISIL) په افغانستان کې خپور شوی، که څه هم دوی ویل چې نوموړې ډله "نوې پیدا شوې او په ورته ډول کوچنۍ ده."[126] خبرتیا وروسته له هغه راڅرګنده شوه چې د ناټو یوه بې پیلوټه الوتکې برید په هلمند کې د طالبانو پخوانی غړی وواژه او د ګوانتامو زندان څخه یې عبدالروف آزاد کړ څوک چې وروسته بیا د ISIL یو قوماندان او په افغانستان کې د دغه ډلې استخدام کونکی شو.[127] د افغانستان ملي امنیت ریاست (NDS) هم د بې پیلوټه الوتکې برید اعلان کړ چې د 2015 جولای په 7 نیټه پکې د ISIL یو قوماندان مولوي شاهدالله شاهد سره د خپلو دوه معاونینو او پنځه نورو کسانو ووژل شو. شاهد چې د پاکستاني طالبانو ویاند و او ISIL ته بیعت کولو وروسته له دغه ډلې وویستل شو په یوه اونۍ کې په افغانستان کې د ISIL دوهم لوی قوماندان او په تیرو څو میاشتو کې دریم کس و چې ووژل شو.[128] څلور ورځې وروسته، NDS د یوه بې پیلوټه برید خبر ورکړ چې پکې حافظ سعید د دوی په وینا په افغانستان او پاکستان کې د ISIL قوماندان و، ووژل شو.[129] سعید هم یو پخوانی پاکستاني طالب و چې د ISIL سره یې بیعت وکړ، او په ننګرهار کې ووژل شو.[130]

د 2015 مارچ بریفینګ کې د یوناما چارواکې د هغه راپورونو په اړه اندیښمن و چې ISIL په افغانستان کې خپل شتون رامینځته کړی دی، د دې "احتمال له امله چې دا بدیل بیرغ کیدی شي یا په بله وینا د ترهګرۍ منزوي ډلې ورته راټولیدی شي."[131]

طالبانو په افغانستان کې د ISIL مخ پر ودې ډیروالی د 2015 مئی کې په قطر کې د پګواش کنفرانس پرمهال چې د سولې خبرو ته لاره هواروله لپاره د طالبانو او افغان دولت ترمینځ غیر رسمي غونډه وه، په ګوته کړ. طالبان چاروکو ISIL د "افغانانو د دودونو او رسمونو سره مخالف بهرنیان" وبلل.[132] سربیره پردې، په جون کې طالبانو د ISIL مشر ابوبکر البغدادي ته یو خلاص لیک خپور کړ چې پکې یې خبرداری ورکړی و د ISIL مداخله به په افغانستان کې اختلافات راپورته کړي.[133]

د امریکا دفاع وزارت چاروکې په افغانستان کې د ISIL (داعش) شتون اساسا د طالبانو ناخوښ غړي ښیي چې ځانته یې دغه نوم غوره کړی دی.[134] دا په افغانستان کې د ماتو ترهګریو خورا لوی ستونزې په ګوته کوي او د جلا اهدافو سره د بهرني جنګیالیو نفوس.[136]

ملګرو ملتونو راپور ورکړی چې ISIL ته د ډیرې بریدونو نسبت ورکولو سربیره، پشمول د اپریل 18 نیټې ځان مرګی برید چې په جلا اباد کې ترسره شوی و، "د ISIL هرډول عملیاتي شتون په اړه وضاحت نشته."[137]

## د دفاع وزارت لاهم وزیر نلري

د ربع په پای کې د دفاع وزارت بې له تایید شوي وزیر پاتې دی. د 2015 جولای په 4 د افغانستان پارلمان د دفاع وزارت لپاره د ولسمشر غني دریم نوماند معصوم ستانکزی چې د مئی میاشتې راهیسې د دغه وزارت سرپرست وزیر په حیث دنده اجرا کوله رد کړ.[138] د دفاع وزارت لپاره دوهم نوماند د پارلمان څخه د باور رایو اخیستو دمخه د 2015 اپریل په 8 استعفا ورکړه. غني د اپریل په 6 جنرال محمد افضل لودین چې د امنیت ملي شورا نظامي مشاور دی، د دفاع وزارت لپاره نوملولی و.[139] په هرصورت، جنرال لودین وویل هغه نه غواړي چې نوماندي یې د هیواد د تفرقې لامل شي.[140] لدې مخکې د افغانستان پارلمان د دفاع وزارت سرپرست وزیر جنرال شیر محمد کریمي ته په جنوري کې د دفاع وزارت لپاره د باور رایه ورنکړه. د دفاع وزارت د 2014 سپتمبر 29 راپدیخوا، له کله نه چې غني د ولسمشر په حیث لوړه کړې، بې له کوم تایید شوي وزیر څخه پاتې دی.[141]

## په افغانستان کې د متحده ایالاتو ځواکونه

د متحده ایالاتو ځواکونه – افغانستان (USFOR-A) په وینا، د 2015 مئی تر 31 پورې د متحده ایالاتو شاوخوا 9,000 ځواکونو په افغانستان کې دنده ترسره کوله، د 2015 فبرورۍ 28 راهیسې یوه ثابت شمیره. د ایتلاف نور 7,000 پرسونل هم دلته په دندو بوخت ول.[142] د متحده ایالاتو ځواکونو شاوخوا 67% له اردو، 28% له هوایي ځواک، 3% له نوی او 1% له مرین سرتیرو څخه دي.[143] په افغانستان کې

په دندو بوخت د متحده ایالاتو ځواکونو څخه شاوخوا 4.5% یې د مهم فعالیت ریاست ته گومارل شوي چې افغان ځواکونو سره د اطلاعاتو (استخبارات) او ارتباطاتو په څېر فعالیتونو کې مرسته کوي.[144]

په 2001 کې د نظامي عملیاتو له پیل کیدو راهیسې تر د 2015 جولای 7 پورې د متحده ایالاتو د اردو ټولټال 2,217 پرسونل وژل شوي چې لدغه شمیرې 82.7% یې په جگړه کې وژل شوي – او 20,055 یې ټپیان شوي دي.[145] د قاطع ملاتړ ماموریت له پیل کیدو راهیسې د متحده ایالاتو د اردو دوه پرسونل او د امریکا د دفاع وزارت یو ملکي کارمند وژل شوی او 25 ټپیان شوي دي.[146] پدې راپور کې د متحده ایالاتو د قراردادیانو او نورو اتباع مرگ ژوبله شامل نده.

د 2014 کال په جریان کې د متحده ایالاتو ځواکونو پروړاندې اوه داخلي بریدونو د خلور پرسونل د وژل کیدو او 15 پرسونل د ټپي کیدو پایله درلوده.[147] د متحده ایالاتو ځواکونو پروړاندې دری داخلي بریدونو کې یو سرتیری وژل شوی او 11 نور ټپیان شوي دي. سربیره پردې د 2015 په جریان کې د یوه داخلي برید له امله د متحده ایالاتو دری ملکي قراردیان مړه او یو بل ټپي شول.[148]

## پدې ربع کې د ANDSF ځواک وده دوام لري

د USFOR-A په وینا، پدې ربع کې د ANDSF گومارل شوي ځواک شمیر (پشمول د ملکیانو) 331,944 و. لکه څنگه چې په جدول 3.6 کې ښودل سوي، دا د ملکي کارمندانو په حسابولو سره د ANDSF ځواک ټاکل شوي 360,004 شمیرې 92.2% ده. (عموما په گوته شوي ځواک 352,000 شمیره کې ملکیان نه محاسبه کیږي). د نوي گومارل شوي ځواک شمیر د 2015 فبروري راهیسې 3,139 ډیروالی او د 2014 نومبر راهیسې 6,302 ډیروالی په گوته کوي.[149] لکه څنگه چې په جدول 3.7 کې ښودل شوي، پدې ربع کې د ANA شمیر تر 2,642 ډیر شوی پداسې حال کې چې د ANP شمیره تر 497 ډیره شوې ده.[150] په تیره ربع کې سیگار دې خبرې ته یوه ژوره کتنه وکړه چې ولې د ANDSF لپاره د ځواک درست او معتبر شمیرې درلودل مهم دي. د دې تحلیل لوستلو لپاره د *متحده ایالاتو کانگرس* ته د سیگار د 2015 *اپریل د درې میاشتنې راپور* برخه 1، مخ 3 وگورئ.

پدې ربع کې د قل اردو په کچه او ټیټو کچو د ANDSF د ځواک شمیره محرم پاتې ده. نو د همدې لپاره به سیگار پدې اړه د دې راپور یوې محرم ضمیمه کې راپور ورکړي.

جدول 3.6

**د ANDSF گومارل شوي ځواک شمیره، د 2015 مئ**

| د ANDSF برخې | تصویب شوي پای – د هدف لاندې نیول شوي د پای شمیره | د هدف نیټه | د 2015 مئ پورې اوسني گومارل شوي | د هدف له مخې جواز % (سلنه) | د اوسني گومارل شوي او د تصویب شوي پای – د هدف لاندې نیول شوي د پای شمیرې ترمنځ توپیر | توپیر (%) |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ANA په شمول د AAF | 195,000 | دسمبر 2014 | 169,726 | %87.0 | (25,274) | (%13.0) |
| ANA او د AAF ملکي پرسونل | 8,004 | – | 7,036 | %87.9 | (968) | (%12.1) |
| **ANA + AAF ټولټال** | **203,004** | | **176,762** | **%87.1** | **(26,242)** | **(%12.9)** |
| افغان ملي پولیس | 157,000 | فبروري 2013 | 155,182 | %98.8 | (1,818) | (%1.2) |
| **ANDSF ټولټال د ملکي پرسونل سره** | **360,004** | | **331,944** | **%92.2** | **(28,060)** | **(%7.8)** |

یادونه: AAF = افغان هوایی ځواک.

سرچینه: د امریکا دفاع وزارت، په افغانستان کې د امنیت او ثبات په لوري پرمختگ، 12/2012، مخ 56؛ USFOR-A، د سیگار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 6/29/2015؛ USFOR-A، د سیگار ارزونې ته ځواب، 7/12/2015.

جدول 3.7

**د ANDSF ګومارل شوي ځواک شمېر، فبروري 2014 – مئ 2015**

| | 2014/2 | 2014/5 | 2014/8 | 2014/11 | 2015/2 | 2015/5 |
|---|---|---|---|---|---|---|
| اردوی ملی په شمول د قوای هوایی | 184,839 | 177,489 | 171,601 | 169,203 | 174,120 | 176,762 |
| پولیس ملی | 153,269 | 152,123 | 153,317 | *156,439 | 154,685 | 155,182 |
| **ټولټال ANDSF** | **338,108** | **329,612** | **324,918** | **325,642** | **328,805** | **331,944** |

یادونه: ANA = افغان ملي اردو؛ AAF = افغان هوایی ځواک؛ ANP = افغان ملي پولیس؛ ANDSF = افغان د ملي دفاع او امنیت ځواکونه. د افغان ملي اردو او هوایی ځواک شمیرو کې ملکي پرسونل هم شامل دي؛ د ANP لپاره شته معلومات نه په ګوته کوي چې ایا ملکي پرسونل پکې شمیرل شوي یا نه.
* د 2014 نومبر کې د ANP راپور شوې شمیرې داسې ښکاري چې د افغان یونیفارم پولیس ځینې یې دوه ځل حساب کړي وي؛ واقعیی شمیره ممکن 151,272 وي.

سرچینه: CSTC-A، د سیګار د معلوماتو غوښتنو ته ځواب، 7/1/2014، 3/31/2014 او 10/6/2014؛ RSM، د وضاحت لپاره د سیګار غوښتنې ته ځواب، 3/14/2015؛ USFOR-A، د سیګار ارزونې ته ځواب، 4/10/2015 او 7/12/2015؛ USFOR-A، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځوابونه، 12/28/2014، 3/24/2015 او 6/29/2015.

## د ANDSF د ځواک کمیدل لږ شوي دي

د دفاع وزارت او د کورنیو چارو وزارت لخوا قاطع ملاتړ ماموریت ته چمتو کړل شوي راپور په وینا د ANDSF د ځواک کمیدو کچه د ټیټیدو په حال کې ده، که څه هم نه ANA او نه هم ANP په میاشت کې د اوسط 1.4% ځواک لپاره د ANDSF رامینځته کړل شوی هدف ندی ترلاسه کړی. په 2015 مې کې ANA په میاشت کې د ځواک کمیدو 2.3% کچه درلوده چې د جنوري 2.55% څخه کم و.[151] دا د ځواک هغه میاشتني کمیدو اوسط څخه یو سلنه کمیدل و چې ANA په 2013 کې 3.52% او په 2014 کې 3.62% درلود.[152] د ANP ځواک د کمیدو میاشتنی اوسط په مئ کې د جنوري 1.64% په پرتله 1.56% ته یوڅه کم شوی دی.[153]

د ځواک کمیدو راټیټولو لپاره د دفاع او کورنیو چارو وزارتونو سره د مرستې لپاره د قاطع ملاتړ ماموریت ارزولو ته د افغانانو لپاره پنځه برخي په نښه کړي دي.[154] دغه په شفاف ګومارنه، هڅولو، او د سرتیرو او ګزمه کونکو د معاشاتو ورکولو؛ د ژوند پرمختللي کیفیت اوضاع برابرول، لکه رخصتي او د ټپیانو درملنه؛ او د رهبرانو حساب ورکووني ته اړ کولو باندي تمرکز لري.[155]

## ANDSF په اپریل کې د لږې وړتیا درلودونکي په توګه ارزول شوی دی

پدې ربع کې ANDSF د ANDSF نوي میاشتنی ارزوني راپور (MAAR) کې د تیرې ربعې په پرتله د لږې وړتیا درلودونکي په توګه ارزول شوی دی. لومړی MAAR چې د 2015 جنوري کې په لاره اچول شوی و، د ANDSF له افغان ملي اردو، افغان یونیفارم پولیس (AUP) او افغان سرحدي پولیس (ABP) څخه 21 قطعي په شپږ فعالیت کټګوریو او اوه د عملیاتو او همغږی سیمه ایز مرکزونو (OCC-Rs) کې ارزولي چې پدې کې اوه فعالیت کټګوری د ټولټال 175 قطعو کټګوری درجه ورکولو لپاره وي. د سیګار د جنوري MAAR تحلیلونو مشخص کړي چې لدغه قطعي کټګوریو 93% ته د "وړ،" "بشپړ وړ،" یا "ټیکاو لرونکي" درجه ورکړل شوي – چې دا په صعودي ترتیب کې د پنځه درجو څخه ترټولو لوړی دي. په هرصورت، د درجې کچې[156] تفکیک ښودلې چې یوازې یو څو ترټولو لوړه درجه ترلاسه کړې. د 175 ارزول شویو کټګوریو څخه:

- 7 یې "ټیکاو لرونکي" و (4%)
- 50 یې "بشپړ وړ" و (29%)
- 106 یې "وړ" و (61%)
- 11 یې "یو څه وړ" و (6%)

**د عملیاتو د همغږی مرکزونه (OCCs):** سیمه ایز او ولایتي OCCs پخپلو اړوند سیمو کې د امنیتي عملیاتو او رامینځته کیدونکي اوضاع ته د ملکي غبرګون لپاره مسؤل دي. د OCC فعالیتونو تمرکز په د امنیتي عملیاتو همغږي وي.

سرچینه: ISAF/SFA، د RS د امنیتي ځواک مرستې لاربښود 3.1، مخ G-6، 7/1/2014.

- 0 د "پراختیا په حال کې" و (0%)
- 1 نه و ارزول شوی (له 0.6% څخه لږ)

پدې ربع کې USFOR-A راپور ورکړ چې د 2015 اپریل MAAR د افغان هوایی ځواک (AAF) شاملولو لپاره پراخه کړل شوی و، چې د ټولټال قطعي کټګوریو شمیر یې 181 ته لوړ کړی (د 22 ANDSF قطعي د افغان ملي اردو، افغان یونیفارم پولیس، او افغان سرحدي پولیسو څخه په شپږ فعالیت کټګوریو کې او اوه OCC-Rs په اوه فعالیت کټګوریو کې). پدې ربع کې د سیګار د 2015 اپریل MAAR تحلیلونو مشخص کړي چې د قطعي 83% کټګوریو ته د "وړ،" "بشپړ وړ،" او "ټیکاو لرونکي" درجه ورکړل شوی.[157] د 2015 اپریل MAAR کې ارزول شوي قطعي کټګوریو د 2015 جنوري MAAR کې ارزول شوي کټګوریو څخه لږو د ترټولو لوړه درجه ترلاسه کړې ده، که څه هم د 2015 اپریل MAAR کې ډیرې د قطعي کټګورۍ نه وې ارزول شوې، چې د کمښت لپاره یو څه دلیل کیدی شي.

USFOR-A راپور ورکوي چې د وړتیا درجه کې کموالی په لویه کچه د ANDSF قطعو باندې د 2015 جګړه ای فصل پیل کې تحمیل شوي فشارونو له امله و، په ځانګړې توګه د قوماندې او کنټرول او د ګډ ځواکونو عملیاتو همغږۍ سره.[158] د امریکا دفاع وزارت هم د جګړې فصل فشارونه په ګوته کړې، یادونه یې کړې چې افغانان اوس د محاربوي عملیاتو مشري کوي، او پوښتنه یې کړې چې ایا MAAR ته د AAF وروستۍ اضافه کول د وړتیا پیښ شوي کموالي واقعیت و.[159] په هرصورت، د امنیتي عملیاتو رهبري کولو سره افغان نا اشنا ندي. سیګار ته د امریکا دفاع وزارت د 2013 اپریل یوه ځواب په وینا، افغان امنیتي ځواکونو د امنیتي عملیاتو مشري کولو پروسه په 2011 جولای کې پیل کړې. د امریکا دفاع وزارت یادونه کړې چې د 2013 فبروري پورې "اوس د افغانستان 87% نفوس د انتقال لاندې سیمو کې اوسیږي، چیرې چې افغان ملي امنیتي ځواکونه (ANSF) د امنیت مشري کوي."[160] (د نورو معلوماتو لپاره د *متحده ایالاتو کانګرس ته د سیګار د 2013 اپریل درې میاشتنۍ راپور* 86–87 مخونه وګورئ.)

په 2015 اپریل MAAR کې د 181 قطعي ارزول شوي کټګوریو څخه:[161]

- 2 یې "ټیکاو لرونکي" و (1%)
- 35 یې "بشپړ وړ" و (19%)
- 114 یې "وړ" و (63%)
- 14 یې "یو څه وړ" و (8%)
- 2 یې "د پرمختګ په حال کې" و (1%)
- 14 یې نه و ارزول شوي (8%)

ناټو د قاطع ملاتړ ماموریت روزنې، مشورې او مرستې سره د ANDSF په لیکه کولو لپاره د ارزولو میتود 2015 جنوري 1 کې بدل کړ. MAAR د ANSF سیمه ایز وضعیت راپور (RASR) ځای ونیو چې د 2013 اګست راهیسې کارېده.[162] MAAR د اته لازمي فعالیتونو لپاره د قطعي وړتیا د ورته فعالیتونو لکه د ځواک تولید، د سرچینو مدیریت، پیاوړتیا، استخبارات، او ستراتیژیک ارتباطاتو ترسره کولو لپاره د ANDSF ټولیزه وړتیا او مؤثریت ارزوي. MAAR د قل اردوګانو او ولایتي قوماندانیو وړتیاوې تحلیلوي او ارزوي چې دوی په څومره ښه ډول ترهګرۍ ته ماتې ورکولو او د افغانستان خوندي کولو په برخه کې خپلو ځواکونو ملاتړ کوي.[163]

جدول 3.8

**د ANDSF میاشتنی ارزوني درجې، د 2015 جنوري او اپریل**

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **د افغان ملي اردو شپږ قل اردوګاني، 111مه مرکزي فرقه، او AAF (ځانګړې درجې محرم دي)** | | | | | | | | | |
| د قوماندې ارزول | جنوري | بشپړ وړ | بشپړ وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | نه تطبیقیږي |
| | اپریل | بشپړ وړ | بشپړ وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | یو څه وړ |
| رهبریت | جنوري | بشپړ وړ | بشپړ وړ | بشپړ وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | نه تطبیقیږي |
| | اپریل | بشپړ وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | یو څه وړ | یو څه وړ |
| ګډ ځواکونه | جنوري | وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | نه تطبیقیږي |
| | اپریل | وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | یو څه وړ | یو څه وړ |
| قوماندې او کنټرول | جنوري | بشپړ وړ | بشپړ وړ | بشپړ وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | نه تطبیقیږي |
| | اپریل | بشپړ وړ | بشپړ وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | یو څه وړ | یو څه وړ |
| پرسونل او روزنه | جنوري | بشپړ وړ | بشپړ وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | ندي ارزول شوي | نه تطبیقیږي |
| | اپریل | بشپړ وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | یو څه وړ |
| پیاوړتیا | جنوري | بشپړ وړ | بشپړ وړ | بشپړ وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | نه تطبیقیږي |
| | اپریل | بشپړ وړ | بشپړ وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | وړ |
| **د ANP سیمې (سیمه ایز) (ځانګړې درجې محرم دي)** | | | | | | | | | |
| د AUP قوماندې ارزونه | جنوري | بشپړ وړ | بشپړ وړ | بشپړ وړ | وړ | وړ | وړ | یو څه وړ | |
| | اپریل | بشپړ وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | |
| د AUP رهبریت | جنوري | تیکاو لرونکی | تیکاو لرونکی | وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | |
| | اپریل | تیکاو لرونکی | بشپړ وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | |
| د AUP ادغام | جنوري | بشپړ وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | یو څه وړ | |
| | اپریل | بشپړ وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | یو څه وړ | |
| د AUP قومانده او کنټرول | جنوري | بشپړ وړ | بشپړ وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | یو څه وړ | |
| | اپریل | بشپړ وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | ندي ارزول شوي | |
| د AUP پرسونل او روزنه | جنوري | تیکاو لرونکی | بشپړ وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | یو څه وړ | |
| | اپریل | تیکاو لرونکی | بشپړ وړ | وړ | وړ | وړ | د پراختیا په حال کې | د پراختیا په حال کې | |
| د AUP پیاوړتیا | جنوري | بشپړ وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | یو څه وړ | |
| | اپریل | بشپړ وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | |
| د ABP قوماندې ارزونه | جنوري | بشپړ وړ | بشپړ وړ | بشپړ وړ | بشپړ وړ | وړ | وړ | وړ | |
| | اپریل | بشپړ وړ | بشپړ وړ | بشپړ وړ | وړ | وړ | وړ | ندي ارزول شوي | |
| د ABP رهبریت | جنوري | بشپړ وړ | بشپړ وړ | بشپړ وړ | بشپړ وړ | وړ | وړ | وړ | |
| | اپریل | بشپړ وړ | بشپړ وړ | بشپړ وړ | وړ | وړ | وړ | ندي ارزول شوي | |
| د ABP ادغام | جنوري | بشپړ وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | |
| | اپریل | بشپړ وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | ندي ارزول شوي | |
| د ABP قومانده او کنټرول | جنوري | بشپړ وړ | بشپړ وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | یو څه وړ | |
| | اپریل | بشپړ وړ | بشپړ وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | ندي ارزول شوي | |
| د ABP پرسونل او روزنه | جنوري | بشپړ وړ | بشپړ وړ | بشپړ وړ | وړ | وړ | وړ | یو څه وړ | |
| | اپریل | بشپړ وړ | بشپړ وړ | بشپړ وړ | بشپړ وړ | وړ | ندي ارزول شوي | ندي ارزول شوي | |
| د ABP پیاوړتیا | جنوري | بشپړ وړ | بشپړ وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | |
| | اپریل | بشپړ وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | ندي ارزول شوي | |
| **OCC-Rs (ځانګړې درجې محرم دي)** | | | | | | | | | |
| د قوماندې ارزونه | جنوري | تیکاو لرونکی | بشپړ وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | یو څه وړ | |
| | اپریل | بشپړ وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | یو څه وړ | |
| رهبریت | جنوري | تیکاو لرونکی | بشپړ وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | یو څه وړ | |
| | اپریل | بشپړ وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | یو څه وړ | یو څه وړ | |
| د ANDSF دننه قومانده او کنټرول | جنوري | تیکاو لرونکی | وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | |
| | اپریل | بشپړ وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | ندي ارزول شوي | |
| وړ کونکي همغږي | جنوري | بشپړ وړ | بشپړ وړ | بشپړ وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | |
| | اپریل | بشپړ وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | ندي ارزول شوي | |
| د اطلاعاتو شریکول | جنوري | تیکاو لرونکی | بشپړ وړ | بشپړ وړ | بشپړ وړ | وړ | وړ | وړ | |
| | اپریل | بشپړ وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | ندي ارزول شوي | |
| د لوژستیک همغږي | جنوري | بشپړ وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | یو څه وړ | |
| | اپریل | بشپړ وړ | وړ | وړ | یو څه وړ | یو څه وړ | ندي ارزول شوي | ندي ارزول شوي | |
| ICT | جنوري | بشپړ وړ | بشپړ وړ | بشپړ وړ | بشپړ وړ | وړ | وړ | یو څه وړ | |
| | اپریل | بشپړ وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | وړ | ندي ارزول شوي | |

**رنګه کلي**

تیکاو لرونکی ● بشپړ وړ ● وړ ●
یو څه وړ ● د پراختیا په حال کې ● ندي ارزول شوي ●

یادونه: هر ټکی د یوې قطعې یا سیمې درجه ده. ځانګړي قطعې یا سیمې د محرمیت له امله ندي په ګوته شوي. AAF = افغان هوايي ځواک؛ AUP = افغان یونیفارم پولیس؛ ABP = افغان سرحدي پولیس؛ OCC-R = د عملیاتو د همغږی مرکزونه – سیمه ایز؛ ICT = معلومات، ارتباطات او ټیکنالوژي. نه تطبیقیږي = د پلي کیدو وړ ندي: واحد د جنوري MAAR کې ندی شامل.

سرچینه: USFOR-A، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 6/6/2015.

څلور لازمي جلا MAARs شتون لري چې د ANA، AUP، ABP او OCC-Rs ورتیاوې ارزوي، لکه څنګه چې د تیر مخ په 3.8 جدول کې ښودل شوي دي.[164] یو MAAR کې د افغان ملي اردو ټولې شپږ قل اردوګانې، 111مه مرکزي فرقه، او AAF د یووستوې ارزونې لپاره شامل دي. بل MAAR کې ټول اوه OCC-Rs د یووستوې ارزونې لپاره شامل دي. دوه وروستي MAARs د ANP دوه قطعي ارزوي: په یو کې د AUP اوه زونونه او په بل کې د ABP اوه زونونه ارزول کیږي. د ANP ممتاز برخې، د افغان عامه نظم ملي پولیس (ANCOP) چې په کابل کې مرکز دی، ارزونې په اړه د دې راپور محرم ضمیمه کې خبرې شوې.

د عملیاتو او پیاوړتیا مؤثریت په ګوته کولو لپاره د ANA او ANP لپاره د ارزونې شپږ کټګورۍ او د OCC-Rs لپاره اوه کټګورۍ دي. د ANDSF هره قطعه قوماندې او رهبریت باندې ارزول کیږي؛ ANA، AUP او ABP هم په قوماندې او کنټرول، پرسونل او روزنې او پیاوړتیا په برخه کې ارزول کیږي. د ANA قل اردو/فرقه او AAF نور د ګډو ځواکونو لپاره ارزول کیږي، پداسې حال کې چې AUP او ABP د ANDSF نورو قطعو سره د ادغام لپاره ارزول کیږي. د OCC-Rs لپاره پاتې پنځه کټګورۍ د ANDSF دننه قوماندې او کنټرول، ور کونکي همغږي، د اطلاعاتو شریکول، د لوژستیک عملیات، او معلومات، ارتباطات، او ټیکنالوژي دي.[165]

د ارزولو درجې د ارزولو تیرې پروسې ته ورته دي، د RASR درجه ورکولو پروسه: ټیکاو لرونکي، بشپړ وړ/مؤثر، د پراختیا په حال کې، یا درجه نده ورکړل شوې.[166]

د سیګار د افغان ملي اردو د اپریل ارزونې تحلیل چې اوس یکې AAF هم شامل دی مشخص کړي چې د وړ یا بشپړ وړ په حیث د قطعو 83.3% کټګورۍ د جنورې 97.6% څخه ټیټ دي. هیڅ یوې قطعې د 2015 د اپریل یا جنورې MAAR کې د ټیکاو لرونکي ترټولو لوړه درجه نده ترلاسه کړې.[167] پدې ربع کې افغان ملي اردو د ګډو عملیاتو ترسره کولو په استثنا چې یکې ثابت وه، هره کټګورۍ کې د لږې ورتیا لرونکې په توګه ارزول شوې.[168]

د سیګار د ANP MAAR تحلیل چې یکې یوازې AUP او ABP شامل دي، د کټګوریو سلنه چې یکې قطعې د وړ، بشپړ وړ یا ټیکاو لرونکي په توګه ارزول شوې 86.9% مشخص کړې، چې د جنورې 91.7% څخه ټیټه ده. د ANP له 84 کټګوریو څخه د ورتیا هیڅ ارزونې راپور ندی ورکړل شوی چې دا پخپله تر یوه حد پورې د کمښت لامل کیدی شي.[169]

د سیګار تحلیل د کټګوریو سلنه مشخص کړې چې یکې د OCC-R قطعې ټیکاو لرونکي، بشپړ وړ یا وړ ارزول شوې، او د 91.8% څخه 77.6% ته کم ټیټ شوې. په هرصورت، د OCC-R له 49 کټګوریو څخه د شپږو لپاره د ورتیا هیڅ ارزونې راپور ندی ورکړل شوی چې دا پخپله تر یوه حد پورې د کمښت لامل کیدی شي.[170] OCC-Rs د ANDSF، د ولایتي اداري چارواکو او د دولت نورو چارواکو ترمینځ د همغږۍ اداري په توګه کار کوي.[171] OCC-Rs استخباراتي اطلاعات، د ګډو عملیاتو پلان کول، د ناورین هوساینه، او د ANA د قل اردو په کچه د پولیسو ولایتي قوماندان او والي سره د پیښو غبرګون همغږۍ

کوي.[172] ANSDF د قطعو ترمينځ د ارتباطاتو شريکولو لپاره OCC-Rs کاروي په بيله د سيمه ايز او ولايتي OCCs ترمينځ. د افغانستان ملي امنيت شورا د ولسمشر غني لپاره يو پروپوزل رامينځته کوي چې OCC کې اصلاحات راولي چې پکې دا موارد شامل دي:[173]

- د قوماندي روښانه لړی یا د مراتبو سلسلي رامينځته کول
- د وړتيا پراساس د رهبريت ټاکلو پروسي تطبيقول
- د رولونو، فعاليتونو، واکونو، د پرسونل وړتيا او روزني لپاره د OCC معياري عملياتي کړنلارې تازه کول

د اجرایی رييس عبدالله د دفتر لخوا خپور شوي يوه بيان په وينا، د USFOR-A قوماندا جنرال جان ايف کمپبيل ويلي افغان امنيتي ځواکونو د بريدونو خنثی کولو لپاره غوره همغږي رامينځته کړې، مګر د خپلو عملياتو رهبري کولو لپاره قوي رهبريت او مؤثره قوماندي او کنټرول ته اړتيا لري.[174]

بريد جنرال تود سيمونيټ سيګار ته وويل هغه يوه برخه کې چې افغانان ورته اړتيا لري پکې وده وکړي هغه دا ده چې زده کړي څنګه د ANDSF قطعو ترمينځ سرچيني او تجهيزات ترتيب يا برابر کړي. د يوي قطعي څخه بلې قطعي ته د اضافي سرچينو يا تجهيزاتو ترتيب يا انتقالول ځواک ته اجازه ورکوي د ځانګړي قطعو لپاره د نوموړي توکو د پيرود اضافي تمويل اړتيا مخه ونيسي کله چې د تحويلی يا عرضي توله کچه کافي وي.

سرچينه: سيګار، د CSTC-A قوماندان بريد جنرال تود سيمونيټ سره مرکه، 7/1/2015.

## د دفاع او کورنيو چارو وزارتونو لپاره د RS ټيټ توقوعات

پدې ربع کې دوهم چې پکې د قاطع ملاتړ ماموريت د وزارت ارزوني نوي پروسه کارولې، د قاطع ملاتړ ماموريت د ظرفيت کچو توقوعاتو په راټيټولو سره خپلې وړاندويني اصلاح کړې چې وزارتي دفترونه به يې د 2016 تر پای پورې لاسته راوړي.[175]

د قاطع ملاتړ ماموريت اوس وړاندوينه کوي چې د دغه ماموريت پای کې په 2016 کې تمه کيږي د دفاع وزارت يوازې 74% فعاليتونه به تيکاو لرونکي يا بشپړ وړ وي (ترټولو لوړه او دوهمه لوړه درجه)، د تيرې ربعي 90% وړاندويني څخه ټيټوالی. ورته توقوعات د کورنيو چارو وزارت لپاره هم ټيټ شوي چيرې چې 68% تيکاو لرل يا بشپړه وړتيا لرل وړاندوينه شوي چې د تيرې ربعي 86% وړاندويني څخه ټيټ دي.[176] د طبي ځانګړي څخه تمه نه کيږي چې د ډيری کلونو لپاره تيکاو لرونکي وړتيا لاسته راوړي ځکه چې افغانستان کې د روغتيا روزل شوي متخصصين شتون نلري.[177] د قاطع ملاتړ ماموريت په خپلو وړاندوينو کې د توقوعاتو کموالی دوه لومړني دلايلو ته نسبت ورکوي:

- د تاييد شوي وزير پرته وخت په جريان کې د رهبريت نه شتون
- د عملياتي چاپيريال په اړه د قاطع ملاتړ ماموريت غوره پوهې ترلاسه کول[178]

پنځه درجي هغه کچه منعکس کوي چې افغان سيستمونه پکې دي، فعال دي او په مؤثر ډول کارول کيږي. ترټولو لوړه درجه "تيکاو لرونکي وړتيا" په ګوته کوي چې يو افغان وزارت کولی شي د ايتلاف مشورې يا مداخلي پرته ځانګړی فعاليت ترسره کړي.[179] تر دې ربعي پورې، د دفاع وزارت يا د کورنيو چارو وزارت هيڅ مهم فعاليت د "تيکاو لرونکي وړتيا" درجه لاسته نده راوړې او يوازې يوه د "بشپړ وړ" درجه ترلاسه کړې، لکه څنګه چې د راتلونکي مخ په جدول 3.9 کې ښودل شوي.[180]

د قاطع ملاتړ اوسنی ارزوني په وينا، د 84 مرحلو څخه 18 (21%) "پيل شوي" مرحلي ته ندي رسيدلي، پشمول د جنس مشاور ټولي مرحلي.[181] سره لدې چې لږې مرحلي ارزول شوي، دفاع وزارت

جدول 3.9

**د 2015 جون 1 پورې د ناټو سیسټم په کارولو سره د وزارت د مرحلو ارزونه**

| د درجه ورکولو معنی | EF1 ربع 1 | EF1 ربع 2 | EF1 +/- | EF2 ربع 1 | EF2 ربع 2 | EF2 +/- | EF3 ربع 1 | EF3 ربع 2 | EF3 +/- | EF4 ربع 1 | EF4 ربع 2 | EF4 +/- | EF5 ربع 1 | EF5 ربع 2 | EF5 +/- | EF6 ربع 1 | EF6 ربع 2 | EF6 +/- | EF7 ربع 1 | EF7 ربع 2 | EF7 +/- | EF8 ربع 1 | EF8 ربع 2 | EF8 +/- | جندر[a] ربع 1 | جندر[a] ربع 2 | جندر[a] +/- | **ټولټال** ربع 1 | **ټولټال** ربع 2 | **ټولټال** +/- |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **د دفاع وزارت د مرحلو ارزول** | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| درجه 5<br>د ټیکاو درلودو ورتیا | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | | 0 | | **0** | **0** | **=** |
| درجه 4<br>بشپړ ور/مؤثر | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | | 0 | | **0** | **0** | **=** |
| درجه 3<br>یو څه ور/مؤثر | 1 | 1 | = | 0 | 0 | = | 2 | 3 | + | 0 | 2 | + | 6 | 8 | + | 2 | 1 | - | 0 | 2 | + | 3 | 0 | - | | 0 | | **14** | **17** | **+** |
| درجه 2<br>پیل شوي (د پراختیا په حال کې) | 3 | 3 | = | 2 | 3 | + | 1 | 1 | = | 5 | 4 | - | 7 | 4 | - | 2 | 2 | = | 5 | 1 | - | 3 | 0 | - | | 0 | | **28** | **18** | **-** |
| درجه 1<br>طرح شوي/تصویب شوي | 2 | 2 | = | 3 | 2 | - | 1 | 0 | - | 1 | 0 | - | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 3 | + | | 1 | | **7** | **8** | **+** |
| درجه 0<br>ندي طرح شوي/تصویب شوي ندي | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 1 | + | 0 | 0 | = | | 2 | | **0** | **3** | **+** |
| **د EF ټولټال** | **6** | **6** | **=** | **5** | **5** | **=** | **4** | **4** | **=** | **6** | **6** | **=** | **13** | **12** | **-** | **4** | **3** | **-** | **5** | **4** | **-** | **6** | **3** | **-** | **0** | **3** | | **49** | **46** | **-** |
| **د کورنیو چارو وزارت د مرحلو ارزول** | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| درجه 5<br>د ټیکاو درلودو ورتیا | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | | 0 | | **0** | **0** | **=** |
| درجه 4<br>بشپړ ور/مؤثر | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 1 | + | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | | 0 | | **0** | **1** | **+** |
| درجه 3<br>یو څه ور/مؤثر | 1 | 1 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 1 | 2 | + | 6 | 8 | + | 4 | 2 | - | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | | 0 | | **12** | **13** | **+** |
| درجه 2<br>پیل شوي (د پراختیا په حال کې) | 3 | 4 | + | 0 | 1 | + | 2 | 4 | + | 3 | 1 | - | 7 | 4 | - | 0 | 0 | = | 4 | 3 | - | 0 | 0 | = | | 0 | | **19** | **17** | **-** |
| درجه 1<br>طرح شوي/تصویب شوي | 2 | 1 | - | 4 | 3 | - | 2 | 0 | - | 1 | 0 | - | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 3 | 0 | - | | 2 | | **12** | **6** | **-** |
| درجه 0<br>ندي طرح شوي/تصویب شوي ندي | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | | 1 | | **0** | **1** | **+** |
| **د EF ټولټال** | **6** | **6** | **=** | **4** | **4** | **=** | **4** | **4** | **=** | **5** | **4** | **-** | **13** | **12** | **-** | **4** | **2** | **-** | **4** | **3** | **-** | **3** | **0** | **-** | **0** | **3** | | **43** | **38** | **-** |

یادونه: EF = لازمي فعالیت؛ ASI = افغان امنیتي نهادونه؛ EF1 = د څو کلونو بودجه جوړول او اجراکول؛ EF2 = روڼتیا، حساب ورکول او څارنه؛ EF3 = د ASI ملکي حکومتولي؛ EF4 = د ځواک تولید؛ EF5 = پیاوړتیا؛ EF6 = ستراتیژي او پالیسي، پلان جوړول، سرچینه برابرول، او اجرا کول؛ EF7 = اطلاعات (استخبارات)؛ EF8 = ستراتیژیک ارتباطات؛ ربع 1 = فبروري/مارچ 2015؛ ربع 2 = جون 2015؛ - ربع 1 د 3/1/2015 پورې د EF1 او EF7 ارزوني؛ EF2 او EF5 – تر 2/26/2015؛ EF3 او EF6 – تر 2/12/2015 پورې؛ EF4 – تر 2/17/2015 پورې؛ EF8 – تر 2/20/2015 پورې.

[a] د جندر مشاور مرحلې او دندې په ربع 1 کې ندي ارزول شوي.

سرچینه: USFOR-A، د سیګار د معلوماتو غوښتنو ته ځواب، 3/11/2015 او 6/6/2015.

خپل د "یو څه وړ" پراختیا مرحلې سلنه د تیرې ربعې 28.6% څخه 37% ته ډیره کړې. د کورنیو چارو وزارت هم د تیرې ربعې 27.9% په پرتله خپلې درجې د "بشپړ وړ" یا "یو څه وړ" په برخه کې د پراختیا 36.8% ته رسولې.[182]

د قاطع ملاتړ ماموریت د ارزوني پروسه کې د وزارت ظرفیت او مهم ورتیاو پراختیا لپاره اړیني مرحلې بدلې کړې دي. پدې ربع کې د وزارت ارزوني غزول شوي ترڅو د دواړه دفاع وزارت او د کورنیو چارو وزارت ارزونو ته د مرحلو اړوند درې د جندر چارې اضافه کول ورپکې شامل کړي.[183] سربیره پردې د (دفاع وزارت) شپږ او د (کورنیو چارو وزارت) اته نا پیژندل شوې مرحلې حذف شوي، چې د ارزولو ټولټال مرحلو شمیر د دفاع وزارت لپاره له 49 څخه 46 ته او د کورنیو چارو وزارت لپاره

له 43 څخه 38 ته راکموي.[184] د قاطع ملاتړ ماموریت د هر لازمي فعالیت ریاست او د جندر چارو دفتر په هر وزارت کې د لازمي فعالیت ورتیاو ارزولو لپاره د عمل او مرحلو لازمي فعالیت پلان (POAM) کاروي.[185] مرحلې په جدول 3.9 کې ښودل شوي د پنځه مرحلو درجې سیستم پراساس ارزول کیږي.[186] بیا وروسته د نوموړي ځانګې د بشپړې ارزونې ټاکلو لپاره د مرحلې ارزونې ترکیب کیږي. د ځانګو ټولې ارزونې د وزارت په بشپړ ډول ارزونې مشخص کولو لپاره بیا پخپل وار سره ترکیب کیږي.[187]

د دفاع وزارت او کورنیو چارو وزارت ته د متحده ایالاتو 311 پرسونل او 111 د ایتلاف نور اضافي مشاورین مشوره او ښوونه کوي.[188] CSTC-A راپور ورکړ چې دوی به په 2015 کې د روزنې او ښوونې د ملاتړ درې قراردادونه ولري چې ټولټال 183.4 میلیون ډالر لګښت لري، ترڅو چې د 2016 مالي کال لومړی ربع کې یو یووستوی ټولیز قرارداد په لاره واچول شي.[189] ایتلاف ارزوي چې ANDSF به تر د 2017 اوږدو پورې د وزارتي پراختیا، لوژستیک، مسلکیتوب، او د اکتساب- مدیریت ملاتړ ته اړتیا ولري.[190]

د قاطع ملاتړ ماموریت یوه شته برنامه باندې کار کوي چې د پولیسو پرسونل د روزنې لپاره یې ملکي افغانان کاروي، د کورنیو چارو وزارت سره یې د فعالیتي ساحو لکه مالي مدیریت، لوژستیک، تدارکاتو، بشري سرچینو او معلوماتي ټیکنالوژۍ لپاره د ملکي بستونو رامینځته کولو لپاره کار کړی.[191] اوسمهال د کورنیو چارو وزارت لخوا 363 تصویب شوي بستونو لپاره 138 ملکیان ګومارل شوي دي. تمه کیږي دا ملکي بستونه د وزارت راتلونکي ټیکاو لپاره دوام او تخنیکي تخصص چمتو کړي.[192] CSTC-A د موضوع اړوند تخصص برنامه د کورنیو چارو وزارت ته چمتو شوي د مستقیم بودجې تمویل له لارې تمویل کوي. د فنډونو د تعقیب او د فساد کمولو لپاره د افغان مالي مدیریت معلوماتو سیستم کې د بودجې ځانګړې لیکه رامینځته شوې او ټولو ملکي کارمندانو ته په بریښنایي ډول معاشات تادیه کیږي.[193]

## د دفاع او د کورنیو چارو وزارت د سواد زده کړې د روزنې دوام

پدې ربع کې USFOR-A راپور ورکړ چې د دفاع او کورنیو چارو وزارتونه د روزونکو روزلو لپاره برنامو ته دوام ورکوي، چې فارغین یې د روزنې ټولو سیمه ایزو ساحو کې د سواد زده کړې ټولګیو ښوونکي دي.[194] د نوي ګومارل شویو لپاره د افغان محاربې لومړنۍ روزنه کې برخه اخیستو دمخه د 2014 سواد کچه 36% راپور شوې.[195]

## افغان سیمه ایز پولیس

د افغان سیمه ایز پولیس (ALP) غړي چې د "ساتونکو" په توګه پیژندل کیږي، ځایی اوسیدونکي دي چې د کلي مشرانو یا ځایی واک لرونکو لخوا د ترهګرۍ پروړاندې د خپلو ټولنو خوندي کولو، د تسهیلاتو ساتلو او د ترهګرۍ سره د مبارزې لپاره سیمه ایزو عملیاتو پر مخ وړو لپاره ګومارل شوي دي.[196] په 2015 جون 15 کې ALP د AUP قوماندې او کنټرول لاندې راغی. که څه هم ALP به د AUP تشکیل (نهادي ځواک) کې جذب نشي او حتی که څه هم د AUP د ANP یوه برخه ده، د ALP تشکیل به د ANP ټولټال مجاز شمیر ځواک څخه مستقل پاتې شي.[197] په هرصورت د 2015 مئ 24 پورې ALP خیل د 30,000 ساتونکو شمیرې هدف ته ندی رسیدلی. د ناټو ځانګړي عملیاتو قطعې قومانده – افغانستان (NSOCC-A) په وینا، ALP 28,356 پرسونل لري چې 25,179 یې بشپړ روزل شوي

**تشکیل:** د دفاع وزارت او د کورنیو چارو وزارت لخوا کارول کیدونکي پرسونل او تجهیزاتو لیست. نوموړی کله په دري ژبه کې د "نهاد یا سازمان" معنی لري.

سرچینه: GAO، د افغانستان امنیت، GAO-08-661، 6/2008، مخ 18.

دي.[198] دا د 2015 اپریل 4 راپدیخوا د 20 نفرو کموالی دی کله چې ALP 28,376 پرسونل درلودل.[199] د 2015 لومړی ربعي په جریان کې ALP په جګړه کې د خپلو غړو د وژل کیدو یا ټپي کیدو شمیر کې د ډراماتیک ډیروالي سره مخ شو، د دې نهاد 2.63% غړي په 2014 کې د ورته دورې راپور شوي 1.41% په پرتله وژل شوي یا ټپي شوي.[200] په یوې وروستی پیښه کې د 2015 جولای په 2 نیټه طالبانو د وردګ ولایت جلریز ولسوالی کې ALP باندې برید وکړ، چې د پولیسو نهه پوستې یې ونیولې.[201] ALP او نورو ځواکونو تر هغه پورې د طالب ترهګرو سره جګړه وکړه چې د 2015 جولای په 4 نیټه یې ورڅخه بیرته ټولې نهه پوستې ونیولې. ځایی چارواکو راپور ورکړ چې د 24 ALP غړي وژل شوي چې له ځینو یې سرونه پرې کړل شوي – او 40 ترهګر هم په جګړه کې وژل شوي، پداسې حال کې چې ده پولیس افسران او 18 ترهګر پکې ټپیان شوي.[203]

NSOCC-A د ALP ځواک هدف ساتلو لپاره اټکل شوی لګښت په کال کې د 121 میلیون ډالرو څخه 117 میلیون ډالرو ته راټیټ کړی.[204] تمویل د معاشاتو، خواړو، ساتنې او روزنې په څیر مواردو لپاره مجاز دی.[205] متحده ایالاتو د 2012 څخه د 2015 جون تر 1 پورې د ALP ملاتړ لپاره د ASFF فنډونو 274.2 میلیون ډالر مکلف کړي دي او تر دغه نیټې یې د نوموړي فنډونو 206.3 میلیون ډالر مصرف کړي دي.[206]

د NSOCC-A په وینا، د ALP 93% غړو خپل قراردادونه بیا نوي کړي. د متحده ایالاتو د ځواکونو د وتلو له امله د ځواک د کمیدو درجې تاییدولو کې ننګونو سربیره NSOCC-A د 1–2% ځواک لږ میاشتنی کمیدو راپور ورکړی.[207]

د ALP اړوند ولسوالیو کې د یوروکا څیړنې او ارزونې فوکس ګروپ سروی ګانو څخه چمتو شوي معلوماتو له مخې د NSOCC-A په واسطه ترسره شوي خپلواک ارزونې په وینا، د سروی شوي افغانانو اکثریت ALP ته د مؤثره امنیتي عنصر او ثبات ټینګونکي ځواک په توګه ګوري.[208] NSOCC-A دا هم موندلې چې ترکوم حد پورې چې یوه ټولنه ځان خوندي حس کوي دا مسله دې پورې تړلې ده چې تر کوم حد پورې د ټولنې مشران د ALP غړو غوره کولو کې دخیل و. د 2014 دسمبر راپور څخه د ورانډیزونو دریځ په اړه د NSOCC-A تازه معلوماتو کې دې د کارمندانو د لیدنو ډیروالی برجسته کړی. دا لیدنې ALP ته اجازه ورکوي د ټولنې مشرانو سره بوخت اوسي او د څار لپاره هم فرصتونه برابروي. د ALP د ځانګړي عملیاتو مشورتي ډله د ALP غړو په ټاکلو کې د ټولنې د مشرانو په اهمیت تاکید کولو سره نوموړې لیدنې چمتو کوي.[209]

پدې ربع کې د بروکسل میشته نړیوال بحرانونو ګروپ (ICG) یو راپور خپور کړ چې موندلې یې دي چې ALP په ځینې سیمو کې امنیت سره د مرستې مرکب تاریخچه یا ریکارډ لري مګر دا چې یا یې امنیت بنه کړی ندی او یا یې په یو شمیر ولسوالیو کې د قومونو، ملیتونو او کورنیو ترمینځ جګړې او شخړې لا ډیرې او خرابې کړي دي.[210] د کلیوالو وګړو توقوعات ډیرې وختونه ټاکې چې څنګه ځایی خلک د ALP چلند د منلو وړ ګڼي.[211] پداسې حال کې چې ICG ارزولې د ALP یوازې یو پر درې برخه په درستی سره فعالیت کوي، NSOCC-A ادعا کوي چې نوموړی بیان ثبوت نلري او د یوروکا سروی نشي ردولی.[212]

نوموړی ګروپ ادعا کوي چې د ALP د یوه غړي لګښت د ANDSF د یوه سرتيري یا د یوه پولیس یو پر ځلور دی.[213] په هرصورت، دوی ادعا کوي که څه هم ALP او د دولت ملیشا لږ لګښت لري، خو دا خطرناک دي او کابل نباید ورته ډلي پراخه کړي.[214] په هرصورت، NSOCC-A وایی ALP نباید د دولتي ملیشه سره پرتله شي.

دغه ګروپ د ملګرو ملتونو، افغان دولت، د متحده ایالاتو دولت او ډونر ملتونو لپاره د کړنو سره دري وړاندیزونه کړي:[215]

- د ALP ځارنه پیاړي کړي او هغه قطعي وپيژني چې امنيت تخريبوي
- د ALP پاتي پرسونل د منظم پولیس ځواکونو سره مدغم کړي
- ناوړه ګټه پورته کونکي ALP باندي د ملیشه سره یوځای بندیز ولګوي

دي ګروپ دا وړاندیز هم کړی چې بهرني ډونران تضمین وړاندي کړي چې د ALP هغه قطعو معاشاتو ورکړي ته چې بندیز وربانديږ ونه لګي د هغه تمویل او حساب ورکووني میکانیزمونو له لاري له 2018 وروسته هم دوام ورکړي چې ANP ملاتړ کوي.[216] د وړاندیزونو په برخه کي د نړیوال بحرانونو ګروپ متحده ایالاتو دا لاندي وړاندیزونه لري:[217]

- روښانه او د سنجش وړ معیار خپور کړي نو د تمویل شرایط به شفاف وي او که معیار پوره نشي نو د تمویل مخه ونيسي
- د ALP ناوړه ګټه پورته کونکي قطعو بي وسلي کول په لوی لاس تمویل کړي
- د دولت نوي (نور) ملیشه له ملاتړ کولو ډډه وکړي
- د مسلکي ملکي قانون حاکمیت ملاتړ کړي

### د سیګار تفتیش

په یوه روان تفتیش کې، سیګار د ALP برنامې سره د امریکا د دفاع وزارت ملاتړ بیاکتنه کوي چې ترکوم حد پورې ALP خپل د امنيت تینګولو اهداف ترلاسه کوي، د ALP د معاشاتو ورکړې ځارنه او کنټرولونه، او د ALP لپاره راتلونکي پلان جوړول.

## د امنیت ساتنې ځواکونه

## د افغان عامه محافظت ځواک انتقال د ولسمشرۍ عمل ته په تمه دی

د افغان عامه محافظت ځواک (APPF) د کورنیو چارو وزارت تر صلاحیت لاندي د قراردادي تسهیلاتو او کتارونو امنيت خدماتو چمتو کولو لپاره رامینځته کړل شوی دولتي شرکت دی. په 2013 کې د نوموړي ځواک د منحل کیدو امر وشو او د دې د ساتلو یا ستونکي دندي ANP ته ولیږدول شوې.[218] په هرصورت، USFOR-A راپور ورکوي چې APPF لاهم فعال دی او د سایټونو او د کتارونو د ایسکورټ محدود امنيت خدمات وړاندي کوي. د APPF فرمان د ولسمشرۍ لاسلیک ته په تمه دی مخکې لدي چې د وزیرانو شورا ته وړاندي شي.[219]

## د تسهیلاتو د ساتنې ځواک

د 2014 سپتمبر په 13 د ایساف قوماندان جنرال جان ایف کمپبیل او د افغانستان د ملي امنيت مشاور د افغان او د متحده ایالاتو/ناټو امنيتي تسهیلاتو د امنيت په اړه یوه تفاهمنامه (MOU) لاسلیک کړه. د MOU مطابق، د دفاع وزارت به د انتخاب شوي مختلف عملياتي بیسونو لپاره چې د دفاع وزارت ته سپارل کیږي، د امنيت چمتو کولو لپاره د 5,030 پرسونل لرونکی د تسهیلاتو د ساتنې ځواک (FPF) وګوماري.[220] FPF به د دفاع وزارت لخوا وګومارل شي مګر د ANA منظم برخه به نه وي. MOU له USFOR-A غوښتنه کوي چې د FPF د لومړي کال معاشات د 13.7 میلیون ډالرو سره تمویل کړي او له متحده ایالاتو غوښتنه کوي چې نوموړی ځواک د یو بل کال لپاره تمویل کړي.[221] په هرصورت،

USFOR-A راپور ورکوي چې د FPF اضافي تمویل احتمال شتون نلري ځکه چې افغان دولت د تړون له مخې اړین زیربنا لیږد او د پیاوړتیا پلان بشپړولو کې پاتې راغلی.[222]

د MOU مطابق، د دفاع وزارت به CSTC-A ته اجازه ورکړي چې "مالي ثبتونه تفتیش او پلټنه یې وکړي" او داډ ورلاندې کړي چې "فنډونه به د ټولو هغه ادارو لخوا د تفتیش وړ وي چې د CSTC-A او د متحده ایالاتو ځواکونه – افغانستان د ځارنې لپاره مسؤل دي."[223]

MOU افغان ځواکونو ته د متحده ایالاتو/ناټو تسهیلاتو د احاطې محافظت هم چمتو کوي او د متحده ایالاتو/ناټو ځواکونو ته واک ورکوي چې "د ناټو/متحده ایالاتو تسهیلاتو دننه قرارداد شوي وسله وال امنیتي خدمات وکاروي."[224]

## افغان ملي اردو

د 2015 جون تر 30 پورې متحده ایالاتو د ANA جوړولو، روزنې، تجهیز او ټیکاو لپاره د ASFF فنډونو 36.8 میلیارد ډالر مکلف او 35.8 میلیارد ډالر مصرف کړي دي.[225]

### په دوهمه ربع کې د ANA پرسونل ډېر شوي

د قاطع ملاتړ ماموریت په وینا د 2015 مئ 20 پورې د ANA بشپړ ګومارل شوی ځواک شمېر د AAF او ملکیانو په شمول 176,762 پرسونل و.[226] دا د تېرې ربع راهیسې د ANA د 2,642 پرسونل ډېروالی دی، کله چې د 2015 فبروري ګومارل شوی نهایي ځواک شمېر 174,120 راپور شوی و. دغه دوره کې د دوهمې ربعې ډېروالی هم دی چې د 2014 د کمښتونو روند یې پای ته رسولی.[227] USFOR-A راپور ورکوي چې د دفاع وزارت د ANA د پرسونل معلومات چمتو کوي.[228] په هرصورت، ترهغه وخت پورې به د قاطع ملاتړ ماموریت ونشي کولی د دفاع وزارت د ځواک شمېرو ته اعتبار ورکړي چې افغانستان د بشري سرچینو د معلوماتو سیستمونه بشپړ او معلومات دننه کړي.[229] حتی سیګار باور لري چې شوني نده د قاطع ملاتړ ماموریت د ANA د پرسونل د شمېرو تاییدولو لپاره پرسونل او سرچینې ولري غیرله دې چې نوي سیستم ته د افغانانو لخوا داخل کړل شوي معلوماتو له مخې د راپورونو په تحلیل کولو سره یې وکړي.

پدې ربع کې د قل اردو په کچه د ANA د سرتیرو ځواک ځینې توضیحات محرم پاتې دي. سیګار به پدې اړه د دې راپور محرم ضمیمه کې راپور ورکړي.

### د افغان ملي اردو د ځواک کمیدل

پدې ربع کې د افغان ملي اردو د قل اردو او په ټیټو کچو د ځواک کمیدل محرم و. د همدې لپاره به سیګار پدغه اړه د دې راپور یوې محرم ضمیمه کې راپور ورکړي.

### د افغان ملي اردو پیاوړتیا

د 2015 جون تر 30 پورې متحده ایالاتو د افغان ملي اردو پیاوړتیا لپاره د ASFF فنډونو 14.7 میلیارد ډالر مکلف کړي او 14.3 میلیارد ډالر یې مصرف کړي دي.[230] د ASFF د پیاوړتیا تمویل خورا مهم استعمال د معاشاتو او تشویقي تادیاتو ورکړه ده؛ په نور استعمال کې د توکو لکه د مهماتو د تشې پوره کول او د سونګ توکو پیرود دی. د خواړو لپاره تمویل د 2013 دسمبر په 21 هغه مهال ودرول شو کله چې CSTC-A د دفاع وزارت لخوا پراخه درغلۍ باندې شک وکړ.[231]

**د سیګار تفتیش**

په تیر ربع کې د افغان ملي اردو پرسونل او د معاشاتو د حاضرۍ معلوماتو معتبریت او کنټرولتوب په اړه د سیګار یوه خپور شوي تفتیش موندلي چې د نوموړي معلوماتو ډاډ معتبر ندی، کنټرولونه او ځارنه ضعیف دي، او دا چې د کمپیوټر سیستمونه تلپاتې ضعفونه لري او په بشپړ ډول مدغم ندي. د نورو معلوماتو لپاره د متحده ایالاتو کانګرس ته د سیګار د 2015 اپریل درې میاشتنۍ راپور مخ 23 وګورئ.

د متحده ایالاتو کانګرس د ANDSF د روزنې، تجهیز، پیاوړي کولو او تمویل لپاره ASFF ته فنډونه مختص کوي، په بیله بیا د تسهیلاتو د ترمیم او ساختماني چارو لپاره. د امریکا دفاع وزارت اجازه لري چې ASFF افغان دولت ته د (مستقیم بودجې) مستقیم تمویل چمتو کولو لپاره وکاروي.[232] د داړ ترلاسه کولو لپاره چې د متحده ایالاتو فنډونه د ټاکل شوي مقصد لپاره کارول کیږي، CSTC-A، د دفاع وزارت او د مالیه وزارت (MOF) یو دوه اړخیز د مالي ژمني لیک لاسلیک کړی.[233] د 1394 افغان مالي کال د مالي ژمني لیک له دفاع وزارت څخه غوښتنه کوي چې د سونګ توکو مصرف او تحویلي مستند کړي. CSTC-A به په اړوند توګه د د سونګ توکو د اسنادو کفایت پراساس د بلي میاشتي سونګ توکي برابروي. د سونګ توکو نور تخصیصونه به کمیږي که چیرې د اسنادو کیفیت ښه نشي او د ټاکلي وخت په جریان کې د تفتیشونو او سمون اړوند فعالیتونه ترسره نشي.[234] د دفاع وزارت د سونګ توکو قراردادونو کې د فساد تحقیقاتو په اړه د دې برخې 142–143 مخونه وګورئ.

## د افغان ملي اردو معاشات او تشویقي تادیات

CSTC-A راپور ورکړی چې د 2015 جون تر 30 پورې متحده ایالاتو د افغان ملي اردو د معاشاتو، خواړو او تشویقي تادیاتو لپاره له 2009 مالي کال راهیسې د ASFF له لارې 2.8 میلیارد ډالر چمتو کړي دي.[235] CSTC-A راپور ورکړی چې د افغان ملي اردو د معاشاتو، انعاماتو او تشویقي تادیاتو لپاره تمویل به په راتلونکي پنځه کلونو کې په اوسط ډول په کال کې 690 میلیون ډالر وي.[236]

تشویقول یا هڅول د لوړ کیفیت سرتیرو او هوایي سرتیرو ساتلو لپاره کارول کیږي. د افغان ملي اردو سرتیري د دوی اصلي معاشاتو سربیره د بیلابیل هڅونکي تادیاتو مستحق دي. په بیلګو کې شامل دي: حرفه ایي هڅونکي تادیات (لکه هوایي چلند، روغتیا، انجینري/د چاودیدونکي توکو خنثی کول)، د خطر هڅونکي تادیات، او د دوامداره خدمت هرو درې اضافي کلونو لپاره د اوږدوالي هڅونکي تادیات.[237]

CSTC-A یادونه کړې چې تمویل د افغان ملي اردو د ګومارل شوي ځواک پرځای د مجاز ځواک 100% پراساس چمتو کیږي. په هرصورت، له مصرف څخه پاتي فنډونه د په راتلونکي کال کې د اړتیاو ملاتړ کولو لپاره بل مالي کال ته وړاندې کیږي.[238] د بریښنایی تادیاتو سیستمونو کارولو لپاره د دفاع وزارت هڅولو لپاره CSTC-A پلان لري چې یوازې هغه مجاز تشکیل بستونو لپاره 100% تمویل چمتو کړي چې په بریښنایی ډول ورته تادیات کیږي؛ د نورو بستونو لپاره به تادیات 80% تمویلیږي.[239] سربیره پردې، د افغان ملي اردو ټول پرسونل ثبتونه باید د افغان بشري سرچینو د معلوماتو مدیریت سیستم کې دننه شوي وي او ټول پرسونل باید د تشکیل بست ته ګومارل شوي وي.[240] په هرصورت، CSTC-A پلان نه لري ترهغه وخت پورې افغان ملي اردو باندې جریمه پلي کړي چې په 2016 کې یا وروسته د اوتومات تادیه سیستم چمتو نه وي.[241]

## د افغان ملي اردو تجهیزات او ټرانسپورټیشن

د 2015 جون تر 30 پورې متحده ایالاتو د افغان ملي اردو تجهیزاتو او ټرانسپورټیشن لپاره د ASFF فنډ 12.6 میلیارد ډالر مکلف او 12.4 میلیارد ډالر مصرف کړي دي.[242] لدغه فنډونو څخه ډیری یې د وسایطو، الوتکو، ارتباطي تجهیزاتو، وسلو او اړوند تجهیزاتو د پیرود لپاره استعمال شوي. پدغه کټګورۍ کې د متحده ایالاتو شاوخوا 50% تمویل د وسایطو او ټرانسپورټیشن اړوند تجهیزاتو لپاره و، لکه څنګه چې جدول 3.10 کې ښودل شوي.[243]

### د سیګار تفتیش

د سیګار یو روان تفتیش به د امریکا دفاع وزارت د ANDSF تدارکاتو، ساتنې، او د مسلکي پوښاک او انفرادي تجهیزاتو (OCIE) پیرود باندې تمرکز وکړي. د نورو معلوماتو لپاره د متحده ایالاتو کانګرس ته د سیګار د 2015 اپریل درې میاشتني راپور مخ 28 وګورئ.

جدول 3.10

**د 2015 جون تر 9 پورې د افغان ملي اردو د متحده ایالاتو تمویل شوي تجهیزاتو لګښت**

| د تجهیزاتو نوع | پیرل شوي | پیرودل شوي او افغان ملي اردو ته سپارل شوي | پیرود ته پاتي دي |
|---|---|---|---|
| وسلې | $616,737,933 | $522,336,282 | $1,700,000 |
| وسایط | 5,873,297,131 | 4,767,803,280 | TBD |
| ارتباطات | 787,857,101 | 688,157,101 | TBD |
| الوتکې | 1,091,376,104 | 649,861,508 | 441,514,596 |
| مهمات | 1,700,016,556 | 1,589,000,535 | TBD |
| د ترانسپورټیشن خدمات | 40,000,000 | 13,459,569 | 26,540,431 |
| C-IEDs | 330,656,219 | 296,489,871 | 2,700,000 |
| نور | 883,706,984 | 773,658,682 | 1,005,377 |
| **ټولټال** | **$11,323,648,028** | **$9,300,766,828** | **$473,460,404** |

یادونه: C-IED = د تعبیه شوي چاودیدونکي توکو (سړک غاړې ماین) پروړاندې. TBD = باید مشخص شي؛ مقدار دې پورې اړه لري چې څومره وران شوي او تخریب شوي تجهیزات د بدلون لپاره دي.

سرچینه: CSTC-A، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 6/15/2015.

پدې ربع کې د امریکا دفاع وزارت د تجهیزاتو ډیری کټګوریو کې د ډیروالي راپور ورکړ. د امریکا دفاع وزارت وویل چې ډیروالی لدې امله دی چې د جګړې په ډګر کې اوسني او په راتلونکې کې تخریبونه او نورو زیانونو پوښلو لپاره د تشې د ډکولو پیرود ته تر یو حد پورې اړتیا ده. په بیله بیا د نوي ځانګړي عملیاتو کنډک د تحویلۍ لګښتونه.[244] CSTC-A راپور ورکړی چې د تشې ډکولو پیرود لګښت شاوخوا 5 میلیون ډالر دی.[245] CSTC-A راپور ورکړی چې د افغان ملي اردو لپاره له 426,000 ډیرې وسلې، 104,000 د ارتباط وسایل، او 60,000 وسایط پیرل شوي دي.[246] په نورو چمتو شوي تجهیزاتو کې پوښاک، لکه یونیفارم او انفرادي تجهیزات شامل دي. هغه تجهیزات چې د افغان ملي اردو لپاره پیرل شوي او وروسته مشخص شوي چې نور ورته د ANDSF لپاره اړتیا نشته، د دفع کولو لپاره د امریکا دفاع وزارت ته لیږدول کیدی شي، وروسته له هغې چې د متحده ایالاتو کانګرس خبرتیا ورکړه، لکه څنګه چې په جدول 3.11 کې ښودل شوي.[247]

د امریکا دفاع وزیر د دفتر (OSD) د امریکا دفاع وزارت د موضوع اړوند متخصصینو یوې ډلې مشري کوي ترڅو یوه ساده او افغانانو ته مناسب د غوښتنې پربنسټ د عرضه کولو پروسه رامینځته کړي چې افغان ملي اردو او افغان ملي پولیسو ته لاره هواره کړي د توکو اړتیاوې مشخص کړي او په دغه اړتیاو بودجه ای اساس رامینځته کړي.[248] له 2002 راهیسې، ایتلاف افغانانو لپاره د تحویلیو او پرزو امر کړی او چمتو کړي (یا "برابر کړي") ترڅو د فعال عملیاتو اړتیاو پوره کولو لپاره د مناسب کچو ډاډ ترلاسه شي. د OSD په مشرۍ د ډلې په وینا، د توکو فشار د دوه ناغوښتل شوي پایلو لامل شوي:

- د افغانستان ملي یا سیمه ایزو ګودامونو کې د امرونو هیڅ ثبت نشته
- د تحویلۍ د استعمال هیڅ ثبت شتون نلري چې د راتلونکي پلان جوړولو لپاره وکارول شي[249]

د OSD په مشرۍ ډلې وړاندیزونه کړي چې افغانانو ته د غوښتنې پر بنسټ امر پروسه ولیږدول شي چې پکې به ANDSF د تحویلۍ او پرزو امرونه سپاري، په دواړه برخو تحویلۍ او ساتنه کې د لوژستیک

جدول 3.11

**د متحده ایالاتو پیرودل شوي هغه تجهیزات چې افغان ملي اردو ته ندي لیږدول شوي (میلیونونه ډالر)**

| | پاتي | د امریکا دفاع وزارت زیرمې ته |
|---|---|---|
| وسایط | $7.9 | $5.4 |
| د سرتیرو اړوند توکي | 9.0 | |
| HMMWVs | 3.5 | |
| الوتکې | 136.0 | 3.1 |
| د دفتر تجهیزات | | 1.7 |
| کرین/فورک لیفټ | 1.1 | |
| د بدن زرې | | 0.3 |
| وسلې | | 1.1 |
| GPS/NVG | | 0.1 |
| ارتباطيتجهیزات | | 4.4 |
| **ټولټال** | **$157.4** | **$16.1** |

یادونه: د ډالر مقدارونه غیر اعشاري شوي. دمخه تر ملکیت لاندې موجود C-208s د الوتکې روزنې یو مناسب ځای ناستی شو، چې د امریکا دفاع وزارت سټاک ته د شپږ C-182 الوتکو د لیږدولو لامل شو. د سرتیرو اړوند توکي HMMWV یا کوم بل وسایط ته وراضافه شوي شیان دي چې یوه سرتیري ته اجازه ورکوي د یولړ خوندیتوب سره د وسایط چت حصار کې ودریږي. HMMWV = د لوړ تحرک څو مقصده ټایر لرونکي وسایط. GPS/NVG = د موقعیت موندلو نړیوال سیستم او د شپې لخوا د لید ګوګل یا عینکو توکي. د 2,134,785 ډالرو په ارزښت د ارتباطي تجهیزاتو بدلون معلوم ندی.

سرچینه: CSTC-A، د سیګار د معلوماتو غوښتنو ته ځوابونه، 1/14/2015، 3/24/2015 او 6/9/2015؛ RS، د سیګار وضاحت غوښتنې ته ځواب، 2/3/2015؛ OSD-P، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 3/27/2015.

مسلکي ځواک رامینځته کړي، په تشکیل کې د لوژستیک لازمي بستونو وراضافه کولو لپاره بدلون راولي، د ANDSF مشر او مینځنی کچې مشرانو لپاره د لوژستیک مدیریت روزنه وړاندې کړي په بیله بیا د لوژستیک افسرانو او د توکو مدیرانو لپاره.[250]

د OSD په مشری ډله پدې لټه کې هم ده چې د افغانانو لپاره مناسب دایمي مدیریت جوړښت او پروسه رامینځته کړي چیرې چې دوی وکولی شي د ANDSF لپاره اړین تحویلیو او پرزو وړاندوینه وکړي، بودجه برابر کړي او اداره یې کړي.[251] د ANDSF اوسنی کمپیوټر سیستم د لوژستیک ځینې مهم فعالیتونه نه ترسره کوي؛ چې تر یو حد پورې دا پخپله تشریح کوي چې ولې ANDSF په متحده ایالاتو او ایتلاف ځواکونو او قراردادیانو باندې تکیه کولو ته دوام ورکوي. د OSD په مشری ډلې ډیری پرمختګونه وړاندیز کړي لکه د تولو پرزو د یوه کتلاګ ساتل، د دواړه سیمه ایزو ډیپوګانو (د تحویلی ملي ګودامونو ته) او د تحویلی ملي ګودامونو (عرضه کونکو ته) لپاره د بیا امر کولو کچو په اوتومات ډول محاسبه کول، د دې تعقیب کول چې د توکو رارسیدل کله اټکل شوي، او د توکو د رسید ثبتولو لپاره د لاسي سکینرو کارول.[252] USFOR-A راپور ورکړی چې د کمپیوټر سافټویر بدلونونه د پرمختګ په حال کې دي، د جولای په میاشت کې د ازمولو او د 2015 اګست په میاشت کې د سیستم نصبولو پلان سره.[253] په هرصورت، د OSD په مشری ډله راپور ورکوي د کمپیوټر موجود سیستم نشي کولی په مناسب ډول نور اړین فعالیت ملاتړ کړي او د ANDSF لپاره په راتلونکي کې د لانور قوي سیستم وړاندیز کوي.[254]

د OSD په مشری ډلې د کمپیوټر هارډویر او سافټویر پرمختللي کولو، روزنې او د ایتلاف مشاورینو لګښت د 2015 مالي کال – 2020 مالي کال په شپږ کلونو موده کې 16.2 میلیون ډالر اټکل کړی دی.[255]

د 1394 افغان مالي کال لپاره د دفاع وزارت ته د فنډونو چمتو کولو مالي ژمنې لیک له دفاع وزارت غوښتنه کوي د هغه وسایط شمیره او ډولونه مشخص کړي چې نوموړی وزارت ورته اړتیا لري، داډ وړاندې کړي چې د معیاري کړنو په تعقیب کولو سره ساتنه ترسره کیږي، او داډ وړاندې کړي چې وسایط د ټاکل شوي مقصد لپاره کارول کیږي مخکې لدې چې CSTC-A د اضافي وسایط تمویل چمتو کړي.[256]

## د افغان ملي اردو زیربنا

د 2015 جون تر 30 پورې متحده ایالاتو د افغان ملي اردو زیربنا لکه د نظامي قوماندانیو، ښوونځیو، بارکونو، پولیس پوستو جوړښتونو، او هوایی ډګرونو په بیله بیا د سرکونو لپاره د ASFF فنډ 6 میلیارد ډالر مکلف او 5.6 میلیارد ډالر مصرف کړي دي.[257]

د CSTC-A په وینا، د 2015 مئ تر 31 پورې متحده ایالاتو د 5 میلیارد ډالرو په ارزښت د زیربنا 366 پروژې بشپړې کړي او د 397.4 میلیون ډالرو په ارزښت نورې 16 پروژې رواني دي.[258]

پدې ربع کې د افغان ملي اردو ترټولو لوی زیربنا روانه پروژه په کنړ ولایت کې د 201 قل اردو د 2مې لیوا لپاره د لیوا ګارنیزون جوړول دي (د 115.7 میلیون ډالرو په ارزښت)، او د دفاع وزارت د قوماندانیو او ګارنیزونونو دریمه مرحله (چې لګښت یې له 58.6 میلیون ډالرو څخه 61.3 میلیون ډالرو ته لوړ شوی)؛ د دغه پروژو بله برخه د مارشال فهیم ملي دفاع پوهنتون دوهمه مرحله ده (72.2 میلیون ډالر).[259] سربیره پردې، پدې ربع کې د 72.2 میلیون ډالرو په ارزښت یوه پروژه ګومارل شوې، او نهه

### د سیګار تفتیش

د سیګار یو روان تفتیش به د افغان ملي اردو تخنیکي تجهیزاتو د ساتني برنامې (A-TEMP) سره د امریکا دفاع وزارت ملاتړ بیاکتنه وکړي. په ځانګړي توګه، سیګار پلان لري مشخص کړي (1) ترکوم حد پورې ANA A-TEMP خپل ټاکلي اهداف ترلاسه کوي، او (2) ایا د ANA A-TEMP قرارداد مهم اړتیاوې پوره کیږي که نه.



**په قرغه، افغانستان** کې د مارشال فهيم ملي دفاع پوهنتون (د CSTC-A عکس)

پروژې د 228.1 ميليون ډالرو په لګښت بشپړې شوې، پشمول د نيمروز ولايت کې د 215 قل اردو د 2مې ليوا ګارنيزون (78.7 ميليون ډالر).[260]

CSTC-A راپور ورکړې چې د پلان په مرحله کې 17 پروژو (105.3 ميليون ډالر) څخه څلور پروژې (30.1 ميليون ډالر) د ښځينه و د روزنې، خواړو، او ژوند کولو تسهيلاتو د جوړولو لپاره دي.[261]

د CSTC-A په وينا، د افغان ملي اردو زيربنا لپاره د 2015 مالي کال څخه تر د 2019 مالي کال پورې د وړاندوينه شوې حفظ او مراقبت (O&M)، پياوړتيا، ترميم او کوچني ساختماني لګښتونه (د هرې پروژې لپاره له 750,000 ډالرو څخه لږ) په کال کې 228 ميليون ډالر دي. افغان ملي اردو د نوموړي تسهيلاتو د ساتنې لپاره 3,100 بستونه مجاز کړي دي.[262] په يوه کال کې د ټولټال 943 ميليون ډالرو پنځه کالو لپاره د متحده ايالاتو د تمويل 188.6 ميليون ډالر د افغان ملي اردو 22 تسهيلاتو لپاره تمويل چمتو کوي.[263] متحده ايالات د اضافي تسهيلاتو ساتنې لپاره تمويل نه کوي (هغه تسهيلات چې CSTC-A ټاکلي افغان دولت يې بايد د افغان ملي اردو څخه جلا کړي).[264]

د 1394 مالي کال د دفاع وزارت د مالي ژمنې ليک له افغان دولت څخه غوښتنه کوي چې CSTC-A ته د ليږد او پياوړتيا يو پلان چمتو کړي، پشمول د متحده ايالاتو تمويل سره جوړ شوي تسهيلاتو او افغان دولت ته سپارل شوي تسهيلاتو لپاره د زيربنا امنيت.[265] CSTC-A يو پيښ ليک لاسته راوړی مګر موندلي يې دي چې پلان مناسب ندی او 29 ميليون ډالر يې ايسار کړي ترڅو د منلو وړ پلان رامينځته کړل شي.[266]

## د افغان ملي اردو او د دفاع وزارت روزنه او عمليات

د 2015 جون تر 30 پورې متحده ايالاتو د افغان ملي اردو او دفاع وزارت عملياتو او روزنې لپاره د ASFF فنډ 3.5 ميليارد ډالر مکلف او مصرف کړي دي.[267]

CSTC-A د متحده ايالاتو تمويل شوي 28 روان تخنيکي روزنې برنامو راپور ورکړی.[268] سربيره پردې، USFOR-A د مارشال فهيم ملي دفاع پوهنتون کې د روزنې، مشورې او د افغان ملي اردو د

روزني او تعليم قوماندانۍ سره مرسته کولو لپاره د دوه قراردادونو راپور ورکړی چې له قاطع ملاتړ ماموريت څخه غوښتنه کوي د قراردادي فعاليت مياشتنۍ څارنه ترسره او راپور يې ورکړي.[269] د متحده ايالاتو تمويل شوي روزني قراردادونو کي څانګړي عمليات، د سړک غاړي ماينونو پروړاندي مبارزه او خنثی کول، او د استخباراتو روزنه شامل دي.[270]

## افغان هوايي ځواک او د ځانګړي ماموريت قطعه

متحده ايالاتو په AAF کې د پام وړ پانګونه کړې. CSTC-A راپور ورکړی چې د FY 2010 او FY 2015 ترمینځ متحده ايالاتو د AAF ملاتړ او پراختيا لپاره له 2.2 ميليارد ډالرو ډير مکلف کړي، پشمول د تجهيزاتو او الوتکو لپاره 930 ميليون ډالر. دا هغه شميرو ته تازه معلومات دي چې سيګار په تيرې ربع کې راپور ورکړي و، کوم چې د پيلي بودجې د ارقامو تاييد و.[271] په FY 2015 کې، د امريکا دفاع وزارت د AAF لپاره د تجهيزاتو او الوتکو لپاره د 21 ميليون ډالرو پشمول د 925 ميليون ډالرو څخه ډيرو غوښتنه کړې. په هرصورت، د غوښتل شوي تمويل ډيرې برخه د پياوړتيا او روزني لپاره ده.[272]

د USFOR-A په وينا، پدې ربع کې د AAF الوتکو ليست کې شامل دي:

- 12 د Mi-35 چورلکي
- 56 د Mi-17 چورلکي
- 18 د MD-530 چورلکي
- 26 د C-208 الوتکي
- 4 د C-130 الوتکي[273]

سربيره پردي، 20 د A-29 سوپر توکانوس، د ترهګرۍ پروړاندي مبارزې، نږدي هوايي ملاتړ، او هوايي کشف لپاره د سپک بريد الوتکي پيرودل شوي مګر تر دې دمه ندي سپارل شوي.[274]

USFOR-A ارزوي چې د AAF د Mi-35 بريد چورلکو تولګه زړيږي او پلان لري د A-29 سوپر توکانوس تر رارسيدو پورې د وسله لرونکي MD-530 چورلکو تولګې ځای پر ځای کولو له لارې د هوايي بريد ملاتړ لوړ کړي.[275] د تيرې ربعې په پای کې د MD-530 لومړی چورلکې چې ځينې يې په وسلو سمبال او ځينې نه وې AAF ته وسپارل شوې.[276] پدې ربع کې، د MD-530 وسله وال تنظيم لپاره د پيلوټانو چمتو کولو لپاره روزنه دوام لري.[277] سربيره پردې، د امريکا دفاع وزارت راپور ورکړی په متحده ايالاتو کې د A-29 سوپر تيکانوس افغان پيلوټانو روزنه دوام لري. لومړی تولګی به د دسمبر په مياشت کې فارغ شي؛ چې د 2015 څلورمې ربعې کې د A-29 سوپر توکانوس لومړی تحويل سره ترتيب شوی.[278]

USFOR-A راپور ورکوي چې د قاطع ملاتړ ماموريت د روزني، مشورې، او مرستي قوماندهـ هوايي (TAAC-Air) د Mi-17 ځينې الوتکو ته د راکټونو وراضافه کولو شونتيا په اړه تحقيق کوي. د Mi-17 نسخه 5 د روسيه ساخت S-8 راکټ ويشتلو لپاره ډيزاين شوی. TAAC-Air دا مهال د اردو بهرني پلور پروسې له لارې د S-8 راکټي اخلي. په هرصورت، دا پيرود په قازقستان کې د روسيه قوي ـاحتمالي اغيز له امله د مداخلې سره مخ دی، د عرضه کونکي په سټاک کې دننه راکټونه.[279] که چيرې دغه راکټونه لاسته رانه ورل شي، نو د S-8 راکټونه به د کون يوه اروپايي ملګري هيواد څخه وپيرل شي.[280]

### د سيګار تفتيش

سيګار د متحده ايالاتو تمويل شوي د دفاع وزارت د قوماندانيو د ساختماني چارو يوه روانه پلټنه لري ترڅو مشخص کړي چې ايا ساختماني چارې د قرارداد اړتياو سره په مطابقت کې بشپړيږي او د قوماندانيو د استعمال لاندې برخې په سمه توګه ساتل کيږي او کارول کيږي.

> ”موږ اړتيا لرو نور سرتيري ملاتړ کړو، هرڅومره ژر چې امکان ولري دوی له يو ځای بل ځای ته بدل کړو، دوی جګړې ته ژر چمتو کړو. د شمال څخه سهيل ته د چورلکو په واسطه د کماندو انتقال به ورځې ونيسي، مګر د C-130 په واسطه به دا يوازې يو څو ساعتونه وخت ونيسي.“
>
> — د افغان هوايي ځواک *C-130* پيلوټ تورن محمد عظيمي

سرچينه: د دفاع ترئ، ”متحده ايالات افغان هوايي ځواک ته C-130H هرکيلوس ورکوي،“ 6/23/2015.

په 2014 کې پیل شوی، TAAC-Air د دواړه افغان ملي اردو او AAF پرسونل لپاره د افغان تاکتیکي هوایی همغږۍ (ATAC) روزنه پیل کړې. ATACs د الوتکې او ځمکني ځواکونو سره د مستقیم ارتباط له لارې د AAF الوتکو په مدغم کولو سره د ځمکني ځواک قوماندان ملاتړ لپاره د محاربې ډګر کې عملیات کوي. د ATACs پیلي کادر د تیر 2014 دوبي کې روزنه بشپړه کړه او د نوي ATACs روزنه یې د 2014 نومبر کې پیل کړه. د ATACs ماموریت کې د مرستې لپاره TAAC-Air د هریس 540 تاکتیکي راډیوګانې پیرلې. په تیره میاشت کې افغان هریس فرعي قراردادیانو د راډیوګانو د کارولو لپاره د ATACs انتخاب لپاره د کارونکي متمرکز کورس ښوونه پیل کړه.[281]

د کورنیو چارو وزارت، د دفاع وزارت او د ملي امنیت ریاست مشرانو په 2014 مئ 14 کې د ځانګړي ماموریت قطعې (SMW) هوایی امر لاسلیک کړ چې پکې د نوي ګډ قوماندې او کنټرول همغږۍ مرکز (JCCC) رامینځته کول په ګوته شوي ترڅو د SMW لومړیتوب ماموریتونه اسان کړي. دواړه د دفاع او کورنیو چارو وزارتونو د ځانګړي عملیاتو ځواکونه به JCCC کې د ارتباط افسران ولري. AAF به SMW ته پرسونل، ګومارنه او نور اداري (غیرعملیاتي) ملاتړ چمتو کړي. د SMW قوماندان د انتظار په حالت کې عملیاتو او د ادغام اړتیاو او لومړیتوبونو په اړه غږیدو لپاره په هره اونۍ کې د ځانګړي عملیاتو قطعې مشرانو سره لیدنه کوي.[282] اوسمهال، د SMW ټول 456 پرسونل د دفاع وزارت غړي دي.[283]

د CSTC-A په وینا، د SMW ټولګه د اطلاعاتو، څارنې، او کشف لپاره د Mi-17 چورلکو او PC-12 توربین لرونکي الوتکو څخه جوړه ده چې ټولټال 48 الوتکې کیږي.[284] د NSOCC-A په وینا، افغانان اوسمهال د Mi-17 ټولګې لپاره مهالویش شوي ساتنې شاوخوا 15% ترسره کوي. د ټولو PC-12 ساتنه د دریمې ډلې قراردادیانو لخوا ترسره کیږي. د 2015 جولای کې، د انګلسي ژبې روزنو تکمیل وروسته 10 افغان زده کونکي د PC-12 ساتنې روزنې لپاره ټاکل شوي و؛ د Mi-17 او PC-12 میخانیکي کارمندانو بشپړه روزنه 60 میاشتې وخت نیسي. د ساتنې او ترمیم لپاره د SMW بشپړې وړتیا ترلاسه کولو نیټه د 2020 دوبی دی.[285]

د راتلونکې پنځه کلونو لپاره به د SMW تمویل د ASFF او د دفاع وزارت د تریاکو سره مبارزې دفتر (OSD-CN) ترکیب څخه وي. دا د ASFF تمویل ته په لویو ټکو تر 60% برنامې تفکیک دی او OSD-CN به یې پاتې 40% برخه وي. SMW په FY 2015 کې د تریاکو سره مبارزې 15 ماموریتونه ترسره کړي، یا د SMW د ماموریتونو ټولټال 1%.[286]

**کله چې AAF په ګوته کړه د روزنې لپاره دمخه شته الوتکې مناسب دي، د T-182 شپږ الوتکې چې په 2011 کال کې د پیرود پرمهال یې 3.1 میلیون ډالر لګښت درلود، د امریکا دفاع وزارت سټاک ته انتقال شوې. د امریکا دفاع وزارت اعلان وکړ چې نوموړې الوتکې د "اضافي دفاعي توکو" په حیث ترتیب شوي او د فدرال هوایی چلند ادارې له سره بریالي تصدیق وروسته به ملکي هوایی ګزمې ته ولیږدول شي.**

سرچینه: OSD – محاسب، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 6/24/2015؛ OSD-P، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 3/27/2015.

## افغان ملي پولیس

د 2015 جون تر 30 پورې متحده ایالاتو د افغان ملي پولیسو جوړولو، تجهیز، روزنې او پیاوړتیا لپاره د ASFF فنډونو 17.9 میلیارد ډالرو مکلف او 17.3 میلیارد ډالر مصرف کړي دي.[287]

### د افغان ملي پولیسو د ځواک راپور ورکول د معلوماتو د اعتبار په اړه د پوښتنو راپورته کولو ته دوام ورکوي

سیګار له اوږدې مودې راهیسې د ډیری ولایلو له امله د افغان امنیتي پرسونل شمیرو اعتبار په اړه پوښتنې کړې (د متحده ایالاتو کانګرس ته د سیګار د 2015 اپریل درې میاشتنې راپور 3–15 مخونو کې

”د ANSF ترپوښتنې لاندې شميرو په افغانستان کې جګړه سخته کړې“). د افغان ملي پوليسو د پرسونل ځواک معلوماتو وروستي راپور هيڅ کومه داسې نښه نه په ګوته کوي چې نوموړي معلومات دې نور معتبر شوي وي.

په دې ربع کې USFOR-A په پيلې ډول راپور ورکړی چې د افغان ملي پوليسو ټولټال پرسونل 160,250 دي. په هرصورت، د دې راپور يوې ارزونې پيښ ليک ته په ځواب کې USFOR-A د افغان ملي پوليسو شمير 155,182 ته اصلاح کړ.[288] د USFOR-A په وينا، يوازې AUP، ABP، او افغان د عامه نظم ملي پوليس (ANCOP) ـ په بيله بيا د کورنيو چارو وزارت قوماندانيو او نهادي ملاتړ (MOI HQ او IS) ته ګومارل شوي پرسونل د افغان ملي پوليس ګومارل شوي ځواک شمير کې شامل کړل شوي دي.[289] د سيګار تحليل[290] وړانديز کوي چې د اصلاح شوي ټولټال څخه د افغان ملي پوليسو ريزرف، زده کونکي او ”ناپيژندل شوي“ پرسونل کټګورۍ ايستل شوي دي.[291] د افغان ملي پوليسو د 155,182 ځواک شمير له تيرې ربعې راهيسې 497 ډير او د 157,000 شمير مجاز ځواک څخه 1,818 ټيټ دي، لکه څنګه چې په جدول 3.12 کې ښودل شوي.[292]

دې ربع کې يوبل بدلون ترسترګو شو چې څنګه د افغان ملي پوليسو شميرې محاسبه شوي وي. په تير ربع کې، د جنايي تحقيقاتو رياست (CID) ته ګومارل شوي پرسونل شمير د لومړي ځل لپاره راپور شوی و. په هرصورت، MOI HQ او IS ته د ګومارل شوي پرسونل شمير نه و راپور شوی. پدې ربع کې MOI HQ او IS او CID ته ګومارل شوي پرسونل شميره په يوه کټګورۍ کې راپور شوي.[293]

د ارزونې نظرياتو کې USFOR-A يادونه کړې چې د افغان ملي پوليسو ګومارل شوي ځواک شميره کې زده کونکي او د انتظار په حالت کې پرسونل ندي شامل، مګر په يوه بل نظر کې يې ويلي چې د ”NISTA پرسونل“ (کوم چې د تعريف له مخې زده کونکي او روزل کيدونکي شامل دي) د ځواک

جدول 3.12

**د افغان ملي پوليسو ځواک، درې مياشتنی بدلون**

| د افغان ملي پوليسو قطعهې | مجاز: ربع1 2015 | مجاز: ربع2 2015 | مجاز: درې مياشتنی بدلون | ګومارل شوی: ربع1 2015 | ګومارل شوی: ربع2 2015 | ګومارل شوی: درې مياشتنی بدلون |
|---|---|---|---|---|---|---|
| AUP | 104,695 | 93,045 | (11,650) | 100,034 | 95,389 | (4,645) |
| ABP | 22,990 | 22,742 | (248) | 21,953 | 22,021 | 68 |
| ANCOP | 15,223 | 15,192 | (31) | 15,010 | 15,017 | 7 |
| MOI HQs & IS | – | 27,077 | 27,077 | – | 22,827 | 22,827 |
| CID[a] | 11,592 | – | (11,592) | 10,847 | – | (10,847) |
| NISTA | 2,500 | – | (2,500) | 3,539 | – | (3,539) |
| د GDoP رزيرف[b] | – | – | – | 850 | – | (850) |
| د مجاز ځواک شميرې سربيره ناټاکل شوی پرسونل | – | – | – | 2,452 | – | (2,452) |
| د افغان ملي پوليسو فرعي ټولټال سره بيرته يوځای کولو ته اړ | – | – | – | – | (72) | (72) |
| **د افغان ملي پوليسو ټولټال (د راپور له مخې)** | **157,000** | **158,056** | **1,056** | **154,685** | **155,182** | **497** |

يادونه: ربعې د تقويم کال دی؛ د Q1 2015 معلومات تر 2/2015 پورې؛ د Q2 2015 معلومات تر 5/2015 پورې. AUP = افغان يونيفارم پوليس؛ ABP = افغان سرحدي پوليس؛ ANCOP = افغان د عامه نظم ملي پوليس؛ CID = د جنايي تحقيقاتو رياست؛ NISTA = د روزنې لپاره په خدمت کې ندي؛ GDoP = د پيژند عمومي رياست؛ IS = د نهادي ملاتړ پرسونل.

[a] د Q2 CID پرسونل MOI HQs & IS کې شامل دي.

[b] هغه پرسونل چې ګومارنې ته انتظار دي.

سرچينه: USFOR-A، د سيګار د معلوماتو غوښتنو ته ځوابونه، 3/24/2015 او 6/29/2015؛ USFOR-A، د سيګار ارزونې ته ځواب، 4/10/2015 او

پای شمیره تولټال کې محاسبه شوي.[294] دا ترسترګو کیدونکي متناقص نظریات د ANDSF ځواک کې د وضاحت رواني شونتیا نه درلودل اضافه کوي.

که څه هم د افغان ملي پولیسو ځواک راپور شوي شمیر کې ملکیان شامل نه و، د 155,182 اوسني پرسونل سربیره 71 بستونه له نظامي څخه ملکي ته د اوښتو په حال کې ول. CSTC-A دغه بستونه د دوه کالو انتقال دوره کې تمویلوي. د دغه دورې په پای کې، به د تشکیل څخه نظامي بستونه حذف او ملکي بستونه وراضافه شي.[295]

پدې ربع کې USFOR-A د کورنیو چارو وزارت د قوماندانیو پرسونل د افغان ملي پولیسو د ځواک کمیدو کچه کې شامل کړي دي، چیرې چې د ځواک کمیدو کچې په تیره ربع کې یوازې د ABP، AUP او ANCOP پرسونل پوښلي و.[296] د افغان ملي پولیسو بشپړ میاشتني ځواک کمیدل د تیرو 12 میاشتو څخه د 10 میاشتو لپاره د 2% ټیټ اوسط شوي.[297] د 2015 مئ په جریان کې، د افغان ملي پولیسو 880 پرسونل د حاضرۍ څخه و ایستل شول، چې په فبروري کې د ایستل شوي 1,844 پرسونل څخه کم دي. د ورته دورې په جریان کې د افغان ملي پولیسو 269 پرسونل په جګړه کې هم ووژل شو، چې په فبروري کې د 208 نفرو مرګ ژوبلې په پرتله ډیر شوي.[298]

لکه د افغان ملي اردو د ځواک شمیر راپور ته ورته، USFOR-A راپور ورکوي چې تر هغه وخت پورې چې افغان دولت خپل د بشري سرچینو د معلوماتو سیستمونه نصب او معلومات پکې دننه نه کړي، د قاطع ملاتړ ماموریت به ونشي کولی چې د ځواک شمیرو ته اعتبار ورکړي.[299] په هرصورت، حتی که د معلوماتو نوی سیستم نصب هم شي، سیګار باور لري چې شوني نده د قاطع ملاتړ ماموریت د ANP د پرسونل د شمیرو تاییدولو لپاره پرسونل او سرچیني ولري غیرلدې چې نوي سیستم ته د افغانانو لخوا داخل کړل شوي معلوماتو له مخې د راپورونو په تحلیل کولو سره یې وکړي.

## د افغان ملي پولیسو پیاوړتیا

د 2015 جون تر 30 پورې متحده ایالاتو د افغان ملي پولیسو پیاوړتیا لپاره د ASFF فندونو 7.2 میلیارد ډالر مکلف او 7 میلیارد ډالر مصرف کړي دي.[300] پدې کې د افغانستان لپاره د قانون او نظم وجهي صندوق (LOTFA) سره مرستې هم شامل دي، چې د افغان ملي پولیسو معاشات ورکوي. د 2013 دسمبر 21 راهیسې متحده ایالاتو نور د خوارو لګښتونه ندي ورکړي وروسته له هغې چې CSTC-A د کورنیو چارو وزارت لخوا پراخه درغلۍ شکونه پیدا کړل.[301]

## د افغان ملي پولیسو معاشات

د 2014 دسمبر تر 31 پورې متحده ایالاتو د افغان ملي پولیسو معاشاتو، خوارو او تشویقي تادیاتو (د هغه پرسونل لپاره اضافي تادیات چې په جګړه کې بوخت دي یا په ځانګړي ساحو کې دي) لپاره د LOTFA له لارې 1.5 میلیارد ډالر ورکړي.[302]

د ملګرو ملتونو د پراختیا برنامه (UNDP) د LOTFA برنامې اداره کولو لپاره د کلني مصرفونو اټکل له مخې د ډونر د مرستو څخه 4% چې له 20 میلیون ډالرو ډیرې کیږي، اخلي.[303] د CSTC-A په وینا، UNDP د افغان ملي پولیسو د ځواک مجاز شمیر 157,000 پرسونل لپاره د یوه ډالر په 56 افغانیو د تبادلې نرخ له مخې د 508.4 میلیون ډالرو کلني نړیوال مصارف اټکل کوي. LOTFA ته د معاشاتو، تشویقي تادیاتو، او د UNDP د مدیریت فیس تمویل لپاره متحده ایالاتو د تقویمي کال 2015 لپاره 112 میلیون ډالر ورکړي.[304] په هرصورت، CSTC-A راپور ورکوي چې د LOTFA لپاره د متحده ایالاتو

اړین تمویل به راتلونکي پنځه کلونو کي د لوړ 615.8 میلیون ډالرو اندازې څخه 502 میلیون ډالرو ته ټیټ شي، په کلني ډول د 570.3 میلیون ډالرو اوسط لپاره.[305]

د 1394 افغان مالي کال لپاره کورنیو چارو وزارت ته د CSTC-A مالي ژمني لیک کي د فنډونو بریښنایی انتقال له لارې د افغان ملي پولیسو 100% معاشاتو چمتو کولو لپاره د کورنیو چارو وزارت لپاره د LOTFA لازمي مشري کونکي کمیټه شامل ده.[306] د کورنیو چارو وزارت د بریښنایی تادیاتو سیستمونو کارولو ته هڅوولو لپاره، CSTC-A پلان لري یوازې د تشکیل هغه مجاز بستونو ته تمویل چمتو کړي چي بریښنایی تادیات ورته کیږي.[307] په هرصورت، CSTC-A پلان نلري تر هغه وخت پورې جریمه پلي کړي چي د 2016 نیمایی پورې یا وروسته د افغان ملي پولیسو استعمال لپاره د تادیه اوتومات سیستم چمتو نشي.[308]

د جون په 30 د کورنیو چارو وزارت اعلان وکړ چي LOTFA به د 18 میاشتو لپاره وغزول شي، وروسته له دغه مودې به د کورنیو چارو وزارت د پولیسو د معاشاتو د تادیه کولو بشپړ مدیریت پخپل لاس کي واخلي.[309]

## د افغان ملي پولیسو تجهیزات او ترانسپورټیشن

د 2015 جون تر 30 پورې متحده ایالاتو د افغان ملي پولیسو د تجهیزاتو او ترانسپورټیشن لپاره د ASFF فنډونو 4.1 میلیارد ډالر مکلف او 3.8 میلیارد ډالر مصرف کړي دي.[310] لدغه فنډونو ډیری یې د وسایطو، الوتکو، مهماتو، وسلو، او ارتباطي تجهیزاتو د پیرود لپاره استعمال شوي، لکه څنګه چي په جدول 3.13 کي ښودل شوي.[311] پدې کټګورۍ کي ډیری فنډ، له 51% ډیر د وسایطو او د وسایطو اړوند تجهیزاتو پیرودلو لپاره کارول شوی.[312]

د افغان ملي پولیسو لپاره پیرودل شوي تجهیزاتو د انواع مثالونو کي پیچلي توکي شامل دي لکه د لوړ تحرک څو مقصده ټایر لرونکي وسایط (HMMWV)؛ د شپې لخوا د لید وسیلې؛ د موقعیت موندلو نړیوال سیستمونه؛ د چاودیدونکي توکو د خنثی کولو تجهیزات. په عادي توکو کي امبولانسونه، پرزې، تفنګچي، ماشینداري، رادیوګاني، پوښاک، د غابښونو او طبي تجهیزات، او د ترانسپورټیشن خدمات شامل دي.[313] CSTC-A راپور ورکړی چي د افغان ملي پولیسو لپاره له 575,000 څخه ډیرې وسلې،

جدول 3.13

**د 2015 جون تر 9 پورې د افغان ملي پولیسو د متحده ایالاتو تمویل شوي تجهیزاتو لګښت**

| د تجهیزاتو نوع | پیرودل شوي | پیرودل شوي او افغان ملي پولیسو ته سپارل شوي | پیرود ته په تمه دي |
|---|---|---|---|
| وسلې | $273,177,145 | $205,652,818 | $163,225 |
| وسایط | 2,411,872,719 | 2,048,056,127 | TBD |
| ارتباطات | 212,294,780 | 212,294,780 | TBD |
| الوتکې | 766,950,000 | 692,950,000 | 74,000,000 |
| مهمات | 667,741,562 | 351,748,913 | TBD |
| د ترانسپورټیشن خدمات | 20,026,263 | 7,770,471 | 12,255,792 |
| C-IEDs | 123,454,216 | 86,447,721 | 0 |
| نور | 243,097,382 | 91,438,300 | 14,412,160 |
| **ټولټال** | **$4,718,614,067** | **$3,696,359,130** | **$100,831,177** |

یادونه: C-IED = د تعبیه شوي چاودیدونکي توکو (سرک غاړي ماین) پروراندي. TBD = باید مشخص شي؛ مقدار دې پورې اړه لري چي څومره وران شوي او تخریب شوي تجهیزات د بدلون لپاره دي.

سرچینه: CSTC-A، د سیګار د معلوماتو غوښتني ته ځواب، 6/9/2015.

108,000 ارتباطي وسایل، او 54,000 وسایط پیرودل شوي دي.[314] د امریکا دفاع وزارت وویل چې خورا لوی ډیروالی د جګړې په ډګر کې د اوسني تخریب شوي او راتلونکي کې زیانونو د تشې ډکولو لپاره اړین پیرود له امله و.

د مالي ژمني لیک چې د کورنیو چارو وزارت ته د 1394 مالي کال لپاره د ASFF فنډونه چمتو کوي له کورنیو چارو وزارت څخه غوښتنه کوي چې د هغه وسایطو نوع او شمیرې مشخص کړي چې نوموړی وزارت ورته اړتیا لري، ډاډ ورلاندې کړي چې د معیاري کړنو په تعقیب کولو سره ساتنه ترسره کیږي، او دا ډاډ ورلاندې کړي چې وسایط د ټاکلي هدف لپاره کارول کیږي مخکې لدې چې CSTC-A د وسایطو اضافي تمویل وکړي.[315]

هغه تجهیزات چې د افغان ملي پولیسو لپاره پیرل شوي او وروسته مشخص شوي چې نور ورته د ANDSF لپاره اړتیا نشته، د دفع کولو لپاره د امریکا دفاع وزارت ته لیږدول کیدی شي، وروسته له هغې چې د متحده ایالاتو کانګرس خبرتیا ورکړه، لکه څنګه چې په جدول 3.14 کې ښودل شوي.[316]

د CSTC-A د کاروني نظارت (EUM) برخه د متحده ایالاتو هغه ځانګړي تجهیزات لیست کوي چې افغانانو ته د سپارلو وروسته یې نظارت کول اړین وي، په بیله بیا د ساحې د خوندي کولو تسهیلاتو پلټنې هم کوي. CSTC-A راپور ورکوي چې د EUM پرسونل یې په هیواد کې د لاسرسي وړ سیمو ته سفرونه کوي ترڅو د EUM پلټنې ترسره کړي او پدې مالي کال کې یې د 53 EUM ماموریتونه ترسره کړي دي. په هرصورت، د امنیتي اندیښنو او موقعیتونو ته د لاسرسي وړتیا نه درلودو له امله دوی نیور میتودونه ارزوي لکه دا چې افغانان تجهیزات خوندي ساحو ته راوړي او یا ځایی قراردادي کارمندان ولري چې لیستونه ترتیب او د سایټ اړوند امنیت پلټنې وکړي.[317]

## د افغان ملي پولیسو زیربنا

د 2015 جون تر 30 پورې متحده ایالاتو د افغان ملي پولیسو زیربنا لپاره د ASFF فنډونو 3.1 میلیارد ډالر مکلف او 2.9 میلیارد ډالر مصرف کړي دي.[318]

د CSTC-A په وینا، د 2015 مئ تر 31 پورې متحده ایالاتو د زیربنا 723 پروژې بشپړې کړي (د 3.5 میلیارد ډالرو په ارزښت) او اوه نورې روانې پروژې لري (د 89.4 میلیون ډالرو په ارزښت).[319]

د افغان ملي پولیسو د زیربنا ترټولو لوی روانې پروژې د کورنیو چارو وزارت د قوماندانیو دریمه مرحله (55.1 میلیون ډالر)، په پکتیا ولایت کې د ANCOP ولایتي قوماندانیو ودانۍ (25 میلیون ډالر)، او د کورنیو چارو وزارت قوماندانیو کې د افغان ملي پولیسو د قوماندې مرکز او بارکونه (24.1 میلیون ډالر).[320]

پداسې حال کې چې پدې کال کې نوي قراردادونو ګومارنه نه وه، د 119.7 میلیون ډالرو په لګښت 17 پروژې بشپړې شوي.[321] CSTC-A راپور ورکوي چې 15 پروژې (62.3 میلیون ډالر) د پلان کولو مرحله کې دي، 14 پروژې (61.3 میلیون ډالر) د ښځینه و د روزنې، خواوړ، او اوسیدو تسهیلاتو لپاره دي.[322]

د CSTC-A په وینا، د افغان ملي پولیسو زیربنا لپاره د 2015 مالي کال څخه تر د 2019 مالي کال پورې د وړاندوینه شوي حفظ او مراقبت (O&M)، پیاوړتیا، ترمیم او کوچني ساختماني لګښتونه (د هرې پروژې لپاره له 750,000 ډالرو څخه لږ) په کال کې 147 میلیون ډالر دي، چې لدغې څخه به متحده ایالات 131 میلیون ډالر (په پنځه کلونو کې 655 میلیون ډالر) تمویل کړي د 2,184 مهارت لرونکي پرسونل چې د تسهیلاتو ساتنې ته اړین دي.[323] متحده ایالات د اضافي تسهیلاتو د ساتنې لپاره تمویل نه کوي (هغه تسهیلات چې CSTC-A په ګوته کړي افغان دولت یې باید له ANP جلا کړي).[324]

جدول 3.14

**د متحده ایالاتو پیرودل شوي تجهیزات چې افغان ملي پولیسو ته ندي سپارل شوي** (میلیونونه ډالر)

| | پاتې | د امریکا دفاع وزارت سټاک کې |
|---|---|---|
| 8 د RHIB ګزمې کښتۍ | – | $1.9 |
| نور | – | 1.4 |
| د اوبو ټانکرونه | $0.2 | – |
| وسایط | 1.3 | – |
| **ټولټال** | **$1.5** | **$3.3** |

یادونه: RHIB = سخت پوست لرونکي د هوا ډکیدو (پړسیدو وړ) کښتۍ. د ډالر ارقام غیر اعشاري شوي دي.

سرچینه: OSD-P، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 12/30/2014؛ CSTC-A، د سیګار د معلوماتو غوښتنو ته ځوابونه، 3/24/2015 او 6/9/2015.



**په کابل، افغانستان** کې د کورنیو چارو وزارت قوماندانی. (د CSTC-A عکس)

CSTC-A راپور ورکړی چې که څه هم د راپور ورکولو دې دوره کې افغان ملي پولیسو ته د هیڅ کوم اضافي تسهیلاتو حفظ او مراقبت ندی لیږدول شوی، متحده ایالات اته تسهیلاتو ته د حفظ او مراقبت خدماتو وړاندې کولو ته دوام ورکړی.[325]

## د افغان ملي پولیسو روزنه او عملیات

د 2015 جون تر 30 پورې متحده ایالاتو د افغان ملي پولیسو او د کورنیو چارو وزارت د روزنې او عملیاتو لپاره د ASFF فنډ 3.6 میلیارد ډالر مکلف او مصرف کړي دي.[326]

USFOR-A راپور ورکړی چې د افغان ملي پولیسو لپاره د متحده ایالاتو تمویل شوي د تخنیکي روزنې اوه رواني برنامې شتون لري.[327] USFOR-A راپور ورکړی چې د متحده ایالاتو تمویل شوي د روزنې قراردادونو کې د عملیاتو اړوند روزنه شامل ده، لکه د پولیسو اطلاعات، د سړک غاړې ماینونو پروړاندې او د چاودیدونکي توکو خنثی کول او د رادیو کارول او ساتنه.[328]

## په ANDSF کې د ښځو وضعیت

پدې ربع کې که څه هم حتی په ANDSF کې خدمت ترسره کونکي ښځو راپور شوې شمیره ډیره شوې، د دوی د بشپړ ځواک سلنه له 1% څخه 0.99% ته د ANDSF د ټولیزو شمیرو ډیریدو له امله راټیټه شوې.[329] پدې ربع کې د قاطع ملاتړ ماموریت راپور ورکړ چې د افغان ملي اردو او افغان ملي پولیسو لپاره د ANDSF ګومارل شوي ځواک شمیره کې 3,338 میرمنې دي، پشمول د روزنې لاندې زده کونکي او پدې وروستیو کې فارغ شوي زده کونکي. لدغه ټولټال څخه 785 افسرانې، 1,261 بریدملانې او 1,142 سرتیري و.[330] پداسې حال کې چې پدې ربع کې په خدمت بوخت میرمنو بشپړه شمیره یوڅه لوړه شوې، د ښځینه افسرانو درجې تر 125 پرسونل راکمې شوي.[331] د قاطع ملاتړ ماموریت راپور ورکړی چې کمښت د احتمال له مخې د دفاع وزارت غلط راپور ورکولو ته نسبت ورکول کیدی شي، د امکان له مخې د افغان ملي اردو ښځینه افسرانو د ځواک کمیدو سره په ګډه.[332]

درې میرمنې په AAF کې د پیلوټۍ لپاره روزل شوي، لدغو څخه یوې دغه ځواک پریښی.[333] تورن نیلوفر رحماني د طالبانو د رژیم له راپرزیدو راهیسې یواځینۍ ښځینه پیلوټ وه او په افغانستان کې د ټاکلي وزر لومړۍ ښځینه پیلوټه، پدې وروستیو کې په 2015 کې ورته د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت د نړیوالو میرمنو د جرآت جایزه ورکړل شوه.[334]

پدې ربع کې د قاطع ملاتړ ماموریت راپور ورکړی چې افغان ملي اردو په کال کې خپل د ښځینه و د استخدام هدف 485 ته راټیټ کړی، ځکه چې دا د میرمنو اعظمي شمیره ده چې د پلي کیدو وړ روزنې لومړنې کورسونو کې تنظیم کیدی شي.[335] د تیرو څو ربعو پرخلاف په کومو کې چې د افغان ملي پولیسو د ښځینه پرسونل شمیر ډیر شوی، دې ربع کې شمیر څلور نفر راټیټ شوی.[336] افغان ملي پولیس خپل د 5,000 ښځینه پرسونل هدف ترلاسه کولو څخه ډیر شاته دی: اوسمهال میرمنې د پولیس ځواک یوازې 1.5% دي.[337]

د مئ په اخیر کې، د لوړې کچې مشورتي کمیټه رامینځته شوه ترڅو د قاطع ملاتړ ماموریت د جنس دفتر لومړیتوبونو څارنه وکړي او په ANDSF کې د جنس ادغام ملاتړ لپاره ورکړل شوي نړیوال فنډونو کارولو په اړه لارښود چمتو کړي.[338] رولا غني، د افغانستان لومړۍ میرمن به یې افتخاري مشره او د قاطع ملاتړ ماموریت قوماندان جنرال جان کمپبیل به د مشورتي کمیټې مشر وي.[339] په نورو غړو کې

> ”زه د ټولو هغه میرمنو جرأت او ژمنتیا ته سلام کوم چې دامهال په دریشي کې خدمت ترسره کوي. دوی د راتلونکي نسلونو لپاره د نفس پرستۍ پاک مثال دی.“
>
> — *جنرال جان کمپبیل، د قاطع ملاتړ ماموریت قوماندان*

سرچینه: پژواک افغان نیوز، ”رولا غني به د قاطع ملاتړ ماموریت د جنس ادغام پروژو، مصرفونو څارنه کوي،“ 5/23/2015.

د افغان وزارت چارواکي، سفيران، د ملګرو ملتونو او ناټو چارواکي، او د افغان او نړيوالو سازمانونو استازي شامل دي.[340] د لومړۍ ناستې پايلې يې ندي چمتو شوي.

د ملي دفاع واکمنۍ قانون د FY 2014 لپاره ANDSF کې د ښځو د برنامو، تسهيلاتو، استخدام او مدغم کولو کې د استعمال لپاره د 25 ميليون ډالرو اجازه ورکوي. لدغه 25 ميليون ډالرو څخه 4.8 ميليون ډالر د معاشاتو هڅونکې تاديااتو؛ انعاماتو؛ پوښاک؛ د يونيفارم ګنډلو لپاره ژمنه شوي ځکه چې اوسمهال ميرمنو ته د نارينه و پوښاک ورکول کيږي؛ امنيتي کيمرې؛ او د ودانۍ پرمختللې کول، ترڅو د مارشال فهيم ملي دفاع پوهنتون کې نوي تسهيلات شامل کړل شي.[341] سربيره پردې، ناټو د افغان ملي اردو وجهي صندوق څخه 10 ميليون ډالر د افغان ملي اردو د ميرمنو برنامې لپاره مختص کړې دي.[342]

## د ANDSF طبي/روغتيا پاملرنې ته وده ورکول

له 2006 راهيسې متحده اياالتو د 188.2 ميليون ډالرو په لګښت د ANDSF 184 طبي تسهيلات جوړ کړي او د شاوخوا 54.7 ميليون ډالرو يې د افغان ملي اردو طبي تجهيزات پيرلي دي.[343] افغان ملي اردو اته سيمه ايز روغتونونه لري؛ AAF پنځه کلينيکونه او پنځه ځانګې لري. افغان ملي پوليس يوازې يو روغتون په کابل کې لري، مګر د پوليسو د درملنې لپاره افغان ملي اردو سره يو تړون لري.[344] دامهال د طبي تسهيلاتو هيڅ جوړول ندي پلان شوي.[345]

پدې ربع کې USFOR-A راپور ورکړی چې د ANDSF روغتيايي پاملرنې سيستم کې اوسمهال 896 ډاکټران ګومارل شوي دي. ټولټال مجاز بستونه 1,144 دي چې 574 بستونه د افغان ملي اردو او 322 د افغان ملي پوليسو لپاره دي. افغان ملي اردو او افغان ملي پوليس دواړه په ترتيب سره د 166 او 82 ډاکټرانو د تشې يا نشتوالي سره مخ دي.[346] د افغان ملي اردو اته سيمه ايزو روغتونونو څخه اوه يې پشمول د کابل ملي نظامي روغتون په بشپړ ډول فعال دي. پلان کې و چې د 2015 جون تر پای پورې په هلمند کې اتم روغتون 50% کارمندان ولري.[347]

ANDSF تر 2,442 رنځورپالونکې، معاون ډاکټران، او نور روغتيايي پرسونل لري، د پاتې اضافي 765 بستونو سره چې لاهم تش پاتې دي.[348] د طبي پرسونل خالي بستونو شمير له تيرې ربعې راهيسې په هماغه حالت کې پاتې دی.[349] د روزل شوي روغتيايي پرسونل چمتو کولو لپاره د ډاکټرانو، رنځورپالانو او د طبي روزنې لارې د نړيوال او غير دولتي سازمانونو سره په ملګرتيا کې رامينځته شوي.[350] د افغان ملي اردو د عامې روغتيا لومړۍ اداره کونکی به پدې کال کې د کابل پوهنتون څخه فارغ شي، چې د افغان ملي اردو روغتيايي قومانده کې تشه په ګوته کوي، کوم چې تمه کوي په راتلونکې کال کې اته نور د عامې روغتيا اداره کونکي فارغ شي.[351]

USFOR-A د دواړه افغان ملي اردو او افغان ملي پوليسو لپاره د روغتيايي پاملرنې او اړوند لوژستيکي عملياتو ښه کولو راپور ورکړی. د طبي تحويليو لپاره لوی بودجې د راتلونکې کال لپاره د جګړې دې فصل په جريان کې د استعمال پراساس پلان شوي.[352] د AAF طبي خدمت د افغان ملي اردو د الوتنې ډاکټرانو لخوا لوړ شوی، چې په اونۍ کې يې د طبي تخليې 30–40 ماموريتونه ترسره کړي.[353]

## د ANDSF د محرم معلوماتو وضعیت

پدې ربع کې د قاطع ملاتړ ماموریت د ANDSF پرسونل ځواک، د ځواک کمیدو، او ارزونو؛ د AAF؛ او د SMW په اړه ځیني معلومات محرم کړي دي. لکه څنګه چې سیګار د خپل وړ کونکي قانون له مخې اجازه لري، سیګار کانګرس ته د دغه معلوماتو درلودونکي محرم ضمیمه د دې راپور سره وړاندې کوي.

## د نا چاودل شوي توکو لرې کول

افغانستان لاهم په لویه کچه د ماینونو او د جګړې راپاتې چاودیدونکي توکو (ERW) باندې ککړ پاتې دی، حتی که څه هم له 1989 راهیسې 80% پیژندل شوې ککړې سیمې پاکې شوې دي.[354] د بهرنیو چارو وزارت (State) د سیاسي – نظامي چارو بیورو د وسلو لرې کولو او مخنیوي دفتر (PM/WRA) په افغانستان کې د جګړې قربانیانو خوندي کولو، د ژوند خوندي کولو بشر دوستانه مرستې چمتو کولو او د افغان وګړو امنیت او خوندیتوب ته وده ورکولو لپاره د وسلو کنوانسیوني تخریب کولو برنامه اداره کوي. له FY 2002 راهیسې، بهرنیو چارو وزارت افغانستان ته د وسلو تخریب او بشردوستانه ماین پاکۍ مرسته کې 305.6 میلیون ډالر چمتو کړي دي.[355] تر دې ربعي پورې د PM/WRA په د FY 2014 ټول فنډونه ندي مصرف شوي. PM/WRA دوه کلن تمویل لري، او د 2014 اضافي تمویل به د سیګار نورو راپورونو کې راوخیستل شي.[356]

د متحده ایالاتو کانګرس ته د 2015 جنوري خپل درې میاشتني راپور کې سیګار لیکلي چې د امریکا دفاع وزارت د متحده ایالاتو د جګړې حدونو کې شاته پاتې توکو پاکولو نظارت لپاره د نړیوال غیر دولتي سازمان (NGO) هڅې د ملاتړ لپاره PM/WRA ته 901,511 ډالر انتقال کړي.[357] په هرصورت، دا ممکن د اړین تمویل یوازې یو کسر وي. د واشنګټن پوسټ د 2014 اپریل یوې مقالې یادونه کړې چې د متحده ایالاتو اردو د راپورونو له مخې شاوخوا 800 میل مربع ککړه ځمکې ترشا پریښې چې تمه کیږي پاکول یې 250 میلیون ډالر لګښت ولري.[358] علاوه لدې، د ملګرو ملتونو (UN) عمومي منشي د امنیت شورا ته خپل د 2015 جون راپور کې خبرداری ورکړی چې د هیواد د پرسونل ضد ماین د ممانعت کنوانسیون 2015 اهدافو پوره کولو لپاره تمویل شاید کافي نه وي. د دغه راپور اټکل کړی چې 4,025 ماین لرونکي سیمې او 245 د محاربې ډګرونه ککړ پاتې دي چې د 255 ولسوالیو په اوږدو کې 1,603 ټولنو باندې اغیزه کوي. ملګري ملتونه به د ناټو قاطع ملاتړ ماموریت سره د چاودیدونکي توکو خطرناکې ککړتیا په نښه کولو لپاره کار ته دوام ورکړي، پشمول د تیرو نظامي عملیاتو څخه د جګړې حدونه.[359]

د بهرنیو چارو وزارت په مستقیم ډول ځلور افغان NGOs، ځلور نړیوالې NGOs او یو د متحده ایالاتو حکومت قراردادي تمویلوي. دا فنډونه د ERW په واسطه ککړو سیمو پاکول وړ کوي او د ترهګرو لخوا د سړک غاړې ماینونو او نورو چاودیدونکو وسیلو جوړولو لپاره کارول شوي کنوانسیوني وسلو پاکول ملاتړ کوي.[360] د 2015 مارچ تر 30 پورې د بهرنیو چارو وزارت تمویل شوي پلي کونکي ملګرو له 168.9 میلیون متر مربع څخه ډیره ککړه ځمکه پاکه کړې (شاوخوا 65.2 میل مربع) او شاوخوا 7.9 میلیون ځمکني ماینونه او نور ERW لکه ناچاودل شوي توکي (UXO)، منع توکي (AO)، د سټاکپیلډ مهمات، او په لاس جوړ چاودیدونکي توکي حذف یا تخریب کړي دي (په راتلونکي مخ کې جدول 3.15 وګورئ).[361]

جدول 3.15

**د کنوانسیوني وسلو د له مینځه وړلو برنامې ارقام، جنوري 1، 2013 – مارچ 31، 2015**

| د نیټې حد | AT /AP تخریب شوي | UXO تخریب شوي | SAA تخریب شوي | پاکې شوې پارچې | په ماینونو ککړه ځمکه پاکه شوې (متر مربع یا m²) | د اټکل له مخې پاتې ککړه ساحه (متر مربع یا m²)* |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 2013/31/3–1/1 | 1,984 | 100,648 | 105,553 | 3,722,289 | 7,978,836 | 552,000,000 |
| 2013/30/6–1/4 | 1,058 | 18,735 | 49,465 | 1,079,807 | 5,586,198 | 537,000,000 |
| 2013/30/9–1/7 | 1,243 | 21,192 | 98,306 | 1,673,926 | 4,229,143 | 521,000,000 |
| 2013/31/12–1/10 | 8,211 | 2,460 | 54,240 | 3,064,570 | 5,729,023 | 518,000,000 |
| 2014/31/3–1/1 | 1,780 | 254,734 | 245,380 | 262,750 | 5,473,170 | 638,400,000 |
| 2014/30/6–1/4 | 1,077 | 3,264 | 25,362 | 3,227,697 | 5,163,035 | 519,000,000 |
| 2014/30/9–1/7 | 1,329 | 26,873 | 21,502 | 2,860,695 | 5,705,984 | 511,600,000 |
| 2014/31/12–1/10 | 465 | 20,724 | 58,369 | 538,499 | 1,604,410 | 524,600,000 |
| 2015/31/3–1/1 | 388 | 8,495 | 3,571 | 930,110 | 2,425,318 | 535,600,000 |
| **ټولټال** | **17,535** | **457,125** | **661,748** | **17,360,343** | **43,895,117** | **535,600,000** |

یادونه: AT/AP = د ټانک/پرسونل ضد ماین. UXO = ناچاودل شوي توکي. پارچې راپور شوي ځکه چې دغو ته هم عین پاملرنه پکار ده لکه نورو توکو ته ترهغه وخت پورې چې ماهیت یې ونه پیژندل شي.
*د ککړې ځمکې ټولټال ساحه ثابت نه وي ځکه چې د پاکولو فعالیتونه خطرناکه ساحه کموي پداسې حال کې چې روانه سروی نوې ککړې سیمه په ګوته کوي او د ماین پاکۍ (IMSMA) ډیټابیس لپاره د معلوماتو مدیریت سیسټم کې اضافه کوي.

سرچینه: PM/WRA، د سیګار د معلوماتو غوښتنو ته ځوابونه، 4/1/2015 او 6/26/2015.

د اټکل شوې ککړې ځمکې ټولټال ساحه ثابت نه وي ځکه چې د پاکولو فعالیتونه خطرناکه ساحه کموي پداسې حال کې چې روانه سروی نوې ککړې سیمه په ګوته کوي. د دې ربع په پیل کې، 202.5 میل مربع د ماین ککړه او د جګړې ډګرونه ول. د ربع په جریان کې، 1.8 میل مربع پاکه شوې. په هرصورت، روانو سروی ګانو نوره 11.5 میل مربع ککړه سیمه په ګوته کړې چې د ربعې ترپایه پورې ټولټال پیژندل شوې ککړه ساحه 206.8 میل مربع ته رسوي.[362] PM/WRA د ماینونو ساحه ماینو سره د ککړې شوې ساحې په توګه پیژني چیرې چې ککړه ساحه کې دواړه د ځمکې ماینونه او نور ERW کیدی شي.[363]

په 2015 اپریل کې، USAID د 30.2 میلیون ډالرو افغان ملکي مرستې (ACAP III) برنامې لاندې خپل د 9.6 میلیون ډالرو لومړی بلاعوضه مرسته وړاندې کړه. د ACAP III هدف د جګړې قربانیانو ملاتړ کول دي، پشمول د ماینونو او ERW قربانیانو.[364] نوموړې برنامه د قربانیانو اړتیاو پوره کولو لپاره ټاکل شوې مرستې سربیره سمدستي طبي او نوره غیر پولي مرسته چمتو کوي. دا د دولت د هغه وزارتونو او نهادونو ظرفیت هم لوړوي کوم چې د جګړې قربانیانو سره مرسته کوي او د قربانیانو لپاره د اطلاع ورکولو او مشورې هڅو ته وده ورکوي.[365] ACAP III به د 2018 فبروري پورې دوام ولري. د یوه رسمي فعالیت سنجولو پلان شتون سربیره، فنډونه د 2015 جون کې مصرف شوي و.[366] د ACAP II برعکس کوم چې د 2015 فبروري کې پای ته ورسید، ACAP III به تصریح نکړي چې یوازې هغه قربانیان د مرستې لپاره مستحق دي چې د نړیوالو ځواکونو لخوا ټپي کیږي.

## د تریاکو سره مبارزه

له 2002 راهیسې د 2015 جون تر 30 پورې متحده ایالاتو په افغانستان کې د تریاکو سره مبارزې هڅو لپاره 8.2 میلیارد ډالر چمتو کړي دي. کانګرس د دغه فنډونو ډیری برخه د امریکا دفاع وزارت د مخدره

توکو له مينځه وړو او د مخدره توکو سره مبارزې فعاليتونو (DOD CN) فنډ (2.9 ميليارد ډالر)، د افغان امنيتي ځواکونو فنډ (ASFF) (1.6 ډالر)، د اقتصادي ملاتړ فنډ (ESF) (1.5 ميليارد ډالر)، او يوځه برخه د بهرنيو چارو وزارت د نړيوال ترياکو کنټرول او قانون پلي کولو (INCLE) حساب (2.1 ميليارد ډالر) له لارې مختص کړي دي.[367] د USAID د بديلي پراختيا برنامې د هيوادونو سره د ترياکو توليد بديل اقتصادي نوښتونو په رامينځته کولو سره د متحده ايالاتو د ترياکو سره مبارزې اهدافو ملاتړ کوي.[368] د بيارغوني تمويل سربيره، د مخدره توکو پلي کولو اداره (DEA) په افغانستان کې د کار کولو لپاره مستقيم تخصيصونه لاسته راوړي. (ضميمه B وګورئ).

په 2015 مئ کې د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرمونو دفتر (UNODC) خپل د نړۍ د مخدره توکو راپور خپور کړ. افغانستان يو وار بيا د اپيومو په توليد کې د نړۍ مخکښ شو، چې په 2014 کې له هرکله ډير 224,000 هکتاره ترياک کرلي دي (له 550,000 اکړ ځه ډير).[369] د افغانستان د اپيومو توليد (6,400 ټنه) د اپيومو نړيوال توليد 85% جوړوي (7,554 ټنه) چې په 2014 کې ډيريدو دوام درلود.[370] د UNODC په وينا، کانادا ته ورل کيدونکي پوډرو (هيروين) 90% د افغان اپيومو ځه وي، مګر يو ځه لږه برخه يې متحده ايالاتو ته ورل کيږي ـ که ځه هم ممکن دا د بدلون په حال کې وي.[371] له 2011 ځه نيولې تر 2012 پورې د ضبطولو معلوماتو پراساس د افغان پوډرو شتون په متحده ايالاتو کې ډيريږي. د بازار اوسني سهم په اړه معلومات UNODC ته ندي وړاندې شوي مګر اټکل شوی چې افغان پوډر د متحده ايالاتو د مصرف کونکو بازار 4% سهم لپاره حساب شوي.[372]

د 2015 اپريل په 18 ولسي جرګې سلامت عظيمي، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسون کې د ماشومانو د حقونو د ځانګې پخوانی رييس ته د مخدره موادو سره د مبارزې وزارت (MCN) لپاره د باور رايه ورکړه. عظيمي خپل د 100 ورځو پلان وړاندې کړ، چې د مخدره توکو ضد پاليسيو رامينځته کولو او د وزارت د کارمندانو د ظرفيت جوړولو سربيره، پکې د ترياکو سره د مبارزې قانون او د ترياکو سره د مبارزې ملي ستراتيژي کې بدلونونه شامل دي.[373] د نوموړي وزارت هدف په 10کلونو موده کې د ترياک کښت تر 90% کمول دي.[374] د جولای په 4 ولسمشر غني د مختلف بستونو لپاره د ولسمشرۍ فرمان په واسطه 19 مشاورين وګومارل. عبدالحی نعمتي د ترياکو سره مبارزې لپاره مشاور په وګومارل شو.[375]

## د مليياردونو پيسو لګښت سربيره، افغانستان تراوسه په نړۍ کې د ترياکو د توليد مخکښ دی

د نشه يي توکو پر وړاندې مبارزې په برخه کې د متحده ايالتو لخوا د 2002 کال راهيسې د 8.2 ميليارده ډالرو د مصرفولو سربيره، افغانستان تراوسه په نړۍ کې د ترياکو د توليد مخکښ دی.[376]

په افغانستان کې له سيګار سره د 2015 کال په فبروري مياشت کې د ليدنو پر مهال سفير ميکنلي اعلان وکړ چې د 2015 کال د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې ستراتيژي به په شپږو مياشتو کې چمتو شي.[377] د INL او د نوي افغان حکومت د لوړپوړو چارواکو تر منځ د نشه يي توکو پر وړاندې مبارزې په اړه غونډې ترسره شوي.[378]

د افغانستان حکومت هم د نشه يي توکو د عمل په هراړخيز ملي پلان کار کوي چې د متحده ايالتو د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې د منځګړيتوب ستراتيژۍ لخوا به يې ملاتړ کيږي.[379] INL سيګار ته

---

"نشه يي توکي، زموږ ثبت 'F' دی. موږ ناکام يو، ځکه چې دغه ستونزه له موږ ځه ډيره لويه ده."

*— ولسمشر اشرف غني*

سرچينه: په قاهره کې د افغانستان سفارت، "د لويديځو ژورنالیستونو هيئت او د رسنيو د نظر مشرانو سره د ولسمشر غني د مرکې ليکلې بڼه" 5/10/2015.

وويل چې د متحده ایالتو حکومت اوس مهال د افغانستان لپاره د متحده ایالتو د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې د دسمبر 2012 ستراتيژۍ سره سم فعاليت کوي.[380] UNODC خبرداری ورکړ چې هر ډول پلان نرمي رامنځ ته کولی شي، ځکه د افغانستان په يوه سيمه کې د برنامو برياليتوب پدې معنی نه شي کيدلی چې د بلې سيمې برياليتوب ځرګند کړي.[381]

## په 2015 کال د افغانستان د نشه يي توکو د کاروني ملي سروې

INL او د عامې روغتيا وزارت (MOPH) پدغو دريو مياشتو کې د نشه يي توکو د استعمال ملي سروې پايلې خپرې کړې. له سروې څخه ځرګنديږي چې ترياک په افغانستان کې تر ټولو مشهور نشه يي توکي دي، چې د ښاري مرکزونو په پرتله يې په کليوالي سيمو کې استعمال لوړ دی.[382] پايلې ځرګندوي چې چرس د کورنيو په کچه 11% او د نفوس په کچه 3% کارول کيږي.[383] همدارنګه، لويې موندنې دا وې چې د 31% کورنيو، له 10% څخه زياتو خلکو او شاوخوا 9% ماشومانو ټيسټ مثبت وو چې يو يا ډير نشه يي توکي کاروي.[384] د نړۍ په کچه پرتلې سره سم 0.6% خلک چې له 15 څخه تر 64 کلونو پورې عمرونه لري د نشه يي توکو ستونزه لري.[385] په متحده ایالتو کې، چيرته چې په هيرويينو تکيه په لوړيدو ده، په 2011–2013 کلونو کې په هرو 1,000 کسانو کې په هيرويينو د تکيه عمومي درجه 1.9 وه[386] – چې نسبتاً په افغانستان کې له پايلو څخه کمه ده. د ټولو سروې شوو کټګوريو تر منځ، د کليوالي خلکو د استعمال درجې په ثابت ډول د ښار له خلکو څخه لوړې وې.[387] د لندن د دسمبر 2014 کنفرانس کې، افغان حکومت د اصلاح په خپل برنامه "په ځان باور رامنځ ته کول: د اصلاحاتو او تازه همکارۍ ژمنې" کې د نشه يي توکو د سوداګرۍ او توليد پر وړاندې مبارزه کې په اقداماتو ټينګار وکړ.[388] د افغانستان او د متحده ایالتو حکومتونو په ګډه اعلاميه کې د نشه يي توکو د استعمال ملي سروې پايلې اعلان کړې، د افغانستان حکومت خپله ژمنه ياده کړې چې د نشه يي توکو کورني استعمال ستونزې ته به پاملرنه کوي.[389]

## د نشه يي توکو د تقاضا کمښت

د 2015 کال په جنوري کې، INL د MOPH په مسؤليت کې د 13 معالجوي برنامې لومړی ګروپ انتقال کړ او د کلينيکونو کارکوونکي ته د افغانستان حکومت ته وسپارل.[390] د INL له راپور سره سم، دغه انتقال پرته د بوديجې او مديريت ستونزو په سمه توګه روان دی. INL په کال کې دوه ځله له MCN، MOPH او د کولمبو پلان سره غونډې ترسره کوي تر څو د بوديجې لويو ستونزو په اړه ورسره خبرې وکړي او حل يې کړي.[391] د 2014 کال د اکتوبر له 1 څخه د 2015 کال د مارچ تر 31 م پورې د کلينيکونو په بشپړ ډول 140 کارکوونکي روزل شوي دي. د 2015 کال د اپريل 1 او جون تر منځ د روزل شوو کارکوونکو د هرو دريو مياشتو پايلې تراوسه نشته. آيالاتو سيګار ته وويل چې دوی به د 2016 جنوري پورې نور 15 مرکزونه حکومت ته وسپاري.[392] INL د 2014 کال په اکتوبر کې د نشه يي توکو د تقاضا کمښت برنامه لپاره د کولمبو پلان سره له 7.6 ميليونه ډالرو څخه زياته مرسته وکړه. تراوسه پورې يې د 2014 مالي کال او 2015 مالي کال د بوديجو مرسته يا ژمنه کړې ده.[393]

## د نشه يي توکو پر وړاندې مبارزه کې د خلکو همکاري

INL د هيواد په کچه د نشه يي توکو پر وړاندې مبارزه کې د خلکو همکارۍ (CNCE) برنامه سره مالي مرسته کوي، چې موخه يې د کوکنارو کښت راکمول، د عامه پوهاوي په لوړولو سره د نشه يي توکو د استعمال مخنيوی او د حلالو حاصلاتو د توليد هڅول دي.[394] له 2013 راهيسې INL په نوموړي برنامه

**د کولمبو پلان:** د دولتونو تر منځ د سيمه ييز سازمان په توګو د زيات اقتصادي او ټولنيز پرمختګ په توګه رامنځ ته شوی دغه پلان په 1950 کال کې له اوه بنسټ ايښودونکو غړو هيوادونو سره د سريلينکا په کولمبو (وروسته په سيلون) کې په لاره اچول شوي کنفرانس کې په پام کې ونيول شو، او غړيتوب يې 26 هيوادونو ته غځيدلی دی. INL په دوامداره توګه د اعتياد متخصصينو ته د تصديق پاڼې او روزنې ورکولو په موخه د کولمبو پلان د آسيايي مرکز او د معالجوي ماهرينو روزنيز سره مرسته کوي تر څو له حکومتونو سره په آسيا او افريقا کې د اعتياد د متخصصينو لپاره د مسلکي تصديق پاڼو د پروسې په پراختيا کې مرسته وشي.

سرچينه: د کولمبو پلان د سکرتريت ويب پاڼه، تاريخ، www.colombo-plan.org، لاس رسی 4/7/2014؛ د بهرنيو چارو وزارت، INL، د نشه يي توکو د کنټرول د نړيوالې ستراتيژۍ راپور: 1 ګڼه، د نشه يي توکو او کيمياوي موادو کنټرول، 3/2013، مخ 20.

8.6 میلیون ډالر مصرف کړي دي. دغه برنامه د 2015 کال د اپریل په 4مه د شاوخوا 1.6 میلیونه ډالره اضافي لګښت سره د یو کال لپاره وغځول شو.[395]

د برنامه د برخې په توګه، د سیاري د رسنیزو اړیکو دفتر، چې قراردادي دی، د رسنیزو کمپاینونو اغیزمنتوب څېړي. خپل 42 راپورټران یې د ولایتونو په ډیرو برخو کې ځای په ځای کړي چې د کښت د کچو پر بنسټ له 1 درجې څخه تر 4 درجې پورې درجه بندي شوي دي او د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې پالیسیو او پیغامونو د وضعیت په اړه معلومات راټولوي او د خلکو ذهنیتونه سنجوي. ددې سربیره، د سیاري دفتر د مخاطبانو راپورونو سره د کمپاینونو اغیزمنتوب ارزوي.[396]

د سیارې دفتر په رسنیو کې د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې اړوندو موادو د مقدار او ډول څارنه هم کوي او د ارزونې اساسي موندنو څخه د هر ډول بدلونونو (مثبت یا منفي) ارزونه کوي.[397] د رسنیو ددغه کمپاین اغیزمنتوب څرګند نه دی. INL سیګار ته وویل چې په ځینو سیمو کې چې د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې رسنی شته د تریاکو په کښت کې یې کمښت راغلی، خو په هغو سیمو کې چې امنیت او حکومتداري تراوسه ګواښ دی، د کښت شمیر لوړ شوی یا په هماغه کچه پاتې دی.[398] د INL په مالي مرسته د خپلواکي ارزونې د پیغام جوړونې برنامه د برنامه له لومړیو څخه تراوسه پورې نه دی ترسره شوی، خو په 2008 کال کې د همدغه ډول کمپاین ارزونې څرګنده کړه چې د"CN [د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې] عامه پوهاوي کمپاینونه په تجزیه کې اغیزمن نه دي او، او د بریالیتوب د چانسونو لوړولو لپاره، اړتیا ده چې (i) د حلال کلیوالي اقتصادی پراختیا سره همغږې تر څو د تریاکو د کوکنارو کښت لپاره بدیل چمتو شي او (ii) او د جزا (د تخریب په ګډون) د منلو وړ ګواښونه ورسره مل وي." د CNCE په اړه د لازیاتو معلوماتو لپاره، د متحده ایالتو کانګرس ته د سیګار د 2015 *کال د اپریل درې میاشتنی راپور وګورئ.*

## د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت ظرفیت جوړونه

MCN د 2014 کال په فبروري کې له INL سره تفاهم لیک (MOU) لاسلیک کړ چې د 18 میاشتو لپاره یې د ظرفیت جوړونې برنامه تمدید او د 24 سیمه ییزو ملي سلاکارانو لپاره بودیجه چمتو کوي تر څو په MCN کې د ظرفیت په جوړولو کې مرسته وکړي.[400] په وروستیو دریو میاشتو کې، INL سیګار ته وویل چې د MCN د ظرفیت جوړونې د پرمختګ ارزونې په موخه د 2015 کال په فبروري کې د اجراتو د اندازې پلان (PMP) بشپړ کړی دی.[401] همدارنګه، INL پدغو دریو میاشتو کې سیګار ته معلومات ورکړل چې تراوسه ددغه برنامه لپاره په لمړي PMP کار کوي او د 2015 کال په اګست کې به دغه سند بشپړ شي. د برنامه د تمدید مهال ویش د 2015 کال سپټمبر ټاکل شوی دی.[402] د INL MCN تکرار شوی پروپوزل ګوري تر څو د لنډ او اوږدمهالو کورسونو لړۍ په لاره واچوي چې د سیمه پوهنتونو لخوا به درس ورکول کیږي چې موخه به یې د کار اړوند مهارتونو او په عمومي ډول د MCN د کارکوونکو ظرفیت لوړول وي.[403]

INL د MCN د عامه مالي مدیریت سیستم د خپلواک خطر ارزونه ترسره کړه. په راپور کې ځانګړې کمی په ګوته شوي چې په مالي راپور جوړونه کې د موادو د غلطي یادونې، د عملیاتو ناوړتیا او نااغیزمنتوب او له قوانینو او مقرراتو سره نه مطابقت لپاره ځواک لوړوي.[404] د ځانګړې اندیښنې ساحې داخلي کنټرول، د برنامه مدیریت او څآرنه او د ثابتې شتنمی مدیریت دی.[405]

## د والي په مشرۍ د له منځه وړو برنامه

INL د والي په مشرۍ د تخریب (GLE) برنامه ته بودیجه ورکوي چې د کال په بیلابیلو وختونو کې ترسره کیږي چې د هر ولایت د کښت په دورې په تړاو لري. MCN متراکمې پایلې پیدا کوي چې په ورپسې د UNODC لخوا تصدیق کیږي.[406] د UNODC د 2015 کال د جون راپور څرګندوي چې د تخریب بشپړه پایلې[407] په هلمند کې د 2,079 هکتاره او په کندهار کې 640 هکتاره په شمول 3,322 هکتاره ده.[408] ددغو دریو میاشتو پر مهال، INL د نشه يي توکو پر وړاندې مبارزې ته د نشه يي توکو په نهه تولیدي ولایتونو کې د GLE د پیل د لګښت په موخه 236,500 ډالره د پیشکۍ په توګه ورکړل.[409]

د GLE په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره، ، د متحده ایالتو کانګرس ته د سیګار د 2015 *کال د اپریل درې میاشتنی راپور ووینئ.*

## د ښه اجراکوونکي نوښت

د INL د ښه اجراکوونکي نوښت (GPI) د MCN د هڅو ملاتړ کوي چې د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې ولایتي فعالیت وهڅوي. د اصلي GPI له شرایطو سره سم، چې د 2014 کال د اګست له 30مې راهیسې روان دی، یو ولایت هر کال د GPI د پراختیایي پروژو د مالي ملاتړ لپاره هغه وخت وړ بلل کیدو چې د UNODC لخوا د کوکنارو څخه پاک وضعیت تایید یې ترلاسه کړی وی یا یې د تیر کال د کچې په پرتله له 10% څخه زیات په کښت کې کموالی راغلی وو.[410] د 2014 کال په اګست کې، INL او MCN دوهم GPI اعلان کړو، چې د "ښه اجراکوونکو" لپاره د جایزې کټګورۍ پکې زیاتې شوي تر څو خلکو ته لاس رسی او د قانون تطبیق پکې شامل کړي، د 2014–2015 د کوکنارو د کښت په فصل کې پیل او د یوه ولایت مقدار له 1 میلیون ډالرو څخه 500,000 ډالرو ته راکمه شوه.[411]

INL سیګار ته وویل چې GPI خپله لومړۍ د GPI II د پروژې د تکرار کمیټې (PRC) غونډه د 2015 کال په مارچ کې ترسره کړه تر څو هغه پروژې چې د ولایتونو لخوا وړاندیز شوي تصدیق کړي. د GPI II دوهمه غونډه د 2015 کال په مۍ میاشت کې په لاره واچول شوه. د INL له راپور سره سم، GPI تمه لري چې GPI II پروژو لپاره چې د 2015 کال په جولایي کې بشپړې شوې د پروژې د طرحې د پلانونو لومړۍ مسؤده جوړه کړي. د 2015 کال د مۍ په 31مه، له 108 میلیونو څخه په زیات ارزښت د GPI بشپړې 222 پروژې تایید شوي دي. شاوخوا 170 پروژې بشپړې شوې، 48 روانې وې او څلور بشپړیدو ته نږدې وې.[412] د GPI II PMP اوس مهال د جوړیدو په حال کې دی.[413]

INL ډاډ ورکوي چې د GPI برنامه لاندې وړاندیز شوې پروژې د منځګړیتوب د سلا له لارې د متحده ایالتو حکومت له نور کار سره په ټکر کې نه دي. INL او د هغه تطبیق کوونکي همکاران له USAID سره سلا کوي تر څو اشتباهاتو مخه ونیسي لکه ورته کار چې یو ډول ګټې اخیستونکي ولري یا د سیالۍ فعالیتونه وړاندې کوي، او له امکان سره سم بشپړونکي فعالیتونه ترسره کړي. د افغانستان او پاکستان لپاره د متحده ایالتو ځانګړی استازی د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې د دوامدارو کاري ګروپونو کوربه وو تر څو په څو برنامو کې د همغږۍ ساتلو لپاره له متحده ایالتو، DOD، DEA، USAID او نورو اړوندو ادارو څخه د منځګړیتوب کارکوونکي سره یو ځای کړي.[414]

INL د خپلو برنامو چې له بزګرانو سره مرسته کوي او د کوکنارو کښت راکموي د څارنې او ارزونې لپاره دریم لورى ګمارلی دی.[415] دریم لوري خپلې موندنې په یوه راپور کې INL وړاندې کړې چې درې میاشتې وروسته خپور شو. ددوی له څیړنو سره سم، پدې نږدې وختونو کې هیڅ برنامه نه شي کولی چې د تریاکو کښت راکم کړي، خو هغه برنامې چې د عایدو وده زیاتوي په اوږد مهال کې د تریاکو

د کښت د کچې راکمولو لپاره زمینه برابرولی شي.[416] د راتلونکو برنامو لپاره ددوی ځیني طرح شوې سپارښتني چې د تریاکو کښت راکم کړي دا دي:

- د دودیزو کرهنیزو تولیداتو استعمال، لکه میوه، پسته، انګور او نورو تلپاتي د باغداری حاصلات له ښو جوړو شوو بازارونو سره;
- د بزګرانو او بازارونو تر منځ د پیاوړو اړیکو رامنځ ته کول;
- د ساده، ارزانو او په آسانی سره د لاس رسي وړ ټکنالوژیو استعمال؛ او
- له کافي بزګرانو سره نښلیدل تر څو بازاري صنعت وده وکړي او ثابت پاتي شي.[417]

په راپور کي دا هم راغلي چې ددغو سپارښتنو پر بنسټ پروژې ښایي ځانګړې مالي مرستي ته اړتیا ونلري، بلکي ښایي د هغوی د موندني جوړ شوي ثبت او په هیواد کي له حالاتو سره سمي بریالی شي. له اوسنیو شرایطو سره سم، په هلمند او کندهار کي د پراخ تخریب د پالیسي د بندولو سپارښتنه وکړه.[419] په راپور کي د نورو څیړونکو موندني هم انعکاس شوي چې هغوی هم د تخریب د درولو ملاتړ کوي پرته "په هغو سیمو کي چې قانوني اقتصادي له مخکي څخه شته دی او ژوند کافي معیشیت وړاندې کوي."[420]

## بدیل پراختیا/بدیل معیشیت

د USAID د بدیل پراختیا برنامې له هیوادونو سره د مرستي له لارې د متحده ایالتو د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې موخو ملاتړ کوي چې نشه یي توکو د تولید پر ځای اقتصادي بدیل رامنځ ته کړي.[421] INL په ډیرو سیمو کي د کمښت وړندې کولو او د بدیل پرمختګ په شمول د برنامو مالي ملاتړ کوي.[422] INL سیګار ته وویل چې دوی له USAID سره دوماره همغږي لري تر څو ډاډ ورکړل شي چې د INL په ملاتړ د بدیل پرمختګ هڅې په افغانستان کي د روا معیشت او د کلیو پراختیا په برخه کي د USAID تیرې او رواني پانګوني بشپړوي.[423]

### د افغانستان د حکومتولی او بدیل معیشیت پیاوړتیا

INL د نشه یي توکو د قاچاق پر وړاندې په مبارزې کي د خپلو هڅو د یوې برخي په توګه د بدیل معیشیت برنامو ملاتړ کوي.[424] د آغاخان غیر دولتي بنیاد او د هغه همکاران د 11.9 میلیونه ډالرو د افغانستان د حکومتداری او د بدیل معشیت (SAGAL) لاندې فعالیتونه پلي کوي چې له INL څخه یي تر لاسه کړی دی.[425] پلي کوونکي د خپلواکو پروژو پرته د لاندې پنځو موخو په پام کي نیولو سره فعالیتونه ترسره کوي:

- د لوړ څواک د حلال کښت د سیستمونو د کرهنیزو حاصلاتو ښه کول
- د حلال کښت سیستمونو لپاره د اقتصادي بیارستنیدنې لوړول
- مالي امکاناتو ته د بزګرانو د لاس رسي ښه کول
- د خطر لاندې خلکو د زیانمنیدو راکمول چې په حرام اقتصاد کي بوخت دي
- د سیمه ییزې حکومتداری د سیستمونو ښه کول

جدول 3.16

**د بدیل معشیت برنامې**

| اداره | د پروژې نوم | د پیل وخت | د پای وخت | ټولټال اټکل شوې لګښت (ډالر) | د 6/25/2015 پورې مجموعي مصرفونه (ډالر) |
|---|---|---|---|---|---|
| د بهرنیو چارو وزارت | د افغانستان د حکومتولۍ او د بدیل معیشیت پیاوړتیا (SAGAL) | 7/21/2014 | 1/20/2016 | $11,884,816 | *$6,162,146 |
| USAID | د سوداګریزې باغدارۍ او کرنې د بازار موندنې برنامه (CHAMP) | 2/1/2010 | 12/30/2016 | 45,296,184 | 43,394,354 |
| USAID | د شمال، ختیځ او لویدیځ لپاره د اقتصادي بدیل د پر مخ بیولو فعالیتونه (IDEA-NEW) | 3/2/2009 | 9/30/2015 | 159,878,589 | 152,961,457 |
| USAID | کندهار فوډ زون (KFZ) | 7/31/2013 | 8/30/2015 | 18,695,804 | 15,896,000 |
| USAID | د کرنیزې پراختیا سیمه ایزه برنامه (RADP) – سهیل | 10/7/2013 | 10/6/2018 | 125,075,172 | 30,507,818 |
| USAID | د کرنیزې پراختیا سیمه ایزه برنامه (RADP) – شمال | 5/21/2014 | 5/20/2019 | 78,429,714 | 7,776,412 |
| USAID | د کرنیزې پراختیا سیمه ایزه برنامه (RADP) – لویدیځ | 8/10/2014 | 8/9/2019 | 69,973,376 | 6,259,278 |

یادونه: *د6/25/2015 پایلې. د USAIDځیني لیست شوو برنامو دواړه د بدیل پراختیا او کرنیز پرمختګ بودیجې ترلاسه کړې دي.

سرچینه: USAID، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/12/2015؛ INL، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 6/25/2015 او 9/24/2014؛ USAID، د سیګار ارزونې ته ځواب، 7/12/2015.

د SAGAL فعالیتونه د هلمند او کندهار په ګډون په 16 ولایتونو کې پلي کیږي.[426] INL سیګار ته وویل چې تر دې دمه 6.2 میلیونه ډالر لګول شوي دي.[427]

د INL له راپور سره سم، د SAGAL فعالیتونه به د GPI II لپاره د ملاتړ په ګډون د متحده ایالتو د حکومت لخوا د حلال معیشیت او د کلیو پراختیا په برخه کې تیرې او روانې پانګونې بشپړې کړي. که چیرې امکان ولري، SAGAL به د GPI II پروژې ډیر غیر متمرکز انتخاب او د نمونې د پروسې ملاتړ وکړي تر څو د کلیوالي ټولنې د اړتیاوو په پیژندنه کې ښه والی رامنځ ته شي.[428]

3.16 جدول د SAGAL او د بدیل معشیت نورو برنامو په اړه د مالي معلوماتو خلاصه وړاندې کوي.

## کندهار فوډ زون

د کندهار د فوډ زون (KFZ) د USAID د 18.7$ میلیونو پروژه ده، چې د بیا رغونې او پراختیا نړیوالې ادارې (IRD) لخوا د INL په ګډه ستراتیژۍ او نږدې همغږۍ پلې کیږي. د KFZ پروژه د کندهار په ولسوالیو کې د کوکنارو د فعالانو د پیژندنې او په نښه کولو لپاره طرحه شوې ده.[429]

د 2015 کال د جنورۍ په 26 مه IRD د غلطو کړنو له امله د USAID لخوا له کاره لیرې کړی شوو.[430] د USAID د څار عمومي دفتر د IRD د غلطو کړنو په هکله څیړنې وکړې چې د متحده ایالاتو حکومت ته د لوړو بیو د وړاندې کولو تور پرې ولګیدو.[431] د IRD د کار په ځنډولو د رښا اچولو پر مهال USAID د یوه عامه نړیوال سازمان سره په نښلونکې برنامه ځارنه کوله. USAID په خپل راپور کې سیګار ته په تیرو دریو میاشتو کې ویلې چې د یوه سازمان د انتخابولو پروسه روانه ده چې د 2015 کال د جولای په 30 نیټه به پای ته ورسیږي او امکان لري چې دا پروسه ناکامه شي.[432] د USAID د 2015 کال د جون په 22 مه نیټه د IRD له کاره لیرې کول پریخودل. له دې کار سره د IRD د نوو پروژو او پراختیایي وړتیا په لاسته راوړلو کې بیرته ګډون وکړو. په پایله کې د USAID د KFZ یو میاشتینی بې

بيي پروژه د 2015 کال د آګست په 20مه نیټه پوره پلي کړه؛ په دي کار سره له نړیوال عامه ارګان څخه ډېره وشوه او IRD د KFZ د یو کلن نښلونکي پروژې د عملي کولو لپاره غوره شو. تر څنګ یې د KFZ د فعالیتونو په وړاندي د خنډونو د رامنځته کیدو او د پرسونل او قراردادونو د لغو کیدلو خطر کم شو.[433]

په تیرې درې میاشتینی دوره کې USAID د KFZ پروژه د 6 میلونو ډالرو په کچه وغځوله؛ او په روانو درېو میاشتو کې د هغوی د بودیجي 3.7 میلونه ډالره مصرف کړي دي.[434] د 2015 کال د جنوري څخه تر مارچ پورې یې د MCN د لوپړو چارواکو لپاره څلور روزنیز پړاوونه بشپړ کړه تر څو د معشیت بیلابیلو لارو د موندنو لپاره ستراتیژیک پلان او پالیسی ته پراختیا ورکړي. په دې برنامه کې د معشیت 12 د بیلابیلو لارو چارو پروژې بشپړې شوې او له 11 څخه 10 د کانالونو او بیارغونې کړنې تر سره شوي دي.[435]

**د ارزښت زنځیر:** د هغو شیانو او خدمتونو کچه چې یو کرهنیز تولید د هغې په واسطه له یوه پټي څخه آخري مشتري یا مصرف کوونکي ته رسیږي. پدې کې د ورودي اړتیاوو، د پټي اصلي تولید، د حاصلاتو له راټولولو وروسته زیرمه، پروسس، بازار موندنه او ترانسپورټ، عمده او تجارتي پلورنې شاملې دي.

سرچینه: د سیګار ارزوني ته د USAID ځواب، 4/12/2015.

## د کرنیزې پراختیا سیمه یزه برنامه

د کرنیزې پراختیا سیمه ییز برنامه (RADP) د افغان بزګرو د اقتصادي پرمختګ په دوامداره کولو او پراخولو کې مرسته کوي. د RADP درې پروژې د افغانستان په سویلي، لویدیځې او شمالي برخو کې په لار اچول شوې. دا پروژې د حاصلاتو او د معیشت د لارو چارو د زیاتولو لپاره د بزګرو وړتیا ته د قوت د بخلو په موخه کار کوي.[436] د ارزښت زنځیر له طریقي څخه په ګټې اخیستنې سره دا پروژې د بزګرانو او کرنیزې سوداګرۍ په برخو کې کار کوي ترڅو د تولیداتو د زنډولو، پروسس کولو، خرڅلاو او د ارزښت کرهنیز زنځیر په بشپړ پرمختګ کې د خنډونو مخه ونیسي.[437]

RADP-سهیل د پنځو کالو د 125 میلیونو ډالرو پروژه ده چې په هلمند، کندهار، زابل او اوزرګان کې فعالیت کوي. دا پروژه د 2013 کال د اکتوبر میاشت کې پیل شوې او د مهالویش پر اساس به د 2018 کال د اکتوبر په میاشت کې پای ته ورسیږي.[438]

RADP – سهیل تولیدوونکو، اتحادیو، سوداګرو او سوداګریو د ظرفیت یا وړتیا په لوړوالي تمرکز کوي چې د مارکیټ غوښتنو ته د ځواب ویلو تر څنګ د ارزښت د کړیو د عناصرو تر منځ د اړیکو په رامنځته کولو کې آسانتیا برابروي.[439] د بیلګې په توګه دوکانونه، سوداګر، ژرندې او کرنیزې زیرمې. په روانو درېو میاشتو کې RADP – سهیل د غنمو په کښت، د افتونو او پېینو اداري، تغذیې او د لوړو کچو حاصلاتو په برخه کې په زرګونو بزګرو ته روزنې ورکړې. RADP – سهیل د څارویو د ناروغیو د سیمه ییزو واحدونو ملاتړ هم کوي چې د څارویو واکسین او د ناروغیو درملنه پکې شامله ده. همدارنګه یې د څارویو د ډاکترانو لپاره روزنیز برنامې په لار واچول چې د څارویو د روغتیایي پاملرنې خدمتونه وړاندې کړي. (چې په ټولنو کې د څارویو روغتیایي کارکوونکي پکښې شامل وه تر څو د څارویو لومړنې معاینات او اساسي درملنه وکړي).[441]

د RADP-سهیل د 78 میلونو ډالرو پروژه د 2014 کال د مئ په میاشت کې پیل شوې. دا پروژه په بلخ، جوزجان، سمنګان، بغلان، کندز او بدخشان کې پلي کیږي[442] او په پایله کې یې 3000 بزګر د روزنې په حال کې دي او 187 د لوړې کچې حاصلاتو غوښتونکي او شریکان په څو ولایتونو کې پیژندل شوي دي.[443]

د 70 میلیونو په کچه د RADP-لویدیځ پروژه خپل عملي کار د 2014 کال په اګست میاشت کې په هرات، فراه او بادغیس کې پیل کړو. د USAID په وینا، دا د value-chain تحلیل سرته رسوي تر څو د RADP-لویدیځ مداخلې لپاره محدودې او ممکنې سیمې وپیژني.[444] امنیتي وضعیت او د کرهنې، مالداری او اوبو لګولو وزارت سره د تفاهم لیک د لاسلیک ځنډیدو د RADP-لویدیځ په مهالویش او عملي کیدو اغیزه کړې.[445]

USAID سیګار ته د مارچ په میاشتې کې خبر ورکړ چې دوی د RADP-ختیځ پروژې ته پلان جوړوي چې په هغې کې به ننګرهار او ځینې نور ولایتونه شامل وي، د شمال، ختیځ او لویدیځ لپاره د اقتصادي لارو چارو فعال بدیلونو (IDEA-NEW) نه وروسته د روان کال په آخر کې دا برنامه بند شو. د RADP-ختیځ پروژه د ارزښتي کړۍ په پیاوړې کولو تمرکز کوي (چې په هغې کې د ورودي رسوونکو سره کار، د بازار ساتونکي او نورې کرنیزې سوداګرۍ په ځانګړې توګه د جلال آباد په سیمو کې سرته ورسیږي) چې له بزګرو سره به د مخامخ کارونو کچه ټیټه وي.[446]

د 2015 کال د جون په 30 مهUSAID د RADP-شمال په پروژې مجموعاً 7.8 میلیونه ډالر، په RADP-سهیل یې 30.5 میلیونه ډالر او په RADP-لویدیځ یې 6.3 میلیونه ډالر لګولي دي.[447] د معشیت د بدیل ددې برنامه په هکله د لنډو معلوماتو د لاسته راوړلو لپاره ددې راپور په 128 پاڼه کې3.16 جدول وګورئ.

## د سوداګریزې باغدارۍ او کرنیزې بازارموندنې برنامه

د سوداګریزې باغدارۍ او کرهنیزې بازارموندنې برنامه (CHAMP) د 45 میلیونو ډالرو په ارزښت د USAID برنامه دی چې د کرهنیزو تولیداتو د زیاتوالي او د خوړو د ثبات، د بازار موندنې د فرصتونو برابرولو او د کوکنارو د کښت د کموالي لپاره په لار اچول شوی. CHAMP د کلیوالي افغان بزګرو د غربت په کموالي کار کړی چې دا کار یې بزګرو سره د لږ ارزښت لرونکو حاصلاتو لکه غنم او جوارو پر ځای د لوړ ارزښت لرونکو حاصلاتو لکه میوې او شنې سبزی په کرلو د مرستې په کولو سره سرته رسولی.[448]

CHAMP د افغانستان په 17 ولایتونو کې کار کړی چې د ښې عملي پایلې لرونکې کرهنیزې روزنې، د زیرمو آسانتیاوې رامنځته کول لکه یخې کوټې او د ممیزو د وچولو آسانتیاو تر څنګ د بزګرانو سره د انګورو دودیزو ځمکنیو باغونو نه په د ډیرو حاصلاتو ورکوونکو لوړو باغونو بدل کړي. CHAMP د پټې د صادراتو په زیاتولو کې له بزګرانو سره د سوداګرو د اړیکو په پیدا کولو او سوداګرو ته د لوړو بیو مارکیټونو په موندنه کې هم مرسته کوي. CHAMP ښځو ته په زیات شمیر فعالیتونو کې ونډه ورکوي او هڅه کوي چې د کرهنیز سکتور په اصلي برخه کې دوی ته ځای ورکړي.[450] دغه برنامه د 2016 کال د دسمبر میاشتې پورې د دوه کالو لپاره وغځول شو تر څو د صادراتو د برخې ګټې پیاوړې او افغاني صادرات په سیمه ییزو لویو بازارونو کې په کال کې 10,000 متریک ټنو ته ورسوي.[451]

CHAMP په شپږو (مڼې، زرد آلو، بادام، انګور، هندوانې، خربوزې او انار) ارزښت لرونکو کړیو کې خپل فعالیتونو تر سره کوي.[452] دا برنامه د باغونو او بازار موندنې په پیاوړتیا تمرکز کوي تر څو د متحده عرب اماراتو او هند په څیر د لوړو بیو بازارنو لپاره د لوړ کیفیت لرونکو میوو تولیداتو ته وده ورکړي.[453]

د 2010 کال راپدیخوا CHAMP بیلابیلې لاسته راوړنې لرې چې په هغې کې د 105,700 بزګرانو روزنه، د 2,790 ښځو روزنه، د کرهنیزو تخنیکونو پیاوړتیا؛ درې میلیونه ته نیږدې د نهالونو کینودلو او د ریښو وهلو په نتیجه کې 19,500 بزګرانو ته ګټه رسول؛ او د 29,500 ټنو په کچه او د 33 میلیونو ډالره په ارزښت نړیوالو بازارونو ته صادرات د لویو لاسته راوړنو له ډلې شمیرل کیږي. CHAMP د 230 زیرمو د جوړولو آسانتیا رامنځته کړه او د کرهنیزې سوداګرۍ په برخه کې یې 7,500 دندې رامنځته کړې.[454]

د 2015 کال په لومړیو دریو میاشتو کې CHAMP وکولی شوه چې د کابل، کندهار، کاپیسا، پروان، لوګر او وردګ ولایتونو په سیمه ییزو ښوونځیو کې 792 بزګرانو ته روزنې ورکړې چې په هغې ډله کې 98 ښځې هم شاملې وي. د CHAMP د بزګرانو په سیمه ییزو ښوونځیو کې، ګډونکوونکې نوې کرهنیز

عملیات لکه د ځانګو د چیلي اداره زده کوي او مدرن کرهنیز وسایل لاسته راوړي. د 2015 کال د مارچ په میاشت کې CHAMP د خوړو د ساتني، د خطرونو د څیړني او د کنټرول مهمو ټکو په برخو کې روزنیز برنامه پیل کړ. په فبروري میاشت کې د دوبی د ګل ګلفوډ په ننداري کې CHAMP د اوه افغان سوداګرو د ونډې اخیستنې آسانتیا برابره کړه. چې په پایله کې نږدې 3.8 میلیونو ډالرو په ارزښت معاملو ته لاره برابره شوه او د اضافي تنظیماتو لپاره د 672,000 ډالرو په ارزښت څواک لاسته راوړل شو.[455]

د 2015 کال د جون میاشتې می30 نیټې پورې د CHAMP پروژو 43.4 میلیونه ډالر لګولي.[456] ددې برنامه د مالي لنډو معلوماتو د لاسته راوړنې لپاره ددې راپور په 128 پاڼه کې 3.16 جدول وګورئ.

### د شمال، ختیځ او لویدیځ لپاره د اقتصادي بدیل پر مخ بیولو هڅونې

د USAID د 160 میلیونو ډالرو د IDEA-NEW برنامه چې د 2009 کال په مارچ کې پیل شوی، د هیواد په شمالي، ختیځو او لویدیځو سیمو کې د حلال کرهنیز اقتصاد د پراخوالي لپاره کار کوي.[457] د 2014 کال راپدېخوا IDEA-NEW خپلې هڅې په لویدیځو سیمو او د میوو او تازه سبزیجاتو په برخو کې زیاتې کړې.[458] د USAID د IDEA-NEW برنامه پلې کوونکې ددې لپاره افغان حکومت او نورو ډونرانو ته مراجعه وکړه څکه چې په ختیځ کې د ګوتو په شمیر سوداګری د ښځو په واک کې دي، او دوی به دې کار سره وکولی شي چې د ټاکل شوو موخو لپاره د ښځینه سوداګرو په هکله په ارزښت لرونکې کړیو کې مالومات را ټول کړي.[459] د یوې میاشتې په اوږدو کې د سالنګ په لاره د بریښنا د نه موجودیت او په ځینو ځانګړو سیمو کې د ناامنی له امله د ځینو فعالیتونو بشپړیدل ځنډول شوي.[460]

د IDEA-NEW په یوه ارزونې کې راغلي دي چې د IDEA-NEW د برنامه د څارنې او ارزونې هیڅ ډول غوره شوي میکانیزم د بیلابیلو پروژو د فعالیتونو په لړ کې د کوکنارو په کښت کومه اغیزه نه ده اچولې.[461] که ننګرهار د بیلګې په توګه د یوې څیړنیزې مطالعې په توګه په نظر کې ونیسو نو په راپور کې لیدل کیږي چې ددې برنامه په اوږدو کې د کوکنارو د کښت کچه لوړه شوې.[462] راپور څرګندوي چې د IDEA-NEW د څارنې اغیزه د لاندې مسایلو له کبله پیچلې ده:

- د ولایت په ځینو سیمو کې نا امنې
- د پرمختګ په برخه کې د مرستې پرته نور داسې عوامل شته دي چې د کوکنارو د کښت په کموالي کې مرسته کوي
- په سیمه کې د نورو نړیوالو ادارو بې شمیره مداخلې[463]

د 2015 کال د جون میاشتې 30می نیټې پورې د USAID د IDEA-NEW فعالیتونو لپاره 153.0 میلیونه ډالر لګولي.[464] د IDEA-NEW او د بدیل معشیت د نورو برنامو مالي معلوماتو لپاره ددې راپور په 128 پاڼه کې 3.16 جدول ووینئ. په مهربانۍ سره د IDEA-NEW په هکله د نورو معلوماتو لپاره د 2015 کال د اپریل په میاشت کې د متحده ایالتو کانګرس ته د سیګار درې میاشتینی وړاندې شوی راپور وګورئ.

## د مخنیوي عملیات او پایلې

DOD راپور ورکړی چې د 2015 کال د اپریل له 1 نیټې نه د جون تر 22 نیټې پورې افغان امنیتي ځواکو او د قانون د پیاوړتیا ادارو د نشه یي توکو د بندیز یا مخنیوي 50 عملیاتونه اجرا کړي چې د 66

وګړو د نیولو پایله لري. په دې عملیاتو کې منظم کشفیات، او د پلټنې عملیات شامل وه. سږ کال د متحده ایالاتونو ځواکونو افغانانو ته د لوجستیکي او استخباراتي ملاتړ د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې فعالیتونه له امله بند کړی دی. که څه هم DEA د افغان تخصصي څیړنیزو واحدونو د مشورې ورکول او ملاتړ ته دوام ورکړی. د متحده ایالاتو ځواکونه تر اوسه پورې د افغان ځانګړي عملیاتو قطعه (SMW) ته لوژستیکي ملاتړ برابروي.[465]

د مخنیوي زیات شمیر فعالیتونه په ختیځو او د پلازمینې په سیمه ییزو برخو کې ترسره شوي. پخوا به بندیزونه او مخنیویو په سویلي سیمه ییزو برخه تمرکز کولو، ځکه چې اکثریت کوکنار په سویلي سیمو کې وده، پروسس او له افغانستان نه بهر قاچاق کیږي. DOD ویلي دي چې په بندیزونو یا نیونو او عملیاتو کې د دوامداره کموالي رامنځته کیدل د ایتلاف د کموالي پایله ده، په ختیځ او د پلازمینې شاوخوا سیمو کې د مخنیوي ځواکونو لپاره خطر دومره زیات نه دی لکه څومره چې په سویلي برخو کې دی. ایتلافي ځواکونه ( او د متحده ایالاتو نظامي ځواکونه) د نشه یي توکو پر وړاندې مبارزې اوس مهال هیڅ ډول عملیات نه ترسره کوي.[466]

د افغانستان د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې پولیسو (CNPA) تر څنګ هغه افغان ارګانونه چې د نشه یي توکو د مخنیوي فعالیتونه ترسره کوي د ABP, ANA, ANP او د پولیسو د خاصي قطعې عمومي ریاست (GDPSU) دي. د منځګړو ادارو عناصر چې د منځګړو عملیاتو د همغږۍ مرکز (IOCC) یکښې شامل دی، د افغان او RS ګډو مخنیونکو هڅو کې خپل ملاتړ ته دوام ورکړی.

د IOCC نظامي او د قانون د پیاوړتیا ګډې ډېټا نه د نشه یي توکو د یاغي عناصرو په وړاندې په عملیاتو کې د یوه ملاتړ په حیث کارول کیږي. DOD سیګار ته خبر ورکړي چې IOCC به د جون په پای کې وتړل شي.[467] DOD د امنیت د بنه والي او په افغانستان کې د ثبات په راپور کې لیکلي دي چې له CNPA سره به نړیوالي مرستې په ځانګړي توګه د متحده ایالتو لخوا په 2016 کال کې د توقع په اساس په ډیرې حیرانوونکې ډول کمې شي.[468] د مالي ملاتړ دا کموالی به د CNPA په موثریت ډیره بده اغیزه وکړي، څو که افغان دولت وکولی شي چې ددې مصارفو د پوره کوله لپاره عاید لاسته راوړي ستونزه به کمه وي. د هیواد د بودیجې په هکله د بحث لپاره ددې راپور د اقتصادي او ټولنیز پرمختګ په برخه کې 165 پاڼه وګورئ.

DOD سیګار ته ویلي چې دوی د نشه یي توکو د منځګړیتوب ګډ سیمه ییز واحد (RNIFC) پرانیستی تر څو د نشه یي توکو سوداګرۍ پر وړاندې مبارزه وکړي چې په افغانستان کې د متحده ایالتو نظامي ځواک په وړتیاوو کې کموالی رامنځته کړی.RNIFC په بحرین کې موقعیت لري چې په منځیني ختیځ او ختیځې افریقا د سمندر په کښتیو کې افغان هیرویین لیږد په نښه کوي او حملې پرې کوي. RNIFC د سیمیزو همکارو هیوادو سره په راتلونکو عملیاتو کې د همغږۍ او همکارۍ لپاره ونښلول شي.[469]

په دې دوره کې هم د افغان عملیاتو پر مهال د لاندنیو غیر قانوني نشه یي توکو د نیولو پایلو راپور ورکړل شوی:

- 3,980 کیلوګرام تریاک
- 675 کیلوګرام هیرویین
- 1,208 کیلو چرس
- 80 کیلوګرامه لومړني کیمیاوي مواد[470]

**لومړني کیمیاوي مواد:** داسې مواد دي چې د نشه یي توکو او نشه یي اعتیاد دواګانو په جوړولو کښې ترې کار اخیستل کیږي.

سرچینه: UNODC، "د کیمیاوي او لومړنیو موادو د څو ژبو قاموس،" 2009، viii.

جدول 3.17

**د مخنيوني پايلې، 2008 مالي کال – لومړی ربع 2015 مالي کال**

| | 2008 | 2009 | 2010 | 2011 | 2012 | 2013 | 2014 | 2015* | ټولټال |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د عملياتو شمير | 136 | 282 | 263 | 624 | 669 | 518 | 333 | 222 | **3,047** |
| نيول شوي کسان | 49 | 190 | 484 | 862 | 535 | 386 | 441 | 318 | **3,265** |
| نيول شوي چرس (کيلوګرام) | 241,353 | 58,677 | 25,044 | 182,213 | 183,776 | 37,826 | 19,088 | 15,528 | **763,505** |
| نيول شوي هيرويين (کيلوګرام) | 277 | 576 | 8,392 | 10,982 | 3,441 | 2,489 | 3,052 | 1,676 | **30,885** |
| نيول شوي مورفين (کيلوګرام) | 409 | 5,195 | 2,279 | 18,040 | 10,042 | 11,067 | 5,925 | 505 | **53,462** |
| نيول شويترياک (کيلوګرام) | 15,361 | 79,110 | 49,750 | 98,327 | 70,814 | 41,350 | 38,307 | 23,647 | **416,666** |
| نيول شوي لومړني کيمياوي مواد (کيلوګرام) | 4,709 | 93,031 | 20,397 | 122,150 | 130,846 | 36,250 | 53,184 | 234,981 | **695,548** |

يادونه: *د مالي کال د يوې برخې پايلې يوازې تر 6/22/2015 پورې. يو کيلوګرام = شاوخوا 2.2 پاونډ. د سيګار څېړنې د نشه يي کيمايي توکو د نيونې لپاره د 2015 مالي کال کال په را ټولې شوي ډېټا کې يوه بې نظمي موندلې. رسنيو ته د راپور له رسيدو وړاندې بايد DOD دا شمير تصديق کړی وی.

سرچينه: DOD، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 6/29/2015.

لکه څنګه چې په 3.17 جدول کې ښودل شوي، د مخنيوي پايلې د 2012 کال راپدېخوا په کميدو دي. د DOD له راپور سره سم افغان کشفياتي مرکزونو د نشه يي توکو پر وړاندې په مبارزه کې د ايتلافي ځواکونو له مرستې پرته پيچلې څېړنې او عمليات په بریالیتوب سره سرته رسولې. که څه هم د ايتلافي ځواکونو کموالي د نشه يي توکو پر وړاندې د مخنيوي عملياتو په برخه کې د افغانستان په ورتيا په ځانګړې توګه په کندهار او هلمند ولايتونو کې اغيزه کړې. د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې د ګډ جوړ شوي ډيټابيس پر اساس، ټول ټال په 2011 مالي کال کې د 46.6% په کچه د نشه يي توکو پر وړاندې عمليات له 624 نه په 2014 مالي کال کې د ايتلافي ځواکونو په وتلو سره 333 عملياتو ته ټيټ شوي، او تر څنګ يې په نيول شوو هيروينو د 2011 مالي کال را په ديخوا د 72% په کچه له 10,982 کيلوګرامو څخه د 2014 مالي کاله پورې د 3,052 کيلوګرامو په کچه کموالی راغلی. د 2011 مالي کال کې په هلمند او کندهار کې 75% ټول هغه عمليات چې د نشه يي توکو پر وړاندې تر سره شوي وه، په 2014 مالي کال کې هماغو ولايتو کې په ترسره شوو عملياتو کې 32% کموالی رامنځته شوی.[471]

## د هوايي چلند ملاتړ

د INL په وينا، بهرنيو چارو وزارت د نشه يي توکو پر وړاندې مبارزې د DEA د ملاتړ لپاره د 163.5 ساعتونو الوتنې کړې (چې په هغې کې د الوتنې 108 ساعته د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې په هڅو کې شوې او د الوتنې 55.5 ساعته د (NIU) يا د مخنيوني افغان ملي واحد د ملاتړ او د DEA د مسافرو د ليږد لپاره ترسره شوې) 159 ناڅاپي حملې، د 879 پرسونل ليږد او د 64,645 په کچه د کارګو ليږد ترسره شوی. د INL د کابل ټيم لپاره د 35.4 ساعتونو الوتنې ترسره شوې.[472] د کندهار په هوايي ډګر کې د INL هوايي ځانګه په رسمي توګه د 2015 کال د جون په 27مه نيته وتړل شوه.[473] دې ځانګې په سويلي افغانستان کې د DEA د ملاتړ لپاره ګرځنده مالي مرستې برابرولې. د INL پر اساس، دنشه يي توکو پر وړاندې افغان ځانګړې روزل شوې پوليس به په دې سيمه کې د NIU د هغه غونډه سره يوځای عملياتو ته دوام ورکوي چې د کندهار د سيمه ايز قانون د پياوړتيا په مرکز کې موقعيت لري.[474]

# حکومتولي محتویات


| | |
|---|---|
| مهمې پېښې | 135 |
| د افغانستان نوی حکومت | 136 |
| د افغان دولت بودجې سره<br>د متحده ایالاتو مرسته | 138 |
| درې میاشتنې مهم ټکي: په بودجه<br>کې شامله مرسته | 141 |
| ملي حاکمیت | 144 |
| ځایی یا سیمه ایزه حکومتولي | 148 |
| پخلاینه او بیرته یوځای کیدل | 151 |
| د قانون حاکمیت او د فساد سره مبارزه | 153 |
| بشري حقونه | 160 |

# حکومتولي

د 2015 د جون تر 30 پورې متحده ایالاتو په افغانستان کې د حکومتولی او اقتصادي پراختیا ملاتړ لپاره نږدې 31.8 میلیارده ډالر چمتو کړي دي. د دغه تمویل ډیری برخه چې له 18.6 میلیارده ډالرو ډیر کیږي د اقتصادي ملاتړ صندوق (ESF) ته مختص شوي و چې د بهرنیو چارو وزارت او د نړیوالي پراختیا لپاره د متحده ایالاتو اداري (USAID) لخوا اداره کیږي.

## مهمې پېښې

د *ولسي جرګې* د کاري مودې پای ته رسیدو څخه 30-60 ورځې دمخه ټاکنو لپاره د قانوني اړتیا سربیره، په ټاکنیزو اصلاحاتو د ولسمشر اشرف غني او اجرایه رییس عبدالله ترمینځ دوامداره اختلاف د پارلماني ټاکنو د مهالویش کولو ځنډ لامل شو.[475] که څه هم د ولسي جرګې کاري موده د 2015 د جون په 22 نیټه پای ته ورسیده، خو ټاکنې ترسره نشوې.[476] د جون په 19 نیټه ولسمشر غني اعلان وکړ چې ولسي جرګه به ترهغه وخت پورې خپل کار ته دوام ورکوي چې ټاکنې ترسره شي او پایلې یې روښانه شي. ولسمشر دا هم وویل چې د یوې میاشتې په لړ کې به د ټاکنو نیټه اعلان شي.[477]

د جون په 22 نیټه طالبانو په پارلمان ځانمرګی برید ترسره کړ او دا یوازې یو څو شیبې وړاندې له هغه وو چې د ولسمشر دوهم معاون د باور رایې اخیستو لپاره دفاع وزارت ته د ملي یووالي حکومت نوماند وزیر معصوم ستانکزی پارلمان ته وروپیژانده.[478]

د جولای په 4 نیټه ولسي جرګې معصوم ستانکزي ته د دفاع وزارت لپاره د باور رایې ورنکړه. ستانکزی چې د مېی میاشتې راپدیخوا د دفاع سرپرست وزیر وو او له هغې وړاندې یې د سولې عالي شورا د دارالانشا رییس په حیث دنده ترسره کړې وه، د باور لپاره اړین 107 رایو څخه یوازې 84 رایی خپلې کړې. د دفاع وزارت (MOD) د نهه میاشتو راپدیخوا تایید شوی وزیر نلري.[479]

د جولای په 7 نیټه د افغان دولت پلاوي او افغان طالبانو په پاکستان کې سره وکتل چې د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت دي کتنې ته د "سولې لومړی رسمي ناستې" نوم ورکړ.[480] *طلوع نیوز* راپور ورکړ چې په پلاوي کې د بهرنیو چارو وزارت معین حکمت کرزی شامل و.[481] د متحده ایالاتو او چین چارواکو ناسته کې د څارونکو په حیث ګډون کړی وو. پاکستاني چارواکو وویل چې افغان دولت او طالبانو موافقه کړې چې بیا سره وګوري او "د سولې او پخلاینې لپاره د ګټور چاپیریال رامینځته کولو په موخه خبرو اترو" ته دوام ورکړي.[482] د راپورونو له مخې د طالبانو او حقاني شبکې لوړپوړو مشرانو په ناسته کې ګډون کړی وو.[483]

د سولې خبرو اترو په اړه د وينا پرمهال غني وويل چې د دغه خبرو دوهم دور به ممکن د جولای پای او اګست پيل ترمينځ پيښ شي. د غني له خولې را اخيستل شوي چې طالبانو ته يې "ورونه" ويل او وې ويل چې "طالبان افغانان دي، دوی بهرنيان ندي. دوی بايد [افغان دولت] ته خپلې انديښنې په ليکلې بڼه وسپاري ځکه چې په نړۍ کې هيڅ کومه داسې مسله شتون نلري چې د خبرو له لارې حل نکړی شي. د دې مسلې حل جګړه نده."[484]

داسې نښې شتون درلود چې د خبرو اترو په اړه طالبان په دوه ډلو ويشل شوي و. د مثال په توګه، د طالبانو اړوند يوې ويب پاڼې لومړي مخ کالم کې دغه خبرې اترې رد شوي وې مګر وروسته بيا پرته له کوم توضيحاتو څخه دغه مينځپانګه حذف شوې وه.[485] په هرصورت، د جولای په 15 د راپورونو له مخې د طالبانو مشر ملا عمر د خبرو اترو څخه د "سياسي هڅو" او "سوله ايز لارو" په حيث يادونه کړې چې د "نيواک پای ته رسولو" مشروع طريقه ده.[486]

پدې ربع کې د نړۍ قضا پروژې خپل د *قانون حاکميت لړليک 2015* خپور کړ چې افغانستان ته د 102 ارزول شوي هيوادونو ترمينځ د دوهم ترټولو خراب درجه ورکړل شوې. بشپړه نمره د کټګوريو يو ترکيب و. افغانستان د حکومت ځواک، خلاص حکومت، او نظم او امنيت په برخه کې کټګوريو محدوده کې د دې په ټيټو نمرو کې غوره فعاليت کړی، مګر د فساد نه شتون او جنايي قضا په کټګوريو کې ترټولو خراب.[487]

## د افغانستان نوی حکومت

## د ټاکنيز اصلاحاتو ننګوونې

د 2014 ولسمشرۍ ټاکنو چې نړيوالو څارونکو له خولې د پام وړ فساد پکې و، د ټاکنيزو اصلاحاتو لپاره د افغانستان اړتيا برجسته کړه.[488] لکه څنګه چې په جون کې د ملګرو ملتونو عمومي منشي په نښه کړې، "په ديموکراتيک پروسه د افغان وګړو له سره باور پيدا کولو لپاره هراړخيز ټاکنيز اصلاحات خورا مهم دي."[489]

د ټاکنيزې پروسې له سره بشپړ ارزول د واک شريکولو معاملې يوه مرکزي برخه وه چې د متحده ايالاتو په مينځګړيتوب د ولسمشر غني او د هغه سيال اجرايه رييس عبدالله ترمينځ د ولسمشرۍ ستونزمنو ټاکنو وروسته وشوه. د 2014 د سپتمبر تړون چې د ملي يووالي حکومت د رامينځته کيدو لامل شو دا موارد پکې و: (1) د ټاکنيز اصلاحاتو لپاره د يوه ځانګړي کميسون سمدستي رامينځته کول چې بيا د دغه کميسون اصلاحات د 2015 کال د پارلماني ټاکنو دمخه پلي شي او (2) ټولو افغان ښاريانو ته هر څومره ژر چې امکان ولري د برېښنايي پېژند پاڼو (تذکرو) ويشل.[490] په هرصورت د بهرنيو چارو وزارت په وينا، د دې ربع په جريان کې افغان دولت د ټاکنيز اصلاحاتو په برخه کې يوازې يو څه پرمختګ کړی دی.[491]

د مارچ په 21 نيټه د ولسمشر دفتر اعلان وکړ چې غني د ټاکنيز اصلاحاتو ځانګړی کميسون (SERC) رامينځته کړی دی. د بيان له مخې، غني SERC رامينځته کړ ترڅو د افغانستان ټاکنيز سيستم کې "بنسټيز اصلاحات" راولي، د قانون حاکميت او ديموکراتيک پروسه پياوړې کړي، او د ټاکنيزو قوانينو او مقرراتو څخه د سرغړونې مخه ونيسي. تر د جولای 16 پورې نه و چې غني د SERC بشپړ ګومارنې اعلان کړې.[492] د جولای په 22 نيټه SERC خپل کار پيل کړ.[493]

د 2009 کال راهیسي پلانونو شتون درلود چي په رایو یا ټاکنو کي د درغلی فرصتونو کمولو لپاره د بیومیتریک پیژند کارتونه (ای – تذکره یا بریښنایي تزکره) معرفي شي. دا پلانونه د لوژستیکي ستونزو او په نوموړي کارتونو د افغان تابعیت ښودلو لپاره کاریدونکي ټکو یا اصلاحاتو پرسر اختلاف له امله وځنډیدل.[494] USAID په کابل کي د 90 ورځو یوه پیلوټ ازمیښت ملاتړ کاوه په کوم کي چي د کورنیو چارو وزارت (MOI) څخه معلومات راټولول.لاتړ کاوه په کوم کي چي د کورنیو چارو وزارت د بریښنایي تذکري ملاتړ لپاره د ملکي کارمندانو او د هغوی د کورند بریښنایي تذکري ملاتړ لپاره د ملکي کارمندانو او د هغوی د کورنیو څخه معلومات راټولول.[495] د افغان دولت د بریښنایي تذکري ګروپ هم د ملګرو ملتونو پراختیا برنامي (UNDP) د ELECT II برنامي سره کار کاوه ترڅو د راتلونکي پارلماني ټاکنو لپاره د کابل ښار انګړ کي یوه پیلوټ پروژه پرمخ ویسي. د بریښنایي تذکرو هدف دا و چي د وګړو یا نفوس ډیټا رامینځته کړي ترڅو د ټاکنو خپلواک کمیسون (IEC) بیا د بیومیتریک ډیټا سره د بریښنایي پیژند پر بنسټ د رایي ورکونکو لیست جوړ کړي.[496]

په هرصورت، د دي ربع جریان کي د بریښنایي تذکرو پیلوټ پروژي د پام وړ پرمختګ ندی کړی. د جون په 28 نیټه USAID د پرمختګ نه شتون او د افغان دولت ادارو روښانه ژمنتیا نه شتون له امله د نوموړي برنامي تمویل ودراو. د بهرنیو چارو وزارت په ویناء داسي بریښي چي اروپای اتحادیه د پروژي د معاشاتو تمویل ته دوام ورکوي.[497] د جولای په پیل کي د بریښنایي تذکرو پروژي عمومي رییس وویل چي غني د برنامي ګړندي کولو او د ډونرانو هڅولو لپاره د نوي شوي حرکت امر وکړ. عمومي رییس ویل چي بریښنایي تذکري باید د "لوی شمیر اتباعو" لپاره چمتو وي، په استثنا د 2019 کال د ولسمشری راتلونکي ټاکنو ځنډونو څخه.[498]

نړیوالو ډونرانو د ټاکنیز مهالویش نه شتون او د ټاکنیز اصلاحاتو په لور د غیرکافي پرمختګ له امله د افغانستان ټاکنیزو نهادونو لپاره خپل تمویل او مرستي کمي کړي دي. په پایله کي IEC او د ټاکنیزو شکایاتو خپلواک کمیسون (IECC) د کارمندانو د کمولو پروسه پیل کړي او داسي لاري ارزوي ترڅو میاشتني لګښتونه راکم کړي، پداسي حال کي چي د افغان دولت بودجي له لاري د متمم تمویل په لټه کي دي.[499]

## پیلي ګومارني

د اپریل په 1 نیټه د ولسمشر دوهم معاون محمد سرور دانش پارلمان ته د دفاع وزارت او لوی څارنوالی نوماندانو د پام وړ استثنا سره د کابیني 16 نوماندان وروپیژندل.[500] ولسي جرګي د اپریل په 18 ټول 16 نوماندانو ته د باور رایه ورکړه. په انفرادي نوماندانو د نورو توضیحاتو لپاره 146–147 مخونه وګورئ.[501]

د جولای په 1 نیټه دانش ولسي جرګي ته د دفاع وزارت، مرکزي بانک، او د افغانستان ستري محکمي دوه قاضي نوماندان وروپیژندل.[502] د ستري محکمي نوماندانو کي د افغانستان په تاریخ کي لومړی ځل یوه میرمن شامله وه. په هرصورت، د جولای په 4 پارلمان د دفاع وزارت نوماند رد کړ او د جولای په 8 یې د ستري محکمي لپاره میرمن نومانده رد کړه.[503] د جولای په 8 پارلمان د مرکزي بانک رییس او د ستري محکمي نارینه نوماند ته د باور رایه ورکړه.[504]

د اپریل 27 او جون 7 ترمینځ غني د عبدالله په موافقت سره 18 والیان وګومارل. د جون تر 23 پورې د ملي یووالي حکومت د 34 ولایتونو څخه د 21 لپاره والیان ګومارلي دي.[505] د غور او دایکندي ولایتونو لپاره میرمني والیاني ګومارل شوي، مګر لاریونونو د دایکوندي ولایت د والي د کار پیل کولو مخه ونیوله.[506]

## د افغان دولت بودجې سره د متحده ایالاتو مرسته

## د مستقیم بودجې ټرونونو لنډیز

د افغانانو لومړیتوبونو له مخې د حکومتولی پرمختګ او د پراختیا هڅو په لیکه کولو لپاره نړیوال ډونرانو د 2010 کابل کنفرانس کې ژمنه وکړه چې د ملکي پراختیا مرسته چې د افغان دولت له لارې مستقیم بودجه ده تر 50% لوړه کړي.[507] ډونرانو، د متحده ایالاتو پشمول دغه ژمنه د جولای 2012 ټوکیو کنفرانس کې او بیا وروسته د دسمبر 2014 لندن کنفرانس کې تکرار کړه.[508]

لکه څنګه چې په جدول 3.18 کې ښودل شوي، USAID تمه لري شاوخوا 1 میلیارد ډالر د مستقیم دوه اړخیزې مرستي فعال برنامو کې مصرف کړي. نوموړې اداره دا تمه هم لري چې د افغانستان بیارغوني وجهي صندوق (ARTF) سره 1.9 میلیارد ډالر مرسته وکړي، د هغه 1.37 میلیارد ډالرو دبره چې د USAID او نړیوال بانک ترمینځ د مخکیني بلاعوضه مرستي ټرون لاندې یې مصرف کړي دي.[509] USAID د افغانستان زیربنا وجهي صندوق (AITF) کې د 105 میلیون ډالر مصرف کړي دي.[510]

د متحده ایالاتو دولت په مارچ کې اعلان وکړ چې د افغان ملي دفاع او امنیتي ځواکونو (ANDSF) ملاتړ لپاره د تمویل په لټه کې دی، پشمول د اردو او پولیسو، لږترلږه د 2017 اوږدو پورې تر د 352,000 پرسونل.[511] د امریکا دفاع وزارت (DOD) د 2015 مالي کال (FY) بودجه کې د ANDSF لپاره د 4.1 میلیارد ډالرو غوښتنه کړې او لاسته یې راوړې دي،[512] چې دغه مقدار به د 2015 په اوږدو کې د پای ځواک 352,000 شمیر پرسونل ټیکاو کې مرسته وکړي، او د FY 2016 بودجه کې د 3.8 میلیارد ډالرو غوښتنه کړې.[513] مخکې په 2012 شیکاګو کنفرانس کې نړیوالې ټولنې ژمنه وکړه چې افغان امنیتي ځواکونه د خپلې اټکل شوي 4.1 میلیارد ډالرو کلنی بودجې سره له مالي پلوه ملاتړ کړي. په هرصورت، دا اټکل شوي بودجه د 228,500 پرسونل کم شوي ځواک لپاره وه.[514]

د سپتمبر 2014 والز غونډه کې، د ناټو متحدینو او ملګرو تر د 2017 پای پورې د ANDSF مالي ټیکاو ته د پام وړ مرستي او راتلونکي 10 کلونو لپاره د مالي پلوه د ANDSF ثبات سره مرستي ته خپله ژمنه له سره تازه کړه. نړیوالې ټولنې د نږدې €1 میلیارد یورو اضافي مرستي چې شاوخوا 1.29 میلیارد ډالر کیږي، په کلني ډول د 2015 څخه تر د 2017 پای پورې د ANDSF ثبات لپاره ژمنه کړې.[515]

په 2015 کې د امریکا دفاع وزارت د افغانستان لپاره د UNDP د قانون او نظم وجهي صندوق (LOTFA) له لارې MOI ته د پولیسو د معاشاتو ورکولو لپاره د 108 میلیون ډالرو مرستي تمه کوي.[516] دا د تیر کال د شاوخوا 308 میلیون ډالرو مرستي څخه د پام وړ کموالی و.[517] دغه کموالی ممکن لدې امله و چې نورو نړیوال ډونرانو LOTFA ته خپلې مرستي ډیرې کړې دي.[518] *نیویارک ټایمز* په تیر دسمبر کې راپور ورکړ چې غني غوښتنه کړې د LOTFA اداره د شپږ میاشتو په موده کې افغان دولت ته وسپارل شي.[519] د جون په 30 د کورنیو چارو وزارت اعلان وکړ چې LOTFA به د 18 میاشتو لپاره وغزول شي، چې لدغه مودې وروسته به د کورنیو چارو وزارت د پولیسو د معاشاتو د ورکړې بشپړ مدیریت په خپل لاس کې واخلي.[520]

**د مستقیم بودجې مرسته:** د ډونرانو هغه مرسته چې د افغان دولت پلانونو سره په لیکه کې وي، د افغان دولت بودجې اسنادو کې شامل شوي وي، او د پارلمان لخوا مختص شوي وي او د افغان خزانې سیستم له لارې اداره شي. د مستقیم بودجې مرسته یا د ډونر او افغان دولت نهادونو ترمینځ مستقیم دوه اړخیز ټرونونو له لارې ورکول کیږي یا د څو ډونرانو وجهي صندوقونو له لارې.

**د بودجې پرته مرسته:** د ډونرانو هغه مرسته چې د افغان ملي بودجې چوکاټ څخه بهر وي او د افغان دولت سیستمونو له لارې نه اداره کیږي.

سرچینه: سیګار، *د امریکا متحده ایالاتو کانګرس ته درې میاشتنی رپورټ*، 7/30/2014، مخ 130؛ د مالیه وزارت، "د لیږد او وروسته لپاره د مرستې د مدیریت پالیسي،" 12/10/2012، مخ 8.

جدول 3.18

**د USAID د مستقیم بودجي برنامي**

| د پروژې/وجهي صندوق سرلیک | د افغان دولت د مستقیم بودجي ملکري | خانګړی بانکي حساب؟ | د پیل نیټه | د پای نیټه | ټولټال اټکل شوی لګښت (ډالر) | تر 6/30/2015 پوري مجموعي مصرفونه (ډالر) |
|---|---|---|---|---|---|---|
| **له دولت څخه دولت ته دوه اړخیزي پروژې** | | | | | | |
| د بریښنا د انتقال غزولو او اتصال پروژه (PTEC) | د افغانستان بریښنا شرکت (DABS) | هو | 1/1/2013 | 12/31/2018 | $670,000,000 | $36,791,897 |
| د روغتیا خدماتو (PCH) برنامي لپاره د ملګرتیا قراردادونه | د عامي روغتیا وزارت | هو | 7/20/2008 | 12/31/2015 | 259,663,247 | 220,355,890 |
| د کجکي واحد 2 پروژه (د کجکي بند هایدرو پاور کارځای کي د ټوربین جنریټر واحد 2 نصب) | DABS | هو | 4/22/2013 | 12/31/2015 | 75,000,000 | 28,198,416 |
| لومړنی تعلیم او سواد او مسلکي تعلیم او روزنه (BELT) ـ د ټولني میشته تعلیم† | د معارف وزارت (EOM) | هو | 10/29/2013 | 3/10/2015 | 56,000,000 | 0 |
| د افغانستان د کاري ځواک پراختیا پروژه (AWDP) | MOE | هو | 9/18/2013 | 4/3/2016 | 30,000,000 | 664,275 |
| لومړنی تعلیم او سواد او مسلکي تعلیم او روزنه (BELT) ـ د درسي کتابونو چاپ او توزیع† | MOE | هو | 11/16/2011 | 12/31/2014 | 26,996,813 | 24,436,268 |
| د ای – دولت د سرچیني مرکز (EGRC) | د مخابراتو او معلوماتي ټیکنالوژی وزارت | هو | 8/28/2013 | 6/1/2016 | 3,900,000 | 30,000 |
| **د څو ډونرانو وجهي صندوقونه** | | | | | | |
| د افغانستان د بیارغوني وجهي صندوق (ARTF) (اوسنی قرارداد ورکړه یا اوارډ)* | ډیری | نوري | 3/31/2012 | 3/31/2017 | 1,900,000,000 | 1,058,302,620 |
| د افغانستان د زیربنا وجهي صندوق (AITF)** | ډیری | نوري | 3/7/2013 | 3/6/2018 | 105,670,184 | 105,000,000 |

یادونه:
† هغه برنامي چي نوري فعال ندي.
* USAID ARTF ته یو مخکینی اوارډ درلود چي د 2012 مارچ کي راټول شو او ټولټال 1,371,991,195 ډالر لګښت یي درلود. دا مهال د ARTF څخه مجموعي مصرفونه 2,430,293,815 ډالر دي.
** د 2014 اکتوبر په 9، USAID د AITF څخه 179,500,000 ډالر بیرته مکلف کړي دي.

سرچینه: USIAD، د سیګار د معلوماتو غوښتنو ته ځوابونه، 6/25/2015 او 7/12/2015.

لدی کبله چي سیګار دمخه موندلي د کورنیو چارو وزارت د داخلي کنټرول میکانیزمونه د دي کار لپاره کافي ندي، سیګار باور لري چي د LOTFA څخه د پولیسو تادیاتو مستقیم مالي مرستي ته د افغان دولت ته لیږد به جدي خطرونه رامینځته کړي. سیګار د مستقیم مرستي مخالف ندی، مګر باور لري چي دا ډول یو حرکت باید د داخلي کنټرولونو سخته لیکه ولري چي ډاډ ورکړي چي نوموړي پیسي د اړوند مقاصدو لپاره مصرفیږي.[521]

د امریکا دفاع وزارت هم تمه لري پدې کال کي شاوخوا 1.6 میلیارد ډالر د افغانستان دفاع وزارت مستقیم مرستو او شاوخوا 553 میلیون ډالر د کورنیو چارو وزارت مستقیم مرستو کي ورکړي.[522]

## د مستقیم بودجې ملکي مرسته

USAID د (1) افغان دولت اوه نهادونو سره دوه اړخیز تړونونو او (2) د څو ډونرانو دوه وجهي صندوقونو ARTF او AITF له لارې د مستقیم بودجې ملکي مرسته چمتو کوي.[523] د USAID په وینا، د ټولې دوه اړخیزې مرستې فنډونه د هرې برنامې لپاره د مالیه وزارت لخوا رامینځته شوي جلا بانکي حسابونو کې اینودل کیږي.[524]

ARTF چې د نړیوال بانک لخوا اداره کیږي، د افغان دولت عملیاتو، د پالیسي اصلاحاتو، او ملي لومړیتوب برنامو ملاتړ لپاره د افغان دولت دواړه عملیاتي او پراختیایي بودجې ته فنډونه چمتو کوي.[525] د څو ډونرانو وجهي صندوق AITF چې د آسیا پراختیایي بانک لخوا اداره کیږي، په افغانستان کې د زیربنا پروژو لپاره مرسته همغږي کوي.[526] د USAID په وینا، د مستقیم بودجې مرستې ډیری برخه د څو ډونرانو وجهي صندوقونو په څانګړي توګه ARTF له لارې پرمخ ځي او همداسې به دوام ولري.[527]

د USAID په وینا، نړیوال بانک د ARTF د اداره کونکي په حیث د پام وړ خطرونو سره د ARTF فنډونو د مخکیدو لړترلړه کولو لپاره سیستماتیک لارې په کار اچوي. پدې کې د خطرونو په نښه کولو، څیړلو، تحلیل کولو او بیا د خطرونو په ګوته کولو او نظارت کولو لپاره پالیسیانې، کړنلارې او عملونه شامل دي. نړیوال بانک افغان دولت ته تخنیکي مرسته چمتو کوي ترڅو داډ ترلاسه کړي چې ورته سیستمونه په کار اچول شوي او پیاوړي دي.[528]

متحده ایالات د افغان دولت سره له نږدې کار کوي ترڅو د ARTF له لارې وړاندې کیدونکې د USAID د اداري لاندې نوښت، د 800 میلیون ډالرو اداره کولو لپاره د پایلو کارې چوکاټ او پلې کیدونکي تړون رامینځته کړي.[529] د نوې پراختیا ملګرتیا (NDP) د غني د اصلاحاتو اجنډا ملاتړ لپاره د ځلور کالو هڅونکي برنامه ده. دا برنامه په تیره ربع کې اعلان شوه او دا به دمخه بودجه شوې یا غوښتل شوې تمویل وکاروي.[530] افغان دولت به پیلې ډول د مالي ثبات، فساد سره مبارزې، او د غربت یا لوږې کمولو اړخونه د NDP پراساس د لومړیتوب په حیث په نښه کړي دي. د بهرنیو چارو وزارت په وینا، راتلونکي مرحله د ځانګړي پایلو رامینځته کول دي چې دولت به یې پدغه برخو کې د ترلاسه کولو په لټه کې شي ترڅو د هڅونکي فنډونو ترلاسه کولو جوګه شي.[531]

## ANDSF ته د مستقیم بودجې مرسته

د مستقیم بودجې مرستې لویه برخه د افغان امنیتي ځواکونو لپاره ده. د امریکا دفاع وزارت افغان دولت ته د مستقیم بودجې مرسته (1) د دفاع وزارت او کورنیو چارو وزارت ته د افغانستان امنیتي ځواکونو فنډ (ASFF) څخه مستقیم مرستو او (2) د څو ډونرانو LOTFA ته د ASFF مرستو له لارې چمتو کوي.[532] د UNDP لخوا اداره کیدونکي LOTFA اساسا د افغان ملي پولیسو (ANP) معاشات او تشویقي تادیات ورکوي.[533] د مستقیم مرستې تمویل د مالیه وزارت ته چمتو کیږي، چې دا بیا د اړتیا له مخې دغه مرسته د دفاع وزارت او د کورنیو چارو وزارت ته مختص کوي.[534]

# د مستقیم بودجې مرسته

د USAID په وینا، په دوه اړخیز ډول د مستقیم بودجې مرستې چمتو کولو او د ځو ډونرانو وجهي صندوق له لارې چې د عامه نړیوال نهادونو لخوا اداره کیږي، کې ټیکاو او ضعفونه دواړه شتون لري.

*د دوه اړخیزې* مستقیم بودجې مرسته کې ټیکاو او ضعفونه په لاندې ډول دي:

**ټیکاو**

- د افغان دولت سره د پراختیا اندیښنو باندې غوره ډیالوگ یا خبرې اترې هڅوي او د سرچینو د مصرفولو څرنګوالي او دا چې کله مصرف شي پدې اړه د لید اړوند اساسي دخالت تړیوی کچې برابروي.
- د بودجې پرته مرستې په پرتله ډیره مؤثره کیدی شي او لګښت یې کم وي.
- USAID ته اجازه ورکوي د فعالیت شاخصونو/مرحلو له لارې د سیکټور په کچه پالیسیانو او برنامو باندې اغیزه ولري.
- د شراکت اجرا لپاره قوي ژمنه په ګوته کوي.
- د افغان دولت بشري او نهادي ظرفیت جوړوي.
- د مستقیم بودجې نوي پروژو د پیل کولو دمخه د پام وړ خطراتو پیژندلو لپاره د عامه مالي مدیریت خطر ارزوني ترسره شوي دي؛ او د مستقیم بودجې ترون کې د پروژې ځانګړي خطر کمولو اقدامات ترکیب شوي دي.

**ضعفونه**

- د برنامو بشپړولو لپاره د افغان دولت ظرفیت ضعیف دی او ډیری وختونه د برنامې اهدافو بشپړولو لپاره د پلان شوي وخت څخه ډیر ته اړتیا دي.
- د خطر کمولو لپاره د بهرني اداره کیدونکي پروژې مدیریت واحدونو کارول یا د افغان دولت ملکي کارمندانو ضعیف ظرفیت د ظرفیت جوړونه کموي.
- د مدیریت د پام وړ بار یا دروندوالی ورپیژني او د USAID د کارمندانو لپاره ډیر کار رامینځته کوي.
- د امنیتي اندیښنو له کبله د USAID د سفر کولو وړتیا نه درلودل د USAID د فعالیتونو مستقیم نظارت مخه نیسي (USAID یادونه کوي چې دا د بودجې پرته مرستې فعالیتونو باندې هم اغیزه کوي).
- په کوربه هیواد کې سیاسي بدلونونه د فعالیتونو پلي کول ځنډولی شي.

د عامه نړیوال نهاد لخوا اداره کیدونکي ځو *ډونرانو* وجهي صندوق له لارې د مستقیم بودجې مرستې چمتو کولو ټیکاو او ضعفونه په لاندې ډول دي.

**ټیکاو**

- د افغان دولت ملکیت هڅوي.
- ډونرانو ته اجازه ورکوي خپلې مرستې په لیکه کړي او هڅې همغږي کړي. د مثال په توګه، د افغانستان د زیربنا پانګوونې لپاره اړتیا په راتلونکي درې کلونو کې 4 میلیارد ډالر اټکل شوې، چې د یو یووستوي تمویل اداري یا تمویل لپاره د افغان دولت هاخوا ده. AITF نړیوالي ټولنې لاره برابروي چې دغه پانګونه شوني کړي.
- د مدیریت بار د USAID څخه عامه نړیوال نهاد ته لیږدوي.
- د ځانګړي پلي کولو او تمویل میکانیزمونو رامینځته کولو او مزاکره کولو او د اجرا کولو نظارت لپاره د USAID د کارمندانو د اوږو بار کموي.
- مالي او پروګراماتیک بار عامه نړیوال نهاد ته لیږدوي.

**ضعفونه**

- USIAD کنټرول له لاسه ورکوي ځکه چې دا فنډونه د نورو ډونرانو مرستو سره ترکیب شوي دي.
- عامه نړیوال نهاد کولی شي د USIAD اضافي اړتیاوې رد کړي او ممکن راپور ورکول محدود کړي.
- په پلي کولو، نظارت او د معنی لرونکي پایلو تایید باندې لږ کنټرول.
- د متحده ایالاتو مرستو ته د پایلو نسبت ورکول ستونزمن وي ځکه چې د USAID فنډونه د نورو ډونرانو فنډونو سره ترکیب وي.
- د پروژو په اوږدو کې د متحده ایالاتو د مرستو مصرف څرنګوالي په اړه محدود تشخیص.[535]

په فبروري 2011 کې د دفاع وزارت حسابدار د امنیتي لیږد ګډې قومانده – افغانستان (CSTC-A) ته واک ورکړ چې د بودجې پراختیا او اجرا کولو، د اکتساب پلان کولو او تدارکاتو برخو کې د وزارتونو ظرفیت او وړتیا رامینځته کولو لپاره ASFF څخه د افغانستان دولت ته مستقیم مرستې چمتو کړي. د دفاع وزارت او کورنیو چارو وزارت ته د ASFF سرچینو ټولې مرستې CSTC-A اداره کوي. CSTC-A د دغه فنډونو اجرا نظارت کوي او په رسمي ډول یې تفتیش کوي ترڅو د وزارتونو ظرفیت وارزوي او د مستند محاسباتي کړنلارو سره د سمو کنټرولونو او اجابت څخه ډاډه شي په بیله بیا د کلني ژمني مکتوبونو کې شته وړاندوینو اجابت.[536] د فنډونو کفایت لپاره د مصرفونو او د مصرفونو نرخ یا د "مصرف سرعت" نظارت کولو لپاره CSTC-A د افغانستان د مالي مدیریت د معلوماتو سیسټم (AFMIS) اونۍ واره ډیټا بیاکتنه کوي.[537]

CSTC-A د ګډوډیو په نښه کولو لپاره د AFMIS ډیټا څیړي لکه د داسې توکو لپاره لګښتونه چې CSTC-A یې نه مومي. CSTC-A د سمون لپاره کورنیو چارو وزارت او د دفاع وزارت ته خپل موندلې ګډوډۍ راپور کوي.[538] د CSTC-A هرډول چمتو شوی تمویل چې غلط کوډ شوی وي یا د 30 ورځو په موده کې اصلاح نشي، به د راتلونکي مصرفونو څخه ونیول شي.[539]

CSTC-A خبر ورکوي چې د AFMIS ډیټا د افغان وزارت کارمندانو لخوا دننه شوي، نو د ډیټا معتبریت په لویه کچه د سیسټم ډیټا دننه کولو کې د دوی کوشش او درستي پورې تړاو لري. د مثال په توګه که چیرې یو لیږد یا انتقال حذف شوی وي، نو CSTC-A به الزاما لدغه څخه نه وي خبر کړل شوی. CSTC-A نه پوهیږي چې ایا افغانان د AFMIS ډیټا د معتبر کولو لپاره دوره ای ارزوني ترسره کوي یا نه،[540] مګر راپور ورکوي چې CSTC-A د AFMIS اونۍ وار بیاکتنې پرمخ وړي او "د امکان تر حد پورې ډیټا معتبره کوي."[541]

د دفاع وزارت 1394 مالي کال بودجې سره د CSTC-A ټولټال مرسته شاوخوا 89.47 میلیارد افغانۍ ده (د ډالرو له مخې د تبادلې 56 افغانیو نرخ په کارولو سره شاوخوا 1.6 میلیارد ډالر).[542] د کورنیو چارو وزارت 1394 مالي کال بودجې سره د CSTC-A ټولټال مرسته 30.99 میلیارد افغانۍ ده (د ډالرو له مخې د تبادلې 56 افغانیو نرخ په کارولو سره شاوخوا 553 میلیارد ډالر).[543]

د 1394 ژمني مکتوبونو د سونګ توکو خدماتو پشمول دمخه بودجې پرته مرستې مدیریت ANDSF ته د اړولو لپاره د CSTC-A تکل بیانوي. د ژمني مکتوبونو په وینا، د دفاع وزارت لپاره د اټکل له مخې د سونګ توکو خدماتو کلنی لګښت 262 میلیون ډالر دی،[544] پداسې حال کې چې د کورنیو چارو وزارت لپاره 150 میلیون ډالر اټکل شوی. CSTC-A د بودجې پرته سونګ توکو د پیرود یا تدارک حق له خانه ره لري.[545] د ژمني مکتوبونو کې CSTC-A د دواړه دفاع وزارت او کورنیو چارو وزارت لپاره یادونه کړې چې د سونګ توکو پیرود او تحویلۍ کې فساد یا درغلي ځانګړې اندېښنه ده.[546]

سیګار د هغه جدي تورونو په اړه جنایي بازرسي ترسره کړې چې د دفاع وزارت د سونګ توکو قرارداد کې د قراردادي د سازش، نرخ ټاکلو او بډو له لارې فساد شوی دی، د نورو معلوماتو لپاره برخه 2 مخ 60 وګورئ.[547] په تیره ربع کې، ولسمشر غني د تدارکاتو پورې اړوند فساد تورونو په تعقیب د افغان اردو لپاره د تیلو د راتلونکي درې کلونو لپاره د 800 میلیون ډالرو قرارداد رده کړ. غني وروسته لدې بازرسي هم په لاره واچوله کله چې یې راپور ترلاسه کړل د ګټونکي قراردادي داوطلبي د بل احتمالي داوطلب څخه 215 میلیون ډالر لوړه وه.[548]



**د مالیه وزیر** اکلیل احمد حکیمي په 2015 کې او بیا وروسته د ANDSF لپاره د ډونرانو د ژمنو همغږي کولو لپاره د سفیرانو کچې د څار او همغږۍ څلورم جوړښت په ګډه مشري کړ. (د بریدمل چاریټي ایډګر لخوا د امریکا د دفاع وزارت عکس)

د CSTC-A په وینا، د سونګ توکو د تدارکاتو بازرسي د دې لامل شوه چې د سونګ توکو او نورو توکو لپاره د مستقیم بودجې قرارداد کولو ته د بودجې پرته تدارکاتو لیږد ځینې حالاتو کې وځنډول شي او CSTC-A او افغان دولت اړ شول چې له سره یې وارزوي. CSTC-A د افغان دولت د تدارکاتو پروسه وارزوله ترڅو د اجرا کولو ستونزې، د ظرفیت نه شتون، د افغانستان د تدارکاتو قانون مراعت کولو کې پاتې راتلل او نورې سیستماتیک مسلې په ګوته کړي.[549] د 1394 ژمنې مکتوبونو کې دواړه وزارتونه (د کورنیو چارو وزارت او دفاع وزارت)، قرارداد شوي پلورونکي او د ایتلاف نمایندګان اړ دي چې په هرو دوه اونیو کې د سونګ توکو د قرارداد اسنادو بیاکتنه وکړي. CSTC-A غواړي راتلونکی تمویل کم کړي که چیرې کوم یو پیرود د ژمنې لیک وړاندوینو پوره کولو کې پاتې راشي.
CSTC-A د تادیې او مهماتو پشمول سونګ توکو او نورو لومړیتوبونو باندې د تفتیش هڅې هم متمرکز کړي دي.[550] سربیره پردې، CSTC-A د دواړه دفاع وزارت او کورنیو چارو وزارت لپاره د تدارکاتو پلان کولو، اجابت او اجرا کولو لپاره د تدارکاتو د تصویب اونۍ وار هییت (PAB) هم پلي کړی دی.
په PABs کې د افغانستان د تدارکاتو ملي اداري پلاوی، CSTC-A او هوډمن ملاتړ ماموریت، او د اړوند وزارتونو د اکتساب او تدارکاتو نهادونه شامل دي. د PABs هدف د ډاډ وړاندې کول دي چې د تدارکاتو سمې پروسې ترسره کیږي پشمول د شرایطو دمخه پوره کولو اړتیاوې، د داوطلبۍ ارزولو کړنلارې، او د داوطلبۍ د فرصتونو متمرکزه اعلانات.[551]

په فبرورۍ کې غني د ولسمشرۍ کمیسون لاندې د تدارکاتو لوی قراردادونو مرکزي کولو لپاره د تدارکاتو ملي کمیسون (NPC) رامینځته کړ چې د "صداقت لپاره د بې ساري اعتبار" سره د افغان مهم چارواکو یوه ډله ده.[552] سیګار د متحده ایالاتو حکومت د هغه دوه نهادونو څخه یو دی چې د بې پرې مشاهده کونکو په حیث دغه ناستو کې ګډون کوي. د نور معلوماتو لپاره برخه 2 مخ 56-57 وګورئ.

د کورنیو چارو وزارت او د دفاع وزارت اړوند تدارکاتو پورې تړلي فساد کمولو لپاره د غني هڅې د تدارکاتو پروسه ځنډنۍ کړې او هغه څه یې رامینځته کړي چې CSTC-A ورته د "[افغان مالي کال] 1394 د تدارکاتو بحران" نوم ورکړی دی.[553] د دفاع وزارت د 648 اړتیاو څخه یوازې 266 یې د دفاع وزارت د اکتساب ادارې ته سپارل شوي او یوازې 31 قراردادونه ورکړل شوي دي. د کورنیو چارو وزارت هم ورته تجربې سره مخ دی چې 925 معلومې اړتیاوې لري، لدې څخه یوازې 209 د کورنیو چارو وزارت د تدارکاتو ریاست ته سپارل شوي او 47 قراردادونه ورکړل شوي دي. د CSTC-A په وینا، د تدارکاتو ځنډ د مستقیم بودجې تدارکاتو ته د بودجې پرته تدارکاتو په بریالي ډول انتقالولو کې شته فرصتونه د پام وړ حد پورې محدودوي.[554]

د ډونرانو او د کورنیو چارو وزارت ترمینځ د یوه تړون په تعقیب د 2014 په دسمبر کې LOTFA د ګرځنده تلیفونونو ته د موبایل پیسو تادیاتو له لارې د پولیسو د معاشاتو تادیه کولو اوږده پیلوټ برنامه پای ته ورسوله.[555] دغه برنامه په 2009 کې پیل شوه کله چې د ګرځنده تلیفون شرکت روشن یو خدمت وړاندیز کړ چې دا به په نوموړې برنامه کې ثبت پولیس خبروي چې د دوی معاش د ترلاسه کولو لپاره د روشن نمایندګۍ کې برابر شوی دی یا شتون لري.[556] د موبایل پیسو برنامې هدف د معاشاتو ورکړه کې د اداري فساد کمول و په ځانګړي توګه هغه سیمو کې چې بانکي اسانتیاوې نلري. (عموما په ورته سیمو کې یو "باوري نماینده" په نغدي ډول معاشات ورکوي، یو داسې سیستم چې پخپله فساد ته لاره هواروي.)[557] د CSTC-A په وینا، د موبایل پیسو برنامې ډیرې موانع درلودې، پشمول د مالیه وزارت او د افغان مرکزي بانک د ملاتړ نه شتون، بانکي سیستم سره تړاو نه درلودل، او د فنډونو مسؤلیت په غاړه اخیستو کې د روشن پاتې راتلل کله چې به د هغه موبایل پیسو سیستم ته دغه فنډونه انتقال شول.[558]

د LOTFA د موبایل پیسو پای ته رسیدو سربیره، په پکتیکا ولایت کې د نوي کابلبانک (NKB) او د افغان بیسیم مخابرتي شرکت (AWCC) ترمینځ ملګرتیا له لارې د موبایل پیسو نوې برنامه پیل شوې. د CSTC-A په وینا، دا نوې برنامه د مالیه وزارت او د غني لخوا ملاتړ شوې. د دې نوې برنامې لپاره سافټویر د کارونکو ترمینځ د مالي انتقالاتو لاره برابروي په بیله بیا د نوم لیکنې پرمهال ورکړل شوي بیومیټریک کارت په کارولو سره د پلورونکو څخه په فزیکي ډول د نغدي پیسو اخیستل. کارونکي باید د پلورونکو یا بانک څخه د پیسو ایستلو لپاره بیومیټریک شناخت، د ګوتو چاپ او ځانګړی رمز وړاندې کړي. CSTC-A وویل چې دا نوی سیسټم د تفتیش وړ دی ځکه چې دا د افغان بانکي سیسټم سره تړلی دی، NKB د مالیه وزارت څخه د فنډونو د انتقال څخه وروسته مسؤلیت په غاړه اخلي، نغدي پیسې ترلاسه کول دواړه د NKB بانکي څانګو او د AWCC جواز لرونکي پلورونکو سره شتون لري، او دا د "ای – پیسو یا د بریښنایي پیسو" کارول هڅوي.[559] CSTC-A پلان لري چې د غني د لید سره په لیکه کې د موبایل پیسو تادیات د ANP ټولو هغه پرسونل ته وغزوي څوک چې د بانکونو له لارې د فنډونو بریښنایی لیږد ته لاسرسی نلري.[560]

## ملي حاکمیت

د ټوکیو څو اړخیز حساب ورکولو کاري چوکاټ (TMAF) په افغانستان کې نړیوالي بوختیا لپاره اوضاع برابروي او د څو اړخیز حساب ورکولو سنجش لپاره منل شوي وسیله ده.[561] نړیوالې ټولنې او افغان دولت په جولای 2012 کې د ټوکیو کنفرانس کې د TMAF باندې موافقت وکړ. د بهرنیو چارو وزارت په وینا، TMAF او اړوند شاخصونه د دې لپاره دي چې اصلاحاتو ته د افغان دولت ژمنې ارزولو لپاره افغان اتباعو، نړیوال ډونرانو او نورو نړیوال څارونکو ته شته او چمتو میکانیزم برابر کړي او یوه داسې وسیله ده چې له مخې یې ډونران د فوق العاده مقدار مرستې برابرولو ته دوام ورکول تاییدوي. که چیرې افغان دولت په خپل فعالیت کې پاتې راځي، نو دوام لرونکي مرسته د خطر سره مخ کیدی شي.[562]

نړیوال ډونرانو او افغان دولت د دسمبر 2014 لندن کنفرانس کې موافقت وکړ چې TMAF باید تازه کړل شي ترڅو د 2015 وروسته دوه وپوښي. افغان دولت او ډونران د تازه شوي کاري چوکاټ لپاره تازه اهداف او شاخصونو په اړه غږیږي او پیښ لیک ورته برابروي. د تازه شوي کاري چوکاټ لپاره هدف د سپتمبر په پیل کې په کابل کې د مهالویش شوي مشر چارواکو ناسته کې د دغه کاري چوکاټ تصویب کول دي.[563]

## د ظرفیت جوړولو برنامې

د USAID د ظرفیت جوړولو برنامې غواړي چې د مستقیم بودجې مرستې لپاره د افغان وزارتونو د چمتو والي وړتیا، اداره کولو او محاسبې ته وده ورکړي. دا برنامې د افغان دولت نهادونو د پراخه بشري او نهادي ظرفیت جوړولو ملاتړ ته عمومي مرسته هم چمتو کوي.[564] لکه څنګه چې په جدول 3.19 کې ښودل شوي، په فعال برنامو کې د USAID د 31 میلیون ډالرو د رهبریت، مدیریت او حکومتولی پروژه شامله ده چې غواړي د افغانستان مالي مدیریت سیستمونه او د عامې روغتیا وزارت او د معارف وزارت ظرفیت پیاوړی کړي ترڅو د مستقیم بودجې ډیرې شوې مرستې لپاره د 2010 کابل نړیوال کنفرانس کې وړاندې شوي اړتیاوې پوره کړي.[565] USAID د ښځو چارو وزارت د نهادي جوړښت او واکمند کولو پروژه هم تمویلوي، دا د 15 میلیون ډالرو پروژه د نورو شیانو ترمینځ د وزارت سره مرسته کوي خپل مالي مدیریت پرمختللی کړي، لکه څنګه چې د راتلونکي مستقیم بودجې مرستې لپاره ورته اړتیا ده.[566]

جدول 3.19

**په ملي کچه د USAID د ظرفيت جوړولو برنامې**

| د پروژې سرليک | د افغان دولت ملګرى | د پيل نېټه | د پاى نېټه | ټولټال اټکل شوى لګښت (ډالر) | تر 6/30/2015 پورې مجموعي مصرفونه (ډالر) |
|---|---|---|---|---|---|
| د رهبريت، مديريت او حکومتولۍ پروژه | د عامې روغتيا وزارت د معارف وزارت | 9/25/2012 | 6/30/2015 | $38,341,106 | $33,901,491 |
| د افغانستان له حقوقي ادارو سره مرسته (ALBA) | پارلمان | 3/28/2013 | 3/27/2018 | 24,990,827 | 9,458,073 |
| د افغانستان د ښځو د چارو وزارتد تشکيلاتو د بياسموني او پياوړتيا پروژه (MORE) | د ښځو چارو وزارت | 12/20/2012 | 12/19/2015 | 14,182,944 | 6,325,251 |

سرچينه: USAID، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/12/2015.

د افغان وزارتونو هڅول ترڅو ملکي خدمت باندې ډېره تکيه وکړي او پر "موازي ملکي خدمت" پورې وابستګي کمه کړي چې د لوړ رتبه غير ملکي مامورينو د معاشاتو تاديه کولو ته د ځينې ډونر تمويل شوي برنامو له لارې رامينځته شوى، USAID پريکړه کړې چې مرسته د يو وسټوي برنامو څخه د پايلو لپاره د ظرفيت جوړولو (CBR) ARTF برنامې ته واړوي.[567] متحده ايالاتو د CBR د 112 ميليون ډالرو په ملاتړ 5 ميليون ډالر مرسته کړې.[568] CBR د حکومت په اوږدو کې د عامه اداري روان اصلاحاتو، د انتخاب شوي ملکي مامورينو روزنې، او د وزارت اصلاحاتو ملاتړ لپاره د محدود تخنيکي مرستې ملاتړ کوي.[569] CBR وزارتونو فرصت برابروي چې د بازار نرخ سره سم د معاشاتو په برخه کې مهم بستونو ته د لوړ ظرفيت لرونکي کارمندان په دندو وګوماري.[570]

د نړيوال بانک په وينا، د خدمت عرضه کولو څلور لوى برخو کې د افغان دولت په اوږدو کې د برنامې لپاره روښانه اړتيا ده، د هغه وزارتونو لپاره چې اوس پکې برخه اخلي او 50% د شرايطو وړ وزارتونه چې خپل د مخه شرايط پوره کولو غوښتنليکونه يې سپارلي دي. مګر په اپريل کې نړيوال بانک ومونډل چې CBR د غير رضايت وړ پرمختګ کولو ته دوام ورکړى او خورا لوړ خطر له ځانه سره لري. د پراختيا هدف ترلاسه کولو په لور بشپړ پرمختګ د پروژې د ډيزاين، ظرفيت مسلو او سياسي اقتصادي فاکتورونو له امله ځنډيني دى.[571]

په فبرورۍ کې، نړيوال بانک د پروژې لپاره د پلي کولو روښانه ترتيباتو او د افغان دولت مشرتابه لپاره اړتيا باندې موافقت؛ CBR ته د وزارتونو د لاسرسي اسانولو؛ د CBR د ملکي خدمت ګرندي ګومارنې؛ د مسلکي شرکتونو د کارولو له لارې د مهم برخو لپاره ملاتړ؛ او د ملکي مشاورينو لپاره د معاش همغږي کولو په موخه د غني او د دولت مشر چارواکو سره وکتل. تمه کيږي د دغه ننګونو رسمي کولو لپاره د ماليه وزارت د پروژې د بيا جوړښت غوښتنه وکړي.[572]

## ملي شورا

د ولسي جرګې د مودې پای ته رسېدو څخه 30-60 ورځې دمخه ټاکنو لپاره د قانوني اړتیا سربېره، دغه موده د 2015 د جون په 22 پای ته ورسېده خو ټاکني ترسره نه شوې.[573] د جون په 19 نېټه ولسمشر غني اعلان وکړ چې ولسي جرګه به ترهغه وخت پورې خپل کار ته دوام ورکوي چې ټاکني ترسره شي او پایلې یې روښانه شي. ولسمشر دا هم وویل چې د یوې میاشتې په لړ کې به د ټاکنو نېټه اعلان شي.[574] ځیني قانون پوهان او قانون جوړونکي د پارلمان مودې غزولو لپاره د اجرایی قوې مشروعیت او د اړتیا سره سم د ټاکنو ترسره کولو کې د اجرایی قوې پاتې راتلل تر پوښتنې لاندې راولي.[575]

د بهرنیو چارو وزارت په وینا، د افغانستان پارلمان د ظرفیت ودې او سیاسي پوخوالي په ګوته کولو یا ښودلو ته دوام ورکوي. پداسې حال کې چې پارلمان د اجرایه قوې سره د خپل قانوني حقوقو د محافظت کولو وړتیا لري او په وزارتونو عامه نظر اچوي. په هرصورت، د کارمندانو کوششونه، فساد او د ټیټ تعلیم او تجربه د دې لامل کیږي چې دغه نهاد زیانمنوي.[576]

د اپریل په 18 ولسي جرګې د غني او عبدالله لخوا د کابینې نومول شوي 16 غړي تایید کړل. پدغه تایید شوي غړو کې شامل دي:

- **د پولو او قبایلو چارو وزیر:** محمد ګلاب منګل، د هلمند، لغمان او پکتیکا ولایتونو پخوانی والي؛
- **د تریاکو سره د مبارزې وزیر:** آغلې سلامت عظیمي، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسون د ماشومانو د حقونو څانګې پخوانی مشره؛
- **د معارف وزیر:** اسدالله حنیف بلخي، کویټ کې د فغانستان پخوانی سفیر؛
- **د لوړو زده کړو وزیر:** آغلې فریده مومند، د کابل طب پوهنتون د پیډیاټریک څانګې پخوانی مشره؛
- **د اطلاعاتو او کلتور وزیر:** عبدالباري جهاني، د امریکا غږ پخوانی ژورنالیست؛
- **د عدلیه وزیر:** عبدالبصیر انور، د عامي روغتیا پخوانی معین؛
- **د کار، ټولنیزو چارو، شهیدانو او معیوبینو (MOLSAMD) وزیر:** آغلې نسرین اوریاخیل، په 2014 کې د غني د کمپاین پخوانی غړې؛
- **د عامه کارونو وزیر:** محمود بلیغ، د کابل پولتخنیک پوهنتون پخوانی استاد؛
- **د ښاري پراختیا چارو وزیر:** سید منصور نادري، د افغانستان د افغان کرستال طبیعي زیرمو وروستی رییس؛
- **د ښځو چارو وزیر:** آغلې دلبر نظري، د سمنګان ولایت څخه د پارلمان پخوانی غړې؛
- **د سوداګرۍ او صنایع وزیر:** همایون رسا، د ولسمشر کرزي د کارمندانو رییس پخوانی معاون، او د ملي امنیت د ریاست لپاره د ملاتړ معاون؛
- **د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزیر:** اسدالله ضمیر، د کلیو د پراختیا وزیر پخوانی مالي مشاور او د معارف وزارت پخوانی مشر مشاور؛
- **د انرژۍ او اوبو وزیر:** علي احمد عثماني، په لویدیز افغانستان کې د اروپایی اتحادیې برنامو لپاره پخوانی کوردیناتور یا همغږی کونکی؛
- **د مخابراتو وزیر:** عبدالرزاق واحدي، د مالیه وزارت پخوانی معین؛
- **د اقتصاد وزیر:** عبدالستار مراد، د کاپیسا ولایت پخوانی والي؛
- **د ټرانسپورټ او ملکي هوانوردۍ وزیر:** ډاکټر محمدالله بتاش، د فاریاب والي او د ټرانسپورټ او ملکي هوانوردۍ پخوانی معین.[577]

د USAID په وینا، پداسي حال کي چي پخوا د پارلمان لپاره د نصاب پوره کول ننګونه وه، پدې ربع کي دواړه ولسي جرګي او د مشرانو جرګي نصابونه پوره ول کله چي مهم یا حیاتي قانون جوړونه د دوی پروړاندې وه. ولسي جرګي د وزیرونو د اوریدا پرمهال هم د نصاب پوره کولو هیڅ ستونزه نه درلوده.[578]

د ربع په جریان کي د پارلمان د حکومت د بیلابیل چارواکو د اوریدو او ځواب غوښتني ناستي هم په لاندې ډول وې:

- د مې په 18 د IEC رییس د ولسي جرګي ټاکنو باندې خبرې وکړې.
- د جون په 3 د کانونو او پترولیم وزیر د مس عینک او حاجیګک کانونو په اړه تصدیق وکړ.
- د جون په 3 او د جون په 10 د ترپاکو سره مبارزې وزیر په افغانستان کي د مخدره توکو د کارونکو او روږدي کسانو شمیره تایید کړه یا وربانديې وغږید.
- د جون په 6 د مالیه وزیر او د افغانستان بانک سرپرست رییس د ګمرکي عوایدو کمیدو او د ډیر شوي مالیاتو او انفلاسیون په اړه د هڅې والو شکایاتو باندې وغږید.
- د جون په 9 د انرژي او اوبو وزیر او د افغانستان بریښنا شرکت رییس په وروستیو کي د هیواد په اوږدو کي د بریښنا نه شتون په اړه توضیحات وړاندې کړل.
- د جون په 23 د معارف وزیر د کابل د ښوونځیو د ښوونکو تعصن او په وزارت کي شته ستونزو په اړه تازه معلومات وړاندې کړل.[579]

USAID د افغانستان قانون جوړونکي نهادونو پروژې (ALBA) ته د 23.5 میلیون ډالرو مرسته ورکوي ترڅو د افغان پارلمان سره د یوه خپلواک او اغیزمن قانون جوړونکي، نماینده او څارونکي نهاد په حیث مرسته وکړي.[580]

پدې ربع کي، ALBA په مارچ کي ترسره شوي د 12 فوکس ګروپونو خبرې او د 12 ژورو مرکو موندني خپرې کړې. دغه مرکي د کابل، کندهار او مزار شریف ښارونو کي ترسره شوي وې. مرکو د غني د حکومت پروړاندې د ناامیدی او سینیسیزم قوي احساسات رابرسیره کړل، پداسي حال کي چي ډیری ځواب ورکونکو اندیښنه درلوده چي د واک شریکولو دوه سره یا د دوه مشرانو حکومتي جوړښت د جګړې یا شخړې او رکود دستورالعمل دی. د پارلمان او ولایتي شوراګانو په اړه د برخه اخیستونکو نظرونه ډیری منفي و، پداسي حال کي چي ځواب ویونکو د شوراګانو او پارلمان غړو ته د ځان ګټي په فکر کي، فاسد او غیر وړ یا د شرایطو وړتیا نلرلو نظر درلود.[581]



د هرات ولایت څخه د ALBA د څار برابر شوي لید پرمهال **د افغان پارلمان غړي** (د USAID عکس)

په تیره ربع کې ALBA په ولایتونو کې د څار سفرونو ترسره کولو لپاره د پارلمان لاندي کمیسونونو ملاتړ کړی دی:

- **بلخ:** د مشرانو جرګې معاون ایزدیار په مشری د مشرانو جرګې ګډ پلاوی؛
- **هرات:** د مشرانو جرګې د اقتصادي او بودجې چارو کمیسون او د مشرانو جرګې د پولو او قبایلو چارو کمیسون؛ او
- **بامیان:** د مشرانو جرګې د مذهبي او کلتوري چارو کمیسون.[582]

## ځایی یا سیمه ایزه حکومتولي

د متحده ایالاتو حکومت د سیمه ایزې حکومتولی په کچه نوښتونه ملاتړ کوي ترڅو افغانانو ته د دوی خپل حکومت کې لویه برخه ورکړي. هدف یې دا دی چې سیمه ایز حکومت افغان وګړو ته لانور د لیدو وړ، حساب ورکونکی او ځواب ویونکی شي.[583]

## د کلیو د ټیکاو برنامې

USAID د ټیکاو ډیری برنامې لري چې هدف یې د افغان حکومت سره مرسته کول دي ترڅو خپل شتون بې ثباته سیمو ته وغزوي او د سیمه ایزې حکومتولی ظرفیت رامینځته کړي. په فعال برنامو کې د USAID د کلیدي ساحو کې ټیکاو (SIKA) پروژې، د ټولنې د یووالي نوښت (CCI) برنامه، او د افغان ملکي مرستې برنامه III (ACAP III) شامل دي.[584] جدول 3.20 تر نن نیټې د برنامې ټولټال لګښتونه او مصرفونه لنډیز کوي.

### په کلیدي ساحو کې ټیکاو

د SIKA هدف د ولسوالی او ولایت په کچه د افغان دولت چارواکو سره مرسته کول دي ترڅو د ځایی اوسیدونکو د پراختیا او حکومتولی اندیښنو ته ځواب ووایی، او پدې توګه په حکومت باور رامینځته شي او ټیکاو یا ثبات تقویت شي.[585] د USAID د SIKA څلور برنامې د "[افغان دولت] د غزولو په تکل، نه

جدول 3.20

**د USAID سیمه ایزې (د کلیو) برنامې**

| د پروژې سرلیک | د پیل نیټه | د پای نیټه | ټولټال اټکل شوی لګښت (ډالر) | تر 6/30/2015 پورې مجموعي مصرفونه (ډالر) |
|---|---|---|---|---|
| په کلیدي ساحو کې ثبات (SIKA) ختیځ | 12/7/2011 | 9/6/2015 | $177,054,663 | $119,547,619 |
| SIKA سهیل* | 4/10/2012 | 7/31/2015 | 120,724,017 | 73,129,707 |
| د افغانستان د ملکي مرستې برنامه (ACAP III) | 4/20/2015 | 2/14/2018 | 30,223,597 | 9,644,000 |
| SIKA لویدیز | 1/29/2012 | 8/31/2015 | 54,000,000 | 45,826,458 |
| SIKA شمال | 3/15/2012 | 5/31/2015 | 38,000,000 | 36,643,399 |
| د ټولنې د یووالي نوښت (شمال، لویدیز) ** | 9/10/2013 | 9/9/2015 | 29,569,265 | 16,987,890 |

یادونه:
*د مصرف ډیټا کې د SIKA سهیل دواړه ګومارنو لپاره ټولټال شامل دی.
** تر 6/22/2015 پورې.

سرچینه: USAID، د سیګار د معلوماتو غوښتنو ته ځوابونه، 6/22/2015 او 7/12/2015.

د بهرني شتون ډیرولو لپاره" لري، او ژمنه یې کړې چې SIKA "باید د افغان جوړښتونو لاندې کار وکړي" ترڅو د افغانستان د کلیو بیاجوړونې او پراختیا وزارت سره مل وي.[586]

USAID د SIKA برنامو اغیزې ارزوي، د MISTI او د SIKA انفرادي برنامو سره زده کړل شوې درسونه پرمخ وړي او د MISTI یوه ګډه ارزونه چې باید تر سپتمبر یا اکتوبر پورې بشپړه شي.[587]

### د ټولنې د یووالي نوښت

د USAID د CCI برنامه د (1) ټولنو ترمینځ او په ټولنو کې د یووالي، (2) د سوله ایز او مشروع حکومتولۍ پروسو او لاسته راوړونو ملاتړ کولو، او (3) د افراطي تاوتریخوالي سره مبارزې له لارې د افغانستان د جګړې ځپلي او نور د لومړیتوب ساحو کې د ټیکاو او پراختیا لپاره شرایط رامینځته کوي. CCI دامهال د هیواد شمال او لویدیز کې د شپږ ولایتونو په 18 ولسوالیو کې کار کوي.[588]

د جنورۍ څخه تر مارچ پورې CCI 49 نوې مرستې تصفیه کړې، په 72 روانو مرستو یې کار ته دوام ورکړ او 151 مرستې یې بشپړې کړې.[589]

### د افغان ملکي مرستې برنامه III

د اپریل په 20، USAID د ACAP III لپاره د ملګرو ملتونو د ماین پاکۍ خدماتو او فرعي نهاد، د افغانستان لپاره د ماین پاکۍ د همغږۍ مرکز سره د 30 میلیون ډالرو تړون لاسلیک کړ. د ACAP III اهداف د (1) قربانیانو اړتیاو پوره کولو مرستې سربیره، د جګړې قربانیانو ته سمدستي طبي او غیر پولي مرستې چمتو کول؛ (2) د قربانیانو سره مرسته کونکې شته دولتي وزارتونو او نهادونو ظرفیت جوړول، او (3) په سیمه ایزه کچه د اطلاع رسونې او مشورې پرمختللي کول دي.[590]

**د سیګار تفتیش**

سیګار د ټیکاو نوښتونو د اغیزو سنجولو (MISTI) پروژې یو روان تفتیش لري. نوموړی تفتیش پلان لري چې (1) وارزوي تر کوم حد پورې د MISTI قراردادي د قرارداد شرایطو سره په مطابقت کې د دریمې ډلې نظارتي خدمات چمتو کړي دي؛ (2) وارزوي چې تر کوم حد پورې USAID د ټیکاو برنامو پلان کولو او پلي کولو کې د MISTI برنامې پایلې ملاحظه کوي؛ او (3) په MISTI کې شته ننګونې په ګوته کړي، د USAID د ټیکاو بیارغونې برنامو ارزونې لپاره د دریمې ډلې نظارت په کارولو سره، او دا چې تر کوم حد پورې USAID دغه ننګونې په نښه کړې دي.

جدول 3.21

**د USAID سیمه ایزي (ولایتي او ښاروالی) برنامې**

| د پروژې سرلیک | د پیل نیټه | د پای نیټه | ټولټال اټکل شوی لګښت (ډالر) | تر 6/30/2015 پورې مجموعي مصرفونه (ډالر) |
|---|---|---|---|---|
| د افغانستان د امید او پراختیا قوي مرکزونه (SHAHAR) | 11/30/2014 | 11/29/2017 | $73,499,999 | $2,838,013 |
| د سیمه ایزو ادارو پیاوړي کولو لپاره نوښت (ISLA) | 2/1/2015 | 1/31/2020 | 62,364,687 | 1,068,053 |

سرچینه: USAID، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/12/2015.



د **SIKA – ختیځ کانال پروژه** په پکتیا ولایت کې د 2015 په مې کې. (د USAID عکس)

د ACAP II څخه III ته د ترټولو پام وړ بدلون دا دی چې نور نو ملکي تیپیان د مرستې ترلاسه کولو لپاره یوازې هغه تیپیان به نه وي چې د نړیوالو ځواکونو لخوا تپي کیږي. د مثال په توګه، د افغان امنیتي ځواکونو او ترهګرو ترمینځ جګړه کې تپي کیدونکي ملکیان کولی شي لدغه برنامې مرسته لاسته راوړي، او همچنان هغه ملکیان چې د تابعه شوي چاودیدونکي وسیلو یا د سړک غاړې ماینونو او د جګړې راپاتې چاودیدونکي توکو له امله تپي کیږي.[591]

## ولایتي او د ښاروالۍ برنامې

USAID پدې وروستیو کې په ولایتي مرکزونو او ښاروالیو متمرکز دوه سیمه ایزې برنامې پیل کړې دي: د سیمه ایزو ادارو پیاوړي کولو لپاره نوښت (ISLA) او د افغانستان د امید او پراختیا قوي مرکزونو (SHAHAR) برنامې. جدول 3.21 تر نن نیټې د برنامو ټولټال لګښتونه او مصرفونه لنډیز کوي.

### د سیمه ایزو ادارو پیاوړي کولو لپاره نوښت

د ISLA هدف د مالي او پراختیا پلان جوړولو، د اتباعو نمایندګي، د عامه خدماتو پرمختللي عرضه برخو کې د افغان دولت ولایتي حکومتولی ته وده ورکولو لپاره د افغان دولت وړ کول دي. ISLA غواړي د سیمه ایزو سیستمونو د پلان جوړول، عملیات، ارتباطات، نمایندګي کول، او د ښاریانو یا اوسیدونکو بوختیا پیاوړي کړي. دا باید د هغه خدماتو لامل شي چې د ټولو اوسیدونکو اړتیاو ته د روغتیا، تعلیم، امنیت، قضا، او ښاري خدماتو په برخه کې خورا نږدې ځواب ووایی.[592]

ISLA به د پنځه سیمه ایز مرکزونو څخه خپل فعالیت پرمخ ویسي: کابل، مزار شریف، جلال اباد، کندهار، او هرات. دا پلان لري چې 16 ولایاتو کې کار وکړي چې د افغان دولت سره تړون په لاره کې دی: بادغیس، بغلان، بلخ، فراه، فاریاب، غزني، غور، هرات، کندهار، کنړ، لغمان، لوګر، ننګرهار، پروان، وردګ او زابل.[593]

د سیمه ایزو ارګانونو خپلواک ریاست (IDLG) د هغه 16 ولایاتو بیاکتنه کوي چې د ISLA قرارداد کې په ګوته شوي او د ISLA د ډیزاین پرمهال یې په اړه د IDLG سره خبرې شوي ترڅو د افغان دولت اوښتونکي لومړیتوبونه منعکس کړي. USAID تمه لري چې IDLG به USAID ته په نږدې راتلونکي کې د 16 ولایاتو تازه لیست چمتو کړي ځکه چې د دغه اداري عمومي رییس پدې وروستیو کې په دنده ګومارل شوی دی.[594]

**سیمه ایز اقتصادي زونونه:** د افغانستان هغه ساحې چې د ډېریدونکي تولید او سوداګرۍ جغرافیه ای مرکزونو باندې د اوښتو پوتانسیل یا ظرفیت لري، او د لوړ او هراړخیزې اقتصادي ودې ډاډ ورانديږ کوي. تمه کیږي دغه زونونه د خواړو پرمختللي امنیت، اقتصادي پراختیا، د دندو رامینځته کولو، او د سیمه ایزې سوداګرۍ ډېرولو لپاره په کلیدي سیکتورونو کې د پانګوونې په نښه کولو له لارې چې د اقتصادي پرمختګ پرمخ وړونکي ملاحظه کیږي، د کتلست رول ولوبوي.

سرچینه: USAID، "د REZ پیښلیک ستراتیژي،" 12/3/2013.

### د افغانستان امید او پراختیا لپاره قوي مرکزونه

د SHAHAR برنامې هدف د ښې اداره شوي، له مالي پلوه پیاوړي افغان ښاروالیو رامینځته کول دي چې د پرمخ ډېریدو ښاري نفوس اړتیاو پوره کولو ظرفیت ولري. موخه یې د ښاروالۍ حکومتونه یا اداري او همچنان د ښاروالۍ د چارو عمومي ریاست او د ښاروالۍ مشورتي هییت ملاتړ دی، او غواړي د ښاروالۍ مالي مدیریت، د ښاري خدماتو عرضه او د ښاریانو مشورت لوړ کړي. نوموړې برنامه په 16 د کوچني او مینځنې کچې ولایتي مرکزونو باندې تمرکز وکړي چې د USAID درې ټاکل شوي سیمه ایز اقتصادي زونونو کې موقعیت لري، په بیله بیا د کندهار ښار، هرات، مزارشریف او جلال اباد سیمه ایز مرکزونو ولایتي مرکزونه.[595]

د SHAHAR برنامه د تحرک مرحله کې ده او دامهال د ښاروالۍ ظرفیت بنسټیزې ارزونې پرمخ وړي پشمول د عوایدو تولید او مالي مدیریت، ستراتیژیک پلان جوړول، او د ټولنې اطلاع رسولو او د ښاروالۍ خدماتو عرضه په اړه د ښاریانو لیدونه. د USAID په وینا، SHAHAR د افغان دولت شریک نهادونو کې د سیاسي بې ثباتي له امله چې د پریکړې کول یې ځنډنې کړي، یوازې یوڅه ځنډ سره مخ ده.[596]

## پخلاینه او بیرته یوځای کیدل

افغان دولت د افغانانو په مشرۍ د یوې رسمي پروسې له لارې د ملي پخلاینې لاسته راوړو باندې د پام وړ تاکید کړی دی. د ربع په جریان کې، ولسمشر غني د افغان او سیمه ایز خبرې کونکو سره د ملي پخلاینې هڅولو لپاره بوخت و. غني وویل هغه طالبانو او نورو ترهګرو ډلو ته غیږه خلاصه کړې ده چې په افغانستان کې سیاسي رول لوبوي، چې د "بهرني تروریست جنګیالیو څخه" جلا وي، چې هغه وویل هغوی په افغانستان کې هیڅ ځای نلري.[597]

غني په مکرر ډول ویلي چې افغانستان اړ دی د پاکستان سره سوله وکړي ترڅو د طالبانو سره سوله وشي.[598] د می په 12 د پاکستان لومړي وزیر نواز شریف سره د یوه ګډ مطبوعاتي کنفرانس پرمهال غني اشاره وکړه چې دواړه هیوادونه د یوه دښمن سره مخ دي، داسې یو بیان چې لومړی وزیر شریف هم ورسره همغږی پرې همغږی و.[599] په هرصورت، په جون کې د یوې وینا پرمهال غني په کندهار ولایت کې د ځایی چارواکو او قومي مشرانو یوې ډلې ته وویل چې پاکستان 14 کاله راهیسې د افغانستان سره په یوې نا اعلان شوې جګړه کې ښکیل دی.[600]

### پخلاینه

د جولای په 7 غني د خپل رسمي ټویټر پاڼې څخه اعلان کړه چې "د سولې عالي شورا یو پلاوی پاکستان ته د طالبانو سره خبرو لپاره تللی دی."[601] د افغان دولت او طالبانو پلاوي په پاکستان کې سره وکتل چې دې ناستې ته د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د "سولې خبرو اترو لومړۍ رسمي ناستې" نوم ورکړ.[602] د افغان دولت پلاوي د یوه غړي په وینا، ناستې د طالبانو سره د اوربند په اړه غږیدو لاره ترتیب کړه، مګر د طالبانو تاوتریخوالي ته یې د پای ټکی کینښود. د راپورونو له مخې د طالبانو او د حقاني شبکې مشر چارواکو پدغه ناسته کې ګډون کړی و.[603] لږترلږه د جولای په 15 د یوه لیکلي خپاره شوي بیان له مخې، د طالبانو مشر ملا عمر د خبرو اترو ملاتړ وکړ.[604]

پدې ربع کې د طالبانو غړو او د افغان دولت چارواکو ترمینځ غیر رسمي ناستې هم وې چې دوی پخپل شخصي ظرفیتونو پکې ګډون کاوه. د می په 2 او 3 د ساینس او نړۍ چارو په اړه د غیردولتي سازمان پګواش کنفرانسونو په واسطه قطر کې یوه ناسته په لاره اچول شوې وه. د افغانانو یوې متنوع ډلې پخپلو ظرفیتونو دغه ناسته کې ګډون کړی و. د ناستې د راپور په وینا، ګډون کونکو سوله او جګړې ته د پای ټکي اینبودو ملاتړ وکړ، ولې هغوی وویل چې د افغان سیاسي سیستم جوړښت پشمول د اساسي قانون باندې باید خبرې وشي.[605]

د ناروی دولت د طالبانو نمایندګانو او لړترلړه نهه مهم افغان میرمنو ترمینځ غیر رسمي خبرې اترې سپانسر کړې چې پدغه نهه میرمنو کې پنځه وکیلانې یا قانون جوړونکې میرمنې هم د "خپلواک نمایندګانو" په حیث وې.[606] د افغان دولت اوسني او پخواني چارواکو د شپږ نفرو یو بل پلاوي د اجرایه رییس دوهم معاون محمد محقق په مشرۍ ناروی ته سفر وکړ ترڅو د طالبانو سره وګوري او د احتمالي رسمي خبرو اترو لپاره لاره هواره کړي.[607] د پنځه طالب نمایندګانو سره ناستې څخه وروسته د راستنیدو پرمهال محقق وویل "ما [ناسته د] سولې پروسه کې لوی پرمختګ په حیث حس نکړه."[608]

## د افغانستان د سولې او بیرته یوځای کولو برنامه

د افغانستان د سولې او بیرته یوځای کولو برنامه (APRP) د افغانانو په مشرۍ یوه برنامه ده چې د ټیټې درجې جنګیالي او د هغوی قوماندانان بیرته د افغان ټولنې سره یوځای کوي.[609] د نورو معلوماتو لپاره د *امریکا متحده ایالاتو کانګرس ته د سیګار د اکتوبر 2014 درې میاشتنې راپور* 149–151 مخونه وګورئ.

د بهرنیو چارو وزارت په وینا، د تیر 2010 راهیسې، APRP ټولټال 10,396 بیرته یوځای کیدونکو په برخه کې اسانتیا برابره کړې، چې لدغه جملې څخه 964 قوماندانان و. ټولټال 134 بیرته یوځای کیدونکي د جرم تکرارونکي مستند شوي. د بیرته یوځای کیدونکو لوی شمیر د بادغیس او بغلان ولایاتو څخه و: په ترتیب سره 1,596 او 1,204. د APRP هدف د سنګرونو څخه د جنګیالیو او قوماندانانو لرې کول دي. د بهرنیو چارو وزارت په وینا، د طالبانو د جنګیالیو اوسنی شمیر د اټکل له مخې له 20,000 څخه 30,000 پورې دی.[610]

د افغانستان د سولې عالي شورا د بهرنیو چارو وزارت ته راپور ورکړی چې د APRP د بیرته یوځای کولو برنامې څخه راټول شوي معلوماتو د ترهګرۍ رهبریت، جوړښت، عملیاتو، سیمو، پټن ځایونو، د تمویل سرچینو، ملاتړي هیوادونو، د استخدام میتودونو، اهدافو او موخو، د نړیوال او سیمه ایز تروریستي سازمانونو سره اړیکو، ایدولوژیکي لید او هوادارانو په اړه د پراخه پوهاوي ترلاسه کولو کې مرسته کړې ده.[611]

په مارچ کې، متحده ایالاتو اعلان وکړ چې هغه به د APRP د ملاتړ لپاره UNDP ته 10 میلیون ډالر چمتو کړي. د بهرنیو چارو وزارت په وینا، د دغه مرستې هدف د سولې خبرو اترو پرمهال د APRP د ولایتي هڅو ملاتړ کول، د APRP د ستراتیژیک ارتباطاتو د ظرفیت لوړول، او د څو میاشتو د متزلزل ملاتړ په تعقیب د ډونرانو باور ډیرول دي.[612]

## د قانون حاکمیت او د فساد سره مبارزه

### د پروژې لنډیز

متحده ایالاتو د ډیری میکانیزمونو له لارې د عدلیه رسمي او غیر رسمي سیکتورونو سره مرسته کړې. پدې کې د بهرنیو چارو وزارت د عدلي سیکتور د ملاتړ برنامه (JSSP)، او د عدلي روزنې د لیږد برنامه (JTTP) شامل دي. دا او د قانون حاکمیت او د فساد سره مبارزې نورې برنامې په جدول 3.22 کې ښودل شوي دي.

USAID د قانون حاکمیت یوه راتلونکې برنامه لري چې د سترې محکمې، عدلیه وزارت، او د غیررسمي عدلي سیستم سره به کار کوي.[613]

د فساد سره د مبارزې په برخه کې د بهرنیو چارو وزارت په لومړني توګه د څارنوالانو او د لوی یا سنګین جرمونو کاري ځواک (MCTF) ته د ملاتړ چمتو کولو سره په پلي کولو یا حاکمیت برخه کې کار کوي. USAID د فساد سره مبارزې د نظارت او ارزولو خپلواکې ګډې کمیټې (MEC) د تمویل لپاره د انګلستان د نړیوالې پراختیا اداري سره د نماینده توب همکارۍ یو ترتیب لاسلیک کړی. د USAID ملاتړ به د MEC نظارت کول، تحلیل او د راپور فعالیتونه تمویل کړي پشمول د فساد ارزونو ته د زیان لیدنې ورتیا. د USAID په وینا، غنې د MEC کار د دې د اوسني نظارتي کاري چوکاټ څخه هاخوا غزولو کې لیوالتیا ښودلې ده.[614]

USAID د افغانستان لپاره د فساد سره د مبارزې یوه په ځان بسیا برنامه ډیزاین کوي. د USAID په وینا، وړاندیز شوې پروژه به د افغان دولت نهادونو ظرفیت پیاوړی کړي ترڅو فساد ته بریښ حالتونه یا زیان لیدنه وارزوي او خپل د عامه خدماتو عرضه کولو ترتولو زیات د لاسرسي وړ سیسټمونو کې اصلاحات پلي کړي. سربیره پردې، نومړې پروژه به د اصلاحاتو اجرا د عام کولو، مشوره ورکولو او نظارت کولو لپاره د مدني ټولنې ورتیا لوړه کړي. دا برنامه اوسمهال د ډیزاین مرحله کې ده پداسې حال کې چې یوه متمم پروژه د پلي کیدو دمخه مرحله کې ده.[615]

د بهرنیو چارو وزارت د JSSP اهدافو کې د افغانستان عدلي سیستم په اوږدو کې د قضیو د تعقیب کولو لپاره د قضیې د مدیریت سیستم (CMS) رامینځته کول او د وزارت د چارواکو ظرفیت او اداري مهارتونو جوړول دي.[616]

CMS د نیول کیدو وخت څخه نیولې تر د حبس پای پورې په انفرادي او ټولیز ډول د جنایي قضیو نظارت کولو لپاره کارول کیږي. ټول وزارتونه د جنایي – عدلیه رسمي سیکتور کې CMS ته لاسرسی لري. CMS د دې په نښه کولو سره چې کله قضیې په قانوني ډول نه پروسس کیږي د جنایي – عدلیه سیستم کې د تشو په نښه کولو لپاره کارول کیږي. سربیره پردې وزارتونه په منظم ډول CMS د رسمي عدلي سیکتور د فعالیت په اړه پوهیدو لپاره په کار اچوي. د مثال په توګه، CMS کولی شي د یوه انفرادي څارنوال د قضیو حجم یا بار او د محکومیت کچه په ګوته کولو کې مرسته وکړي، هغه معلومات چې د ورتیا هڅولو لپاره ګټور دي. د داخلي او بهرني استخدام غوښتونکو په اړه د جنایي شالید چیک کولو لپاره د CMS کارولو سربیره، د کورنیو چارو وزارت په کابل کې د جرم ډول یا نوع له مخې د نیولو یو اونۍ وار راپور رامینځته کوي.[617]

جدول 3.22

**د بهرنیو چارو وزارت د قانون حاکمیت او د فساد سره مبارزې برنامې**

| د پروژې سرلیک | د پیل نیټه | د پای نیټه | ټولټال اټکل شوی لګښت (دالر) | تر 6/30/2015 پورې مجموعي مصرفونه (دالر) |
|---|---|---|---|---|
| د عدلي سیستم د ملاتړ برنامه II (JSSP II) | 6/16/2010 | 6/30/2015 | $212,969,450 | $198,732,807 |
| د سمونو سیستم د ملاتړ برنامه (CSSP III) | 1/1/2015 | 8/1/2015 | 12,161,965 | 4,613,721 |
| د عدلي روزنې د لیږد برنامه (JTTP) | 1/2/2013 | 9/30/2015 | 47,435,697 | 47,435,697 |

سرچینه: د بهرنیو چارو وزارت، INL، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 6/25/2015.

### د سیګار تفتیش

سیګار په افغانستان کې د قانون حاکمیت ارزولو او پرمختللي کولو لپاره د متحده ایالاتو د حکومت د هڅو یو تفتیش خپور کړ. تفتیش وموندل چې څلور د پام وړ فاکتورونو دغه هڅو ته زیان رسولی دی. لومړی، د متحده ایالاتو اداري د خپلو هڅو پلان کولو او لارښود کولو سره مرستې لپاره د قانون حاکمیت هراړخیزه ستراتیژي نلري. دوهم، د امریکا د فاع وزارت نشي کولی د قانون حاکمیت پراختیا ملاتړ ته د ټولټال مصرف شوي فنډونو مقدار حساب ولري. دریم، د امریکا دفاع وزارت، د عدلیه وزارت، د بهرنیو چارو وزارت او USAID ټولو د قانون حاکمیت خپلو اړوندو برنامو کې د فعالیت سنجولو په برخه کې ستونزې درلودې. څلورم، د متحده ایالاتو هڅې د افغانستان عدلي سیکتور کې پراخه فساد څخه رامینځته شوي د پام وړ ننګونو له امله تر پوښتنې لاندې راغلي او د دې بې ثباتي له امله چې ایا افغان دولت کولی شي د متحده ایالاتو د برنامې فعالیتونه او اصلاحات وساتي. د نورو معلوماتو لپاره برخه 2، مخونه 24-26 وګورئ.

د بهرنیو چارو وزارت د JTTP برنامه د عدلي سیکتور چارواکو ته د جنایي – قضا پراخه موضوعاتو په اړه سیمه ایزه روزنه چمتو کوي.[618] JTTP غواړي چې په عدلي سیکتور د افغانانو باور ډیر کړي او دوه پایلي ترلاسه کړي: (1) د افغان عدلي سیکتور مسلکیانو ظرفیت او وړتیاوي ډیري کړي ترڅو د افغان قانون سره سم قضا عرضه کړي او (2) داډ ترلاسه کړي چې د افغانستان عدلي نهادونه د روزني پیاوړي برنامو د اجرا اداره کولو لپاره وړتیا لري.[619]

JTTP د محدود محکمو څارنه ترسره کوي او د ولایت او ولسوالی په کچه د جنایي ځانګي قضیو باندې تمرکز کوي. JTTP یوازې هغه محکمې یا د محکمو کار او د قضیو استیناف غوښتنه څاري چې د جنایي کړنلارې قانون (CPC) له مخې وي. د JTTP څار او راپور ورکول په دقت سره د یووستوي محکمې شاخص باندې د بې طرفه پرتله ایز معلوماتو راټولولو لپاره تمرکز کوي، مثلا ایا ګټل کیږي چې محکمې د CPC پراساس ترتیب شوي کړنلارې سره په مطابقت کې "ښکاره یا خلاصې" دي. JTTP د بهرنیو چارو وزارت د نړیوالو تریاکو او د قانون حاکمیت چارو دفتر (INL) ته د رسمي عدلي محکمو کې ډیری پیښې راپور کړې په کومو کې چې څارنوالانو او قاضیانو د مخ په ډیریدونکي حالت کې درست قوانین او د محکمه کولو شرایط پلي کړي دي.[620]

د JTTP حقوقي مشاورین د هغه قاضیانو د محکمو له خونو لیدنه کوي څوک چې د JTTP کورسونو څخه فارغ شوي یا به فارغیږي. که چیرې حقوقي مشاورینو ته د محکمې خونې ته ورننوتلو اجازه ورکړل شي نو دغه د محکمې جریان "خلاص" راپور کیږي. که چیرې دوی ته اجازه ورنکړل شي او د مخنیوي لپاره هیڅ مجاز دلیل شتون ونلري، نو د محکمې نوموړی جریان "تړلی" راپور کیږي.[621]

د 2013 څخه د 2015 جون پورې JTTP ټولټال 771 محکمو جریانونه څارلي، چې لدغو څخه 93% خلاص و. په ولایاتو کې ننګرهار تر نن نیټې پورې د خلاصو محکمو جریان ترټولو ټیټه سلنه درلوده چې 39%.[622]

## ستره محکمه او د عدلیه رسمي سیکتور

ولسمشر غني په ښکاره د قضایه قوې حالت باندې انتقاد کړی او ستره محکمه او قضایه قوه یې د جدي ارزوني لاندې نیولې ده. د USAID په وینا، ستره محکمه خپل ضعف ته دوام ورکوي او د وده کولو لپاره د پام وړ هڅو ته اړتیا لري.[623]

د USAID په وینا، افغان محکمې لاهم په اسانۍ د عامه افکارو او سیاسي مشرانو تراغیزي لاندې راځي.[624] USAID په مارچ کې د فرخنده په نوم ځواني میرمني وژني ته د محکمې ځواب څخه د یوه ملي فریاد ته د قضایي قوې څخه د وروستي بریدګر او اوښتونکي ځواب مثال په حیث یادونه کوي. فرخنده په کابل کې د خلکو لخوا په ښکاره د غلط تورونو په تعقیب چې ګویا هغې قرآن سوځولی، د مرګ تر بریده ووهل شوه او وسوځول شوه. که څه هم پولیسو د پیښې په پیل کې هڅه وکړه چې مداخله وکړي، مګر کله چې خلکو تاوتریخوالی ډیر کړ نو هغوی تري لري شول.[625] نوموړې وژني په کابل کې پراخه لاریونونه وزیږول.[626] په اپریل میاشت کې افغان لوی څارنوالی (AGO) اعلان وکړ چې 49 خلک چې 20 نفر یې پولیس دي د فرخندې د وژلو په تړاو نیول شوي دي.[627]

په می کې، 11 پولیس د دندې په سمه توګه د نه ترسره کولو جرم باندې ګرم وموندل شول او په یوکال حبس محکوم شول پداسې حال کې چې پاتې خلکو دواړه پولیسو او ملکیانو ته برآت ورکړل شو. د پولیس تورنو سربیره، څلور نفر مجرم وموندل شول او په مرګ محکوم شول او اته نور تورن د 16 کالو په حبس محکوم شول. په هرصورت، محکمه د سرعت له امله د انتقاد لاندې ونیول شوه او ډیرې څیړونکي وایی چې نوموړې محکمه نه خو عادلانه وه او نه هم نامتناقص، چې د مدافع وکیلانو نه شتون او د قضیې لپاره د تیاري ناکافي وخت پشمول پکې سرغړونې شوې دي.[628]

د جون په 9 د استیناف غوښتنې په تعقیب، د کابل استیناف محکمې د فرخندې د قتل محکمې په تړاو د 49 مدافعینو له جملې څخه د 37 نفرو په ضمانت د خوشې کولو امر ورکړ. د دغه 37 نفرو په مینځ کې 19 پولیس و.[629] په جولای کې، د استیناف یوې محکمې په تړلې جریان کې د فرخندې د قتل په تړاو په مرګ محکوم د څلور نفرو محکومیت بدل کړ او درې تنه یې په 20 کالو حبس او یو کوچنی یې په 10 کالو حبس محکوم کړ.[630] د استیناف محکمې د پریکړې او د مدنې ټولنې لخوا لاریونونو په تعقیب، د غني ویاند وویل چې AGO به له سره دغه قضیه وارزوي.[631]

## د افغانستان د سمون سیسټم

د بهرنیو چارو وزارت په وینا، د محبسونو او توقیف مرکزونو عمومي ریاست (GDPDC) لخوا اداره کیدونکی د افغانستان د محبسونو دننه نفوس د تیرو پنځه کلونو په جریان کې په هرکال کې په مینځني ډول 16.7% لوړ شوی دی. د مارچ تر 31 پورې، GDPDC 26,213 نارینه او 687 میرمنې زنداني کړي، پداسې حال کې چې د عدلیه وزارت د تنکي ځوانانو د اصلاح کولو ریاست (JRD)811 نارینه ځوانان او 75 انجونې زنداني کړي. د زندانیانو دې شمیره کې هغه توقیف شوې وګړي ندي شامل چې د افغان دولت نورو نهادونو لخوا بندي شوي دي، ځکه چې INL د نورو نهادونو معلوماتو ته لاسرسی نلري.[632]

د جمعیت ډیریدل د GDPDC تسهیلاتو کې یوه پرځای پاتې، اساسي او پراخه ستونزه ده، که څه هم د بهرنیو چارو وزارت لخوا د زندان تمویل شوي جوړولو په زندانونو کې ځایونه اضافه کړي او د ولسمشری د بخښنې فرمانونو د زندانونو نفوس د پام وړ ترکیچې راکم کړی. د می تر 31 پورې، د ولایتي نارینه و زندانونو ټولټال نفوس د ظرفیت تر 191% پورې و، چې د تیرې ربعې له 214% څخه ټیټ و، لکه څنګه چې د سره صلیب نړیوالی کمیټې (ICRC) لخوا د هر زنداني لپاره لږترلږه د 3.4 میټر مربع معیاري ځای ټاکل شوی دی. د ولایتي ښځینه زندانونو ټولټال نفوس د ICRC وړاندیز شوي ظرفیت 63% و، چې د تیرې ربعې له 66% څخه ټیټ و. د GDPDC لخوا اداره کیدونکي د ولسوالی توقیف مرکزونو او د JRD د تنکي ځوانانو د اصلاح کولو مرکزونو په اړه معلومات شتون نلري. په هرصورت، د INL د مشاورینو لخوا حکایتي راپور له مخې چې له ودانیو څخه یې لیدنه ترسره کړې، په نښه کوي چې د جمعیت ډیروالی په ډیرې ولایتونو کې اساسي ستونزه ده.[633]

## د فساد سره مبارزه

کله چې ولسمشر غني په مارچ کې د متحده ایالاتو کانګرس ګډې غونډې ته وینا وکړه، هغه فساد ته د "سرطان" نوم ورکړ چې په افغان دولت د افغانانو او امریکایی مالیه ورکونکو باور له مینځه وړي، او ژمنه یې وکړه چې "فساد له مینځه" ویسي.[634]

پدې ربع کې، غني د ښاري پراختیا چارو او هستوګنزې وزارت د شپږ لوړ رتبه چارواکو دندې او په افغانستان کې د پانګوونې ملاتړ اداري څلور غړو دندې تعلیق او AGO ته د تعقیب لپاره راجع کړل؛ د دوی پروړاندې د فساد او اختلاس تورونه دي.[635]

## د افغانستان د لوی څارنوالی دفتر

افغان دولت تراوسه لوی څارنوالی ته نوی نوماند ندی وړپیژندلی.[636] د بهرنیو چارو وزارت په وینا، AGO پدې وروستیو کې د فساد لوړې کچې قضیو د تعقیب کولو لپاره لیوالتیا ښودلې کله چې غني ورته صریحا د ورته کار کولو لاربنود کړی. په تیره مې کې، غني د ښاري پراختیا چارو وزارت څخه شپږ لوړ رتبه چارواکي منفک کړل او AGO ته یې د فساد او اختلاس تورونو د پلټلو امر وکړ.[637]

د بهرنیو چارو وزارت وایې د AGO د فساد سره مبارزې واحد (ACU) د فساد د ټیټو کچو د قضیو د تعقیب وړتیا لري، مګر د لوړې کچې فساد تعقیبولو کې د ممانعتونو سره مخ کیږي. ACU د ټیټ مورال څخه ځوریږي؛ په هرصورت، ACU پدې وروستیو کې یوه څارنوال ته اجازه ورکړې چې په سریلنکا کې د روزنې فرصت کې ګډون وکړي.[638]

## د لوی یا سنګین جرایمو کاري ځواک

MCTF د کورنیو چارو وزارت او د ملي امنیت ریاست (NDS) د پلټنو څانګه ده.[639] د امریکا د دفاع وزارت په وینا، د ملي یووالي حکومت له رامینځته کیدو راهیسې، MCTF د لوړې کچې فساد په خورا بریدګر ډول په نښه کول پیل کړي دي. د تیرې ربعې پرمهال، MCTF د نورو پلټنو او تعقیب لپاره د فساد اوه قضیې AGO ته راجع کړي دي. په نوموړي قضیو کې د کورنیو چارو وزارت یو لوی افسر، د معارف وزارت دوه چارواکي، د کابل ښار درې چارواکي په شمول د یوه ښاري انجنیر، د MOLSAMD یو چارواکی، د کابل د پولیسو حوزې یو قوماندان، د کابل بانک یو پخوانی کارمند او یو استینافي څارنوال شامل دي.[640]

په ارجاعاتو کې د ډیروالي سربیره، MCTF په AGO کې د قضیو په پروسس کولو کې هیڅ پرمختګ ندی ترسترګو کړی.[641] د CPC پراساس، د جنایی برخې قضیې باید د نیولو په 75 ورځو موده کې محکمې ته وړاندې شي. د اوه ذکر شوي قضیو څخه پنځه و کې AGO ته د راجع کولو دمخه هیڅ نیول نه و ترسره شوي، پدې معنې چې د AGO د پلټنو یا تعقیب پریکړې لپاره هیڅ زماني محدودیت شتون نلري. تر دې دمه هیڅ یوه قضیه د AGO لخوا نده فیصله شوې.[642]

د امریکا د دفاع وزارت په وینا، MCTF د AGO د څارنوالانو د فساد حکایتي شواهد ترلاسه کوي چیرې چې څارنوالان پرته د تعقیب څخه تورن کسان د بډو په اخیستو سره خوشې کوي.[643] که څه هم MCTF د تولې جنایی شبکې په نښه کولو کې پرمختللې وړتیا له ځانه ښودلې؛ په ځانګړې توګه د انسان تښتولو قضیو کې، د امریکا دفاع وزارت وایې چې MCTF د نامشخص زورمندانو لخوا د مستقیم مقاومت سره مخ کیږي.[644]

**د فساد سره مبارزې د نظارت او ارزولو خپلواکه ګډه کمیټه**

MEC په رسمي ډول د 2010 په مارچ کې د ولسمشرۍ یوه فرمان په تعقیب رامینځته کړی شو. د MEC کار د فساد سره مبارزې وړاندیزونو او شاخصونو رامینځته کول دي ترڅو د فساد سره مبارزې هڅې نظارت کړي، او د فساد سره مبارزې دغه هڅو راپور ورکړي. پدې کې درې افغان او درې نړیوال غړي دي او د یوه افغان اجرایه رییس لخوا مشري کیږي. MEC شاوخوا 20 کارمندان لري، مګر USAID وایی چې ممکن د دې کارمندان ډیر شي څکه چې غني له MEC څخه د تحلیلي موادو غوښتنه کړې.[645]

د بهرنیو چارو وزارت په وینا، MEC د ورو اداري او تخنیکي ظرفیت سره دوام لري. په هرصورت د بهرنیو چارو وزارت یادونه کوي چې د افغانستان پروړاندې د فساد اړوند ترټولو سختو پوښتنو څخه د ځینو په نښه کولو لپاره د سیاسي لیوالتیا ښودلو سربیره، MEC د ضعیف یا فاسد کړنو له مینځه وړو پرته د نور څه واک نلري.[646]

پدې ربع کې MEC په بهرنیو چارو وزارت (MOFA) کې د استخدام بې نظمیو په اړه راپورونه خپاره کړل او د هغه ننګونو په اړه چې افغان وګړي ورسره د امنیتي پیښو له امله زیانمنیدو په حالت کې مخ کیږي کله چې له دولت څخه د جبران تادیاتو په لټه کې وي.

د MEC په وینا، د MOFA په استخدام کې د خویش خورۍ او قوم پرستی، طرفدارۍ او حمایت تلپاتې میراث شتون لري. MEC د استخدام او پروموشن (ترفیع) بیلابیل برخو کې د لوړ رتبه چارواکو لخوا مداخلې موندلې، په بیله بیا شخصي اړیکې چې د استخدام او کارمندانو مدیریت پروسو باندې مسلط دي. د مثال په توګه، د شاوخوا 1,300 نوماندانو څخه چې تیر اوړي کې د MOFA ته ورتګ ازموینه تیره کړه، 48 کامیاب شو مګر نږدې یو یې هم ونه ګومارل شو. پرځای یې د تیر وزیر په دفتر کې د اخرني ورځو پرمهال 40 نفر د منظم لارو هاخوا وګومارل شول. اوسمهال، MOFA د پارلمان اوسني یا پخواني وکیلانو لږترلږه 12 نږدې خپلوان، د پخواني وزیرانو څلور وروڼه یا خوینډې، او د اوسني یا پخواني لوړ رتبه چارواکو اوه نور خپلوان ګوماري. د MOFA دیپلوماتانو کې ډیری یوازې د لیسې د فراغت سندونه لري یا په بله وینا د لیاقت له مخې ګومارني پالیسی پراساس د شرایطو وړ ندي. MEC وړاندیز کړی چې MOFA یوه ځانګړې داخلي پالیسي تصویب کړي ترڅو خویش خوري بنده کړي او قانون تعدیل کړي چې دیپلوماتان او مشاورتي کارمندان باید لیسانس اوسي.[647]

MEC موندلې هغه معیوب وګړي چې د غرامت په لټه کې وي باید یولړ پیچلي، اضافي، او وخت نیونکي یا زمانګیر مرحلو څخه تیرشي، چې ډیری یې کومه د تشخیص وړ پالیسي نه تعقیبوي. وروسته لدې چې هغوی په امنیتي پیښه کې د ټپي کیدو د تصدیق اسناد لاسته راوړي او د روغتیا کمیسون لخوا یو جلا تصدیق، نو غوښتونکي باید لدغه وروسته خپلې پاڼې MOLSAMD ته وسپاري. د MEC لخوا مرکه شوي ډیری غوښتونکو ویلي دي چې MOLSAMD ډیری څله د بډو اخیستو لپاره بیوروکراتیک چلونه په کار اچوي. داسي تورونه شتون لري چې MOLSAMD په منظم ډول د معتبر غوښتنلیکونو پروسس کول له دوه څخه تر درې کالو پورې ځنډوي. MEC دا هم موندلې چې د یوه فرد لپاره د تادیاتو څو کارتونه هم عامه خبره ده. MEC افغان دولت ته وایی چې د معیوبینو د تادیاتو لپاره د شرایطو وړتیا نوی معیار خپل کړي او دا خلکو ته ښکاره او په اسانۍ د لاسرسي وړ کړي.[648]

## د نظارت او فساد سره د مبارزې عالي اداره

د نظارت او فساد سره د مبارزې عالي اداره (HOO) په جولای 2008 کې د افغان دولت د فساد سره مبارزې ستراتیژۍ د پلي کولو څارلو او همغږي کولو لپاره د ولسمشرۍ یوه فرمان له مخې رامینځته کړل شوه. HOO د یوه هاټلاین یا اړیکي شمیرې او په ډیرو وزارتونو او نورو د عامه خدماتو نهادونو کې د شکایاتو نصب صندوقونو له لارې د فساد شکایات راټولوي او د فساد د تورونو لومړنۍ پلټنې په لاره اچوي. د USAID په وینا، دا پلټنې ډیری وختونه د تعقیب لامل کیږي نه. د AGO او HOO ترمینځ په یو بل تور پورې کول عام دي.[649]

د USAID په وینا، غني چې د HOO څخه یې ناخوښي بیان کړې ممکن د 297 کارمندانو شاوخوا 100 ته راکمول ملاحظه کړي.[650] غني د پانګو ثبت او تایید لپاره د HOO واک محدود کړی دی.[651]

د جولای په 3 د HOO سرپرست عمومي رییس *طلوع نیوز* ته وویل چې ډیری افغان لوړ رتبه چارواکو – په شمول د ولسمشر غني، اجرایه رییس عبدالله، او د کابینې 14 وزیرانو – تراوسه د افغانستان اساسی قانون اړتیا سره سم خپلې پانګې ندي راجستر کړي. د سرپرست رییس په وینا، غني د دولت ټولو لوړ رتبه چارواکو ته لارښوونه کړې چې د خپلو پانګو د ثبتولو فارمونه وسپاري.[652]

## د پارلمان د فساد سره مبارزې کمیټه

د پارلمان د فساد سره مبارزې کمیټه (PACC) د 2013 په مارچ کې رامینځته شوه او دامهال 23 غړي لري – چې 14 د ولسي جرگې غړي او نهه د مشرانو جرگې غړي یې کې دي او د پارلمان له لویو کمیټو څخه یوه ده. PACC د پارلمان یوازینۍ کمیټه ده چې هم د ولسي جرگې او هم د مشرانو جرگې غړي لري او په اختصاصي ډول د ښځینه وکیلانو څخه جوړه ده. پدې ربع کې PACC د 24 نوماند وزیرانو څخه چې گومارل شوي، د فساد سره مبارزې ژمنې ترلاسه کړي. PACC د تدارکاتو ملي کمیټې غونډو کې د گډون لپاره هم یو نماینده معرفي کړی دی.[653]

## امنیتي خدمات

په تیره ربع کې، د CSTC-A قوماندان جنرال ټوډ سیمونیت وویل "د [ملي یووالي حکومت د رامینځته کیدو راهیسې] د فساد کچه معلومه نده او د پایلې په توگه زه نشم کولی تاسو ته د مقدار څرنگوالي په اړه کومه شمیره وړاندې کړم،" او اضافه کړه چې افغان دولت د فساد محدودولو لپاره اضافي کنټرولونه پلي کړي دي.[654] د CSTC-A په وینا، لاهم د فساد د کچې او روند په نښه کولو لپاره هیڅ لاره شتون نلري. په هرصورت، د امنیتي سیکتور اصلاح د فساد ارزونې پرمخ وړو لپاره د MEC وروستی نوښت ممکن د امنیتي سیکتور دننه د فساد کچې د ټاکلو وړتیا وړاندې کړي.[655]

د دفاع وزارت او د کورنيو چارو وزارت د فساد د فرصتونو کمولو لپاره پدې وروستيو کې د داخلي کنټرولونو برنامه پيل کړې ده. په هرصورت، CSTC-A يادونه کوي چې دا برنامه لا خورا نوې ده: د دفاع وزارت پاليسي په اپريل کې لاسليک شوې پداسې حال کې چې د کورنيو چارو وزارت يې لا د رامينځته کولو په حال کې دی.[656]

د امريکا دفاع وزارت په وينا، دواړه د دفاع او کورنيو چارو وزارتونو د فساد ته ځواب ويلو لپاره نهادونه رامينځته کړي دي؛ په هرصورت، داسې نه ښکاري چې دغه نهادونه ډېر اغيزمن وي.[657] د امريکا دفاع وزارت وويل چې ځينې اختصاصي داخلي نهادونه د ډونرانو د غلې کولو په مفهوم د "ګمراه کونکي اصلاح" پرمخ وړو له لارې د فساد پروړاندې او فساد سره د مبارزې هڅو د تسهيل پرځای د دغه هڅو مخه په واقعيت کې نيسي.[658]

**د دفاع وزارت**

د امريکا د دفاع وزارت په وينا، له کله څخه چې د غني اداري په کار پيل کړی د دفاع وزارت د فساد سره مبارزې او فساد پروړاندې هڅو باندې تمرکز ډېر کړی دی. د امريکا دفاع وزارت د دفاع وزارت او د لوی درستيز بست لپاره د ور نومياندانو ګومارلو په پام کې نيولو؛ د دې دوه بستونو لپاره د نوماندانو رديدل څوک چې د پام وړ حمايت او/يا فساد باندې تورن دي؛ او د تدارکاتو د فساد شواهدو په تعقيب د غني لخوا د قراردادونو سمدستي ردولو او د مسؤل چارواکو تعليق څخه فساد ته د ځواب ويلو نوي تمرکز مثالونو په حيث يادونه کوي. د امريکا دفاع وزارت په آند، لا وختي دی چې د دفاع وزارت د فساد په اړه د غني د اداري اغيزه وسنجول شي، ولې د دفاع وزارت کې د فساد سره مبارزې او داخلي کنټرولونو د پاليسيو لاسليک کول مثبت نښې دي.[659]

دامهال د دفاع وزارت کې د فساد مسلو په نښه کولو لپاره دوه فعالې اداري شتون لري: د فساد سره د مبارزې کاري ګروپ (CCWG) او د فساد سره د مبارزې د لوړې کچې کميټه (SHCAC). هيڅ يوه اداره د فساد پروړاندې يا د فساد سره مبارزې معنی لرونکې هڅو لپاره مؤثره لاره نلري. دا اداري اساسا د هغه چارواکو لخوا مشري کيږي، کنټروليږي او اداره کيږي چې مفسد فعاليتونو کې ښکيل دي. د امريکا دفاع وزارت په وينا، دا اداري د فاسد لوړ رتبه چارواکو لخوا د پلټنو مخه نيولو يا اړولو لپاره کارول کيږي. په استثنا د فساد ځينې کوچني مسلو، د امريکا دفاع وزارت پرسونل تراوسه د CCWG يا SHCAC لخوا د فساد ننګونو حلول ندي ليدلي.[660]

که څه هم د افغان ملي اردو ټولو شپږ قل اردوګانو د روڼتيا او حساب ورکولو کميټو (TAC) کې خپل غړي ګومارلي، د TAC ټول غړي د قل اردو د کارمندانو يا قومانداني غړي دي (چې د قل اردو د قومندان معاون لخوا مشري کيږي)، خپلواکي نلري، او د قل اردو د قومندان په اړه د حساس معلوماتو راپور نه ورکوي. دا جوړښت د تدارکاتو پريکړو باندې د څار څخه د قل اردو د قومندان معاون (څوک چې د قل اردو د تدارکاتو آمر يا مشر هم وي) جلا کوي هم. که څه هم د تير کال په جريان کې دواړه CCWG او SHCAC کې د TACs مشري کولو لپاره د دفاع وزارت د کارمندانو خپلواک عمومي پلټونکي ورانديز شوی، مګر نه خو د دفاع وزارت مشرتابه او نه هم د قل اردو قومندانو بدلونونه پيل کړي دي. د امريکا دفاع وزارت په وينا، دوی د روڼتيا او حساب ورکولو اوسني نه شتون څخه ګټه پورته کوي.[661]

**د فساد سره مبارزه:** هغه اقدامات چې د فساد لپاره فرصتونه محدود کوي. پدې کې د روڼتيا او حساب ورکولو کنټرول اقدامات، پلټنې، تفتيشونه، او په انفرادي چلند اغيزه کولو لپاره عملونه شامل دي.

**د فساد پروړاندې:** اصلاحي اقدامات دي، د فاسد افرادو بنديز باندې تمرکز کوي، او د فساد پروړاندې ممانعت برابروي. د فساد پروړاندې اقدامات په قوي توګه په يو مؤثر قانوني سيستم باندې تکيه لري، په ځانګړي توګه خپلواکه قضايي قوه.

سرچينه: ګډ او ايتلافي عملياتي څيړني (JCOA)، د ګډې درستيزوالی J-7 برخه (د ګډ خواک پراختيا)، *د فساد پروړاندې/د فساد سره مبارزې مطالعې عملي کول*، 2/28/2014، مخ 3.

### د کورنیو چارو وزارت

د امریکا دفاع وزارت په وینا، داسې ښکاري چې غني د کورنیو چارو وزیر په حیث د نور الحق علومي د ګومارلو پرمهال د لیاقت پراساس بیاکتنې او د انتخاب پروسه تعقیب کړې. علومي ډیرې ځله ویلي چې هغه د کورنیو چارو وزارت کې د لوړ رتبه کارمندانو د ګومارلو په اړه پریکړې کولو دمخه د نوماندانو مهارتونه او د مشرۍ وړتیاوې ارزوې. علومي د تصویب لپاره غني ته د خپلو بیاکتنو د سپارلو دمخه وړاندیزونو لپاره یو کمیسون رامینځته کړی دی.[662]

د CSTC-A په وینا، افغان دولت د کورنیو چارو وزارت د پخواني عمومي مفتش ګوښه کولو سره پرمختګ په ګوته کړی دی. CSTC-A وویل تورن جنرال رحیم الله یو غوره انتخاب ثابت شوی چې د خپلو دندو ترسره کولو کې یې له ځانه رهبریت او تحرک ښودلی دی.[663]

د کورنیو چارو وزارت TAC د کمیټې د غړو سره د فساد مسلو په اړه غږیدو لپاره په اونۍ واره توګه ناسته کوي. په هرصورت، TAC یوکال دمخه منحل شوی و. اوسمهال د کورنیو چارو وزارت د وزیر علومي په تایید سره د روڼتیا کاري ګروپ او د روڼتیا لارښود ګروپ رامینځته کولو پیلي مرحله کې دی چې د امریکا دفاع وزارت هیله مند دی دا برنامه به د کورنیو چارو وزارت کې روڼتیا، حساب ورکول او څار ډیر کړي.[664]



**افغان تورن جنرال** رحیم الله برهاني، د افغانستان د کورنیو چارو وزارت نوی عمومي مفتش د هوډمن ملاتړ د روڼتیا، حساب ورکولو او څار دوه پرسونل په څنګ کې (د امریکا دفاع وزارت عکس)

## بشري حقونه

### کډوال او کورني بې ځایه شوي

د جون تر 11 پورې د ملګرو ملتونو د کډوالو لپاره عالي کمیسون (UNHCR) اټکل کړی چې د 2014 جون راپدیخوا لږترلږه 205,434 خلک د افغانستان خوست او پکتیکا ولایاتو ته د پاکستان څخه په ګاونډي شمالي وزیرستان کې د پاکستان پوځ پراخه عملیاتو له امله را اوښتي دي. د بهرنیو چارو وزارت په وینا، په شمالي وزیرستان کې د بیارغوني اړتیاو له امله خورا لږ احتمال شتون لري چې د 2015 په اوږدو کې به د پام وړ بیرته ستنیدل پیښ شي.[665]

د بهرنیو چارو وزارت د افغانستان څخه وتونکي کډوالو په شمیرو کې د کوم لوی بدلون راپور ندی ورکړی. UNHCR د مې تر 31 پورې دواړه د پاکستان او ایران څخه 21,340 افغان کډوال چې بیرته راستانه شوي ثبت کړي، چې له جنوري څخه تر د مارچ 31 پورې دا شمیره 12,218 وه.[666]

UNHCR د پاکستان څخه د راجسټر شویو افغان کډوالو بیرته راستنیدو 20,505 ثابت ډیروالی راپور کړی. د بهرنیو چارو وزارت په وینا، ډیری راستانه شوي کډوالو د دسمبر 2014 پرمهال د پیښور مکتب بریدونو او د پاکستان امنیت غبرګون په تعقیب د پاکستان د سیمه ایزو چارواکو لخوا د راپورونو له مخې نیول کیدو، توقیف، بډې اخیستو او ځورونو له امله بیرته راستنیدو لپاره فشار زغملی دی.[667]

د مئ په 19 افغان، پاکستاني او ایراني دولتونو او UNHCR په تهران کې د افغان کډوالو پخپله خوښه بیرته راتګ، پیاوړي بیرته یوځای کولو او کوربه هیوادونو سره مرستې ملاتړ لپاره د حلونو ستراتیژۍ په اړه څلور اړخیزې کمیټې لپاره ناسته وکړه. ګډون کونکو د افغان کډوالو لوی تولنو کوربه توب کولو کې د ایران او پاکستان رول وستایه او د اقتصادي کډوالۍ مسلو د ګډ پلان کولو لپاره اړتیاوو باندې سره وغږیدل.[668]

د اپریل تر 30 پورې، د جنوري څخه د مارچ تر 31 پورې د 850,377 کورني بېځايه شويو (IDPs) په پرتله UNHCR د جګړې له امله ټولټال 873,136 کورني بېځايه شوي نفر ثبت کړي دي. د بهرنيو چارو وزارت په وينا، د کورني بېځايه شويو واقعي شمېره خورا لوړه کېدی شي او تاييدول يې مشکل دي. UNHCR لخوا د کورني بېځايه کېدو راپور شوې لوی لاملونه د دې ربعي په جريان کې د وسله والو ډلو او افغان دولت ترمينځ جګړه وه.[669]

د بهرنيو چارو وزارت په وينا، د کډوالو او بيرته يوځای کېدونکو نوي وزير سيد بلخي د وزارت د پنځه کلن ستراتيژيک پلان، د کډوالی او پناه ملي قانون منلو او د افغان کډوالو لپاره د حلونو ستراتيژۍ پلي کولو ترڅنګ د کورني بېځايه شويو ملي پاليسي د خپلې کليدي اجندا په حيث پلي کړې. وزير بلخي پخپل وزارت ټينګار کړی چې د ولايتي عمل پلانونو مسودی په اړه د ولايتي حکومتونو سره مرستې لپاره UNHCR سره کار وکړي چې نوموړې مسوده د IDP پاليسي د 2015 ولايتي بودجې پلانونو کې ترکيب کوي.[670]

## جنس

په جنس متمرکز ترټولو لوی نوښت د USAID په تاريخ کې د Promote ملګرتيا ده چې هدف يې 75,000 افغان ميرمنو سره د ټولنې ټولو برخو لکه سوداګرۍ، اکاډميا، سياست، او په پنځه کالو کې عامه پاليسي کې د مشرۍ رولونو لاسته راوړو لپاره مرسته کول دي.[671] د USAID د Promote برنامې ته د 216 ميليون ډالرو ژمنه کړې او هيله لري د نورو نړيوالو ډونرانو څخه نور 200 ميليون ډالر دې برنامې ته وهڅوي.[672] د USAID د Promote برنامه جوړونې کې د ممکنه ملګرتيا په اړه د دوه نورو ډونرانو سره خبرې پيل کړي دي. نوموړي همکاري چې دامهال ورباندې خبرې کېږي به د نغدي مرستو پرځای پروګراماتيک همغږي (ګډون کونکو ته اجازه ورکول چې د يو بل برنامه جوړونې کې ګډون وکړي) وي.[673]

پدې ربع کې USAID د Promote په دولت کې د ميرمنو پنځه کلنې برخې ته 38 ميليون ډالر ورکړل؛ چې اوس د تحرک په مرحله کې ده.[674]

USAID د Promote په لوړه کچه مشورتي کميټې رامينځته کولو لپاره د ولسمشرۍ مانۍ، د اجرايه رييس دفتر، د لومړۍ ميرمنې دفتر او د ښځو چارو وزارت سره خبرې پيل کړې چې دغه کميټه به د Promote برنامې پلي کولو په اړه د ښځو چارو وزارت او USAID ته مشوره ورکوي. نوموړې کميټه به د يوه څارونکي او نظارتي نهاد په حيث هم کار کوي. USAID تمه کوي چې دا کميټه به د 2015 جون مياشت کې په کار پيل وکړي.[675]

### د سيګار تفتيش

سيګار په پاکستان او ايران کې ميشته افغان کډوالو او بيرته راستنيدونکو سره مرستې لپاره د بهرنيو چارو وزارت د هڅو يو روان تفتيش لري. تفتيش پلان لري چې وارزوي تر کوم حد پورې (1) د بهرنيو چارو وزارت او UNHCR په پاکستان او ايران کې د افغان کډوالو شمير تاييدوي، او (2) و ارزوي چې تر کوم حد پورې افغان دولت د خپلې خوښې بيرته راستنيدو، پياوړي بيرته يوځای کيدو او کوربه هيوادونو سره مرستې لپاره د حلونو ستراتيژۍ پلي کړې ده.

# اقتصادي مینځپانګې


| | |
|---|---|
| کلیدي پیښې | 163 |
| اقتصادي پروفایل | 163 |
| درې میاشتنې مهم ټکي: د ګمرکونو ورک عواید | 167 |
| بانکداري او مالي چارې | 170 |
| د متحده ایالاتو د اقتصادي ملاتړ ستراتیژیانې | 173 |
| کرنه | 178 |
| حیاتي خدمات او پراختیا | 179 |
| ټرانسپورټیشن | 182 |
| اقتصادي وده | 185 |
| تعلیم | 186 |
| درې میاشتنې مهم ټکي: د تعلیم احصایه | 187 |
| روغتیا | 189 |

# اقتصادي او ټولنيزه پراختيا

د 2015 د جون تر 30 پورې د متحده ايالاتو دولت په افغانستان کې د حکومتولی، اقتصادي او ټولنيزې پراختيا ملاتړ لپاره له 31.8 ميليارد ډالرو څخه ډېر چمتو کړي دي. د دې فنډونو ډېری يې د USAID د اقتصادي ملاتړ فنډ (ESF) ته مختص شوي دي. د مدغم شوي او نور ادامه لرونکي تخصيصاتو قانون 2015 د ESF لپاره اضافي 900 ميليون ډالر ورانديز کړي چې مجموعي ټولټال 18.6 ميليارد ډالرو ته رسوي. لدغه مقدار څخه 16.1 ميليارد ډالر مکلف شوي او 13.3 ميليارد ډالر مصرف شوي دي.[676]

## کليدي پيښې

پدې ربع کې ډيری پرمختګونه شوي چې کولی شي د افغانستان اقتصادي او ټولنيزو ليدونو باندې اغيزه وکړي:

- د افغان مالي کال 1394 (دسمبر 22، 2014 – دسمبر 21، 2015) په لومړيو څلور مياشتو کې راټول شوي داخلي عوايد په 1393 مالي کال کې د واقعيي عوايدو راټوليدو څخه 7.5% لوړ دي، که څه هم د افغانستان د ماليه وزارت (MOF) د بوديجې 5.9% هدفونه يې پوره نکړل. مصرفونه د تير کال ورته دورې په پرتله 0.7% لوړ شوي دي.[677]
- د متحده ايالاتو د خزانې دفتر تخنيکي مرستې (OTA) د MOF لپاره د تخنيکي مرستې او ظرفيت جوړونې برنامو رامينځته کول پيل کړي دي ترڅو د افغانستان د عامه مالي مديريت سيستمونه پياوړي شي او د مالي سيکتور څارنه يې وکړي.[678]
- د پيسو نړيوال صندوق (IMF) اداري رييس د افغان دولت سره په تيره ربع کې د اداري په کچه شوی نهه مياشتو تړون تصويب کړ؛ د افغانستان د کوچني اقتصاد پاليسيو او د جوړښتي اصلاح اجنډا پلي کولو نظارت پيل شو.[679]

## اقتصادي پروفايل

د افغانستان په استثنا د سهيلي آسيا ټولو هيوادونو اقتصاد د 2013 په پرتله 2014 کې ګړندی وده کړی.[680] د افغانستان خالص داخلي توليد (GDP) وده، د اپيومو په استثنا د پام وړ ځنډني شوی، چې په 2013 کې د 3.7% سلني څخه په 2014 کې د مخ پرودي سياسي او امنيتي بې ثباتيو له امله د نړيوال بانک د اټکل له مخې 2% و. دې غير کرنيز سيکتورونو کې د پانګوالو او د مصرف کونکو ډاډ له مينځه وړی دی، او نړيوال بانک اټکل کوي چې ورت حالت به د 2015 اوږدو کې هم دوام لري. د کرنيز محصول سره چې تمه کيږي پدې کال کې قرارداد وشي، نړيوال بانک د "لوړ جريان" پراساس په 2015 کې 2.5% وده اټکل کوي.[681] د آسيا پراختيايي بانک په وينا د افغانستان د ودې ليدونه سياسي او امنيتي ثبات او د سوداګرۍ چاپيريالونو پورې تړاو لري.[682]

"پداسې حال کې چې اېپوم د GDP رسمي اټکلونو ځخه ایستل شوي دي، د دې عواید کورنۍ تقاضا لوړوي او د بهرني تبادلو د پام وړ سرچینه ده."

سرچينه: ADB، *لرې لید 2015*، 3/2015، مخ 167.

د امريکا دفاع وزارت راپور ورکړی چې افغان اقتصاد ژر کافي وده نشي کولی ترڅو خپل امنيتي لګښتونه وپوښي. يو له ترټولو غوره مثال يې دا دی چې د امريکا دفاع وزارت ليکلي حتی که د 2018–2020 وده 9% اوسط وي (2003–2012 اوسط) او ټوله ګټه د افغانستان د دفاع او کورنيو چارو وزارتونو تمويل لپاره ورکړل شي، نو دا به د اوسني ځواکونو د کچې ټولټال لګښت يوازې 20% وپوښي. نو همدې لپاره دولت اړتيا لري د اقتصادي پاينټ ډاډمنولو لپاره امنيتي لګښتونه راکم کړي. د امريکا دفاع وزارت ويل "په سوداګري پروسو کې د کنټرول ميکانيزمونو نه شتون، پراخه فساد، او د خصوصي سيکتور سره اوږدمهاله ملګرتيا نه شتون" له امله امنيت پورې تړلې ډيرې سرچينې ضايع شوي دي.[683]

نړيوال بانک ويل په افغانستان کې د خصوصي پانګوونې لپاره ترټولو مهم ښکاره محدوديت د امنيت نه شتون دی، چې په مستقيم ډول د بشري پانګې زيانمنولو، د توليدي اقتصاد فعاليتونو محدودولو، د ټولنيزې ناکرارۍ ډيرولو، لومړني خدماتو ته د غير مساويانه لاسرسي هڅولو او د سياسي بې ثباتۍ ډيرولو سره په پرمختګ او فقر اغيزه کوي.[684]

په افغانستان کې د خطري بازار شرايطو شاخص او سياسي پرمختګونه، خصوصي پانګونه په 2014 کې کمه شوې. د نړيوال بانک په وينا، په 2013 کې د 36% راالويدو په تعقيب په ټولو خصوصي سيکتورونو کې د نوي شرکت ثبتوونې 26% راټيټې وې. دوامداره بې امنيتي، بې ثباتي، او سيستميک فساد به لانور په خصوصي سيکتور باندې منفي اغيزه وکړي او د ودې مخه به ونيسي.[685]

د خواړو او غير خواړو توکو لپاره د مصرف کونکي د قيمت پړسوب (انفلاسيون)، په 2013 کې د 7.4% په پرتله په 2014 کې 4.6% راټيټ شوی، دا په لويه کچه د قوي داخلي کرنيز توليد او د خواړو نړيوال ټيټ نرخونو له امله و، په بيله بيا د هستوګنې، انټرنيټ او د تيلو نرخونه.[686]

## د افغانستان مالي لرې لید

د نړيوال بانک په وينا، افغانستان د وړاندويني وړ راتلونکي لپاره د ډونر قوي مرستې ته اړتيا لري، ځکه چې د 2025 په اوږدو کې د GDP له 20% ډېره ټولټال مالي تشه طرح کړې ده. کورني عوايد مالياتي او غيرمالياتي عوايد، او د ګمرکونو محصول په 2014 کال کې د دريم پرله پسې کال لپاره کم شوي، چې د GDP تر 8.4% ته راالويدلي، د دې لامل په لويه کچه د ضعيف مالياتو او ګمرکونو پلي کولو او اجابت کول دي. عوايد په 2011 کې د GDP 11.6% و.[687] دا په 2015 کې يوڅه وده کوي.[688] د ډونرانو د مرستې پرته د بوديجې مالي تشې پوښلو لپاره به کابل اړ وي چې د هيواد ټول 30% اقتصادي محصول د دولت لپاره د عايد په حيث راټول کړي.

نړيوال بانک ويلي د 2014 کال امنيتي او د سياسي ليږد بې ثباتۍ د احتمال له مخې د اقتصادي اجارې غوښتنه او د ماليو ځخه تېښته ډيره کړې ده. که څه هم د بوديجې سختي سنجشونه د 2014 دوهمې نيمايې کې معرفي شوې و د ملکي کارمندانو اضافه کاري، د معاشاتو ډيرول، بونسونه، او نورې ګټې کمې شوې وې، لکه څنګه چې د احتياطي پراختيا نوې پروژې وې د امنيت او لازمي ټولنيز ګټو لګښت بشپړ مصرفونه ډېر کړي .[689]

د پاېلي په توګه، افغانستان 2015 (افغان مالي کال 1394) د ضعيف نغدي زيرمو او د پام وړ پاتي پورونو سره پيل کړ، پداسي حال کې چې د عوايدو راټولولو اصلاحات په لومړی ربع کې په پارلمان کې تصويب ته پروت و. نړيوال بانک خبرتيا وکړه چې افغانستان د تير کال بوديجي 537 ميليون ډالرو په څير دي کال[690] کې هم د بوديجي تشو سره مخ کيدی شي.[691] د 1394 مالي کال بوديجي داخلي عوايد شاوخوا 2.2 ميليارد ډالر طرح کړي، د 1393 کال راټول شوي عوايدو څخه نږدي 30% ډير،[692] کوم چي نړيوال بانک "هيله مند" مونډلي، خبرتيا ورکړې چې دولت کوچنی نغدي زيرمي لري چې له مخي يې نه بايد عوايد درک کړل شي. د رکود په حالت کې اقتصاد او د ضعيفه پرمختګ وړاندويني سره، د سختی نورو اقداماتو اختيارونه محدود دي، پدې معني چې دولت حتی لانوري مالي مرستي ته اړتيا پيدا کولی شي.[693]

### د مالي کال 1394 د عوايدو او مصرفونو تازه معلومات

د ADB په وينا، د "کورني سرچينو څخه د عوايدو په حرکت کې اچول حساس شوي دي"؛ يو پر دري د "ضعيف حکومت او د ماليه او ګمرکونو ضعيفي اداري" له امله له لاسه وتلي.[694] د راپورونو له مخي د افغانستان دولت سره ثبت 500 لوی سوداګريو څخه لس سلنه له ماليه ورکولو تښتي. ويل کيږي چې دري لوی شرکتونه په پاتي مالياتو کې شاوخوا 248 ميليون ډالر پور وړي دي.[695]

ټولټال راټول شوي داخلي عوايد هغه رقم چې د ډونر مرستي پکې شامل ندي د 1394 مالي کال لومړيو خلور مياشتو کې 577 ميليون ډالر و، چې د 1393 مالي کال ورته دورې څخه شاوخوا 40 ميليون ډالر (7.5%) لوړ دي، مګر د دولت ټاکلي هدف څخه 36 ميليون ډالر (-5.9%) کم دي.[696] داخلي عوايدو د افغانستان د ټولټال بوديجي 1.2 ميليارد ډالرو له نيم څخه کم (48%) مصارف تر دي دمه په 1394 مالي کال کې تاديه کړي دي؛ د ډونر مرستي يې تشه پوښلي. د افغان دولت مخارج د تير کال ورته دورې په پرتله 8 ميليون ډالر (0.7%) په 1394 مالي کال کې ډير شوي.[697]

تمه کيږي چې مخارج په 1395 مالي کال (2016) کې د 1393 مالي کال 26% په مقابل کې د GDP تر 30% لوړ شي، د نړيوال بانک په وينا دا به په لويه کچه د امنيت، خدماتو عرضه کولو، لازمي زيربنا، او د حفظ او مراقبت (O&M) مصرفونو ډيريدو له امله وي.[698] مالي تشه لويه ده او وده کوي، لکه څنګه چې په شکل 3.27 کې کښل شوي. د ډونر مرسته يا خو دغه تشه راکموي يا يې ډکوي.

په مئ 2015 کې، MOF خپل د 100 ورځو پلان خپور کړ، چې پکې په 10 برخو کې 90 نوښتونه شامل دي پاليسي، بوديجه، خزانه، مالي او اداري چارې، د عوايدو توليد، د عوايدو تحليل، ګمرکات، بيمه، بشري سرچيني، او د سيمه ايزې بانکداری ملګرتياوی. د دې ټاکل شوي کړنو سره MOF غواړي خپل د فساد سره مبارزې فعاليتونه له بنسټه اصلاح کړي، خپل اداري او عامه مالي سيسټم ته وده ورکړي، مالي مقررات او کړنلارې چمتو کړي، او اداري روڼتيا، حساب ورکول او مؤثريت ډير کړي.

سرچينه: MOF، د سل ورځو پلان 27 د مئ 23، 2015.

## د پيسو نړيوال صندوق د کارمندانو نظارت شوې برنامه

د جون په 2 د IMF اداري رييس د افغانستان کوچني اقتصاد پاليسيو او جوړښتي اصلاح اجنډا نظارت کولو لپاره په تيره ربع کې د افغان دولت سره د کارمندانو تر کچې شوي غير رسمي د نهه مياشتو (اپريل – دسمبر 2015) تړون تصويب کړ. د کارمندانو نظارت شوې برنامه (SMP) به مالي پاليسيو باندي تمرکز وکړي لکه د عوايدو په حرکت کې اچول او د پورونو بيرته تاديه کول؛ د پيسو پاليسي لکه د ټيټ انفلاسيون ساتل او د تبادلي د نرخ پاليسي ترڅو نړيوالي زيرمي او سيالتوب محافظت شي؛

شکل 3.27

**د عملياتي او پراختيايي بوديجې مصارفو په پرتله د افغانستان داخلي عوايد او د ډونرانو مرستې** (مېليونونه ډالر)




يادونه: تر دې وروستيو پورې، افغان مالي کلونه د ميلادي تقويم کلونو د مارچ 20 څخه د مارچ تر 20 پورې و. مالي کال 1388 د مارچ 20، 2009 څخه د مارچ 20، 2010 سره سمون درلود او همداسې نور. د مالي کال 1391 لپاره د نهه مياشتو معلومات په افغان مالي کال کې د وخت بدلون په ګوته کوي. افغان مالي کلونه اوس په عموم کې له دسمبر 20 څخه تر د دسمبر 21 پورې وي. مرستې د ډونرانو څخه ترلاسه شوي فنډونه وړاندې کوي. د ډونرانو مرستې ډېرى وختونه د ځانګړي پروژو يا فعاليتونو لپاره وي، مګر ځيني وختونه د GIROA په تشخيص سره مصرفيږي. مالي کال 1393 په لومړني ډول تر 3/12/2015 پورې دی. مالي کال 1394 يوازې لومړی ځلور مياشتې دی. د مالي کال 1394 عملياتي او پراختيايي بوديجې مصرفونه تر 4/18/2015 پورې دي. د مالي کال 1394 عوايدو معلومات تر 4/20/2015 پورې دي چې په 6/5/2015 ډاونلوډ شوي معلوماتو څخه را اخيستل شوي دي.

سرچينه: MOF، "د مالي کال 1394 مياشتني مالي خبرونه، مياشت 4،" 6/4/2015؛ MOF، "د اپريل تر 18 پورې د بوديجې د اجرا کولو راپور،" 4/18/2015؛ MOF، "کلنی مالي راپور 1393،" 3/12/2015؛ MOF، "د 1393 ملي بوديجه،" 2/28/2015؛ MOF، "د 1393 ملي بوديجه،" 2/1/2014؛ د افغانستان بانک، "افغانيو ته د ټاکل شوي بهرني اسعارو د تبادلې ورځنی نرخ،" په 2/1/2014، 1/28/2015، 3/12/2015 او 6/4/2015 خپور شوی.

د مالي سيکتور اصلاح لکه د ضعيف بانکدارۍ سره مخامخ کيدل، د نوي بانکي قانون نآفذ کول، او د بانکي څار پياوړي کول؛ او غوره اقتصادي حکومتولي لکه د فساد سره مبارزې پياوړي کول او د پيسو مينځلو سره مبارزې/او د تروريزم تمويل (AML/CFT) سره د مبارزې قوانين.[699] IMF به د SMP شاخصونو باندې د افغان پروسې د خپل فعاليت نظارتي بياکتنې په دوه ازمېينتي نيټو متمرکز کړي د جون 21 او دسمبر 21، 2015. لومړی بياکتنه به په اګست کې پيل شي. په پلان کې د سپتمبر 22، 2015 لپاره مهالويش شوي شاخص هدف بياکتنه شامل ده.[700]

د SMP د IMF کارمندانو لپاره فرصت برابروي چې د يوه هيواد چارواکو سره کار وکړي ترڅو وګوري چې ايا دوی غواړي او وړتيا لري د IMF – شرح شوي برنامې پرمخ وړلو ته خپلې ژمنې وساتي او مثبت تعقيبي ريکارډ رامينځته کړي. د SMP بريالی تکميل د ډونر مرسته هڅولی شي او د IMF کارمندانو ته ډاډ ورکوي چې ملي چاروکي به د دوی مکلفيتونه د لانور رسمي برنامې

**د شاخص اهداف:** کمې شاخصونه چې د IMF برنامې اهدافو پوره کولو کې د پرمختګ ارزولو سره مرستې لپاره کارول کيږي، په شمول د وړاندوينه شوي اقتصادي تمايلاتو چيرې چې معلومات معلوم نه وي.

سرچينه: IMF، "حقيقت پاڼه، د IMF شرايط،" 4/13/2015.

# د ګمرکونو له لاسه وتلي عواید

افغانستان په نړۍ کې د داخلي عوایدو راټولولو ترټولو ټیټ نرخ لري.[701] مالي کال 1393 د بودیجې 537 میلیون ډالرو کسر سره پای ته ورسید، چې دولت اړ شو د ډونر د عاجل مرستې غوښتنه وکړي.[702] وروسته له هغې چې د متحده ایالاتو کابل سفارت چاراواکو پدې او راتلونکي مالي کلونو کې د افغانستان دولت د بودیجه ای مکلفیتونو پوره کولو په اړه اندیښني بیان کړې، نو سیګار د USAID، د بهرنیو چارو وزارت، د امریکا دفاع وزارت او CSTC-A څخه پدې اړه معلوماتو غوښتنه وکړه چې څنګه د متحده ایالاتو بیارغوني برنامې د عاید راټولولو پیاوړي سیسټم په ځانګړي توګه د ګمرک عوایدو لپاره د افغان دولت اړتیاوې په ګوته کوي چې په منظم ډول د داخلي عوایدو درېیمې برخې لپاره محاسبه کیږي.[703]

د افغانستان لپاره د عوایدو تولید اړتیا پایله دا وه چې د متحده ایالاتو برنامې د ګمرکونو عوایدو راټولولو پروسې ته وده ورکولو او د پولو امنیت لوړولو هدف خپل کړي، په شمول د USAID د افغانستان لپاره د سوداګرۍ او لاسرسی اسانتیا برنامې؛ د USAID د افغانستان د سوداګرۍ او عوایدو برنامه (ATAR)؛ د دفاع وزارت لخوا تمویل شوی، د کورني امنیت وزارت (DHS) د ګمرکونو او پولو محافظت لخوا اداره کیدونکي د پولو د مدیریت کاري ځواک (BMTF)؛ او د افغانستان د پولو تسهیلاتو ګمرکي عوایدو مرکزونو د بیا جوړولو، رغولو او تجهیز کولو لپاره د امریکا دفاع وزارت نورې هڅې. د سیګار یوه تفتیش موندلي چې که څه هم لدغه برنامو څخه ځینو د ګمرکي عوایدو راټولولو پروسو پرمختللي کولو کې مرسته کړې مګر په ډیری حالتونو کې یې تیکاو نه درلود.[704]

د افغان دولت اداري د سوداګرۍ درست معلومات نلري چې د ګمرکي عوایدو ځرنګوالي ټاکلو لپاره ورته اړتیا لري یا دا چې ګمرکي عواید باید څه وي. ولسمشر غني په مارچ 2015 کې د متحده ایالاتو لیدونکو-اوریدونکو ته وویل چې د افغانستان د مرکزي احصایی نهاد له پاکستان څخه واردات 800 میلیون ډالر راپور کړي، پداسې حال کې چې پاکستان افغان چاراواکو ته وویل چې افغانستان ته د دوی ته صادراتو ارزښت 2.5 میلیارد ډالرو و.[705] *طلوع نیوز* راپور ورکړ چې د افغانستان د ګمرکونو ریاست (ACD) معلومات تر 1 میلیارد ډالرو پورې لرې کیدی شي[706] د هیواد د GDP تر شاوخوا 4.8% پورې.[707]

د بهرنیو چارو وزارت وویل چې متحده ایالات د متحده ایالاتو پرسونل روان کمښتونو له امله د افغانستان د ګمرکونو عوایدو راټولولو نظارت او ارزونې ته نږدې هیڅ وړتیا نلري. د بهرنیو چارو وزارت په مستقیم ډول د افغانستان پولو کې عملیات ندي نظارت کړي یا د دوی د ګمرکونو ارزونه او د راټولولو موقعیتونه له هغه وخت راهیسې چې DHS او BMTF وتلي، او د افغانستان د عوایدو راټولولو کې کموالی یا ډیروالی د متحده ایالاتو د شتون نزول سره نسبت نشي ورکولی.[708]

د USAID ATAR پروژه چې د افغانستان د ګمرکي نهادونو او کړنو ته وده ورکولو او عصر سره برابرولو لپاره ډیزاین شوې،[709] چاراواکو وویل چې د امنیت ډیریدونکي خطرونو د دې وړتیا محدوده کړې ترڅو تخنیکي مرسته وړاندې کړي او په کابل کې د ACD مرکزي دفاترو، د ACD سیمه ایز ګمرکي تسهیلاتو او د ګمرکي عوایدو نورو سایټونو، په بیله بیا د افغانستان د ګمرکونو ملي اکاډمۍ څخه لیدنه وکړي. بهرني اتباع په ځانګړي توګه خپل تګ راتګ کې د محدودیت سره مخ دي؛ افغان اتباع سفر کولی شي که چیرې امنیتي اندیښنه شتون ونلري.[710]

د ATAR پرسونل راپور ورکړ چې فساد په ACD کې پراخه دی؛ دوی د افغان ګمرک عوایدو پروسه کې د نظارت او پرمختګ لپاره بې شمیره خنډونو سره مخ شوي دي.[711] سربیره پردې، USAID راپور ورکړی چې د ایکس رې سکینرۍ کار نه کوي او ترمیم ته اړتیا لري، د اوتومات ګمرکونو د معلوماتو سیسټمونو د معیاري کولو هڅې نا مکمل دي، د ATAR د ګمرکونو بریښنایی تادیاتو فعالیت ندی پیل شوی او د ګمرکونو اکاډمي چې د ګمرکونو افسران روزي یوازې په سهار کې کار کوي.[712]

د USAID او د ATAR نماینده ګان د ACD کمپیوټر سیسټمونو او ډیټابیسونو ته لاسرسی نلري، دوی د قاچاق، غلا، او فساد له امله د له لاسه وتلي عوایدو کلنی اټکل هم نه رامینځته کوي. پرځای دوی باید د ګمرکونو د عوایدو راټولولو هغه معلوماتو باندې تکیه وکړي چې د ACD لخوا دوی ته ورکول کیږي.[713] د بهرنیو چارو وزارت او USAID دواړو وویل چې د فساد له امله له لاسه وتلي ګمرکي عوایدو بنه نده معلومه.[714]

A چې د کورنیو چارو وزارت (MOI) د سرحداتو پولیس تمویلوي، له 2011–2015 څخه یې 15 د پولو تیریدو مرکزونه جوړ کړي دي. په هرصورت، CSTC-A د افغانستان د پولو څخه تیریدو مرکزونو، د ګمرکونو ارزوني، او د عوایدو راټولولو تسهیلاتو کې د خوندي پلټني تجهیزاتو ته د ملاتړ هڅو لپاره د کوم ډول ځانګړي تمویل جریان څخه خبر ندی؛ د خپل تمویل دقیق مقدار نه تعقیبوي چې د کورنیو چارو وزارت یې د پولو څخه تیریدو هر مرکز کې پلي کوي؛ او د پولو څخه د تیریدو تسهیلاتو د کاروونې یا وضعیت په اړه هیڅ لید نلري د CSTC-A برنامې مدیرانو د 2014 جنوري تر 1 راهیسې له هیڅ یوه سایټ څخه لیدنه نده کړې.[715]

د ګمرک عواید د افغانستان مالي ثبات لپاره حیاتي دي. سیګار متحده ایالاتو ته وړاندیز کوي چې په پام کې ونیسي ایا د ګمرکونو ارزونې او د عاید راټولولو بسیا ته وده ورکولو لپاره نورې هڅې شاید د له لاسه ورکووني او ضایع کیدو کمولو لپاره لیدونو ته وده ورکړي، او د افغان دولت لپاره عوایدو په برخه کې قوي لاسته راوړنه ولري.

لاندې پوره کړي لکه د غزول شوي اعتبار اسانتيا (ECF) ترتيبات.[716] د افغانستان ضعيف تير وخت يا ريکارډ د دې مخکيني ECF سره چې په نومبر 2014 کې پې تاريخ تير شو، د فعاليت له لاسه وتلي اهدافو، ناسم او ځنډيدلي جوړښتي اصلاحاتو، ناوړاندوينه شوي شاکونو (ټکانونو)، او د پاليسي ناکافي ځواب له امله د برنامې د بياکتلو د ځنډوني لامل شو.[717]

د IMF په وينا SMP د پام وړ خطرونو سره مخ دی، په شمول د بې امنيتي، سياسي بې ثباتي، او د پاليسي ناکافي پلي کول او اجرا کول. IMF اضافه کوي چې د سولې بريالی خبرې، غوره داخلي تقاضا، او د کانونو لوی پروژو پراختيا کولی شي د مصرف کونکو او پانګه والو باور رامينځته کړي او اقتصادي فعاليت په لاره واچوي چې د افغانستان د منل شوي شاخصونو ترلاسه کولو کې مرسته کوي.[718]

که څه هم لومړی رسمي بياکتنه تراوسه نده پيل شوې، د بهرنيو چارو وزارت وويل چې IMF باور لري افغان دولت مداوم پرمختګ کوي او "د افغان دولت د کوچني اقتصاد پاليسی ټينګولو لپاره د افغان دولت کړنو څخه متاثره دی، د فساد کمول په شمول د ګمرکاتو ځانګه کې، د IMF د عوايدو اهدافو څخه ډير راټولول چې د SMP لومړی دورې لپاره [419 ميليون ډالر د 415 ميليون ډالرو هدف پروړاندې راټول شوي]، او د مصرف کمولو لپاره د دې هڅې."[719] خزانې وويل د جون په 21 ازمينبتي نيټه د ځينې جوړښتي شاخصونو پاس کولو کې د پارلمان ځنډ د "انديښنې مسله" وه.[720]

## سوداګري

د ولسمشر غني هدف په وچه کې راګير افغانستان لپاره دا دی چې دا د سيمه ايز اقتصادي يووالي لپاره د ټرانزيټ او سوداګرۍ مرکز شي.[721] لکه څنګه چې په شکل 3.28 کې ښودل شوې، پاکستان د افغانستان ترټولو لوی سوداګريز ملګری دی، چې په تعقيب کې متحده ايالات، اروپايي اتحاديه او سيمه ايز ګاونډيان دي.[722]

پخپلو وروستي تحليلونو کې نړيوال بانک مونډلي چې د افغانستان سوداګرۍ کسر 2014 کې محدود شوی په 2013 کې د 8.3 ميليارد ډالرو (41.9%) په پرتله 8 ميليارد ډالر (د 38% GDP).[723] رسمي صادرات د 2013 څخه 19.5% لوړ و، په ډيره کچه د لوړ کرنيز محصول له کبله چې د وچو او تازه ميوو صادرات لوړ شول. پداسې حال کې چې نړيوال بانک وويل د مصرف کونکو او سوداګرۍ ټيټ باور د وارداتو لپاره د 20% ټيټې تقاضا لامل شوې، دا اټکل هم کوي چې د رسمي وارداتو ډيری کمښت شايد د ضعيف ثبت او ډيرشوي قاچاق څخه وي ځکه چې ګومان کيږي د ټولې افغان سوداګرۍ 15–20% بې ثبته او قاچاقي وي. د سوداګرۍ کسر محدوديت سربيره، لاهم لوی پاتې دی او د ډونر د مرستې سره بشپړ تمويليږي.[724]

د افغانستان اصلي صادرات وچې ميوې او غالۍ دي، چې د ټولو صادراتو 49% جوړوي.

سرچينه: نړيوال بانک، د *افغانستان د اقتصاد تازه معلومات*، اپريل 2015، مخونه 15–16.

### د صادراتو او وارداتو معلومات

د سوداګرۍ اړوند ماليات د افغانستان د ټولټال 2006–2013 مالياتي عوايدو 45% وړاندې کړې.[725] که څه هم افغانستان په منظم ډول لوی اقتصادي کسر لري، د ډونر مرستې په 2014 کې د 5.7% GDP اوسنی حساب بيلانس اټکل ساتلو کې د هيواد سره مرسته کړې. لدې پرته، IMF اټکل کوي افغانستان به د خپل 36% GDP سره مساوي د اوسني حساب کسر ولري شاوخوا 7.3 ميليارد د موزامبيک (-35%) او ليبريا (-32%) په څير.[726]

شکل 3.28

**د افغانستان لوی سوداګريز ملګري (2013)**




يادونه: شميرې ګردي شوي دي. سلنې د لوی سوداګريز ملګرو سره واردات/صادرات د ټولو هيوادونو سره د سوداګرۍ هرې کټګورۍ سلنې په حيث ښيي.

سرچينه: اروپای کميسون، د سوداګرۍ لپاره عمومي رياست، "اروپای اتحاديه، د افغانستان سره د توکو سوداګري،" 4/10/2015، په 6/24/2015 خپور شوی.

د IMF د اټکلونو له مخې، د 2012–2014 په موده کې، افغانستان په کال کې د شاوخوا 3.3–4 ميليارد ډالرو په ارزښت توکي او خدمات صادر کړي دي، چې پدې کې غير قانونيترياک ندي شامل.[727] نړيوال بانک وويل افغانستان يوازې لږ شمير توليدات صادروي او يو څو سوداګريز ملګري لري،[728] چې له کبله يې دا د عوايدو ترلاسه کولو لپاره په ځيني توکو پورې وابسطه کوي، او په پايله کې د بې ثباته قيمتونو او د سوداګرۍ شاکونو څخه خورا زيان ليدونکی دی.[729]

IMF د افغانستان د 2014 کال واردات د توکو او خدماتو له 10.6 ميليارد ډالرو څخه ډير اټکل کړی چې له 8 ميليارد څخه ډير يې د نړيوال ډونرانو رسمي مرستې څخه تاديه شوي.[730] خزانې د افغانستان واقعيي وارداتي ظرفيت د بهيرنيانو د شتون پام وړ تقاضا پرته په غير رسمي ډول په کال کې له 2 ميليارد ډالرو څخه لږ اټکل کړی، د غيرقانوني ترياکو عوايدو په استثنا. خزانې وويل چې د لوی کچې بهرنۍ مرستې پرته به د وارداتو کچه راټيټه شي، مګر پراخوالی به يې د بهرني شتون تقاضا پورې تړلی وي، د افغانستان وارداتي اړتيا چې کله د بهرني شتون اړتيا کمه شي، او د قوي اقتصادي فعاليت او ودې پياوړي کولو لپاره د بهرنۍ مرستې اړينه کچه. د وارداتو کمښت به په اقتصاد تر ډيره بريده چپه اغيز ونکړي.[731]

### د افغانستان د سوداګرۍ او عاید پروژه

د USAID د څلورو کالو لپاره د 77.8 میلیون ډالرو په ارزښت د افغانستان د سوداګرۍ او عاید (ATAR) پروژه د سوداګرۍ اسانولو برنامه ده چې د (1) سوداګرۍ لیبرال پالیسیو پرمختللي کولو، په شمول د نړۍ سوداګریز سازمان (WTO) ته د افغانستان د لاسرسي لپاره ملاتړ؛ (2) د افغانستان د ګمرکونو نهادونو او کړنو عصري کولو په واسطه د عاید تولید لپاره د حکومت وړتیا ته وده ورکولو او جاري کولو؛ او (3) د دوه اړخیز او څو اړخیز سیمه ایزې سوداګرۍ تړونونو لپاره ډیزاین شوې.[732]

پدې ربع کې د افغانستان ګمرکونو ځانګې او مرکزي بانک یوه پیلوټ برنامه په لاره واچوله چې سوداګرانو ته لاره هواروي د سوداګریز بانکونو څخه په بریښنایي ډول د ګمرک محصول تادیه کړي. سربیره پردې، د ATAR ډیرې مرسته شوې، د WTO موافق قانوني اصلاحات پرمخ تللي، په شمول د: د تجاري نښو قانون تعدیلات چې نافذ شوي؛ د بیلګې پیښ لیک قانون تعدیلات چې د وزیرانو شورا ته لیږل شوي؛ او د عیبونو معرفي کولو خطر کمولو او کنټرولونو لانور اغیزمنولو لپاره د کارځای محافظت او قرانطین مسوده. مسوده د ولسي جرګې څخه مشرانو جرګې ته ورسیده. ATAR د سوداګرۍ او صنایع وزارت سره هم د هغې د پنځه کلنې سوداګرۍ پالیسی بیاکتنې لپاره چمتو کیدو کې مرسته وکړه.[733] ATAR د 2015 جون تر 30 پورې شاوخوا 28.1 میلیون ډالر مصرف کړي.[734]

## بانکداري او مالي چارې

IMF راپور ورکړی چې په 2014 کې سستي حکومتولي او مقرراتو پلي کولو د ځینې افغان بانکونو مالي موقفونه تخریب کړي. د IMF په نظر د افغانستان 15 بانکونو څخه اته یې "ضعیف" ګڼل شوي دي،[735] او دوه یې عامه شناخت نلري چې "د زیان" سره مخ دي.[736] IMF د کارپوریټ حکومتولۍ، د پانګې اړتیاو، د پور ورکولو ښکاره کول، نظارت او د حلونو وړاندوینو قوي کولو لپاره په وخت سره د نوي بانکي قانون پاس کولو باندې تاکید کړی.[737]

د نړیوال محاسباتو په وینا د بانکي سیکتور سپما وده په 2014 کې د 2013 د 5.9% او د 2012 د 15.8% په پرتله 2.8% ته ټیټه شوې. په ورته ډول، خصوصي سیکتور ته پور ورکول په 2014 کې د 2013 د 7.6% ودې په پرتله 7.3% ته کم شوی. نړیوال بانک وویل دا وړاندیز کوي چې خصوصي پانګونه په ټیټه ولاړه ده او په 2010 کې د کابل بانک سقوط راهیسې د بانکونو د مخ پر زیاتیدونکي ویرې خطر منعکس کوي.[738]

د افغانستان فقیر رسمي مالي نهادونو ته محدود لاسرسی لري. د افغانستان د ټول نفوس له 10% لږ خلک بانکونه کاروي،[739] او د نغدي پیسو ساتلو ته ترجیح ورکوي. ADB وویل چې دا د بانکونو دوام لرونکي بې باورۍ منعکس کوي او د کابل بانک پراخه ناکامی راهیسې د فنډونو پور اخیستونکو او چمتو کونکو ترمینځ د مینځګړي په حیث خپل رول کې د بانکي سیکتور ضعیف فعالیت ښیي.[740] ADB افغانستان ته د لویانو حساب لرونکو په نسبت د آسیا 26 مخ پرودې هیوادونو کې 25 مه درجه ورکړې. افغانستان په هرو 100,000 نفرو د اوتومات صرافی له پنځه کم ماشینونه هم لري، چې دا د 33 مخ پر ودې هیوادونو کې افغانستان ته اخرنۍ درجه ورکوي.[741]

د مالي انتقالاتو شاوخوا 90% يې د غير رسمي سيستم *حواله* له لارې ترسره کيږي. د بهرنيو چارو وزارت راپور ورکړی چې د حواله او رسمي بانکي سيستمونو ترمينځ هيڅ روښانه تقسيم شتون نلري *حواله داران* بانکي حسابونه لري او د واير – انتقال خدمات کاروي، پداسې حال کې چې بانکونه هم په افغانستان کې لرې پرتو سيمو ته د فنډونو ليږدولو لپاره حوالي کاروي.[742]

## د متحده ايالاتو د خزانې مرسته

پدې ربع کې د متحده ايالاتو د خزانې دفتر تخنيکي مرستې (OTA) د افغانستان ماليه وزارت لپاره د تخنيکي مرستې رامينځته کولو او د ظرفيت جوړونې برنامو لپاره خپل د 2015 مارچ 23 تړون پلې کول پيل کړل.[743] OTA افغانستان ته د 2015 د مئ 16–28 ارزونې يو ماموريت ترسره کړ ترڅو د بوديجې او خزانې مديريت لپاره د مرستې او ظرفيت جوړونې په وغړيږي په شمول د خپلې تخنيکي مرستې لپاره د واکونو وړانديز شوي حدونه. د ماموريت ټيم وموندل چې د دې افغان ملګري دې بايد نوې ښکيلتيا ومني.[744]

د OTA مرسته به په پيلي توګه د وزارتي بوديجو پورې اړوند د ملي لومړيتوب اهدافو رامينځته کولو او نظارت کولو د طرحه ای لاربنود؛ د خو کلونو بوديجه جوړول؛ د پراختيا او عملياتي بوديجې پلان کولو پروسو ادغام؛ او د بوديجې جوړول او پلې کولو د پرمختګ درلودونکي وي. OTA وويل د دې اصلاحاتي اقداماتو پلې کول به تر ډيرې کچې پورې افغان حکومت او نورو ډونرانو پورې تړلې وي. د متحده ايالاتو کابل سفارت د امنيتي انديښنو له امله د خزانې څخه غوښتنه کړې چې نور مهالويش شوي ماموريتونه تر اکتوبر پورې ودروي.[745]

> ”د [IMF] کارمندانو د عامه چارواکو بدو جرم کول، په اغيزه کې سوداګری، غيرمشروع بډايه توب، بډې او په خصوصي سيکتور کې د ملکيت اختلاس قانون پارلمان ته سپارلو پلانونو ته ښه راغلاست ويلي، او پلان شوي قانوني تعديلات ترڅو د عامه چارواکو د پانګې وضاحتونو خپروني لپاره چمتو شي.“
>
> سرچينه: IMF، د افغانستان اسلامي جمهوريت، د کارمندانو نظارت شوی برنامه، 5/7/2015، مخ 14.

## د پيسو مينځل

د بهرنيو چارو وزارت افغانستان د پيسو مينځلو ترټولو لوی هيواد په حيث ليست کوي چې مالي نهادونه يې د پام وړ جرمي کړنو کې دخيل انتقالاتو کې يا خو ښکيل دي يا ورڅخه زيان ويني، ”دا ټول د افغانستان امنيت او پراختيا لپاره جدي ګواښونه لري.“ ترياک، فساد، او د قرارداد درغلي د هيواد د غيرمشروع عايداتو او مينځل شوي فنډونو لوی سرچيني دي. افغانستان يا خو ضعيف نظارتي او تطبيقي رژيمونه لري يا يې هيڅ نلري، او د فساد سره د مبارزې سياسي ليوالتيا ضعيفه ده.[746]

### د پيسو مينځلو سره مبارزې/د تروريزم تمويل سره د مبارزې قانون تشې يا عيبونه

خزانې وويل افغانستان د دلالت کونکي سرغړونو (د مثال په توګه د مينځلو لپاره د فنډونو ليږد) پوښلو ته د پيسو مينځلو کرمنلايزيشن غزولو لپاره چې بهر پيښيږي د مالي عمل کاري ځواک (FATF) اړتيا، د خپل 2014 AML قانون په تعديل کولو سره د پيسو مينځلو سره مبارزې/د تروريزم د تمويل سره مبارزې (AML/CFT) اداري ته وده ورکولو لپاره ګامونه اخيستي. افغانستان د تروريساتو پانګو کنګل کولو لپاره هم د پروسې او قانوني کاري چوکاټ مقررات تصويب کړي، مګر لا هم اړتيا لري د ملګرو ملتونو (UN) د امنيتي شورا حلونو 1267 او 1988 بشپړ او دوامداره پلې کول ترسره کړي چې د ټاکلي افرادو د پانګو کنګل کولو او په هغوی د بنديز لګولو غوښتنه کوي.[747]

په 2015 مارچ کې د بهرنيو چارو وزارت يوه راپور ويلي چې د افغانستان قوانين د نړيوالو معيارونو سره برابر ندي او وضاحت او مؤثريت پکې شتون نلري. پداسي حال کې چې دولت د ځينې حوالو شبکو بانکي حسابونه کنګل کړي، خو هيڅ بانکي حسابونه ضبط شوي ندي او د نورو هيوادونو سره د جريمه ای پانګو شريکولو لپاره هيڅ قانوني ميکانيزم شتون نلري ترڅو د فنډ ګډ قانون پلي کولو بازرسيو کي مرسته وکړي. راپور ورانديز کړی چې افغانستان د پيسو مينځلو او د تروريزم تمويل جرمي کولو کار ته دوام ورکړي؛ د تروريست او پيسو مينځلو اړوند پانګو د پيژندلو، تعقيب، نيولو، او کنګل کولو لپاره يو کاري چوکاټ پلي کړي؛ د قانون اړوند چاراواکي ورزوي او سرچينې ورته برابر کړي ترڅو هغوی خپل د ځار او بازرسی دندې وپيژني او په غوره ډول يې پرمخ ويسي؛ د مالي اطلاعاتو واحد او د افغانستان مالي انتقالاتو او راپورونو د تحليل مرکز پياوړی کړي؛ او د پولو څخه د نغدي انتقالاتو لپاره کنټرولونه پياوړي کړي.[748]

د افغانستان مرکزي بانک راپور ورکړی چې په 2014 کي شاوخوا 3.7 ميليون ډالر نغدي پيسي د کابل نړيوال هوای ډګر او شاوخوا 83,200 ډالر د مزار شريف هوای ډګر له لاري وتلي. پداسي حال کي چې په يوه وخت کي د 20,000 ډالرو څخه د ډيرو پيسو ايستل له هيواد څخه غير قانوني دي، افغان قوانين له اتباع غوښتنه نه کوي چې د بيروني اسعارو راپور ورکړي. د بهرنيو چارو وزارت راپور ورکړی چې د پولو څخه تيريدو مرکزونو او ګمرکونو کي د فساد له امله ډيری ځله کارګو د کتلو يا پلټلو څخه معاف کيږي، او دا چې ډيری د پولو ساحي لږ پوليس لري يا هيڅ پوليس نلري. علاوه پردې، د کابل نړيوال هوای ډګر د ټولو مسافرينو لپاره د پلټلو دقيق کنټرولونه نلري: دا يوه VIP لاره لري چې د ځيني مسافرينو کوم ډول پلټنو يا کنټرولونو د مخنيوي اجازه ورکوي.[749]

## د مالي عمل کاري ځواک

په بريسبين، آستريليا کي د 2015 په جون 24–26 خپلې وروستی عمومي ناسته کي FATF د افغانستان په خپل "وده کونکي AML/CFT نړيوال اجابت" ليست کي ساتل انتخاب کړل چې د "خړ ليست" په نوم هم پيژندل کيږي. دا پدې معني دی چې پداسي حال کي افغانستان د AML/CFT ستراتيژيک تشي لري، د دې دولت يو د عمل پلان رامينځته کړی دی، د دغه تشو په نښه کولو لپاره يې د لوړې کچې سياسي ژمنه کښلي، او د ودي په حال کي دی. FATF په افغانستان تاکيد کړی چې د تروريست پانګو د پيژندو، تعقيب او کنګل کولو لپاره خپل قانوني کاري چوکاټ پلي کړي؛ د ټولو مالي سيکتورونو لپاره د AML/CFT د ځار مناسب برنامه پلي کړي؛ او د پولو تيريدو مرکز کي د نغدي انتقالاتو لپاره مؤثره کنټرولونه رامينځته او پلي کړي.[750] دا خلورمه پرله پسي عمومي ناسته ده چې پکي افغانستان په فبروري 2014 کي دې "خړ ليست" ته راکښته کيدو راهيسي همدا حالت ساتلی دی.[751]

لدغي يوځه وروسته، د افغانستان ولسي جرګي د AML قانون کي د دولت سپانسر شوی تعديل رد کړ چې غوښتنه يې دا وه چې د پيسو مينځلو تور بازرسی يوازې هغه جرمونو باندې پلي کيږي چې د قانون د تصويب څخه وروسته پيښ شوي وي، نه دا چې مخکيني پکې شامل وي، لکه څنګه چې اوس په قانون کي دي. د پارلمان ځيني غړو وويل چې د مخکي چې څه دي دغه فقرې حذف کول به د تيرو 14 کالو په موده کي غلاو ته انعام ورکول وي او ډيری جرمونو د تعقيب څخه خلاصون لامل کيږي.[752]

## د کابل بانک د غلا حساب ورکول

افغان حکومت تر دې دمه د 36 افرادو او شرکتونو پروړاندې محکومیت یا قضاوتونه کړي دي،[753] پشمول ل د کابل بانک مخکيني رييس او عامل رييس، څوک چې نږدې 1 ميليارد ډالرو غلا کې دخيل و چې کابل بانک یې په 2010 کې نږدې سقوط ته ورساو.[754] د کابل بانک د تصفيه کولو کميټي په وينا، چې د ولسمشر فرمان له مخې د 2015 په مارچ کې رامينځته شوه ترڅو د کابل بانک قضيه وځيري او حل کړي، 30 پور وړو د دوی پورونه ورکړي دي، 10 پور وړو "د پور ورکولو ته ليوالتيا ښودلي،" او هغه پور وړي چې تبنتيدلي په اړه يې انټرپول ته راپور ورکړل شوی دی.[755]

د 2015 جون په 22 ولسمشر غني د پور وړو لپاره د يوې اونۍ ضرب العجل وټاکه چې خپل حسابونه تصفيه کړي يا به د تعقيب لپاره لوی څارنوالۍ ته معرفي شي او د هيواد څخه د وتلو مخه به يې ونيول شي.[756] يوه ورځ وروسته *طلوع نيوز* راپور ورکړ چې د کابل بانک د تصفيه کميټي رييس او معاون يې د کابل بانک يوه ناپيژندل شوي پور وړي څخه د 100,000 ډالرو پور اخيستو کې نيول شوي.[757] د افغانستان لوی څارنوالي د جولای په 6 د کابل بانک 150 پور وړو پروړاندې سفري بنديزونه او د پانګو کنګل کول اعلان کړل.[758]

## د نغدو پيسو او پانګې بيرته ترلاسه کول

په 2015 جون کې د کابل بانک امانتي مقام د متحده ايالاتو عدليه وزارت (DOJ) خبر کړ چې د راپورونو له مخې د 2015 مئ پورې 229.5 ميليون ډالر ترلاسه شوي. پدې کې نغدي پيسي ترلاسه کول (180.7 ميليون ډالر)، پورونه، او پانګي چې ترلاسه شوي يا ضبط شوي. نور 600–650 ميليون ډالر تصفيه شوي ندي. امانتي مقام وويل په نغدي پيسو او پانګو ترلاسه کولو کې د دې لوړمنی ننګونه د پورونو بيرته تاديې لپاره په پور وړو نا کافي فشار دی ځکه چې ډيری يې د پام وړ سياسي اړيکې يا متحدين لري.[759]

په 2015 مئ کې د متحده ايالاتو کابل سفارت د پانګو بيرته ترلاسه کولو او د دوه اړخيزې قانوني مرستي غوښتني ته د خبرو پيل کولو په اړه د افغان دولت څخه يو ډيپلوماتيک نوټ ترلاسه کړ.[760] DOJ رسمي غوښتنه ناقص ګڼلي او د سمون کړني په نښه کړي چې د DOJ د مرستي دمخه ورته اړتيا وه. دولت د 2015 جون تر 29 پورې ځواب ندی ورکړی او غوښتل شوي معلومات يې ندي ورکړي.[761]

وروسته له هغې چې په 2010 کې کابل بانک نږدې سقوط ته نږدې و، MOF د زيان د پوښلو د جبران لپاره مرکزي بانک ته د 825 ميليون ډالر ورکړل. د حکومت لخوا بيرته تاديات چې ځيني وختونه د کابل بانک پانګو بيرته ترلاسه کولو کړنې پکې شامل دي، او د بوديجې تخصيصاتو له لارې په دري مياشتني ډول ترسره کيږي. پارلمان په مداوم ډول د دغه بيرته تادياتو اجازه نده ورکړې، پداسي حال کې چې هغه تاديات چې مجاز و په پورونو کې دي. هيڅ بيرته تاديات داسي بريښي چې له 2013 راهيسي شوي دي.

سرچينه: IMF، د افغانستان اسلامي جمهوريت، د اقتصادي او مالي پالیسيو يادداشت، 11/1/2011، مخ 9؛ خزانه، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 6/25/2015.

## د متحده ايالاتو د اقتصادي ملاتړ ستراتيژياني

پدې ربع کې متحده ايالاتو او افغان دولت د نوي پراختيا ملګرتيا (NDP) د 800 ميليون ډالرو برنامې اداره کولو لپاره يو کاري چوکاټ او تفاهمنامې يادداشت (MOU) باندې کار وکړ چې په 2015 د مارچ 23 کې اعلان شوی و.[762]

NDP د افغان نهادونو پياوړي کولو، ثبات، او مالي شفافيت سره د راتلونکي ينځه کلونو په موده کې د افغان په ځان بسيا هڅوي، او د ملي يووالي حکومت ته فرصت ورکوي چې خپل د پراختيا خط پرمخ ويسي. دا غواړي افغان دولت ته د ننګونو پرختيا د حلونو پلي کولو لپاره د پيسو نوښتونو له لارې نوموړی هدف ترلاسه کړي او د افغان په رهبری اصلاح او پراختيا فعاليتونه به وسنجوي. USAID به د NDP تمويل څارنه وکړي، چې به د افغانستان بيارغوني وجهي صندوق (ARTF) له لارې مصرفيږي.[763]

د بهرنيو چارو وزارت وويل افغان دولت مالي ثبات، د فساد سره مبارزه او د فقر کمول د NDP لاندې د پيلي لومړيتوب ساحو په حيث پيژندلي. دولت به وروسته پدې برخو کې ځانګړي پاليلي رامينځته کړي چې د متحده ايالاتو نوښتي فنډونو ترلاسه کولو شرايط پوره کړي.[764]

## د USAID پراختيايي مرسته

د اقتصادي ملاتړ فنډ (ESF) ډيرى مرسته د USAID د پراختيايي برنامو کې ځي. شکل 3.29 د سيکتور له مخې د USAID مرسته ښيي.

شکل 3.29

**د 2015 جون تر 30 پورې د USAID پراختيايي مرسته، مجموعي مصرفونه** (مليونونه ډالر)




يادونه: شميرې ګردې شوي دي. کرنې برنامو کې بديله پراختيا شامله ده. د زيربنا برنامو کې بريښنا، سړکونه، کان کيندنه او نورې برنامې چې د روغتيا او تعليم تسهيلات جوړوي، شاملې دي.
*ناغوره شوي فنډونه د متحده ايالاتو د ARTF سره اعانې دي چې د ARTF ملاتړ شوي نوښتونو لپاره کارول کيدی شي.

سرچينه: سيګار، د USAID تحليل، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/12/2015؛ سيګار، د نړيوال بانک تحليل، "ARTF، په مالي حالت د اداره کونکي راپور، د 2015 د جون تر 21 پورې،" په 7/17/2015 خپور شوی.

## د طبيعي زيرمو پراختيا

د کان کيندنو قراردادونو اکثريت د کانونو او پټروليم وزارت (MOMP) لخوا بيرته ارزول کيږي ځکه چې وزير د قراردادونو ورکولو کې د روڼتيا نه شتون په ګوته کړی دی.[765] دا روښانه نده چې په مزاکره شوي قراردادونو به څومره اغيزه ولري چې تراوسه ندي لاسليک شوي، مګر دا د پانګوونکو نور ابهام لامل کيدی شي.

USAID وويل افغان دولت نوموړي سيکتور ته سسته، ميتوديکي لاره پرمخ وړي ترهغې چې فکر وکړي د داوطلبيو او قراردادونو اداره کولو ظرفيت لري.[766] د متحده ايالاتو او افغان دولتونو او د افغانستان د روڼتيا د څار اداري نماينده ګان ټول موافق دي چې MOMP لا هم د دفاع وزارت د سوداګرۍ او ثبات عملياتو لپاره کاري ځواک (TFBSO) او د 2009 راهيسې د USAID مستقيم مرستې سربيره د بهرني ملاتړ پرته د قراردادونو د لټون، ګومارنې او اداره کولو تخنيکي ظرفيت نلري. (TFBSO په دسمبر 2014 کې خپل عمليات ودرول). د MOMP په خپلواکه ډول اداره کيدونکي داوطلبيو په اړه ويل کيږي چې ډيرى يې په فساد ککړ وي.[767]

نړیوال بانک باور لري د افغانستان د طبیعي زیرمو پراختیا کولی شي د بهرني کمیدونکې مرستې پرورېاندې د راتلونکي اقتصادي ودې تکیه شي. تردې دمه کان کیندنې د هیواد GDP سره یوازې لږه مرسته کړې ده.[768] افغان بودیجې په 1393 مالي کال (2014) کې د کان کیندنې کلني عواید 26 میلیون ډالر اټکل کړي و، مګر واقعیې عواید شاوخوا 8.7 میلیون ډالر و.[769] د 1394 مالي کال بودیجې د کان کیندنې عوایدو کې د دولت د 35 میلیون ډالرو تمې وړاندوینه کړې وه،[770] که څه هم پدې کال کې د عوایدو ډیرولو لپاره هیڅ پراختیایی هڅې نه وې شوې.

دولت د 1394 مالي کال په لومړیو څلور میاشتو کې د استخراجي عاید شاوخوا 4.5 میلیون ډالر راټول کړي، چې د بودیجې هدف یې تر 26% د 6.1 میلیون ډالرو پورې پوره نکړ. په تیر کال کې د ورته دورې په پرتله، استخراجي عواید 17% کم شوي دي.[771] اړین زیربنایی تمویل او په قانون او قانوني کاري چوکاټونو[772] د افغان دولت پرمختګ لدغه سیکتور څخه د پام وړ عوایدو وخت مبهم کوي.

د جون په 3 پارلمان د حاجیګک او عینک کانونو د حالت په اړه د کانونو او پترولیم وزیر وپوښته.[773] دامهال د لوګر ولایت په مس عینک کان کې د ځمکې ماینونو پاکولو او په سیمه کې د کلتوري اثارو زیان ارکیولوژیکي کمښت دوام پرته د کیندنې نور کار دوام نلري.[774] افغان دولت د مس عینک کان کیندلو قرارداد په 2008 کې ورکړ،[775] مګر حق الامتیاز یې تراوسه ندی درک شوی.[776] د 3 میلیارد ډالرو نوموړی قرارداد پدې ربع کې بالاخره عام شو، اوه کاله وروسته د لاسلیک کیدو څخه.[777] د حاجیګک وسپنې امتیازاتو لپاره د قرارداد مزاکرات په نومبر 2011 کې د ګومارل کیدو راهیسې دوام لري.[778] نړیوال بانک پدې وروستیو کې راپور ورکړ چې د عینک او حاجیګک اړوند انرژي زیربنا لپآره هیلې له مینځه تلې چې ټاکل شوې وه د کان کیندنې پروژو د برخې په حیث جوړه شي.[779]

د کابینې نهایی تصویب ته په تمه قراردادونو لیست لپآره د سیګار د 2015 جنوري نیټې د متحده *ایالاتونو کانګرس ته درې میاشتني راپور* 161 مخ وګورئ.

## غیر قانوني کان کیندنه

MOMP ادعا کوي غیر قانوني کان کیندنه د افغانستان په اوږدو کې په 1,400 کاني ساحو کې ترسره کیږي، مګر نور اټکل کوي چې هیواد 2,000–3,000 غیر قانوني ساحې لري.[780] USAID وویل ډونرانو د نوموړي ستونزو په ګوته کولو کې د امنیتي مسلو، لرې پرتو غرنیز موقعیتونو ته د لاسرسي نه شتون، او د دفترونو کمیابي چې پکې کانونه راجستر کیږي، له امله خورا لږه بریا ترلاسه کړې.[781]

طالبان او نور ترهګر د غیرقانوني استخراج یا طبیعي زیرمو لاسته راوړو لپاره تاوتریخوالی کاروي. غیرقانوني کان کیندنه په کلني ډول د افغان وګړو تر 300 میلیون ډالرو پورې پانګه له مینځه وړي.[782] ملګرو ملتونو په فبروري 2015 کې راپور ورکړ چې ”د طالبانو په طبیعي زیرمو سیکتور کې دخالت ژور دی او پدغه سیکتور کې غصب په پراخه کچه شتون لري.“ طالبان له درې لارو په غیرقانوني کان کیندنه کې دخیل دي: استخراج (دوی لږترلږه د ډبرو (ماربل) 35 فعال اونیکس کنټرولوي)، غصب (که چیرې ورته تادیه ونشي ګواښل یا تاوتریخوالي ترسره کول)، او د خدماتو وړاندې کونکو په حیث (امنیت، ټرانسپورټ، او قاچاق).[783]

د سیګار تفتیش

په تیره ربع کې د سیګار خپور شوي یوه تفتیش مشخص کړي چې د USAID MIDAS برنامې د مرستې ته اړ برخې پیژني، د کانونو سیکتور پراختیا لپاره ستراتیژي جوړوي، او د USAID لخوا د پانګوونې پوتانسیال ساحو انتخاب کولو لپاره روښانه معیار طرحه کوي. د استخراجي صنعت سره د متحده ایالاتو مرستې یو تفتیش دوام لري.

## د افغان ثبات لپاره د کان کیندنې پانګونه او پراختیا

پدې ربع کې، د افغان ثبات لپاره د کان کیندنې پانګوونې او پراختیا (MIDAS) د 50 میلیون ډالرو په ارزښت د USAID برنامې د افغان جیولوژیکل سروی کارمندانو لپاره د جیوی‌باسیل/جغرافیه ای معلوماتو روزنه بیا پیل کړه؛ په بامیانو کې د ګرانیت سیړلو اصلي بیلګې پروژه بشپړه کړه ترڅو د سوداګرۍ پروسس کولو لپاره د منرال کیفیت او ټیکاو مشخص کړي؛ او هرات او نورو ساحو ته د سایټ لیدنې لپاره چمتووالي ته دوام ورکړ.[784]

MIDAS د کانونو او پټرولیم وزیر بیاکتنې لپاره د کانونو قانون احتمالي تعدیلاتو کتلاګ کولو ته دوام ورکړ. د داوطلبی او قرارداد کولو پروسه کې د روڼتیا او حساب ورکونې ښه کولو په تکل ځینې وړاندیز شوي بدلونونو کې شامل دي: د هغه خلکو د قرارداد ترلاسه کولو مخه نیول چې د ترهګریز ډلو سره ثبوت شوي اړیکې لري یا ورپورې تړلي دي؛ د صدور تر 10 ورځو پورې د کانونو ټولو قراردادونو لازمي خپرول؛ او د ځانګړي کان د سیړلو جواز چمتو کول د سایټ د سیړلو جواز اختصاصي حق د سیړلو بشپړیدا وروسته او د اقتصادي توجیه رامینځته کول.[785] د سیړلو حقونو سره د سیړلو لینک ناکامي د پانګوونې یو له څو اوږدمهاله ممانعتونو څخه دی[786]

د MIDAS او د USAID نور د کیندنې مرستې برنامې په جدول 3.23 کې لیست شوي.

جدول 3.23

**د USAID د استخراجي مرستې برنامې**

| د پروژې سرلیک | د پیل نیټه | د پای نیټه | ټولټال اټکل شوی لګښت (ډالر) | د 6/30/2015 پورې مجموعي مصرفونه (ډالر) |
|---|---|---|---|---|
| د شبرغان د ګازو تولید فعالیت | 12/21/2011 | 7/31/2016 | $30,440,958 | $21,721,719 |
| د شبرغان د ګازو پراختیا پروژه | 5/15/2012 | 7/31/2016 | 90,000,000 | 0 |
| د افغان ثبات لپاره د کانونو پانګونه او پراختیا | 3/31/2013 | 3/20/2016 | 50,096,175 | 17,361,416 |

سرچینه: USAID، د سیګار د معلوماتو غوښتنو ته ځوابونه، 6/25/2015 او 7/12/2015.

## هایدروکاربونونه

د افغانستان د تیلو او ګازو زیرمو پراخولو هڅې د آمو دریا حوزې او د افغان تاجک حوزې باندې متمرکز دي، دواړه په شمالي افغانستان کې شتون لري.[787] افغانستان یوازې په کوچنۍ کچه کارخایونه لري د لومړني مرحلې تصفیه خونې چې د خامو تیلو یوازې محدود پټرولیم اجزاوې پروسس کولی شي او لاهم د تیلو پراخه وارداتو پورې تړلی دی.[788] دا هیوا د په یوه ورځ کې د ترکمنستان، ازبکستان، روسیه، پاکستان او ایران څخه 10,000 ټن د تیلو تولیدات واردوي،[789] چې د افغان ټولو کلنې وارداتو یو پر څلور برخه جوړي، یا شاوخوا 1.5 میلیارد ډالر.[790]

د تیلو د قیمتونو نړیوال کمښت څخه په وچه کې راګیر افغانستان د انرژي قیمتونو او ټرانسپورټیشن لګښتونو لنډمهاله کمیدو ګټه پورته کړه، چې د ځایی تولیدونکو لپاره د خوارو قیمتونو او لګښتونو ټیټولو، د خصوصي مصرف ډېرولو، او کورني تقاضا ډېرولو کې لړه مثبت اغیزه وکړه.[791] په هرصورت، نړیوال بانک خبرداری ورکړ چې تیلو او اولیه موادو قیمتونو کې ګړندی او اوږدمهاله کمښت کولی شي د افغانستان د پام وړ تیلو حوزو کې پانګووني لپاره نوښتونو باندې منفي اغیزه وکړي، چې ځینې دمخه د امنیتي مسلو او د افغانستان بیوروکراتیک مرداب په واسطه اغیزمن شوي.[792]

## د شبرغان برنامې

د نړیوال بانک په وینا، شبرغان د ارزانه طبیعي ګاز تولید شوي بریښنا ظرفیت لري چې د ازبکستان څخه وارد شوي بریښنا سره سیالي کولی شي.[793] USAID د افغانستان سره مرسته کولو لپاره د شبرغان پروژې ملاتړ کوي ترڅو د دوه میکانیزمونو له لارې د بریښنا تولید لپاره کارول کیدونکي ګاز زیرمې وپیژني او اداره کړي: (1) د 90 میلیون ډالرو مستقیم بودیجې شبرغان ګاز پراختیا پروژه (SGDP) د آمو دریا حوزه کې د څاه ګانو بیاجوړولو او کنسټلو لپاره، او د ګاز راټولولو سیستم تمویل او د ګاز پروسس کولو کارځای؛ او (2) د 35 میلیون ډالرو د بودیجې پرته شبرغان ګاز تولید فعالیت (SGGA) د MOMP ظرفیت جوړني او تخنیکي مرستې لپاره.[794]

پدې ربع کې SGGA تر 2016 جولای 31 پورې د USAID اضافي لګښت پرته وغزول شوه. دا شاوخوا 20% بشپړه شوې.[795] د افغان حکومت؛ ملي ګټه پورته کولو، DABS؛ د نړیوال تمویل کارپوریشن (د نړیوال بانک ګروپ یو غړی) او غضنفر بانک ترمینځ د 75 میلیون ډالرو په ارزښت د 50 میګاواټ (MW) ګازي بریښنا کارځای جوړلو لپاره د مئ په 13 یو MOU لاسلیک کړ.[796] USAID وویل ترکش پترولیم کارپوریشن (TPAO)، د SGDP کنسټلو قراردادي د کنسټلو مهالویش سره موافق کوي چې د 2015 سپتمبر په 25 بشپړ شي، وروسته د قرارداد تصریح کولو تر وخت پورې نږدې دوه ځله اخیستو وروسته. په هرصورت، SGGA وویل دا دقیق وه چې TPAO به په دغه نیټه خپل قراردادي مکلفیتونه بشپړ نکړي. TPAO د 2015 دسمبر 31 د بشپړولو نیټې اصلاح شوي کنسټلو مهالویش سپارلی، چې MOMP سمدستي رد کړه.[797]

د کنسټلو دې قراردادي سره ستونزې دوام لري. SGGA د بودیجې پرته ظرفیت جوړولو میکانیزم راپور ورکړی چې د افغانستان پترولیم اداري عمومي رییس لخوا د کنسټلو ساحې څخه یوې لیدنې د TPAO ګړندي عمل او نوري مرستې اړتیا لیدلې.[798] SGGA هم MOMP ته د تصویب لپاره MOMP ته د ټولو فرعي قراردادونو سپارلو لپاره د دې غوښتنې ته د TPAO تکرار لپاره یو لیک استولی. سربیره پردې، په 2015 مئ کې د کنسټلو قرارداد مدیریت ملاتړ پنځه ناستو څخه درې د TPAO ځارنې لپاره وې.[799]

## کرنه

د نړيوال بانک په وينا، کرنه د افغانانو لپاره د دندې او معيشت اصلي سرچينې په حيث خپل شتون ته دوام ورکوي، د GDP شاوخوا 25% لپاره محاسبه کيږي، او د کاري ځواک له 50% ډير يې په دنده ګوماري.[800] USAID راپور ورکړی چې د دې د کرنې سوداګرۍ او سوداګريز فعاليتونه د کرنيز سيکتور ودې، دندو رامينځته کولو، د معيشت پراخولو، او ځآيي اقتصاد لوړولو لپاره کار کوي. علاوه پردې، د دوه تعقيبي پروژو لپاره پلي کول، چې مخکې د متحده ايالاتو د کرنې وزارت حمايت لاندې وې د افغانستان د کرنيزې پراختيا برنامه او د ظرفيت جوړونې او د بدلون مديريت برنامه د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت (MAIL) ظرفيت پياوړي کولو هدف لري.[801]

USAID د کرنيز توليد پراخولو، بازار ته د لاسرسي ډيرولو، او د اپيومو بديل عايد رامينځته کولو لپاره شاوخوا 2.4 ميليارد ډالر مکلف کړي دي.[802] د دې درې مياشتني راپور 127–131 مخونه د USAID بديلې پراختيا برنامو باندې غږيږي. د USAID د کرنې ټولو فعال برنامو ليست په جدول 3.24 کې شتون لري.

## د کرنيز اعتبار پراختيا II

د کرنيز اعتبار پراختيا (ACE II) II پروژه چې پدې ربع کې ورکړل شوې هدف يې د پيلي ACE د تخنيکي مرستې برخې ته دوام ورکول دي چې د شرايطو پراساس د MAIL په مشرۍ د کرنيزې پراختيا فنډ (ADF) اداره کړي. ADF کرنې پورې تړلې اعتبار لاسرسی د کوچنۍ او مينځنۍ اندازې فارمونو او کرنيز سوداګرۍ ته غزوي. ACE II به د نورو مالي مينځګړيو لکه بانکونو، فارمي سټورونو، اجاره ای شرکتونو، او د خواړو پروسس کونکو په هڅولو سره د ADF ملاتړ وکړي – ترڅو د کرنې اړوند مالي چارو ته ورننوځي.[803]

جدول 3.24

**د USAID فعالې کرنيزې برنامې**

| د پروژې سرليک | د پيل نيټه | د پای نيټه | ټوليټال اټکل شوی لګښت (ډالر) | تر 6/30/2015 پورې مجموعي مصرفونه (ډالر) |
|---|---|---|---|---|
| د افغانستان د کرنې پراختيا پروژه II (AAEP-II) | 10/1/2014 | 9/30/2017 | $25,000,000 | $3,257,950 |
| د کرنيز اعتبار پراختيا II (ACE II) | 6/24/2015 | 6/23/2018 | 18,234,849 | 0 |
| د ظرفيت جوړول او د بدلون مديريت برنامه II (CBCMP-II) | 7/10/2014 | 7/9/2017 | 19,999,989 | 5,682,191 |
| په افغانستان کې د کرنيزې پراختيا غزولو ډيجيټلي ادغام (DIAAEA) | 11/30/2014 | 11/29/2015 | 391,000 | 83,531 |
| د لوږې د خطر اعلامولو سيسټم شبکه (FEWSNET) مرحله DIAAEA | 12/29/2011 | 12/28/2016 | 11,340,000 | 2,420,553 |
| د افغانستان د کرنيزو تسهيلاتو ّياوِئ کول (SAAF) | 3/25/2011 | 12/31/2016 | 7,824,209 | 6,354,288 |
| ميندې او د پنځه کلنو کم عمر تغذيه او د ماشوم روغتيا (MUNCH) | 12/16/2014 | 12/31/2016 | 5,000,000 | 5,000,000 |

يادونه: د USAID ځينې ليست شوي برنامې هم د بديلې پراختيا او هم د کرنې پراختيا فنډونه ترلاسه کوي. د بديلې پراختيا برنامو په اړه نورو معلوماتو لپاره د دې راپور جدول 3.16 په مخ 128 کې وګورئ.

سرچينه: USAID، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/12/2015.

## حیاتي خدمات او پراختیا

له 2002 راهیسې متحده ایالاتو په افغانستان کې د برېښنا ډېرولو، د سړکونو او پلونو جوړولو، او روغتیا او تعلیم ته وده ورکولو لپاره د بیارغوني فنډونه چمتو کړي دي. دا برخه د حیاتي خدماتو لکه برېښنا، ټرانسپورټېشن، روغتیا او تعلیم عرضه کولو لپاره د دولت وړتیا ته وده ورکولو په برخه کې د متحده ایالاتو د هڅو کلیدي پرمختګونه په ګوته کوي.

## د برېښنا رسول

د 2015 اپریل په 25 افغانستان، تاجکستان، کرغیزستان او پاکستان د مرکزي آسیا – سهیلي آسیا د برېښنا انتقال او سوداګرۍ پروژه (CASA-1000) نهایي او لاسلیک کړه. افغانستان به په تاجکستان او کرغیزستان کې د MW 300 تولید ظرفیت څخه برېښنا لاسته راوړي، او پاکستان ته د تلونکي برېښنا څخه به د ټرانزیټ فیس اخلي. د جوړولو چارې یې د 2015 سپټمبر کې پیل کیدو ته مهالویش شوي او په 2018 کې به مکمل شي.[804]

افغانستان په نړۍ کې یو له ټیټولو ټیټ برق لرونکې هیواد دی، چې یوازې 25% افغانان د برېښنا سیسټم سره وصل دي شاوخوا هغه نفوس ته ورته چې په ښارونو کې اوسیږي.[805] افغانستان د خپلې ټولې برېښنا شاوخوا 73% واردوي. د نړیوال بانک یوه وروستي راپور په وینا، تمه کیږي په نږدې وختونو کې به د برېښنا واردات لوړ شي، نوموړي راپور دا یادونه هم کړې چې برېښنا ته محدود لاسرسی د خصوصي سیکټور پراختیا په لاره کې د افغانستان یو لوی خنډ دی.[806] افغانستان د خپلو انرژي اړتیاو پوره کولو لپاره سیمه ایزې مرستې ته اړتیا لري.[807]

**په افغانستان کې دخیل د سیمه ایزې انرژۍ نورو نوښتونو کې د ترکمنستان – ازبکستان – تاجکستان – افغانستان – پاکستان د انتقال لینونه شامل دي چې د ترکمنستان څخه پاکستان ته د برېښنا لیږد لپاره دي؛ او د ترکمنستان – افغانستان – پاکستان – هند (TAPI) طبیعي ګاز پایپ لاین، چې به د ترکمنستان څخه نورو هیوادونو ته په هرکال کې تر 33 میلیارد کوبیک میټر طبیعي ګاز ټرانسپورټ کړي.**

سرچینه: ADB، 44463-013: د ترکمنستان – پاکستان – هند طبیعي ګاز پایپ لاین مرحله 3، په 4/8/2015 خپور شوی؛ USAID، د سیګار ارزوني ته ځواب، 4/12/2015.

### د متحده ایالاتو – افغانستان سیمه ایزې انرژۍ ګډ کاري ګروپ

د 2015 مارچ په 23 د بهرنیو چارو وزارت جان کیري د متحده ایالاتو او افغانستان سیمه ایزې انرژۍ ګډ کاري ګروپ رامینځته کول اعلان کړل چې د انرژۍ سیمه بازارونو ته د افغانستان مدغم کولو ملاتړ لپاره سپړونکي لارې لري. د بهرنیو چارو وزارت، USAID، خزانه، او د متحده ایالاتو نورې اداري به پدې هڅه کې ګډون وکړي.[808] پدې ربع کې USAID راپور ورکړی چې د کاري ګروپ رسمي ناستې په لاره اچولو کې هیڅ پرمختګ ندی کړی. د بهرنیو چارو وزارت د وړاندیز شوي کاري ګروپ لپاره د کاري چوکاټ رامینځته کولو کې افغان دولت بوخت کړی، یوه اجنډا، دوه اړخیز منل شوي اختیاري حدود، د ناستې محل، او نیټه، مګر نهایي ترتیبات تراوسه ندي شوي.[809]

### د متحده ایالاتو د برېښنا سیکټور مرسته

له 2002 څخه تر 2014 پورې USAID په دې سیکټور کې د جنراتورونو، فرعي سټیشنو، او انتقال لینونو او تخنیکي مرستې وړاندې کولو لپاره یوازې له 2.7 میلیارد ډالرو ډېر مکلف کړي دي.[810] سربیره پردې، د امریکا دفاع وزارت د قوماندان بیړني غبرګون برنامې له لارې د برېښنا پروژو لپاره شاوخوا 292 میلیون ډالر چمتو کړي او د افغانستان زیربنا فنډ (AIF) له لارې 1.1 میلیارد ډالر، چې په ګډه د امریکا دفاع وزارت او د بهرنیو چارو وزارت لخوا اداره کیږي.[811]

د افغانستان د برېښنا دوه لومړني سیستمونه د شمال ختیځ برېښنا سیسټم (NEPS) او د سهیل ختیځ برېښنا سیسټم (SEPS) دي. USAID په دواړه سیستمونو کې د برېښنا رسووني ډېرولو او وصلولو لپاره درې پروژې لري. (1) د برېښنا انتقال پراخولو او اتصال (PTEC) پروژه د افغانستان طبیعي برېښنا کټو د ظرفیت جوړولو او کندهار سره د نښلونکي انتقال لین جوړولو لپاره، د افغانستان برېښنا شرکت (DABS)، د انرژي زیربنا پانګوونو ټیکاو کولو ته؛ (2) په شبرغان کې د ګازي زیرمو پراختیا او د برېښنا کارځایونو جوړولو ته د خصوصي پانګوونې جذبولو لپاره د شبرغان ګازو پراختیا پروژه (SGDP)؛ او (3) د کندهار هلمند برېښنا پروژه (KHPP)، چې یکې په کجکي بند کې د دریم ټوربین نصبول او کندهار سره د کجکي وصلولو انتقال سیسټم ته وده ورکول شامل دي.[812] د USAID د برېښنا زیربنا فعالې پروژې په جدول 3.25 کې لیست شوي دي.

**NEPS:** د مرکزي آسیا جمهوریتونو څخه برېښنا واردوي او د کابل او د کابل شمال ټولنو ته یې ورکوي.

**SEPS:** د هلمند او کندهار سیمو کې د برېښنا چمتو کولو لپاره خپله ډېره برېښنا د کجکي بند او د کندهار ښار ډیزلي جنراتورونو څخه اخلي.

سرچینه: د امریکا دفاع وزارت، په افغانستان کې د امنیت او ثبات په لور پرمختګ په اړه راپور، 11/2013، مخ 107.

جدول 3.25

**د USAID د بريښنا زيربنا فعالې پروژې**

| د پروژې سرليک | د پيل نېټه | د پای نېټه | ټولټال اټکل شوی لګښت (ډالر) | تر 6/30/2015 پورې مجموعي مصرفونه (ډالر) |
|---|---|---|---|---|
| د کندهار هلمند بريښنا پروژه | 12/9/2010 | 11/30/2015 | $229,222,002 | $226,461,185 |
| د بريښنا د انتقال پراخول او اتصال | 1/1/2013 | 12/31/2018 | 670,000,000 | 36,791,897 |
| د افغانستان زيربنا وجهي صندوق سره مرستي | 3/7/2013 | 3/6/2018 | 105,670,184 | 105,000,000 |
| د کجکي بند واحد 2 | 4/22/2013 | 12/31/2015 | 75,000,000 | 28,198,416 |
| د انرژۍ پراختيا برنامو په اړه د افغانانو د پوهې ډېرولو لپاره د عامه پوهاوي کمپاين | 2/1/2014 | 1/31/2016 | 1,789,224 | 1,069,097 |
| د کټو اختصاصي تبادله | 9/30/2007 | 9/30/2017 | 698,555 | 698,555 |
| د افغان انجينرۍ ملاتړ برنامه | 11/9/2009 | 11/8/2015 | 72,000,000 | 65,101,840 |
| د PEER مرستې | 7/25/2011 | 7/24/2016 | 5,440,647 | 5,440,647 |

يادونه: د شبرغان ګازو توليد فعاليت (SGGA)، د شبرغان ګازو پراختيا پروژه (SGDP)، او د افغانستان ثبات لپاره د کان کيندنې پانګوونې او پراختيا (MIDAS) برنامې، چې د USAID تمويل پايپ لاين راپور کې د بريښنا سيکټور برخه کې کټګورې شوي، د دې راپور مخ 176 کې د استخراجي سيکټور برنامو فرعي برخه کې ليست شوي.

سرچينه: USAID، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/12/2015.

## د کندهار هلمند بريښنا پروژه

KHPP په کندهار او هلمند ولايتونو کې د بريښنا رسولو او ډاډ ډېرولو لپاره دی.[813] د USAID د دې پروژې ټولې برخې تړل شوې، په استثنا د د تخنيکي ملاتړ خدماتو فرعي برخو. بليک او ويچ د کجکي بريښنا بند کې د دريم ټوربين واحد 2 نصبولو سره د اوږدې مودې هايدرو پاور ډېرولو لپاره DABS سره د دې په هڅو کې د مرستې ته د تخنيکي ملاتړ خدماتو لپاره ساتل شوي دي.[814]

پدې ربع کې بليک او ويچ راپور ورکړی چې د DABS د ساختماني چارو مديريت مشاور د GFA مشورتي شرکت اونۍ وار راپورونو ته د بليک او ويچ لاسرسي پای ته رسولی دی. USAID اوسمهال د بياکتنې لپاره راپورونه بليک او ويچ ته وړاندې کړل. علاوه پردې، بليک او ويچ وويل GFA خپل د اونۍ وار راپورونو فارمېټ اصلاح کړی دی، مينځپانګه يې کمه کړې، د ناستې لنډيزونه يې حذف کړي، او د ټوربين د نصب لپاره قراردادي اونۍ وار راپورونه يې پکې ندي شامل کړي. بليک او ويچ وويل چې د دې پروژې مهالويش ساتل نه ترسترګو کيږي، د پرمختګ مرحلې مهالويشونه متناقص دي او خورا وروستي راپور واقعي پرمختګ 24% ښودلی دی.[815]

د ټوربين د نصب بشپړولو نېټه د کجکي شاوخوا کې د طالبانو پروړاندې د افغان ملي دفاع او امنيتي ځواکونو بريدونو له امله د 2016 مئ ته غزول شوې.[816] پدې ربع کې د ترهګرو فعاليتونو هم لاره 611 تړلې هغه سړک چې له سنګين څخه کجکي ته ځي چې د ساختماني موادو د رسولو د ځنډ لامل کيږي او بليک او ويچ وويل د ټوربين د نصبولو ډيزاين د مهالويش هاخوا و.[817] په اضافي ننګونو د توضيحاتو لپاره، د متحده *ايالاتونو کانګرس* ته د سيګار د 2015 اپريل *درې مياشتنۍ راپور* مخونه 176–177 وګورئ.

**د سيګار څانګړې پروژه**

پدې ربع کې سيګار د تره خيل بريښنا کارځای (TPP) په کار اچولو ته د افغان دولت ليوالتيا او وړتيا په اړه او د کارځای حفظ او مراقبت د ټيکاو څخه ډاډ ورکولو کولو لپاره ترسره شوي اقداماتو غوره درک په اړه د پوښتنې لپاره USAID ته ليک واستاو. USAID ځواب ورکړ چې TPP فعاله ده، د انرژۍ د محصول ارقام يې وړاندې کړل، او وې ويل چې نوموړی کارځای د افغانستان د شمالي انرژۍ تثبيت شوې حياتي جز دی. د سيګار تحليلونه روان دي. د نورو معلوماتو لپاره برخه 2، مخ 50 وګورئ.

## د کندهار د برېښنا وصلولو حل

د امریکا دفاع وزارت د 2011 مالي کال راهیسې د کندهار نښلولو حل له لارې په کندهار ښار کې د جنراترونو چالان ساتلو ته د ډیزل سونګ توکو لپاره 140 میلیون ډالر مصرف کړي دي پداسي حال کې چې په کجکي بند کې د ټوربین نصبولو کار روان دی. DABS جنراتورونه کنټرولوي، مګر د امریکا دفاع وزارت د سونګ توکو سبسایډي (20 میلیون ډالر په مالي کال 2014 کې مختص شو) د غزولو لید پرته په 2015 سپتمبر کې پای ته رسولو مهالویش لري.[818] په تیره ربع کې، USAID وویل د امریکا دفاع وزارت سبسایډي پای ته رسیدو وروسته د د سونګ توکو تادیاتو لپاره DABS د نرخونو لوړول په پام کې لري، او د کندهار والي او ټولنې ته یې تیر کال وویل مګر د دوی په قانع کولو کې د مشکل سره مخ دی.[819]

## د برېښنا انتقال پراخولو او اتصال برنامه

د متحده ایالاتو تمویل شوې PTEC برنامه د برېښنا تولید، انتقال او توزیع سیستمونو پیاوړي کولو او پراخولو لپاره ډیزاین شوې وه، په شمول د SEPS سره د NEPS وصلولو لپاره د کابل او کندهار ترمینځ د لینونو د انتقال تمویل.[820] د PTEC د سوداګري کولو او ظرفیت جوړوني اجزاو هدف د عوایدو ډیرول دي پداسي حال کې چې تخنیکي او سوداګریز زیانونه کم کړي.[821] د NEPS-SEPS نښلونکي لومړی برخه، د ارغندي او غزني ترمینځ د انتقال لین او فرعي سټیشنونو ساختماني کار پیل شوی دی. تر دې نیټې پورې د نومړي هڅې لپاره د DABS/MOF له لارې PTEC قراردادیانو ته 38 میلیون ډالر مصرف کړي دي.[822]

د دوهمې برخې په ملاتړ غزني څخه کندهار ته، د AIF څخه USAID ته 179.5 میلیون ډالر انتقال شوي وروسته له هغې چې د امریکا دفاع وزارت په دهلا بند کې ساختماني چارې فسخ کړې.[823] اضافي 300 میلیون ډالر د آسیا پراختیایی بانک لخوا اداره کیدونکي د افغانستان زیربنا وجهي صندوق (AITF) څخه بیرته مکلف شوي و او PTEC ته بیرته ستانه کړل شو ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې د دې برخې ساختماني چارې لومړیتوب دی. دا پیسې د انتقال لین او پنځه فرعي سټیشنو د دې برخې جوړولو ته د پروپوزل دوه غوښتنو لپاره DABS ته د مستقیم مرستې ګومارنې په حیث کارول کیږي. د فرعي سټیشنونو لپاره داوطلبی د جولای پای کې مهالویش شوي، د انتقال لینونو لپاره د اګست پای کې؛ تمه کیږي ګومارنه یې راتلونکې ربع کې ترسره شي.[824] یو پایله ای PTEC قرارداد باید وروسته د افغانستان د تدارکاتو ملي کمیسون (NPC) لخوا تصویب شي، کوم چې د دولت ټول د مستقیم بودیجې قراردادونه تصویبوي. USAID وړاندوینه کوي د NPC پروسه به د برنامې د ځنډیدو پایله ولري.[825]

**د تدارکاتو ملي کمیسون د 2015 فبروري په 20 د ولسمشری فرمان شمیره 60 له مخې رامینځته شو، چې د تدارکاتو څانګړي کمیسون ځای ناستی شو، چې له لارې به یې د مستقیم بودیجې ټول مخکیني قراردادونه د افغان دولت لخوا تصویب کیدل.**

سرچینه: GIROA، د ولسمشری فرمان لمبر 60، د تدارکاتو قانون خینی مادو د تعدیل لپاره د افغانستان اسلامي جمهوریت ولسمشر لخوا قانون امر، 2/10/2015.

تر هغې چې د NEPS-SEPS انتقال لين بشپړ شي، د کندهار بريښنا توليد ظرفيت او تقاضا ترمينځ د تشې ډکولو لپاره PTEC يوه معکوس بولي تمويلي چيرې چې به د بريښنا خپلواک توليدونکي د سولري بريښنا کارځای څخه د DABS ته د بريښنا جوړولو او پلورلو لپاره سيالي وکړي. تمه کيږي چې دا کارځای د 2016 نيمای څخه تر اخرو پورې په کار پيل وکړي، او ممکن د 10 MW بريښنا د توليد ظرفيت ولري؛ د 2015 جولای نيتي توجيهي راپور کي تمه کيده وړاندوينه تصفيه شي.[826] USAID د ليواله شرکتونو او د 20 کالو پانګووني لپاره اړين بريښنا في واحد قيمت په اړه د جولای په 9 د معلوماتو لپاره يوه غوښتنه خپره کړه.[827]

## د امريکا دفاع وزارت د زيربنا فنډ برنامې

پدې ربع کې د امريکا دفاع وزارت د FY 2011–FY 2014 AIF پيسو (د FY 2015 AIF هيڅ فنډونه غوښتل شوي يا مختص شوي نه و) په کارولو سره د خپلې برخې NEPS او SEPS بشپړولو ته د انرژۍ سيکتور ډيرې پروژو پلې کولو ته دوام ورکړ، لکه څنګه چې په جدول 3.26 کې ښودل شوې دي.[828] د انرژۍ او اوبو وزارت او DABS به د دغه پروژو ساتلو مسؤل وي، په شمول د O&M لګښتونو کله چې بشپړې شي او دولت ته وسپارل شي. د امريکا دفاع وزارت کانګرس خبر کړی چې د پيرودونکو پراخه اساس څخه ډير شوي عوايد او د عايد راټولولو پرمخ تللي وړتياوې به د DABS سره مرسته وکړي چې د AIF زيربنا اوږدمهاله ساتنه وکړي.[829] په هرصورت، سيګا د DABS د ظرفيت په اړه پوښتني راولاړې کړي او ويلي دي چې افغانستان د O&M لپاره تادياتو ته لازمي سرچيني نلري.[830] نړيوال بانک وويل د DABS تخنيکي او سوداګريز زيانونه د پام وړ دي.[831]


د سيګار تفتيش

د سيګار يو روان تفتيش په 2011 مالي کال کې د افغانستان زيربنا فنډ پروژو بشپړيدو کې د بهرنيو چارو وزارت پرمختګ، په نورو زيربنا لومړيتوبونو او د ترهګری سره مبارزې اهدافو باندې اغيزې او د ثبات ننګونو باندې تمرکز کوي.


## ټرانسپورټيشن

د افغانستان د ټرانسپورټيشن زيربنا نه شتون داخلي سوداګرې، بهرنی سوداګرې او د اقتصادي ودې مخه نيسي. نړيوال بانک وويل د ټرانسپورټيشن سيکتور جوړول د ملي اقتصاد پراختيا لپاره حتمي دي.[832] د افغانستان د ټرانسپورټيشن زيربنا تشې د خدماتو او کرنيز سيکتور چې دامهال د GDP مخکښ برخه اخيستونکی دی، ته خنډ ګرځي.[833] دا د کانونو صنعت هم پرشا تمبوي، چې راتلونکي عوايدو باندې افغان دولت او نړيوال ډونران د نړيوالې مرستې کميدو تشې ډکولو لپاره تکيه کوي.[834] پدی ربع کې، متحده ايالاتو د سړکونو جوړولو، کارولو او حفظ او مراقبت برخو کې د عامه کارونو وزارت د ظرفيت رامينځته کولو لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکړ.[835]

## ملکي هوايي چلند

پدې ربع کې د سيګار يوه خپور شوي تفتيش موندلي چې له 2002 راهيسې متحده ايالاتو اساسا د امريکا دفاع وزارت او د فدرال هوايی چلند اداری (FAA) د افغانستان سره د دغه هيواد ملکي هوايی چلند سيستم بياجولو لپاره چې سقوط ته نږدې و، مرسته کې شاوخوا 562 ميليون ډالر مصرف کړي دي. متحده ايالاتو پلان درلود د هوای چلند مديريت مسؤليتونه د 2014 پای کې بيرته افغان دولت ته انتقال

جدول 3.26

**د 2015 جون تر 11 پورې د افغانستان زيربنا فنډ د برېښنا پروژې** (ميليونونه ډالر)

| د AIF مالي کال | د AIF پروژه | شرح | د کانګرسي خبرتيا مقدار (ډالر) | مکلف شوي (ډالر) | مصرف شوي (ډالر) | وضعيت |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 2011 مالي کال | د کندهار د برېښنا نېلولو حل | په کندهار کې د جنراتورونو ډيزلو چمتو کول | $40.5 | $39.1 | $39.1 | مکمل |
| | SEPS – د کجکي بند – لښکرګاه | د انتقال لينونو نصب او د برېښنا فرعي سټېشنونو جوړول | 130.0 | 100.3 | 51.8 | پای ته رسيدلی، مئ 2014 |
| | د SEPS – NEPS نښلونکی، له ارغندي څخه غزني ته | د انتقال لين او فرعي سټېشن رسول، نصب، ازمول او ترتيب کول | 101.0 | 56.7 | 10.3 | USAID ته انتقال شوی؛ قرارداد لاسليک شوی |
| | NEPS – ارغندي څخه ګرديز ته مرحله I | د انتقال لينونو نصب او د برېښنا فرعي سټېشنونو جوړول | 93.7 | 51.9 | 11.8 | د ډيزاين په حال کې |
| 2012 مالي کال | د کندهار برېښنا نېلولو حل | په کندهار کې د جنراتورونو ډيزلو چمتو کول | 67.0 | 64.7 | 64.7 | مکمل |
| | SEPS – له کندهار ښار څخه دراني جنکشن پورې مرحله 2 | د انتقال لينونو نصب يا ترميم؛ د فرعي سټېشنونو ترميم يا جوړول | 40.0 | 29.6 | 4.3 | ډيزاين/تحرک/کنستل |
| | NEPS – له ارغندي څخه غزني ګرديز ته مرحله 2 | د انتقال لينونو نصب او د برېښنا فرعي سټېشنونو جوړول | 77.5 | 71.0 | 21.5 | د ډيزاين په حال کې |
| | NEPS – له چاريکار څخه پنجشير ته مرحله 1 | د انتقال لينونو نصب او د برېښنا فرعي سټېشنونو جوړول | 42.5 | 38.9 | 8.7 | د ډيزاين په حال کې |
| 2013 مالي کال | د کندهار د برېښنا نېلولو حل | په کندهار کې د جنراتورونو ډيزلو چمتو کول | 37.0 | 34.0 | 33.9 | مکمل |
| | NEPS – چاريکار څخه پنجشير ته مرحله 2 | د انتقال لينونو نصب او د برېښنا فرعي سټېشنونو جوړول | 33.0 | 25.3 | 8.1 | د ډيزاين په حال کې |
| | د SEPS تکميل – مرحله 1 | په هلمند ولايت کې د فرعي سټېشنونو جوړول او د انتقال لينونو ترميم | 75.0 | 70.6 | 23.4 | ډيزاين/تحرک/کنستل |
| | د SEPS – NEPS نښلونکی، غزني څخه کندهار ته | د انتقال لينونو او د ستنو (ټاورونو) ډيزاين او نصب؛ د فرعي سټېشنونو جوړول. د NEPS-SEPS نښلونکي نهايی مرحله. | 179.5 | 330.0 | 0.0 | USAID ته انتقال شوي؛ د انتقال لين داوطلبی په 6/21/2015 ترلاسه شوي |
| 2014 مالي کال | د کندهار د برېښنا نېلولو حل | په کندهار کې د جنراتورونو ډيزلو چمتو کول | 20.0 | 5.4 | 2.4 | د پرمختګ په حال کې |
| | د SEPS تکميل – مرحله 2 | په هلمند او کندهار ولايتونو کې د انتقال لينونو او فرعي سټېشنونو ترميم او جوړول | 49.0 | 0.0 | 0.0 | USAID ته انتقالول |
| | NEPS – ګرديز څخه خوست ته | د انتقال او توزيع لينونو ډيزاين او نصب؛ د فرعي سټېشنونو جوړول. د NEPS سره د امريکا دفاع وزارت نهايی مرسته. | 130.0 | 130.0 | 0.3 | د ګومارنې دمخه |

يادونه: د AIF ټولې پروژې به د افغانستان د انرژۍ او اوبو وزارت، او د افغانستان د برېښنا شرکت (DABS)، د افغانستان ملي ګټو لخوا ساتل کيږي. د کانګرسي خبرتيا مقدارونه د امريکا دفاع وزارت لخوا چمتو شوي. مکلفيتونه او مصرفونه تر 5/31/2015 پورې دي. نور ټول معلومات تر 6/11/2015 پورې دي.

سرچينه: د امريکا دفاع وزارت، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/14/2015؛ USAID، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/21/2015.

کړي، مګر پرځای يې تر 2015 سپتمبر پورې د امريکا دفاع وزارت اداره کيدونکی د 29.5 ميليون ډالرو لنډمهاله قرارداد وروسته له هغې تمويل کړ چې پوهه شو انتقال امکان نه درلود.[836] د نورو معلوماتو لپاره، برخه 2 مخونه 23–24 وګورئ.[837]

## سړکونه

متحده ایالاتو په مجموعي ډول د سړکونو جوړولو او O&M لپاره شاوخوا 2.1 میلیارد ډالر چمتو کړي او د اضافي O&M لپاره به د 2014 نومبر او 2016 نومبر ترمينځ تر 5 میلیون ډالرو پورې مصرف کړي.[838] سره لدې نړیوال بانک ویلي چې د افغان سړکونو 85% خراب وضعیت کې دي او ډیری برخه یې د موټر وسایطو لخوا نشي کارول کیدی.[839] د USAID په وینا، افغانستان د خپلو سړکونو او لویو لارو ساتلو لپاره کافي تمویل او تخنیکي ظرفیت نلري. اټکل کیږي چې افغانستان په کال کې 17 میلیون ډالر د O&M لپاره مصرفوي، چې په کال کې د ورآندوینه شوي 100 میلیون ډالرو تشه رامینځته کوي.[840] د USAID د سړک جوړولو او O&M فعاله برنامې په جدول 3.27 کې لیست شوي دي.

### د سیګار تفتیش

پدې ربع کې د سیګار یو اعلان شوی تفتیش به د سړکونو ساتلو او د سړک روان حفظ و مراقبت ترسره کولو لپاره د افغان دولت وړتیا پیاوړې کولو لپاره د متحده ایالاتو د هڅو بیاکتنه وکړي. د نورو معلوماتو لپاره برخه 2، مخونه 27–28 وګورئ.

جدول 3.27

**د USAID د سړک جوړولو او حفظ او مراقبت فعاله برنامې**

| د پروژې سرلیک | د پیل نیټه | د پای نیټه | ټولټال اټکل شوی لګښت (ډالر) | تر 6/30/2015 پورې مجموعي مصرفونه (ډالر) |
|---|---|---|---|---|
| د عامه کارونو وزارت سره تخنیکي مرسته | 8/3/2014 | 8/2/2017 | $21,366,222 | $4,586,459 |
| له ګردیز څخه خوست ته سړک، مرحله IV | 6/26/2014 | 12/31/2015 | 32,960,265 | 20,726,885 |
| د سالنګ تونل ساتنه (حفظ او مراقبت) | 4/1/2013 | 3/30/2016 | 3,533,350 | 1,697,401 |
| د انجینری، کیفیت ډاډ او لوژستیک ملاتړ (EQUALS) | 4/18/2011 | 4/17/2016 | 126,307,645 | 105,664,217 |
| د USAID د روغتیا او تعلیم تسهیلاتو د ساختماني چارو برنامې لپاره ملاتړ | 1/19/2008 | 7/31/2015 | 57,160,749 | 57,160,749 |
| د سړک عاجل O&M | 4/29/2015 | 7/30/2015 | 252,667 | 0 |
| د سړک عاجل O&M - ختیځ | 5/27/2015 | 6/21/2015 | 130,681 | 21,090 |
| د سړک عاجل O&M - ختیځ | 11/1/2014 | 10/31/2015 | 27,120 | 27,037 |
| د سړک عاجل O&M - ختیځ | 11/5/2014 | 11/4/2015 | 22,016 | 22,016 |

سرچینه: USAID، د سیګار د معلوماتو غوښتنو ته ځوابونه، 6/25/2015 او 7/12/2015.

## د سړک سیکتور د پایښت پروژه

د USAID د سړک سیکتور د پایښت پروژه (RSSP) د عامه کارونو وزارت سره مرسته کوي چې د افغانستان 26,100 میل سړک لارو زیربنا غوره تمویل او ساتنې لپاره خپل ظرفیت پیاوړی کړي.[841] دا څلور اصلي فعالیتونه لري:[842]

- **فعالیت 1:** عاجل O&M (نومبر 2014 – نومبر 2016)؛ د 12 میاشتو په اوږدو کې 5 میلیون ډالر مقرر شوي؛ له نومبر 2014 څخه تر جولای 2015 پورې 422,702 ډالر مکلف شوي او 70,143 ډالر مصرف شوي دي.
- **فعالیت 2:** د عامه کارونو وزارت سره تخنیکي مرسته (مرحله I، اګست 2014 – اګست 2017)؛ د سړک د اداري او فنډ رامینځته کول؛ د مرحله I لپآره اټکل شوی 21.4 میلیون ډالر مصرف: د 2015 جون تر 30 پورې 8.8 میلیون ډالر مکلف او 4.6 میلیون ډالر مصرف شوي دي. په مرحله I کې رامینځته شوي افغان اداري به د 14 میلیون ډالرو مرحله II (ودانۍ، تجهیزات، روزنه) پیل کیدو دمخه د پارلمان تصویب ته اړتیا ولري.
- **فعالیت 3:** د عامه کارونو وزارت لپاره روزنه او د ظرفیت جوړول (د اټکل له مخې په مارچ 2016 کې پیل)؛ اټکل شوی لګښت 30 میلیون ډالر؛ 0 ډالر مصرف شوي. د مشورو

دمخه مرحله. د کار بيان د اړتياو ارزونې پراساس رامينځته شوی. د فعاليت 2، مرحله I لپاره د پارلمان تصويب ته اړتيا ده مخکې لدې چې فعاليت 3 پيل شي.

- **فعاليت 4:** د سړک O&M لپاره د انتقال نوښتونو فنډ (د اټکل له مخې په مارچ 2016 کې پيل)؛ اټکل شوی لګښت 33 ميليون ډالر؛ 0 ډالر مصرف شوي. د USAID تمويل به د AITF د O&M نوښت کړکۍ له لارې مستقيم بوديجې ته لاړشي.



**د ګرديز خوست** د سړک جوړول روان دي.
(د USAID عکس)

## د ګرديز خوست سړک بيارغونې مرحله IV

د 233 ميليون ډالرو د څلور مرحلو 63 ميل پخې لوی لارې پروژه خوست او پکتيا ولايتونو لپاره د پاکستان او کابل لوی سوداګريز لارو ته لاسرسی برابروي او حلقوي سړک ته چې کابل، کندهار او هرات سره نښلوي.[843] پدې کې پلونه، لارې، د ډرينيج (اوبو ايستلو) جوړښتونه، کنسټل، "د سيند روزنې" جوړښتونه د جريان او رسوب کنټرولولو لپاره او پخې لارې شاملې دي.[844]

د 33 ميليون ډالرو په ارزښت مرحله IV د USAID تمويل شوي د سړک جوړولو بوازينی روانه پروژه ده. تيرې درې مرحلې د 55 ميل سړک لارو سره بشپړې شوې دي. د پاتې سړک او پلونو جوړول د 2015 دسمبر پورې مکمل کيدو ته مهالويش شوي. د 2015 جون پورې، 21 ميليون ډالر مصرف شوي دي.[845]

## اقتصادي وده

د 2015 جون تر 30 پورې USAID په افغانستان کې د اقتصاد ودې برنامو لپاره په مجموعي ډول شاوخوا 1 ميليارد ډالر مصرف کړي دي.[846]

پدې ربع کې USAID د 13.3 ميليون ډالرو په ارزښت د څلور کالو لپاره د افغانستان د پانګوونې فضا د اصلاح کولو برنامه اعلان کړه. هدف يې په هيواد کې د نوي او موجود سوداګريو چلولو لپاره د مقرراتو ساده کولو او د اجابت لګښتونو کمولو له لارې په ملي او ولايتي کچه د سوداګرۍ ودې هڅول دي.[847] نړيوال بانک د داخلي شرکتونو لپاره خپلې د سوداګرۍ مقرراتو 189 ملتونو د *سوداګرۍ کولو 2015* بياکتنه کې افغانستان ته 183مه درجه ورکړې.[848]

## د افغانستان د کارې ځواک پراختيا برنامه

د USAID د څلور کالو د 62.6 ميليون ډالرو په ارزښت د افغانستان د کارې ځواک پراختيا برنامې (AWDP) هدف حرفه ای زده کړې او روزنې، د سوداګرۍ پراختيا ملاتړ، د سوداګرۍ مديريت روزنې برنامو، مالي کريډيټ، او د دندو موندلو خدماتو ته د 25,000 افغانانو (د هدف تناسب: 75% نارينه، 25% ښځينه) لپاره د لاسرسي وړانديز کول دي. AWDP پدې لټه کې هم دی چې لوړه بيکاري کمه کړي او د تخنيکي پلوه مهارت لرونکي افغان کارګرانو او روزل شوي افغان سوداګريز مديرانو کميابي په ګوته کړي. د برنامې هدف په افغانستان کې د دندو رامينځته کولو اسانول، د مهارت لرونکي او نيمه مهارت لرونکي کارې ځواک رامينځته کول، د ځان په دنده ګومارنې ډيرول، او د اقتصاد سيرلو هڅول دي.[849]

AWDP د تخنيکي/حرفه ای ښوونکو او روزنکو ظرفيت جوړولو لپاره هڅو ملاتړ هم کوي. AWDP د عامه – خصوصي ملګرتياو له لارې د دغه روزنيز برنامو د کيفيت ښه کولو په لټه کې دی او دا نور د لاسرسي وړ کوي. د 2015 جون تر 30 پورې راپور ورکړ چې له 17,968 څخه ډير افغانان روزل شوي او له 8,348 څخه ډير افغانان يا خو په دندو ګومارل شوي او يا هم د نيم کيرير/

نيمه مسلکي دندو ته لوړ کړل شوي. د برنامې هدف تر د 2015 اپريل 4 پورې د 20,825 روزل او د 17,500 په دندو ګومارل يا لوړول و. USAID وويل په اقتصادي فعاليت کې د افغانستان سستي او د معارف وزارت (MOE) مستقيم بوديجي برخي پيل کې ځنډ له امله دغه اهداف ترلاسه نه شول. په هرصورت، تردې دمه برنامې په (36%) روزل شوي او (32%) ګومارل شوي او لوړ شويو کې د 25% ميرمنو درلودو هدف بشپړ کړی دی. AWDP د 2015 جون تر 30 پورې شاوخوا 20.5 ميليون ډالر مصرف کړي دي.[850]

## تعليم

متحده ايالات غواړي د ظرفيت جوړونې هڅولو؛ د زده کړې موادو او د ښوونکي پرمختيا لپاره مرستې چمتو کولو؛ په لرې پرتو سيمو کې د ټولنې ميشته ټولګيو رامينځته کولو؛ او د لوړو زده کړو سيسټمونو ډيروولو او پياوړي کولو سره کيفيت لرونکي تعليم ته د افغانانو لاسرسی ډيروي ترڅو د دندو لپاره افغانان ښه چمتو کړي.[851] د 2015 جون تر 30 پورې USAID په افغانستان کې د تعليم برنامو لپاره له 776 ميليون ډالرو څخه ډير مصرف کړي دي.[852]

### د معارف وزارت د معلوماتو او سيکتور پراختيا پلان

د 2015 مئ په 27 ولسي جرګې د معارف وزير اسدالله حنيف بلخي "په ښوونځيو کې د تعليم ټيټ کيفيت" په اړه پوښتنو لپاره احضار کړ. وزير بلخي ځواب ورکړ چې د ټولو ښوونکو له نيمايي ډير يې لازمي مهارتونه نلري، د تعليم عمومي نصاب بشپړ ندی، زده کونکي په وخت سره درسي کتابونو ته لاسرسی نلري، او تعليمي خدمات موازنه نلري. د خبري راپورونو په ځواب کې چې په ځينې سيمو کې ښوونځي تش په نامه دي، خو تمويل لاسته راوړي، د پارلمان غړو هم د زده کونکو، ښوونکو، او فعال ښوونځيو د شمير په اړه پوښتنې راپورته کړې. وزير بلخي تاييد کړه چې ځينې تش په نامه ښوونځي شتون لري چې په نا امن سيمو کې تمويل لاسته راوړي او دا چې د تعليم د مديريت معلوماتو سيسټم (EMIS) معلومات د فعال ښوونځيو شمير په اړه غير دقيق دي. په هرصورت، MOE د معلوماتو کيفيت پرمختللي کولو باندې کار کوي. ولايتي ټيمونه د لانور معتبر ارقامو راټولولو لپاره ګومارل شوي و. هغه وويل پرمختګ به يې وخت ونيسي.[853]

په 2015 مئ کې خپور شوی د MOE د 100 ورځو پلان په ګړندي اصلاحاتو او د خدمت پرمختللي عرضه باندې تمرکز کوي. هدف يې کيفيت لرونکي تعليم، عمومي او اسلامي، د ښوونځي هر عمر زده کونکو لپاره د زده کړې معيارونو راپورته کولو، د نصاب لوړولو (په شمول د کيفيت لرونکي درسي کتابونو او د ښوونکي لارښوونو)، د ارزونې توکو رامينځته کولو، او د زده کونکو نوم ليکنې ډيرولو او د ښوونکو کيفيت لوړولو سره مساوي لاسرسی چمتو کول دي. MOE دا هيله هم لري چې د 15 کلنو او ډير عمر لرونکي افغانانو لپاره د ليک لوست کچې لوړې کړې، اړوند تخنيکي او حرفه ای تعليم وړاندې کړي چې د افغان کار بازار اړتياوې پوره کړي، او په مؤثره، کافي، او روڼ ډول ټولو دغه خدمتونو چمتو کولو لپاره وزارت کار وکړي.[854]

# د تعلیم ارقام

د خبري راپورونو وروسته چې د وزارت پخواني چارواکو باندې تور پورې کاوه چې د دولت او ډونر ډیر تمویل ترلاسه کولو لپاره یې معلومات تحریف کړي، سیګار د USAID څخه د هغه معلوماتو د معتبریت په اړه غوښتنه وکړه چې په افغانستان کې د خپلو تعلیمي برنامو د څار، تمویل او سنجولو لپاره کاروي. سیګار د USAID څخه د دغه تورونو بازرسی لپاره کړنو په اړه پوښتنه وکړه؛ اټکلونه چې د متحده ایالاتو څومره تمویل به د تش په نامه ښوونځیو، ښوونکو، او اداره کونکو باندې مصرف شوی وي؛ د تعلیمي مصارفو د معلومات معتبریت؛ او د مستقیم بودیجي تمویل چمتو کولو په اړه د هرډول تنظیماتو لپاره د دې اداري طریقه.[855] پدې برخه کې د سیګار کار د رسنیو د پام وړ لیوالتیا راپورته کړه، او د متحده ایالاتو یوه خبري نهاد بزفید لخوا د اوږد بازرسی برنامه کې هم د تعلیم درست معلومات وښودل شو.[856]

USAID ځواب ورکړ چې د وزیر بلخي د ویناو خبري برخي د پارلماني اوریدا ټرانسکریپټ په پرتله درستي نه وی. USAID وویل هیڅ کوم خانګړي شواهدو شتون نه درلود چې وښیي د متحده ایالاتو فندونه په تش په نامه ښوونځیو، ښوونکو یا اداره کونکو مصرف شوي وي یا غلط مختص شوي وي. د دغو د برنامو لپاره د نظارت کولو او تعقیب کولو سیستمونه شتون لري، په بیله بیا د نړیوال بانک له لارې د تمویل مصرف کولو لپاره. سربیره پردې، د USAID مستقیم بودیجي تمویل جلا، غیر کمینګل، د پروژې ځانګړي بانکي حساب ته اړتیا لري، چې ورته آنلاین لاسرسی ولري او USAID یې له مالي پلوه تفتیش وکړی شي.[857]

USAID وویل د نوم لیکنې او حاضرۍ معتبر معلوماتو لاسته راوړل په هر د پرمختیا په حال کې هیواد کې ننګونکي دي، مګر د دې اداري تمویل او برنامې د EMIS تولید شوي تراکم شمیرو پورې تړلي ندي. په هرصورت، USAID مخکې سیګار ته راپور ورکړی چې " EMIS د تعلیم ارقامو د تعقیب لپاره یوازینی ډیټابیس دی،" لکه د زده کونکو نوم لیکنه، او دا چې USAID د EMIS هغه معلوماتو باندې تکیه کوي چې د MOE ویب پاڼه کې خپرول کیږي.[858]

پداسي حال کې چې USAID ممکن د زده کونکو د نوم لیکنې کچې او د EMIS نور معلومات د ځانګړي مالي پریکړو کولو کې ونه کاروي، USAID متراکم نوم لیکنه په نوموړې سیکتور کې د پرمختګ کلیدي، د سنجش وړ شاخص په ګوته کوي.[859] USAID نوم لیکنه په افغانستان کې د تعلیمي برنامو لپاره خپل د فعالیت مدیریت پلان کې د مرستي کچې درې شاخصونو څخه یو په حیث شاملوي.[860]



**په ننګرهار ولایت** کې په یوه ښوونځي **کې چوکۍ جوړې شوې** مګر هیڅکله ندي کارول شوي او د اور لرګو ته اړول شوي (د متحده ایالاتو د هوای ځواک عکس)

پخپل ځواب کې USAID اضافه کړي چې د زده کونکو د نوم لیکنې شمیرو او د معارف مخکیني وزیر اعلان شوي شمیرو ترمینځ د ښوونځي د رسمي نوم لیکنې شمیرو پروړاندې ځانګړې توپیرونه د غیرحاضر زده کونکو له امله و چې لاهم داخل یا ثبت شویو په توګه شمیرل کیږي.[861] د ثبت زده کونکو شمیره د حاضر او غیر حاضر زده کونکو مجموعه ده.[862] د معارف وزارت تر درې کلونو غیرحاضرۍ پورې زده کونکي د ثبت شویو په توګه ملاحظه کوي څکه چې شاید دوی بیرته ښوونځي ته راستانه شي. USAID او نورو ډونرانو د معارف وزارت ته وړاندیز کړی چې خپل مقررات اصلاح کړي او د یوه کال په موده کې غیر حاضر زده کونکي د حاضریو څخه وباسي.[863]

د EMIS په وینا، افغانستان په 1393 (2014) کې 15,619 د زده کړې عمومي ښوونځي (دولتي) درلودل، چې پکې 8.6 میلیون زده کوونکي ثبت و.[864] د حاضرۍ معلومات (د مثال په توګه د حاضر او غیرحاضر زده کوونکو شمیر) نور عام شتون نلري.

EMIS په ټاکل شوي وخت کې هیڅ خلاص یا تړلي ښوونځي، یا ښوونکي او زده کوونکي نه تعقیبوي. اوسمهال ارقام په خپلواک ډول نه تاییدیږي؛[865] په هرصورت، د معارف وزارت خپل د معلوماتو د کیفیت ارزول پیل کړي دي او د EMIS د بیلګې تایید کولو لپاره دریم نظارتي شرکت ګومارلی دی. د 2015 جولای په پای کې د یوه راپور وړاندوینه شوې ده.[866]

## د USAID برنامې

د USAID د تعلیم لومړیتوب برنامې د کیفیت لرونکي تعلیم پرمختللي کولو، د کاري ځواک پراختیا، او د لوړو زده کړو کیفیت ډیرولو لپاره د افغانستان د اهدافو سره په لیکه کې دي. برنامې په لاندې ډول دي:[867]

- **لومړنی تعلیم، زده کړه او روزنه (BELT):** یوه د لومړني تعلیم برنامه چې د تعلیم لاسرسي او کیفیت ښه کولو لپاره ده. BELT د یوشمیر فعالیتونو درلودونکې ده، په شمول د نوي ملي درجې د لوست برنامه. د 2ام او 4ام ټولګي زده کونکو د لوست ملي ارزونې لپاره پروپوزلو لپاره د غوښتنې ارزونې تکمیل او د بیاکتنې او نهایي کولو لپاره د USAID د اکتساب او مرستې دفتر ته سپارل شوي. تمه کیږي ګومارنه په راتلونکي یوه میاشت کې ترسره شي.
  - **د ټولنې میشته تعلیم:** په 10 ولایاتو کې لومړني تعلیم ته لاسرسی چمتو کوي. د 2015 مئ پورې، د ټولنې میشته تعلیم 712 ټولګي رامینځته شوي و چې له 37,000 څخه ډیرو هلکانو او انجونو لپاره یې تعلیم ته لاسرسی چمتو کاو.
  - **د تعلیم د کیفیت ښه کولو پروژه (EQUIP) II:** USAID د نړیوال بانک لخوا اداره کیدونکې برنامې EQUIP II له لارې د ښوونکو روزنه تمویلوي. له 84,000 څخه ډیر زده کونکي د متحده ایالاتو دولت مرستې سره روزل شوي دي. د ښوونکو روزنې لپاره ټول فنډونه کارول شوي نو پدې ربع کې هیڅ ښوونکي ونه روزل شول.
- **د افغانستان امریکایی پوهنتون (AUAF):** په AUAF او د مرکزي آسیا امریکایی پوهنتون کې د USAID د 20 افغان میرمنو د ملاتړ روان تمویل. په AUAF کې د اته محصلینو بستونو څخه پنځه د پسرلي 2015 سمستر لپاره ډک شوي ول؛ درې نور د انګلسي ژبې اړتیاو شرایطو پاس کولو لپاره د غوښتونکو وړتیا نه درلودو له امله تش دي، مګر د AUAF شته زده کونکو لخوا ډکیدی شي ځوک چې یې وړتیا ولري. د سوداګرۍ اداري د ماسټري ټول پنځه بستونه پدې ربع کې ډک شوي، او د مرکزي آسیا امریکایی پوهنتون کې اوه زده کونکي په کرغیزستان کې خپل د چمتووالي نیولو کار بشپړوي.
- **د افغانستان د پوهنتون ملاتړ او د کاري ځواک پراختیا برنامه (USWDP):** د لوړو زده کړو وزارت (MOHE) او 11 دولتي پوهنتونونو وړتیا پیاوړې کوي ترڅو بازار پورې اړوند د تعلیم خدمات وړاندې کړي. USWDP د MOHE او د افغانستان دولتي پوهنتونونو لپاره د کیفیت ډاډ توضیحي عمل پلان رامینځته کړی، مګر د وزارت منل او پلي کول یې په پیلي ډول ننګونکي دي. پلي کولو کې ورروسته له هغې پرمختګ وشو کله چې د 2015 جولای کې په MOHE کې د کیفیت ډاډ لپاره نوی رییس وګومارل شو. USWDP نوي د بازار اړوند

### د سیګار تفتیش

د سیګار یو روان تفتیش د افغانستان لومړني او منځني تعلیم سیټمونو کیفیت او دې ته د لاسرسي ښه کولو لپاره د متحده ایالاتو هڅو باندې تمرکز کوي.

جدول 3.28

**د USAID د تعليم فعالې برنامې**

| د پروژې سرليک | د پيل نيټه | د پای نيټه | ټولټال اټکل شوی لګښت (ډالر) | تر 6/30/2015 پورې مجموعي مصرفونه (ډالر) |
|---|---|---|---|---|
| د تعليم لپاره نړيواله ملګرتيا | 10/11/2012 | 3/31/2016 | $3,108,580 | $1,191,999 |
| د سردار کابلي ليسې لپاره د اور (زره) ضد دروازې | 3/2/2015 | 6/30/2015 | 341,097 | 37,842 |
| د افغانستان د امريکايي پوهنتون ملاتړ | 8/1/2013 | 7/31/2018 | 40,000,000 | 14,514,050 |
| د افغانستان تخنيکي حرفه ای انستيټيوټ | 6/15/2013 | 6/14/2015 | 1,000,000 | 900,000 |
| په افغانستان کې د تعليم پياوړي کول | 5/19/2014 | 5/18/2019 | 29,835,920 | 3,321,118 |
| د بورسونو هڅول | 3/4/2015 | 3/3/2020 | 1,247,522 | 0 |
| د ټولني ميشته تعليم د زده کړې پايلو او ټولنيزو اغيزو ارزول | 1/1/2014 | 12/31/2017 | 7,262,016 | 952,864 |
| د افغانستان د پوهنتون ملاتړ او د کاري ځواک پراختيا برنامه | 1/1/2014 | 12/31/2018 | 91,927,769 | 14,281,959 |
| لومړني تعليم ته د لاسرسي ډيرول او د جنډر تساوي | 9/17/2014 | 12/31/2019 | 54,027,000 | 54,027,000 |

سرچينه: USAID، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/12/2015.

پوهنتونونو درجې (ډيپلومونه) توليدوي يا وده ورته ورکوي او وزارت او د پوهنتون چارواکو ته د ظرفيت جوړوني روزنه چمتو کوي.

د USAID د تعليم ټولو فعال برنامو بشپړ ليست په جدول 3.28 کې شتون لري.

**د راپورونو له مخې په کابل کې د USAID د سپانسر شوي کنفرانس کې د جون په 10 نيټه برخه اخيستونکي طبي او د روغتيا متخصصينو وويل چې په مرسته شوي طبي تجهيزاتو کې د ميليونونو ډالرو سربيره د مسلکي پرسونل کمښت له امله له نيمايي ډير يې نا کارول کيږي.**

سرچينه: طلوع نيوز، "متخصصين وايي په افغانستان کې د ټولو طبي تجهيزاتو له نيمايي ډير يې نه کارول کيږي،" 6/10/2015.

## روغتيا

د نړيوال بانک په وينا، افغانستان له 2002 راهيسې د روغتيا شاخصونو کې پرمختګونه تجربه کړي دي، ولې بياهم د ټيټ عايد لرونکي هيوادونو لپاره ټاکل شوي اوسط څخه لاندې پاتې دی او د نړۍ په کچه د ماشومانو د سؤ تغذيه يو له ترټولو زيات شمير درلودونکی هيواد دی.[868] د عامې روغتيا وزارت (MOPH) سره د متحده ايالاتو مرسته کې په مرکزي او سيمه ايز کچو په ځانګړي توګه ولاياتو کې سهيل او ختيځ ته چيرې چې خدمات په لويه کچه شتون نلري، د ظرفيت جوړول، روزنه، او د کيفيت د ډاډ فعاليتونه شامل دي.[869]

د 2015 مئ په 27 افغان دولت د ملګرو ملتونو ادارو، د مدني ټولني سازمانونو او ډونرانو په همغږۍ سره د ميندو او ماشوم روغتيا لپاره د کابل اعلاميه لاسليک کړه ترڅو ارزانه، د لوړې اغيزې مداخلتونه پلي کړي يوځای د دري مياشتني فعاليت بياکتنو سره ترڅو په راتلونکي پنځه کلونو کې له 35,000 څخه د ډيرو ماشومانو ژوند ژغورلو کې مرسته وشي.[870] د جون په 8 هم د عامې روغتيا وزير فيروزالدين د هيواد په اوږدو کې د روغتيا خدماتو پرمختللي او معياري کولو لپاره خيل د 100 ورځو پلان اعلان کړ، او په وزارت کې د فساد سره د مبارزې ژمنه وکړه.[871] په اپريل کې وزير فيروز په روغتيا سيکتور کې د فساد په نښه کولو لپاره ليکلی بيان خپور کړ او د خطر ارزولو، فساد سره مبارزې او کاري پلان په لاره اچولو ژمنه يې پکې کړې وه.[872]

### د سيګار تفتيش

د سيګار يو روان تفتيش د افغانستان روغتيا پاملرنې خدماتو ملاتړ او پرمختګ لپاره د USAID هڅو باندې تمرکز کوي او پدې تمرکز کوي چې ترکومه حد پورې USAID د خپلو هڅو بشپړه اغيزه ارزولې او ترکومه حد پورې USAID د روغتيا پاملرنې معلومات راټولوي، تاييدوي او ګوري يې ترڅو يې درستي مشخص کړي.

## د افغانستان ديموګرافيک او د روغتيا سروې

پدې ربع کې د افغانستان ديموګرافيک او د روغتيا سروې پيل شوه، په ملي کچه يوه نماينده سروې چې د عصري روغتيايي او ټولنيزو برنامو رامينځته کولو لپاره افغان دولت سره مرستې ته د روغتيا او ديموګرافيک معلوماتو چمتو کولو لپاره ډيزاين شوې. دا به د سروې معياري توکو او ميتودونو په کارولو سره ټولو 34 ولايتونو کې د واده کچو، بارورۍ چو او غوره توبونو، د کورنۍ پلان کولو، د مور او ماشوم تغذيه، مړينه، او روغتيا او همچنان ټولنيزو شاخصونو په څير مسلو په اړه سروې وکړي. پايلې به يې د نړيوالو معيارونو مطابق راټولې او په نورو هيوادونو کې راټول شوي پايلو سره به د پرتله کولو وړ وي. USAID وويل چې پوښتنليکونه او جزوې په ساحه کې ازمول شوي او پښتو او درې ته ژباړل شوي دي. د معلوماتو درې زره راټولونکي د احصاييې مرکزي دفتر او د MOPH لخوا روزل شوي دي.[873] USAID دې هڅه کې د 5.45 ميليون ډالرو مرسته کوي.[874]

## د USAID تمويل

د USAID د مستقيم بوديجي او د بوديجې پرته مرستې تر 2015 جون 30 پورې د افغانستان روغتيا سيکتور کې ټولټال له 920 ميليون ډالرو ډير مصرف کړي.[875] MOPH ته د مستقيم بوديجې مرسته د لومړني روغتيا پاملرنې او روغتون لازمي خدمات چمتو کوي. د بوديجې پرته مرسته کې د روغتيا سيستمونو پياوړي کولو، د خصوصي سيکتور بوختولو، د ماشوم او د مور مړينې کمولو، د ماشوم سؤ تغذيه کمولو، د کورنۍ عصري پلان کولو ميتودونو کارولو ته وده ورکولو، او د پوليو له مينځه وړو فعاليتونه شامل دي.[876] لکه څنګه چې جدول 3.29 کې ښودل شوي د USAID تمويل په 13 ولايتونو کې د روغتيا 659 تسهيلاتو ملاتړ کوي.

## د USAID د روغتيا برنامې

د USAID د روغتيا فعالي برنامې ټولټال 728.7 ميليون ډالرو اټکل شوی لګښت لري، او په جدول 3.30 کې ليست شوي.

### د ميندو او ماشومانو وده کولو مرسته

د 2015 جون په 9 د ميندو او ماشوم روغتيا لپاره د کابل اعلاميې جوړيدو پرمهال USAID خپله د ميندو او ماشومانو وده کولو مرستې پروژه اعلان کړه، په افغانستان کې د 21 هيوادونو په اوږدو کې د ميندو، ماشومانو او نوي زيږيدلي ماشومانو د مړينې لوړې کچې کمولو ته ډالي شوې د پنځه کالو د 60 ميليون ډالرو هڅه. دا به د MOPH د روغتيا خدماتو لومړنۍ کڅوړې په بيله بيا د خصوصي سيکتور خدماتو له لارې د کورنۍ پلان کولو، ميندو، نوي ماشومانو او د ماشومانو روغتيا خدماتو باندې تمرکز وکړي.[877]

### د روغتيا پاليسۍ پروژه

د 29.7 ميليون ډالرو په ارزښت د روغتيا پاليسۍ پروژه چې د روغتيا سيکتور تنظيم کولو، د دولتي – خصوصي ملګرتيا اداره کولو، د روغتيا سرچينو مالي مديريت پياوړي کولو او د خصوصي سيکتور روغتيا خدماتو او توليداتو لپاره د MOPH ظرفيت جوړوي، د دې د مهال شوي نيټې 30 جون څخه د 2015 اګست 31 پورې غزول شوې وه ترڅو د افغان ټولنيز بازار موندنې نهاد عملياتي، اداري او نهادي سيستمونو پياوړي کولو باندې يو څه تمرکز وکړي نو دغه اداره به په مؤثر او خپلواک ډول پرمخ لاړه شي. USAID په 2010 کې د افغان ټولنيز بازار موندنې نهاد رامينځته کړ ترڅو د ټولنيز بازار موندنې له لارې د ځلند صحي بدلون او د روغتيا پاملرنې توليدات (لکه د ريهايډرشن مالګې، د اوبو تصفيه کول او کانډم يا پوکانه) وهڅوي. د دې دوه مياشتو غزوونې ټولټال اټکل شوی لګښت 67,800 ډالر دی.[878]

جدول 3.29

**د 2015 جون 25 پورې د USAID تمويل شوې د روغتيا تسهيلات**

| د روغتيا تسهيلاتو ډول | د روغتيا فعال تسهيلاتو شميره |
|---|---|
| ولايتي روغتون | 5 |
| د ولسوالي روغتون | 27 |
| د روغتيا هرارخيز مرکز | 173 |
| د روغتيا لومړنی مرکز | 277 |
| د روغتيا فرعي مرکز | 167 |
| د زندان د روغتيا مرکز | 10 |

يادونه: د روغتيا هرارخيز مرکز: د روغتيا لومړني مرکز څخه ډير خدمات لري او ډير کارمندان يې ګومارلي وي. د روغتيا لومړنی مرکز: د بيروني يا بستر پرته ناروغ لومړنۍ پاملرنه. د روغتيا فرعي مرکز: د کوچني، لرې پروت، کليوال نفوس لپاره د روغتيا مرکز.

سرچينه: USAID، د سيګار د معلوماتو غوښتنو ته ځوابونه، 4/11/2013 او 6/25/2015.

### د سيګار څانګړې پروژه

سيګار د روغتيا لپاره د ملګرتيا قراردادونو (PCH) په اړه د معلوماتو غوښتلو لپاره USAID ته ليک واستاو، MOPH ته د مستقيم بوديجې مرستې برنامه چې د افغانستان په اوږدو کې د روغتيا خدماتو د عرضه کولو ملاتړ کوي. سيګار د USAID معلومات او جيوسپاسيل عکسونه تحليل کړل چې پوښتنې يې راولاړې کړې ايا USAID د نږدې 80% د PCH روغتيا پاملرنې تسهيلاتو لپاره د موقعيت دقيق معلومات درلودل. USAID په ځواب کې د ډيری تسهيلاتو لپاره نور جيوسپاسيل کوردينات وړاندې کړل چې سيګار يې تحليل کوي او په خپلواکه توګه د تاييدولو په لټه کې يې دی. د نورو معلوماتو لپاره برخه 2، مخونه 50–51 وګورئ.

جدول 3.30

**د USAID د روغتیا فعالي برنامې**

| د پروژې سرلیک | د پیل نیټه | د پای نیټه | ټولټال اټکل شوی لګښت (ډالر) | تر 6/30/2015 پورې مجموعي مصرفونه (ډالر) |
|---|---|---|---|---|
| د فارمیسي سیستم پیاوړي کول | 8/28/2011 | 8/27/2015 | $24,499,936 | $21,056,374 |
| د پولیو (ګوزن) له منځه وړوفعالیتونه | 9/30/1996 | 9/30/2022 | 12,600,000 | 9,265,102 |
| د توبرکلوز پاملرنه | 9/29/2010 | 9/28/2015 | 5,600,000 | 5,600,000 |
| د توبرکلوز ننګول | 1/1/2015 | 12/31/2020 | 15,000,000 | N/A |
| د روغتیا د پالیسی پروژه (HPP) | 9/25/2011 | 6/30/2015 | 29,732,652 | 29,716,938 |
| د رسولو لړی د مدیریت لپاره ملګرتیا | 6/1/2009 | 9/26/2015 | 1,515,058 | 1,515,058 |
| د روغتیا لپاره د ملګرتیا قراردادونه (PCH) | 7/20/2008 | 12/31/2015 | 259,663,247 | 220,355,890 |
| د اونی وار وسپنې فولیک اسید متممات | 11/7/2014 | 12/31/2017 | 5,610,012 | 5,408,826 |
| د ناروغیو سمدستي خبرتیا سیستم | 9/1/2008 | 6/30/2017 | 8,500,000 | 8,500,000 |
| د کورنی پلان کول، د میندو، نوي ماشومانو، او د ماشومانو د روغتیا پروژه | 1/7/2015 | 1/6/2020 | 60,000,000 | 975,893 |
| ډلیور (DELIVER) | 9/30/2010 | 9/29/2015 | 13,535,571 | 11,720,015 |
| د دیموګرافیک (ټولنپېژندنې) او د روغتیا سروی ګانې | 9/9/2013 | 9/8/2018 | 5,453,731 | 1,000,000 |
| د رهبریت مدیریت او د حکومتولی (LMG) د ساحې ملاتړ | 9/25/2012 | 6/30/2015 | 38,341,106 | 33,901,491 |
| د مرکزي آسیا جمهوریتونو او افغانستان کې سیمه ایز تیکاو | 9/29/2014 | 9/29/2016 | 3,750,000 | 3,750,000 |
| مرکزي کانتراسپټیو (د حمل ضد) تدارکات (CCP) | 3/11/2014 | 12/31/2020 | 11,035,571 | نه تطبیقیږي |
| منظم مصؤنیتونه | 9/1/2013 | 8/31/2015 | 1,200,000 | نه تطبیقیږي |
| په انتقال کې د روغتیا عمل لپاره د سیستم لوړول (SEHAT) | 4/27/2013 | 9/30/2019 | 227,662,335 | نه تطبیقیږي |
| په تغذیه لیږل شوې مرسته | 12/19/2014 | 12/19/2016 | 5,000,000 | نه تطبیقیږي |

یادونه: په انتقال کې د روغتیا عمل لپاره د سیستم لوړول (SEHAT) د نړیوال بانک د افغانستان بیارغوني وجهي صندوق له لارې اداره کیږي. DELIVER د CCP له لارې غوښتل شوي توکو او د USAID تمویل شوي 13 ولایاتو کې د BPHS/EPHS تسهیلاتو کې کارول کیدونکي لازمي درملو لپاره د تدارکاتو میکانیزم په توګه کار کوي.

سرچینه: USAID، د سیګار د معلوماتو غوښتنو ته ځوابونه، 6/25/2015 او 7/12/2015.

## رهبریت، مدیریت او حکومتولي

د رهبریت، مدیریت او حکومتولی (LMG) پروژه د مهالویش شوي نیټي 30 جون څخه د 2015 تر دسمبر پورې غزول شوې. MOPH او MOE ته تخنیکي مرسته به تر د سپتمبر 30 پورې دوام ولري ترڅو د خدمت عرضه کولو سیستمونو پیاوړي کولو کې مرسته وشي. د LMG غزول یو له ډېرې اجازو څخه و چې د ظرفیت جوړوني عملیاتو دوام لپاره و. په هرصورت، پلي کونکي ملګري ووېل ي د لنډي مودې تیر غزولو د کارمندانو ننګووني رامینځته کړې، په ستراتیژیک ډول د پلان کولو لپاره یې د دوی وړتیا د پام وړ راټیټه کړه، او د برنامې تمرکز یې د لاسته راوړنو ساتلو او محدود مداخلتونو ته واړاو.[879]

# 4
# د نورو ادارو
# څارنه



# د نورو ادارو څارنه محتويات


**د څارنې بشپړ شوي فعاليتونه** 196

**د څارنې روان فعاليتونه** 200


**عکس په تېر مخ کې**

د متحده ایالاتو د اردو پاراشوټیستان او د هوایي ځواک پرسونل د افغان ملي اردو په یوه مرکز کې د ناټو د روزنې/ مشورې/مرستې په یوه ماموریت کې له برخې اخیستنې څخه وروسته الوتکې ته ختېږي. (د متحده ایالاتو د هوایي ځواک عکس، عکس ډلګۍ مشر جوزف سوافورډ اخیستی دی)

# د نورو ادارو څارنه

د سیگار رامنځته کوونکی قانون له سیگار څخه غوښتنه کوي چې د بیارغونې په پروگرامونو کې د اداري اړوندو ستونزو په هکله د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو او د دفاع وزیران په پوره توگه خبر کړي، او د هرې مالي ربعې له پای ته رسېدلو څخه وروسته په 30 ورځو کې دننه د سیگار د څارنې د کار او د متحده ایالاتو د بیارغونې د هڅو د وضعیت په هکله کانگرس ته راپور تسلیم کړي. په هره ربعه کې، سیگار د څارنې د بشپړو شویو او روانو فعالیتونو په هکله له نورو ادارو څخه تازه معلومات غواړي. دا برخه دغه تازه معلومات سره یوځای کوي. د بشپړو شویو راپورونو په عامه توگه موجودې کاپي د ادارو په اړوندو وېب سایټونو کې موجودې دي.

شرحې هغسې ښکاري لکه څنگه چې تسلیم شوې دي، البته کوچنې تغیرات په کې د دې له پاره راغلي دي چې د دې راپور له نورو برخو سره ورته والی وساتي، لکه د پوره نومونو پرځای مخففات؛ د غتو تورو معیاري استعمال، د ژبې اصول، او غوره هجاوې یا د لیکلو حروف کارول؛ او د لومړي شخص د ترکیب پرځای د درېیم شخص د ترکیب کارول.

دغه اداري په افغانستان کې د څارنې فعالیتونه ترسره کوي او نتایج یې سیگار ته ورکوي:

- د متحده ایالاتو د دفاع د وزارت د عمومي مفتش دفتر (DOD IG)
- د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو د وزارت د څانگړي عمومي مفتش دفتر
- د حکومت د حساب ورکووني دفتر (GAO)
- د متحده ایالاتو د اردو د تفتیش اداره (USAAA)
- د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې د عمومي مفتش دفتر (USAID OIG)

## د څارنې بشپړ شوې فعالیتونه

4.1 جدول د څارنې د هغو څلورو پروژو لست وړاندې کوي چې په بیارغونې پورې اړه لري او برخه والو ادارو یې په دې ربعه کې د بشپړتیا راپور ورکړی دی.

4.1 جدول

**د 2015 د جون له 30 مې راهیسې د متحده ایالاتو د نورو ادارو د څارنې تازه بشپړشوې فعالیتونه**

| اداره | د راپور نمبر | د صدور نېټه | د پروژې نوم |
|---|---|---|---|
| DOD IG | DODIG-2015-108 | 4/30/2015 | د III صنف (تېلو) او V صنف (مهماتو) د مدیرت او حساب ورکوونې له پاره د افغان ملي امنیتي ځواکونو د پالیسیو، مراحلو، او کړنلارو د کفایت د انکشاف له پاره د متحده ایالاتو او ائتلاف د هڅو ارزونه |
| DOD IG | DODIG-2015-107 | 4/17/2015 | په افغان ملي امنیتي ځواکونو کې د شتمنیو د حساب ورکوونې او مراقبت او همدارنګه د موټرو د ساتنې له پاره ننګونې وجود لري. |
| د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو د وزارت د عمومي مفتش اداره | AUD-CG-15-33 | 6/30/2015 | د بهرنیو چارو د وزارت له خوا د څارنې د مسؤلیتونو، او د قراردادونو د افسرانو د استازو د انتخاب او روزنې تفتیش |
| د متحده ایالاتو د حکومت د حساب ورکوونې اداره | GAO-15-569R | 6/22/2015 | د سمندري ځواکونو او د اردو د بیا تیارولو یا چمتو کولو د مسؤلیت اټکلونه |
| د متحده ایالاتو د حکومت د حساب ورکوونې اداره | GAO-15-410 | 5/19/2015 | افغانستان: د سفارت د جوړونې قیمت اومهالوېش پراخ شوی، او د نورو اسانتیاوو پلان جوړونې ته اړتیا ده |

سرچینه: د متحده ایالاتو د فاع وزارت عمومي مفتش، د سیګار له خوا د ارقامو د غوښتنې ځواب، 6/23/2015؛ د بهرنیو چارو د وزارت د عمومي مفتش اداره، د سیګار له خوا د ارقامو د غوښتنې ځواب، 6/26/2015؛ د حکومت د حساب ورکوونې اداره، د سیګار له خوا د ارقامو د غوښتنې ځواب، 6/17/2015؛ د متحده ایالاتو د اردو د تفتیش اداره، د سیګار له خوا د ارقامو د غوښتنې ځواب 6/17/2015؛ د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې د عمومي مفتش اداره، د سیګار له خوا د ارقامو د غوښتنې ځواب، 6/1/2015

## د متحده ایالاتو د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر

د دې ربعې په جریان کې، د متحده ایالاتو د دفاع وزارت عمومي مفتش د افغانستان د بیارغونې په هکله دوه راپورونه خپاره کړل.

### د III صنف (تېلو) او V صنف (مهماتو) د مدیرت او ځواب وینې له پاره د افغان ملي امنیتي ځواکونو د پالیسیو، مراحلو، او کړنلارو د کفایت د انکشاف له پاره د متحده ایالاتو او ائتلاف د هڅو ارزونه

**(د راپورنمبر DODIG-2015-108، چې د 2015 د اپریل په 30مه خپور شوی دی)**

د متحد ایالاتو د دفاع وزارت عمومي مفتش (DOD IG) ومونډل چې د ائتلافي ځواکونو او افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو مشران په دې پوهېدلي دي چې د تېلو (III صنف) او مروجو پوځي مهماتو او چاودونکیو موادو (V صنف) د مدیریت او مسؤلیت منني یا حساب ورکوونې له پاره د پالیسیو او کړنلارو جوړول د افغان ملي امنیتي ځواکونو د اوږدمهالي عملیاتي بریالیتوب له پاره مهم دي. د ائتلافي ځواک مشرانو او مشاورینو او د افغان ملي امنیتي ځواکونو مشرانو او د تأمیناتو جیګپوړو منتظمینو د پالیسی، کړنلارو، او د مدیریت د کنټرولونو د تازه کولو؛ د پالیسی د پراخ تنفیذ/تطبیق؛ او د قرارداد د پراخې څارنې له پاره اړتیا په ګوته کړې ده.

د متحده ایالاتو د دفاع وزارت عمومي مفتش (DOD IG) په لاندې څلورو برخو کې د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو له خوا د تېلو او مهماتو د مدیریت او حساب ورکوونې یا ځواب وینې په هکله مهم مسایل په ګوته کړل:

- د استعمال په هکله راپور ورکول: د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو واحدونو د عملیاتي اړتیاوو پر ځای د واحدونو په اساس د تېلو او مهماتو غوښتنو وکړه او ترلاسه یې کړل، او د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو د لوجیستیکي تأمیناتو مسؤلینو د غوښتنې داسې تاریخچه جوړه نه کړه چې په متوقع بودجه کې د راتلونکیوصحیح عملیاتي ضرورتونو په هکله معلومات وړاندې کړي.

- د مدیریت کنټرولونه: د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو وزارتونو او واحدونو د تېلو او مهماتو د مدیریت او په وړاندې یې د ځواب ویني له پاره کافي او پرمختللي کنټرولوونکي ګامونه نه ول اخیستي، چې دا د داسي خالیګاوو او کمزورتیاوو سبب شوه چې د تېلو او مهماتو د غلا احتمال زیات کړي.
- روزنه: د افغان ملي اردو او افغان ملي پولیسو مشرانو د افغان ملي اردو د جګړه ییزو خدمتونو په حمایوي ښوونځي کې له روزنیزو فرصتونو څخه پوره ګټه نه اخیسته. هغوی د تېلو او مهماتو د مدیریت رسمي روزنې ته د اړتیا په هکله معلومات او پوهه نه لرل.
- د قرارداد څارنه: د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو وزارتونه د ډېرو تېلو د قرارداد د مؤثرې څارنې له پاره چمتو نه ول څو یقیني کړي چې له متحده ایالاتو څخه راتلونکي مستقیمه مالي مرسته د قانوني فعالیتونو او عملیاتو په حمایه کې د تېلو د پېرودنې له پاره کارول کیږي.

## په افغان ملي امنیتي ځواکونو کې د شتمنیو د ځواب ویني او مراقبت او همدارنګه د موټرو د ساتنې له پاره ننګوني وجود لري

**(د راپور نمبر DODIG-2015-107، چې د 2015 د اپریل په 17 مه خپور شوی دی)**

د متحده ایالاتو د دفاع وزارت عمومي مفتش (DOD IG) وموندل چې د افغانستان د امنیت د انتقال ګډې قوماندانۍ (CSTC-A)، د افغانستان د دفاع وزارت، او د کورنیو چارو وزارت داسې کنټرولونه نه ول لګولي چې د هغو په اساس له 2005 کال راهیسې د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو له پاره د متحده ایالاتو د دفاع وزارت له خوا د تقریبا 95,000 عرادو د پېرودنې ځواب وینه یا مسؤلیت مننه په مؤثره توګه اداره کړي. سربېره پر دې، د افغانستان د دفاع وزارت او د کورنیو چارو وزارت مشاورین په دې مطمئن نه ول چې افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونه کولی شي چې د متحده ایالاتو د دفاع وزارت او د ائتلافي ځواکونو له خوا د ورکول شویو عرادو مراقبت او ساتنه په مؤثره توګه وکړي.

د افغانستان د امنیت د انتقال ګډې قوماندانۍ (CSTC-A) داسې یو مؤثر سیستم تطبیق نه کړی چې د هغو عرادو صحیح پل پسې واخلي چې افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو ته ورکول کیږي؛ د افغانستان د امنیت د انتقال ګډې قوماندانۍ داسې کړنلارې نافذې نه کړې چې د هغو په اساس د افغانستان د دفاع وزارت او د کورنیو چارو وزارت د په لاس ورکول شویو عرادو په وړاندې مسؤل ونیسي؛ او د افغانستان د دفاع وزارت او د کورنیو چارو وزارت په هغو عرادو باندې چې هغوی د متحده ایالاتو د دفاع وزارت او ائتلافي ځواکونو څخه ترلاسه کړې وې د ځواب ویني له پاره کافي اندازه کنټرولونه ونه لګول. سربېره پر دې، د افغانستان د دفاع وزارت او د کورنیو چارو وزارت د ځواب ویني کړنلارې هغسې چې مناسبې وې تعقیب نه کړې. د افغانستان د دفاع وزارت او د کورنیو چارو وزارت همدارنګه داسې روزل شوي پرسونل نه لرل چې د تأميناتو د زنځیر مدیریت ترسره کړي. سربېره پر دې، د عرادو په نه مراقبت کې د افغان ملي اردو عام چلند د دې مخه نیسي چې هغوی دې په بریالی توګه د خپلو عرادو مراقبت او ساتنه وکړي.

په نتیجه کې، په دې برخه کې اطمینان کم وو چې ټولې هغه عرادې چې د افغانستان د دفاع وزارت او د کورنیو چارو وزارت ته ور انتقالیږي د هغوی د متوقع هدف له پاره کارول کیږي. سربېره پر دې، که پرېښودل شي چې افغان ملي پولیس او افغان ملي اردو د قراردادي له مرستې څخه پرته د موټرو مراقبت وکړي، د هغوی عرادې به په چټکۍ سره خرابې شي، او په دې توګه به له خپل وطن څخه د دفاع په برخه کې د افغان ځواکونو وړتیا کمه شي. سربېره پر دې، د متحده ایالاتو د دفاع وزارت لږ تر لږه 21 میلیونه ډالر په دې لګولي چې د لوړ تحرک د ګڼ هدفه ویل لرونکیو (High Mobility Multi-Purpose Wheeled) عرادو انجونه او ټرانسمیشنونه بدل کړي چې کېدای شوای د دې کار مخه ونیول شي.

## د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت د عمومي مفتش دفتر– د منځني ختیځ سیمه ییز عملیات

د دې ربعې پرمهال، د بهرنیو چارو د وزارت د عمومي مفتش دفتر د افغانستان د بیارغونې په هکله یو راپور خپور کړ.

### د بهرنیو چارو د وزارت له خوا د څارنې د مسؤلیتونو، او د قراردادونو د افسرانو د استازو د انتخاب او روزنې تفتیش

**(AUD-CG-15-33 نمبر راپور، چې د 2015 د جون په 30 مه خپور شوی دی)**

د متحده ایالاتود بهرنیو چارو د وزارت د عمومي مفتش ادارې دا تفتیش د دې له پاره ترسره کړ څو هغه حد معلوم کړي چې په هغه کې د دغه وزارت د قراردادونو د افسرانو استازي د دې له پاره انتخاب شوي او روزل شوي ول څو د قراردادونو د مدیریت او څارنې په برخه کې خپل ټاکلي مسؤلیتونه په بریالیتوب سره ترسره کړي. د 2013 مالي کال په جریان کې، د بهرنیو چارو وزارت هغو نړیوالو پروګرامونو ته چې ولسواکي، بشري حقونه، او کارګران حمایه کوي؛ وسلې له منځه وړي او کموي (ماین پاکي)؛ د ښوونیزې تبادلې پروګرامونه؛ او د عامه ډیپلوماسۍ پروګرامونه حمایه کوي، تقریبا 1.2 میلیارده ډالر د قراردادونو او د همکارۍ د تړونونو له لارې ورکړل. له فدرالي مرستو سره د دغې مهمې ژمنتیا له امله، د قراردادي د اجرأتو څارنه د دې له پاره مهمه ده څو یقیني شي چې د مالیه ورکوونکیو پیسې په پام سره او د هغو د متوقع هدفونو له پاره کارول کیږي. د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو د وزارت پالیسۍ غوښتنه کوي چې هغه افراد چې هغوی به د قراردادونو د افسرانو د استازو په توګه ټاکل کیږي د وزارت د تدارکاتو د مسؤل له خوا په بریالۍ توګه د روزنې له بشپړونې څخه وروسته تایید کیږي، او دا چې د قراردادونو د افسرانو د استازو ټاکنه به هغو افرادو پورې منحصره وي چې د بهرنیو چارو په وزارت کې د درېیم لوري د قراردادیانو څخه پرته په بل موقف باندې کار کوي.

د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو د وزارت عمومي مفتش وموندل چې د قراردادونو د افسرانو استازو تل د څارنې اړتیاوړ پلانونه نه ول جوړ کړي، د اجرأتو د هغو راپورونو لازمي بیاکتنې چې د قراردادیانو له خوا سپارل کېدلې یې نه وې مستندې کړې، یا دا چې د هرو قراردادونو له پاره یې د راپور ورکول شویو اجرأتو د تایید له پاره اضافي اسناد غوښتي یا ترلاسه کړي نه ول. همدارنګه، د قراردادونو د افسرانو استازو د هغو لازمي مالي راپورونو په هکله چې د هرو قراردادونو له پاره د قراردادیانو له خوا سپارل شوي ول خپلې بیاکتنې نه وې مستندې کړې. سربېره پر دې، د هر نمونوي قرارداد له پاره په مالي راپورونو کې، د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو د وزارت عمومي مفتش د راپور ورکولو داسې تېروتنې وموندلې چې د قراردادونو د افسرانو استازو هغه نه وې په ګوته کړې. د تفتیش په جریان کې، د بهرنیو چارو د وزارت عمومي مفتش د قراردادي د مالي معلوماتو یوه مفصله بیاکتنه ترسره کړه او د دوه قراردادونو د اسنادو په هکله یې د اندېښنې ساحې وموندلې. په مشخص ډول، د بهرنیو چارو د وزارت عمومي مفتش داسې د پوښتنې وړ قیمتونه وموندل چې په مجموعي توګه تر7,128,858[1] ډالرو پورې رسېدل. دا چې دغې مسئلې د مدیریت چټکې پاملرنې ته اړتیا لرله، له دې امله د 2014 په سپتمبر کې د بهرنیو چارو د وزارت عمومي مفتش د مدیریت د مرستې *راپور – د اومران د شتمنۍ ګروپ ته د ساختماني قراردادونو فسخه کول* (AUD-CG-14-37) صادرکړ.

1 هغه 7,128,858 ډالر چې دلته یاد شوي دي په هغو 7,048,467 ډالرو مشتمل دي چې دوه قراردادونو پورې اړه لري، چې د هغه غلطۍ په پیل کې په AUD-CG-14-37 راپور کې په ګوته شوې وې. هغه عددونه چې د مدیریت په هغه مرستندوی راپورکې یې یادونه شوې وه مجموعه یې یو نسبتا کوچنی عدد وو، خو قراردادي د هغه راپور له خپرېدلو څخه وروسته له SCA څخه د دوه قراردادونو په برخه کې د فسخې د یوه یادښت په ترلاسه کولو سره اضافي پیسې بېرته ور وګرځولې. د بهرنیو چارو د وزارت عمومي مفتش په AUD-CG-15-33 راپور کې نوی عدد ذکر کړ.

## د حکومت د حساب ورکوونې ادارې

د دې ربعې په جریان کې، د حکومت د حساب ورکوونې ادارې د افغانستان د بیارغونې په هکله دوه راپورونه خپاره کړل.

### د سمندري ځواکونو او د اردو د بیا تیارولو د مسؤلیتونو اټکلونه

**(GAO-15-569R نمبر راپور، چې د 2015 د جون په 22مه خپور شوی دی)**

سمندري ځواکونو او اردو دواړو د بیا تیارولو د مسؤلیتونو د اټکلونو د برابرولو له پاره خپلې پروسې جوړې کړې دي، چې دا د هغو تمویلاتو اندازې دي چې ښایي د هغو وسایلو چې له عملیاتو څخه بېرته راستنېږي د بیا تیارولو– لکه، ترمیم، نورو پیسو برابرولو، او عوض کولو– له پاره ورته اړتیا وي، او په دې توګه وسایل بېرته داسې حالت ته ورګرځوي چې بیا د جګړې له پاره چمتو کړای شي. د وزارت د چارواکو په وینا، د بیا تیارولو د مسؤلیتونو د اټکلونو د چمتو کولو په برخه کې د خدمتونو د کاروني له پاره د متحده ایالاتو د دفاع د وزارت لیکلی لارښود نشته. سره له دې چې د بیا تیارولو د مسؤلیتونو د اندازو د اټکلولو له پاره د خدمتونو په پروسو کې مشابهتونه موجود دي، خو ډېرتوپیرونه هم په کې شته.

په مشخص ډول، د عسکري خدمتونو واحدونه د خپلو اټکلونو په چمتو کولو کې د بیا تیارولوعین تعریف، چې د 2007 د جنوری په یادښت کې تعریف شوی دی چې د متحده ایالاتو د دفاع د وزارت د 2007 په یادښت کې تعریف شوی دی، کاروي، او په یوه برخه کې، داسې چې هغه ګامونه چې د دې له پاره اخیستل کیږي چې واحدونه د جګړې د ورتیا یوې په زړه پورې سطحې ته داسې چې د واحدونو له راتلونکې ماموریت سره متناسب وي بیا ترتیب کړای شي. البته، خدمتونه هغه تعریف د تجهیزاتو د بېلابېلو کټګوریو له پاره تطبیقوي او د بیا تیارولومسؤلیت د وختونو په بېلابېلو دورو کې محاسبه کوي. د مثال په توګه، د سمندري ځواکونو د بیا تیارولو د مسؤلیت په اټکل کې ځمکني تجهیزات شامل دي، په داسې حال کې چې د اردو په اټکل کې هم ځمکني او هم هوایي تجهیزات دواړه شامل دي. همدارنګه، د سمندري ځواکونو د بیا تیارولو مسؤلیت د بیا تیارولو تر بشپړتیا پورې ټول مالي کالونه پوښي، په داسې حال کې چې د اردو اټکل یوه دوه کلنه دوره (موجود مالي کال او راتلونکې مالي کال) پوښي که څه هم چې ښایي بیا تیارول په هغو دوه مالي کالونو کې بشپړ نشي.

### افغانستان: د سفارت د تعمیر قیمت لوړ او مهالوېش اوږد شوی دی، او د نورو اسانتیاوو پلانولو ته اړتیا ده

**(GAO-15-410 نمبر راپور، چې د 2015 د مې په 19مه خپور شوی دی)**

په کابل کې د سفارت د جوړونې د پروژې قیمت ډېر او مهالوېش اوږد شوی دی، په یو حساب له دې امله، چې د قیمت او خطر بشپړه ارزونه نه وه شوې. د 2009 او 2010 د قراردادونو قیمت تقریبا د 27% په اندازه له 625.4 میلیونه ډالرو څخه 792.9 میلیونه ډالرو ته لوړ شوی دی، او احتمال لري چې نور هم ډېر شي. د پروژې بشپړېدا له اصلي مودې څخه درې کاله نوره هم اوږده شوې ده چې د 2017 په مني کې به بشپړه شي. د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت خپلې د قېمتونو د محدودولو او د خطرونو د ارزونې پالیسۍ تعقیب نه کړې چې په نتیجه کې د خطرونو د له منځه وړلو فرصتونه له لاسه ووتل. دغو خطرونو، لکه د دوه قراردادونو په تسلسل کې ځنډونو، بالاخره تحقق وموند، چې قېمت يې لوړ او مهالوېش یې اوږد کړ. پرته له دې چې د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت د خپلې پالیسۍ تعقیب ته دوام ورکړې، ښایي هغه ونشي کولی چې په راتلونکیو پروژو کې په قېمتونو او مهالوېش کې خطرونه له منځه یوسي.

د متحده ایالاتو د حکومت د حساب ورکوونې اداره سپارښتنه کوي چې د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت دې (1) خپلو د قېمت د محدودیت او د خطر د ارزونې پالیسیو ته دې دوام ورکړي، (2) د ټکر په ساحو کې دې د لنډمهالو ودانیو له پاره د امنیتي معیارونو یا لارښود برابرول په پام کې ونیسي، (3) د کابل له پاره دې د ستراتیژیکو اسانتیاوو یو پلان جوړ کړي، او (4) خپله د ستراتیژیکو اسانتیاوو او د ماسټرپلان پالیسي دې روښانه کړي. د بهرنیو چارو وزارت له لومړۍ، دریمي او څلورمي سپارښتنې سره موافقه وکړه او له دویمې سره یې جزئي موافقه څرګنده کړه.

## د متحده ایالاتو د اردو د تفتیش اداره

د متحده ایالاتو د اردو د تفتیش ادارې په دې ربعه یا درې میاشتنۍ موده کې د افغانستان د بیارغونې په هکله هېڅ تفتیش نه دی بشپړ کړی.

## د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) د عمومي مفتش اداره

د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) د عمومي مفتش ادارې د بیارغونې د فعالیتونو په هکله هېڅ تفتیش خپور نه کړ.

## د څارنې روان فعالیتونه

د 2015 د جون له 30 مې راهیسې، برخه والو ادارو په افغانستان کې د بیارغونې د فعالیتونو په برخه کې د څارنې د 10 روانو فعالیتونو په هکله راپور ورکړ. هغه فعالیتونه چې په هکله یې راپور ورکول شوی دی په 4.2 جدول کې نیول شوي دي او د ادارې له خوا په لاندې برخو کې تشریح شوي دي.

4.2 جدول

**د 2015 د جون له 30 مې راهیسې د متحده ایالاتو د نورو ادارو د څارنې روان فعالیتونه**

| اداره | د پروژې نمبر | د پیل نېټه | د پروژې عنوان |
|---|---|---|---|
| DOD IG | D2015-D000JB-0174.000 | 4/20/2015 | د افغانستان د کورنیو چارو وزارت د تېلو د قراردادونو د کنټرولونوتفتیش |
| DOD IG | D2015-D000FL-0026.000 | 10/24/2014 | د متحده ایالاتو د دفاع وزارت له خوا د افغانستان د ملي اردو د وجهي صندوق د رامنځته کولو ارزونه د افغانستان د امنیتي ځواکونو وجهي صندوق سره مرستې |
| DOD IG | D2013-D00SPO-0181.000 | 6/13/2013 | د متحده ایالاتو د حکومت د هغو هڅو ارزونه چې امنیتي همکارۍ او هغه مرستندوی فعالیتونه چې د افغانستان اسلامي جمهوریت حمایه کوي د متحده ایالاتو د دفاع وزارت له صلاحیت څخه د بهرنیو چارو د وزارت صلاحیت ته انتقالوي. |
| د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو د وزارت د عمومي مفتش اداره | 15AUD063 | 4/29/2015 | په کابل کې د سفارت د عملیاتو او مراقبت د قرارداد تفتیش |
| د متحده ایالاتو د حکومت د حساب ورکوونې اداره | 321059 | 2/5/2015 | د افغانانو له پاره د کډوالۍ د وېزې ځانګړی پروګرام |
| د متحده ایالاتو د حکومت د حساب ورکوونې اداره | 351991 | 11/21/2014 | په یوه ناڅاپي یا عاجل چاپېریال کې پوځي ودانۍ |
| د متحده ایالاتو د حکومت د حساب ورکوونې اداره | 321031 | 7/9/2014 | له سمندرڅخه پورې د ډیپلوماتیکو استوګنځایونو او نورو نرمو هدفونو خوندي کول |
| د متحده ایالاتو د حکومت د حساب ورکوونې اداره | 100003 | 2/13/2014 | په محلي سطحه د ګومارل شویو کارمندانو په وړاندې د ګواښونو له منځه وړل |
| USAID OIG | FF100315 | 3/31/2015 | د تشبثاتو د انکشاف د پروګرام له لارې د افغانستان په جوړونه کې د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) د افغانستان د څانګې د مرستو تفتیش |
| USAID OIG | FF101014 | 8/26/2014 | په ټول افغانستان کې د خپلو پروګرامونو د څارنې او ارزونې له پاره د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) د افغانستان د څانګې د ستراتیژۍ تفتیش |

سرچینه: د متحده ایالاتو د دفاع وزارت عمومي مفتش، د سیګار له خوا د ارقامود غوښتنې ځواب، 6/23/2015؛ د بهرنیو چارو د وزارت د عمومي مفتش اداره، د سیګار له خوا د ارقامو د غوښتنې ځواب، 6/26/2015؛ د حکومت د حساب ورکوونې اداره، د سیګار له خوا د ارقامو د غوښتنې ځواب، 6/17/2015؛ د متحده ایالاتو د اردو د تفتیش اداره، د سیګار له خوا د ارقامو د غوښتنې ځواب، 6/17/2015؛ د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې د عمومي مفتش اداره، د سیګار له خوا د ارقامو د غوښتنې ځواب، 6/1/2015

## د متحده ایالاتو د دفاع وزارت د عمومي مفتش اداره

د متحده ایالاتو د دفاع وزارت له سمندر څخه پورې غاړه د خپلو چټکو عملیاتو د ترسره کولو په برخه کې لا هم له ننګونو سره مخامخ دی. د دفاع وزارت عمومي مفتش د هغو ننګونو او لوړو خطرونو په اساس لومړیتوبونه په ګوته کړي دي. د 2015 مالي کال له پاره، د دفاع وزارت د عمومي مفتش څارنه د هغو

پېرودنو او قراردادونو د پروسو په څارنه باندې تمرکز کوي چې د افغانستان د امنيتي ځواکونو روزنه، تجهيز، او مراقبت حمايه کوي. د متحده ايالاتو د دفاع وزارت عمومي مفتش به همدارنګه د افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو د روزنې او تجهيز له پاره د وزارت د هڅو بياکتنې او د هغو ارزونې ته دوام ورکړي.

د دفاع وزارت د عمومي مفتش تر لاربښوونې لاندې د جنوب لويديځې اسيا د پلان جوړونې ګډ ګروپ (Southwest Asia Joint Planning Group ) د فدرالي او د دفاع وزارت د له سمندرنه د پورې غاړې چټکو عملياتو اړوند د څارنې د فعاليتونو په همغږي کولو او يو له بل سره په ټکر کې نه راتللوکې مرسته کوي. د دفاع وزارت عمومي مفتش چې له سيګار او له همکارو عمومي مفتشينو او د دفاع د څارنې د کمېټې له غړو سره په ګډه کار کوي، د جنوب لويديزې اسيا له پاره د 2014 په اکتوبر کې د 2015 د مالي کال د څارنې يو هراړخيز پلان صادر کړی دی. د 2015 د مالي کال د پلان په جوړونه کې يوه مهمه برخه په افغانستان کې د عملياتو له پاره د ځواک بيا جوړونه/کمونه ده.

د دفاع وزارت د عمومي مفتش د دوامداري خپلواکې د روانو عملياتو (OEF) څارنه د شتمنۍ؛ نامناسبو تاديااتو؛ د ساختماني پروژو د هغو په شمول د قراردادونو د مديريت او تنظيم؛ د انتقال د پلان؛ په افغانستان کې د لوژيستيکي توزيع؛ او د افغان امنيتي ځواکونو له پاره د پېرودنې د پلان جوړونې او کنټرولونو په مقابل کې حساب ورکوونه تر پوښښ لاندې نيسي.

### د افغانستان د کورنيو چارو وزارت د تېلو په قراردادونو باندې د کنټرولونو تفتيش

**(D2015-D000JB-0174.000 نمبر پروژه، چې د 2015 د اپريل په 20 مه پيل شوې ده)**

د دفاع وزارت عمومي مفتش د افغانستان د قراردادونو د څارنې اړوند خپلو تفتيشونو سلسلې ته دوام ورکوي. په دغه مشخص تفتيش کې به د دفاع وزارت عمومي مفتش وښيي چې آيا د افغانستان د امنيت د انتقال ګډه قوماندانۍ او د کورنيو چارو وزارت د کورنيو چارو د وزارت د تېلو د قراردادونو د څارنې له پاره مؤثر کنټرولونه لګولي ول.

### د متحده ايالاتو د دفاع وزارت له خوا د افغانستان د ملي اردو د وجهي صندوق د رامنځته کولو ارزونه د افغانستان د امنيتي ځواکونو وجهي صندوق سره مرستې

**(D2015-D000FL-0026.000 نمبر پروژه، چې د 2014 د اکتوبر پر 24مه پيل شوې ده)**

د دفاع وزارت د مرستيال (د مالي چارو د کنټرولوونکي) په دفترکې د پروګرام/بوديجې د چارو د کنټرولوونکي مرستيال د دې ارزونې غوښتنه وکړه. د مالي چارو د کنټرولوونکي مرستيال تصريح کړه چې د 2014 د جون له 30 مي راهيسې د هغو پروژو چې په بشپړ ډول د ناټو/افغان ملي اردو د وجهي صندوق د مرستو له لارې تمويل شوې دي رسيدونه او لګښتونه او هغه څه چې په 2013 مالي کال کې يا تر هغه مخکې په ټولو مهمو برخو کې په مناسب ډول ترلاسه شوي دي د ټولو مهمو اړخونو په پام کې نيولو سره په مناسب ډول وړاندې کړای شوي دي. د دفاع وزارت عمومي مفتش به په دې هکله پرېکړه وکړي چې آيا د مالي چارو د کنټرولوونکي مرستيال د ناټو/افغان ملي اردو د وجهي صندوق د مرستو د لګښتونو رسيدونه او لګښتونه په صحيح توګه وړاندې کړي دي. سربېره پر دې، د دفاع وزارت عمومي مفتش به د مالي راپور ورکوونو او له قوانينو او قواعدو سره د هغو د مطابقت په داخلي کنټرولونو باندې چې د د دفاع وزارت د عمومي مفتش د ښکېلتيا هدف پورې اړه لري بياکتنه وکړي. د دفاع وزارت د عمومي مفتش مسؤليت دا دی چې د خپلې ارزونې په اساس يو نظروړاندې کړي.

**د متحده ایالاتو د حکومت د هغو هڅو ارزونه چې امنیتي همکاري او هغه مرستندوی فعالیتونه چې د افغانستان اسلامي جمهوریت حمایه کوي د متحده ایالاتو د دفاع وزارت له صلاحیت څخه د بهرنیو چارو د وزارت صلاحیت ته انتقالوي.**

**(2013-D00SP0-0181.000 نمبر پروژه، چې د 2013 د جون په 13مه پیل شوې ده)**

د متحده ایالاتو د دفاع وزارت عمومي مفتش هغه پلانونه او فعالیتونه ارزوي چې تر اوسه پورې د دې له پاره ترسره شوي یا تطبیق شوي دي چې په افغانستان کې امنیتي همکاري او مرستندوی فعالیتونه د دفاع وزارت څخه د بهرنیو چارو د وزارت صلاحیت ته انتقال کړي، او چې داسې سپارښتنې وکړي چې د امنیتي همکارۍ د موجود لاربسود او د امنیتي همکارۍ د اړوندو قواعدو په پام کې نیولو سره د دغو وظایفو انتقال ته لاره هواره کړي یا یې چټک کړي. څانګړي هدفونه باید معلومه کړي چې آیا:

- د متحده ایالاتو د حکومت هدفونه، مقصدونه، پلانونه، او لاربسود په افغانستان کې د متحده ایالاتو د دفاع وزارت له صلاحیت څخه د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت تر صلاحیت لاندې د امنیتي همکارۍ یوې موسسې ته د افغانستان د امنیت د انتقال د ګډې قوماندې (CSTC-A) د انتقال له پاره کافي، د پیښبدلو، او د چلند وړ دي؟
- په افغانستان کې د متحده ایالاتو د ځواکونو د اپستنې د تطبیق او د ناټو ترصلاحیت لاندې د قوماندې په یوه اداره باندې د امنیت په برخه کې د نړیوال مرستندوی ځواک (آیساف) او د آیساف د ګډې قوماندانۍ بدلون د افغانستان د اسلامي جمهوریت حکومت ته د متحده ایالاتو د ځواکونو له خوا د امنیتي مرستې د برابرولو په روانو هڅو باندې منفي تاثیر کړی دی.

## د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت د عمومي مفتش د منځني ختیځ د سیمه ییزو عملیاتو اداره

د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو د وزارت د عمومي مفتش اداره په دې ربعه کې د افغانستان د بیارغونې اړونده یوه روانه پروژه لري.

### په کابل کې د سفارت د عملیاتو او مراقبت د قرارداد تفتیش

**(15AUD063 نمبر پروژه، چې د 2015 د اپریل په 29 مه پیل شوې ده)**

د پاسیفیک آرکیټیکټس اینډ انجنیرز دحکومتي خدمتونو شرکت (PAE) په افغانستان کې په کابل کې د متحده ایالاتو د سفارت د ودانۍ او سولیوان کمپ د خدمتونو سیستمونه چلوي او مراقبت یې کوي. (سولیوان کمپ د کابل نړیوال هوایي ډګر سره نژدې پروت دی او د سفارت د امنیتي ځواک له پاره د استوګنې کورونه برابروي.) پاسیفیک آرکیټیکټس اینډ انجنیرز په ورځ کې 24 ساعته او په کال کې 365 ورځې د برېښنا د تولید او توزیع؛ تودوخې او هواپاکۍ؛ د اوبو د تأمین، صفایی او توزیع؛ له اور څخه د خوندیتابه؛ د اضافي اوبو د په لارې کولو؛ د لفټونو د مراقبت؛ او د جنراتورونو او موټرو له پاره د تېلو د ذخیرې او توزیع خدمتونه وړاندې کوي. پاسیفیک آرکیټیکټس اینډ انجنیرز همدارنګه د سفارت د ادارو او د استوګنې د کورونو او د فرعي قراردادیانو او نورو افرادو له پاره چې امنیتي صفایي نه لري او د سفارت په احاطه کې په امنیتي ساحو کې کار کوي، له مهالویش پرته خدمتونه وړاندې کوي.

دا تفتیش به د پاسیفیک آرکتیکټس اینډ انجنیرز (PAE) د عملیاتو او مراقبت د قرارداد په هکله د تفتیشونو د یوې لړۍ لومړۍ کړی وي. د پاسیفیک آرکتیکټس اینډ انجنیرز د عملیاتو او مراقبت د قرارداد یو تفتیش به د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو د وزارت اړوند د قراردادي د اجرأتو د مدیریت او څارنې د خطر ساحې په نښه کړي، چې دا هغه برخه ده چې د عمومي مفتش د اداري له خوا د تنظیم او مدیریت د یوې ننګونې په توګه په ګوته شوې وه. (وګورئ: د اداري د 2014 مالي کال مالي راپور، د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت؛ 118 – 120 مخونه؛ 11/2014) لومړی تفتیش به تېلو د ذخیره کولو او توزیع په سیستم کې د خطر په ساحو باندې تمرکز وکړي او امکان لري چې د وجهې ګټو له پاره یو فرصت وړاندې کړي. راتلونکي تفتیشونه به د پاسیفیک آرکتیکټس اینډ انجنیرز له خوا په وړاندې کړای شویو نورو خدمتونو باندې تمرکز وکړي.

### د بهرنیو چارو د وزارت له خوا د قراردادونو د افسرانو د استازو د انتخاب، ځای پرځای کولو، روزنې، او څارنې د مسؤلیتونو تفتیش

**(14AUD034 نمبر پروژه، چې د 2014 د فبروري په 11مه پیل شوې ده)**

هدف: چې هغه حد معلوم کړي چې په هغه کې د وزارت د قراردادونو د افسر استازي انتخاب شوي، ځای پرځای شوي، او روزل شوي څو هغوی خپل ورترغاړې شوي د قراردادونو اداره او د څارنې مسؤلیتونه په بریالیتوب سره ترسره کړي.

## د حکومت د حساب ورکوونې اداره

د حکومت د حساب ورکوونې اداره په دې ربعه کې د افغانستان د بیارغونې اړوند څلور رواني پروژې لري.

### د افغانانو له پاره د کډوالۍ د ویزې ځانګړی پروګرام

**(321059 نمبر پروژه، چې د 2015 د فبروری په 5مه پیل شوې ده)**

د افغانستان له پاره د کډوالۍ د ویزې ځانګړی پروګرام (SIV) افغان اتباعو او د هغوی کورنیو، ته چې د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت او د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي اداري (USAID)، یا د متحده ایالاتو نورو ادارو سره د کار کولو له امله له ګواښ سره مخامخ وي، ویزې ورکوي. د افغانانو له پاره د کډوالۍ د ویزې ځانګړي پروګرام ته د غوښتنلیکونو د شمېر زیاتوالی، او ورسره په افغانستان کې د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي اداري د امریکایي کارمندانو لږه کرخېدا، کولی شي چې د دغه هېواد په هکله د متحده ایالاتو د حکومت د حقایقو درک او تجربې، محلي روابط، او د کلتوري معلوماتو تاثیرکم کړي. مهمې پوښتنې: (1) په افغانستان کې د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو د وزارت او د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي اداري کارې څواک د کډوالۍ د ځانګړې ویزې د ترلاسه کوونکیو په تګ سره څومره اغېزمن شوی دی؟ (2) تر کومه حده، که وي، د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت او د متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایي اداري داسې پلانونه جوړ کړي چې د کډوالۍ د ځانګړې ویزې د ترلاسه کوونکیو له تګ څخه رامنځته کېدونکې تشه ډکه کړي؟ (3) کوم ګامونه، که وي، د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت او د متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایي اداري اخیستي چې د کډوالۍ د ځانګړې ویزې د ترلاسه کوونکیو له تګ څخه رامنځته کېدونکې تشه ډکه کړي؟

### په ناڅاپي یا عاجل چاپېریال کې نظامي تعمیرات

**(351991 نمبر پروژه، چې د 2014 د نومبر په 21مه پیل شوې ده)**

تفتیش به: (1) هغه پروسې چې د متحده ایالاتو د دفاع وزارت چارواکو په عراق او افغانستان کې د پوځي ودانیو د جوړولو له پاره کارولې، او په دې هکله د تصمیم نیولو له پاره کړنلارې چې آیا یو ساختمان باید دایمي وي که موقت؛ (2) په عراق او افغانستان کې د پوځي ودانیو د جوړولو له پاره د اړوندو قیمتونو په هکله د نیول شویو تصمیمونو؛ (3) هروهغوعبرتونوچې یاد وزارت د عراق او افغانستان د تجربې

په اساس د ناڅاپي عاجلو پوځي ودانيو له جوړولو څخه زده کړي وي؛ او (4) هروهغو مسايلوچې په يوه عاجل چاپيرېال کي چې ښايي د تفتيش په دوران کي مخ ته راشي او پوځي ودانيو پورې اړه ولري، و ارزوي.

## له سمندرڅخه پورې د ډپلوماتيکو استوګنځايونو او نورو نرمو هدفونو خوندي کول

**(321031 نمبر پروژه، چې د 2014 د جولای په 9مه پيل شوې ده)**

د متحده ايالاتو هغه پرسونل چې له سمندر څخه پورې د ډپلوماتيکو ودانيو د ساتنې له په کار ګومارل شوي دي په دوامداره توګه د هغوی امنيت او خونديتابه ته له ورپېښو ګواښونو سره مخامخ دي. په دغو ګواښونو کي په وروستيو کلونو کي د لوړې درجې خطر په سيمو کي ګڼې حملې هم شاملې دي. په ځانګړې توګه، هغه استوګنځايونه، تفريحي ځايونه، او ښوونځي چې د دغو پرسونل او د هغوی د کورنيو له خوا کارول کيږي ښايي د «نرمو هدفونو» توجه ورجلب کړي. مهمې پوښتنې: (1) د متحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزارت استوګنځايونو او نورو نرمو هدفونو ته ورپېښ ګواښونه او خطرونه له سمندر څخه پورې غاړه هېوادونو (افغانستان او عراق) کي د ماموريت د مشرتر صلاحيت لاندې څنګه اداره کوي؟ (2) د متحده ايالاتو د بهرنيو چارو د وزارت امنيتي معيارونه استوګنځايونو او نورو نرمو هدفونو ته ورپېښ ګواښونه او خطرونه چې دغه ډول مرکزونه ورسره مخامخ دي تر کومه حده له منځه وړي؟ (3) د متحده ايالاتو د بهرنيو چارو د وزارت پاليسي او کړنلارې په استوګنځايونو او نورو نرمو هدفونو کي امنيتي کمزورتياوې، که وي، تر کومه حده له منځه وړي؟

## په محلي سطحه د ګومارل شويو کارمندانو په وړاندې د ګواښونو له منځه وړل

**(100003 نمبر پروژه، چې د 2014 د فبروری په 13 پيل شوې ده)**

د متحده ايالاتو اداري په ګرده نړۍ کي له 270 څخه په ډېرو ځايونو کي له 44,000 تنو څخه ډېر په محلي سطحه مقرر شوي کسان په کارګوماري – چې په دوی کي بهرنيان او امريکايان دواړه راځي. په محلي سطحه مقرر شوي کسان په دغو ځايونو کي د متحده ايالاتو د حضور يو کليدی عنصر جوړوي، چې اکثر وختونه يو لړ پروګرامي، امنيتی، د څارني، مراقبت، او نورې وظيفې ترسره کوي. خو له متحده ايالاتو سره د هغوی د تړاو له امله کېدای شي چې په محلي سطحه مقرر شوي کسان د زوروني، وېروني او مرګ له ګواښونو سره مخامخ شي. په محلي سطحه مقررو شويو کارمندانو ته ګواښونه په ځانګړې توګه په هغو هېوادونو کي سخت وي چې هلته د ترهګرو فعالي شبکې او سرسخت افراطي ګروپونه وجود ولري، لکه په افغانستان، عرقا، پاکستان، او يمن کي. دغه ډول ګواښونه کولی شي چې په محلي سطحه د مقررو شويو کارمندانو په استخدام او ساتنه کي د متحده ايالاتوهڅې په احتمالي توګه ټکنی کړي.

د متحده ايالاتو د حکومت د حساب ورکوونې له اداري څخه غوښتنه وشوه چې د هغو په محلي سطحه مقررېدونکيو کارمندانو په هکله چې په لوړو ګواښونو لرونکيو موقفونو باندې کارکوي، د متحده ايالاتو د حکومت د څارنې، د معلوماتو د شريکونې، او د ګواښونو د کمونې د هڅو په هکله بياکتنه وکړي. مهمې پوښتنې: (1) د هغه ګواښ ماهيت او حد څه دی چې ترهګرې شبکې او نورو توندلارې ګروپونه يې په محلي سطحه مقررو شويو کارمندانو ته کوي، او دا چې څو ځلې يې ګواښونه او حملې کړې دي؟ (2) د متحده ايالاتو ادارو تر کومه حده داسې مېکانيزمونه جوړ کړي دي چې په محلي سطحه مقررېدونکيو کارمندانو ته د ورپېښو ګواښونو په هکله په مؤثره توګه او په ټاکلي وخت سره معلومات ټول او توزيع کړي؟ (3) د متحده ايالاتو ادارو کوم ګامونه، که وي، اخيستي دي چې په لوړه کچه ګواښ لرونکيو موقفونو ته ورپېښ ګواښونه کم کړي، او څه خنډونه، که وي، موجود دي چې دغه ډول ګواښونه کم کړي؟ (4) دغو ګواښونو او حملو د لوړې کچې په ګواښ لرونکيو موقفونو کي په محلي سطحه د مقررو شويو کارمندانو په توظيف او د کار په دوام باندې څنګه تاثير کړی دی؟

## د متحده ایالاتو د اردو د تفتیش اداره

د متحده ایالاتو د اردو د تفتیش اداره په دې ربعه یا درې میاشتنۍ موده کې د افغانستان د بیارغونې په هکله هېڅ روان تفتیش نه لري.

## د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې د عمومي مفتش اداره

په دې ربعه کې د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې د عمومي مفتش اداره د بیارغونې د نوښتونو اړوند دوه روان تفتیشونه لري.

### د تشبثاتو د انکشاف د پروګرام له لارې د افغانستان په جوړونه کې د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) د افغانستان د څانګې د مرستو تفتیش

**(FF100315 نمبر پروژه، چې د 2015 د مارچ په 31 مه پیل شوې ده)**

د تفتیش هدف:

- آیا د تشبثاتو د پروګرام د انکشاف له لارې د افغانستان په جوړونه کې د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې د افغانستان د څانګې مرسته د خصوصي سکټور پانګه اچونه پراخوي، نوي کاري فرصتونه رامنځته کوي، او د سوداګرۍ چاپېریال ته له پلان سره سمه وده ورکوي؟

### په ټول افغانستان کې د خپلو پروګرامونو د څارنې او ارزونې له پاره د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) د افغانستان د څانګې د ستراتیژۍ تفتیش

**(FF101014 نمبر پروژه، چې د 2014 د اګست په 26 مه پیل شوې ده)**

د تفتیش هدف:

- آیا د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) د افغانستان د څانګې د څارنې او ارزونې ستراتیژي په افغانستان کې د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې د پروګرام د فعالیتونو مؤثر پوښښ وړاندې کوي؟

# دضميمو او پايليکونو محتويات


| | |
|---|---|
| ضميمه A | 208 |
| ضميمه B | 212 |
| ضميمه C | 214 |
| ضميمه D | 219 |
| ضميمه E | 225 |
| پايليکونه | 231 |


**د سيګار رسمي مهر**

د سيګار رسمي مهر د بيارغونې د فعاليتونو په برخه کې د څواب وينې او څارنې برابرولو په برخو کې د متحده اياالتو او افغانستان تر منځ د هڅوهمغږي ښيي. د مهر د منځ په پورته برخه کې ليکلی ټکی په دری دی چې انګليسي معنی يې سيګار ده. د مهر د منځ په ښکتنۍ برخه کې ليکلی ټکی په پښتو دی چې هغه هم په انګليسي کې ورته معنی لري.

# ضميمې
# او پایلیکونه

# ضمیمه A

## له قانوني شرایطو سره د دې راپور بیاکتنه

دا ضمیمه د دې راپور پاڼې د سیګار تر رامنځته کونکي قانون لاندې د درې میاشتنۍ راپور ورکوونې او اړوندو نورو مقرراتو، د 2008 مالي کال له پاره د ملي دفاع د منظورۍ د قانون، Pub. L. No. 110-181, § 1229 (جدول A.1).

جدول A.1

| تر Pub. L. No. 110-181, § 1229 لاندې د سیګار د درې میاشتنیو راپوروونو د راپور ورکولو د شرایطو بیاکتنه | | | |
|---|---|---|---|
| **د عامه قانون برخه** | **سیګار ته د ورتیا ورکولو ژبه** | **د سیګار اقدام** | **د راپور برخه** |
| هدف | | | |
| برخه 1229(a)(3) | چې داسې خپلواکې او بې طرفه منابع برابرې شي چې د بهرنیو چارو وزیر او د دفاع وزیر د داسې پروګرامونو او عملیاتو د مدیریت د اړوندو ستونزو او کمیو په هکله په پوره ډول او وخت په وخت سره خبر کړي او د سموونکیو یا اصلاحي اقداماتو اړتیا درک شي او اقدام پرې وشي. | جاري؛ درې میاشتنی راپور. | بشپړ راپور |
| نظارت | | | |
| برخه 1229(e)(1) | عمومي مفتش باید نېغ په نېغه د بهرنیو چارو او دفاع وزیر ته راپور ورکړي او د هغوی تر نظارت لاندې کار وکړي. | د بهرنیو چارو وزیر او د فاع وزیر ته راپور. | بشپړ راپور |
| وظایف | | | |
| برخه 1229(f)(1) | د افغانستان د بیارغوني ځارنه — دا باید د عمومي مفتش وظیفه وي چې د افغانستان د بیارغوني له پاره د تخصیص شویو یا په بل ډول برابرو شویومبلغونو په وړاندې د چلند، انتقال او لګښت تفتیشونه او څېړنې ترسره کړي، وڅاري او سره همغږي کړي. همدارنګه دا هم باید د نومړي وظیفه وي چې لاندې له (A) څخه تر (G) پورې فرعي برخو په شمول د داسې پیسو د لګولو له پاره ترسره شوي پروګرامونه، عملیات، او قراردادونه وڅېړي. | د تخصیص شویو/موجودو پیسو بیاکتنه کوي.<br><br>د بیاکتنې پروګرامونه، عملیات، قراردادونه چې تخصیص شوي/ موجودې پیسې استعمالوي. | بشپړ راپور |
| برخه 1229(f)(1)(A) | د داسې پیسو یا فنډونو د تعهد او لګښت نظارت او محاسبه. | د تخصیص کړای شویو/موجودو فنډونو د تعهداتو او لګښتونو بیاکتنه کوي. | د مالي تمویل په هکله د سیګار نظارت |
| برخه 1229(f)(1)(B) | د داسې فنډونو په واسطه د بیارغوني د تمویل شویو فعالیتونو ځارنه او بیاکتنه. | د تخصیص کړای شویو او مرسته شویو پیسو په واسطه د تمویل شویو فعالیتونو بیاکتنه کوي. | د سیګار نظارت |
| برخه 1229(f)(1)(C) | د داسې فنډونو په واسطه د تمویل شویو قراردادونو ځارنه او بیاکتنه. | د تخصیص کړای شویو او موجودو فنډونو په کارولو سره د قراردادونو بیاکتنه کوي. | یادښت 1 |
| برخه 1229(f)(1)(D) | د متحده ایالتونو د وزارتونو، ادارو، او موسساتو، او د خصوصي او غیرحکومتي موسساتو ترمنځ د داسې فنډونو د انتقال او اړوندو معلوماتو ځارنه او بیا کتنه. | د تخصیص کړای شویو/موجودو فنډونو د داخلي او خارجي انتقالاتو بیاکتنه کوي. | ضمیمه B |

جدول A.1 (په تېرپسې)

| تر PUB. L. NO. 110-181, § 1229 لاندې د سيګار د درې مياشتنيو راپورونو د راپور ورکولو د شرايطو بياکتنه | | | |
|---|---|---|---|
| **د عامه قانون برخه** | **سيګار ته د وړتيا ورکولو ژبه** | **د سيګار اقدام** | **د راپور برخه** |
| برخه 1229(f)(1)(E) | د داسې فنډونو د کارولو په هکله د اسنادو ساتنه څو د داسې فنډونو د کارولو په هکله راتلونکو تفتيشونو او څېړنو ته لاره هواره کړي. | د آډيټ يا تفتيش ريکارډونه ساتي. | د سيګار نظارت<br>ضميمه C<br>ضميمه D |
| برخه 1229(f)(1)(F) | د افغانستان د ترون او د افغانستان د ملي پرمختيايي ستراتيژۍ د تطبيق په برخه کې د افغانستان له حکومت او نورو مرستندويو هېوادونو سره د متحده ايالتونو د همغږۍ د مؤثريت څارنه او بياکتنه | څارنه او بياکتنه په هغه بڼه چې شرحه شوې ده. | اډيټونه |
| برخه 1229(f)(1)(G) | د اضافي تاديياتو لکه دوه ځلي تادياتو يا دوه ځلي د صورت حساب يا بل د صدور او د فدرالي کارمندانو، قرارداديانو، يا اړوندو موسساتو د نورو احتمالي غيراصولي يا غيرقانوني اقداماتو څېړنه، او په لازمه توګه د عدليې وزارت ته د داسې راپورونو وړاندې کول څو راتلونکې څېړنې، قانوني تعقيبونه، د نورو پيسو بېرته ترلاسه کول، يا نورې جبيرې يقيني کړي. | د څېړنې ترسره کول او په هکله يې راپور ورکول په هغه بڼه چې شرحه شوې ده. | څېړنې |
| برخه 1229(f)(2) | د څارنې اړوند نور وظايف –<br>عمومي مفتش بايد تر (1) پاراګراف لاندې د ذکرشويو وظايفو د ترسره کولو له پاره دغه ډول سيستمونه، کړنلارې، او کنټرولونه چې عمومي مفتش يې مناسب ګڼي جوړ کړي، ويې ساتي او سرپرستي يې وکړي. | سيستمونه، کړنلارې، او کنټرولونه جوړ کړي، ويې ساتي او سرپرستي يې وکړي. | بشپړ راپور |
| برخه 1229(f)(3) | د عمومي مفتش د 1978 تر مصوبې لاندې وظايف او مسؤليتونه –<br>سربېره پر دې، ... عمومي مفتش بايدهمدارنګه د عمومي مفتش د 1978 تر مصوبې لاندې د عمومي مفتشينو وظيفې او مسؤليتونه ولري. | وظايف په هغه ډول چې د عمومي مفتش په اړونده مصوبه کې مشخص شوي دي. | بشپړ راپور |
| برخه 1229(f)(4) | د هڅو همغږي –<br>عمومي مفتش بايد له لاندې کسانو سره همغږي ولري، او د هغوی له ډلې څخه د هر يوه همکاري ترلاسه کړي: (A) د دفاع وزارت عمومي مفتش، (B) د بهرنيو چارو د وزارت عمومي مفتش، او (C) او د متحده ايالاتو د نړيوالې پرمختيايي اداري عمومي مفتش | د DOD, DOS اوUSAID له عمومي منشيانو سره همغږي | د بلې اداري څارنه |

جدول A.1 (په تېرپسې)

| تر PUB. L. NO. 110-181, § 1229 لاندې د سيګار د درې مياشتنيو راپورونو د راپور ورکولو د شرايطو بياکتنه | | | |
|---|---|---|---|
| د عامه قانون برخه | سيګار ته د ورتيا ورکولو ژبه | د سيګار اقدام | د راپور برخه |
| فدرالي ملاتړ او نوري سرچينې | | | |
| برخه 1229(h)(5)(A) | د فدرالي ادارو مرسته –<br>که عمومي مفتش د فدرالي حکومت له هر ډيپارټمنټ، اداري، يا بلې موسسي څخه معلومات يا مرسته وغواړي، د اړوندي موسسي مشر بايد، تر هغه ځايه چې معمول وي او کوم موجود قانون نه نقض کوي، عمومي مفتش، يا د هغه يوه باصلاحيته استازي ته دغه ډول معلومات ورکړي يا مرسته ورسره وکړي. | له غوښتنې سره سم د ملاتړ تمه ولري. | بشپړ |
| برخه 1229(h)(5)(B) | د رد شوي مرستې په هکله راپور ورکول –<br>کله چې د عمومي مفتش له خوا غوښتل شوي معلومات يا مرسته، د عمومي مفتش د قضاوت له مخې، په نامناسب ډول رد کړای شي يا برابره نه کړای شي، عمومي مفتش بايد د دغسې حالاتو په هکله د بهرنيو چارو وزير يا د دفاع وزير ته، هغسې چې مناسبه وي، او د کانګرس اړوندو کمېټو ته له ځنډ پرته راپور ورکړي. | هېڅ راپور نه دی ورکول شوی. | نه تطبيقيږي |
| راپورونه | | | |
| برخه 1229(i)(1) | درې مياشتنې راپورونه –<br>عمومي مفتش بايد د مالي کال د هرې ربعې له پای ته رسېدلو څخه وروسته په 30 ورځو کې دننه، د کانګرس اړوندو کمېټو ته يو راپور وړاندې کړي چې د هغې ربعې او، تر ممکن حده پورې، د دغسې ربعې له پای څخه د راپور د تسليمولو تر وخته پورې، د دغسې دورې په جريان کې د عمومي مفتش د فعاليتونو او د افغانستان د بيارغونې له پاره د تخصيص شويو او يا په بل ډول برابرو کړای شويو پيسو په واسطه د تمويل شويو پروګرامونو اوعملياتو لاندې د فعاليتونوخلاصه برابروي. هر راپوربايد، د هغې دورې په هکله چې دغه راپور يې تر پوښښ لاندې نيسي، په افغانستان کې د بيارغونې او بياجوړونې فعاليتونو پورې د تړليو تولو وجايبو، لګښتونو، او لاسته راوړنو يو مفصل بيان ولري. | راپور – د هرې تقويمي ربعې له پای څخه 30 ورځې وروسته.<br><br>د عمومي مفتش فعاليتونه په خلاصه توګه وړاندې کړي.<br><br>د ټولو وجايبو، لګښتونو او لاسته راوړنو په هکله مفصل بيان. | بشپړ راپور<br>ضميمه B |
| برخه 1229(i)(1)(A) | وجايب او د تخصيص شويو/مرسته شويو فنډونو لګښتونه. | وجايب او د تخصيص شويو/مرسته شويو فنډونو لګښتونه. | ضميمه B |
| برخه 1229(i)(1)(B) | د دفاع وزارت، د بهرنيو چارو د وزارت، او د متحده ايالاتو د نړيوالي پرمختيايي اداري له تخمين سره يوځای، هغسې چې د هرې پروژې او هر پروګرام د بشپړولو له پاره د اجرا وړ وي، د افغانستان د بيارغونې له پاره تر دې نېټې پورې د شويو لګښتونو پروژه په پروژه او پروګرام په پروګرام محاسبه. | د شويو لګښتونو پروژه په پروژه او پروګرام په پروګرام محاسبه. د هرې پروژې يا پروګرام له پاره غيرمتوقع فنډونه ذکر کوي. | تمويل<br>يادښت 1 |
| برخه 1229(i)(1)(C) | هغه عوايد او پيسې چې په داسې بسپنو باندې مشتملې وي چې د بهرنيو هيوادونو يا نړيوالو موسسو له خوا هغو پرورګرامونو او پروژو ته ورکول کيږي چې د متحده ايالاتو د کوم وزارت يا اداري له خوا تمويليږي، او د دغه ډول پيسو او عوايدو اړوند وجايب او لګښتونه. | د ډونرانو د فنډونو عوايد، وجايب او لګښتونه. | تمويل |
| برخه 1229(i)(1)(D) | بهرنيو اسعارو ته نسبت شوي يا پرې مشتمل عوايد چې نيول شوي يا کنګل شوي وي او د متحده ايالاتو د حکومت د کوم وزارت يا اداري له خوا تمويل شويو پروګرامونو او پروژو سره مرسته کوي، او د داسې عوايدو کوم وجايب يا لګښتونه. | له نيول شويو يا کنګل شويو اسعارو څخه د فنډونو عوايد، وجايب او لګښتونه. | تمويل |
| برخه 1229(i)(1)(E) | د هغو ادارو يا موسساتو عملياتي لګښتونه چې د افغانستان د بيارغونې له پاره تخصيص شوي يا په بل ډول برابر کړای شوي مبلغونه ترلاسه کوي. | د ادارو يا هرې موسسې عملياتي لګښتونه چې تخصيص کړای شوي فنډونه ترلاسه کوي. | تمويل<br>ضميمه B |

جدول A.1 (په تېرپسې)

**تر PUB. L. NO. 110-181, § 1229 لاندې د سيګار د درې مياشتنيو راپورونو د راپور ورکولو د شرايطو بياکتنه**

| د عامه قانون برخه | سيګار ته د ورتيا ورکولو ژبه | د سيګار اقدام | د راپور برخه |
|---|---|---|---|
| برخه 1229(i)(1)(F) | په *(2) پاراګراف کې د تشريح شوي هر قرارداد، بسپنې، توافق، يا د فنډ ورکولو د بل ميکانيزم په صورت کې –<br>(i) د قرارداد يا د فنډ ورکولو د بل ميکانيزم مبلغ؛<br>(ii) د قرارداد يا د فنډ ورکولو د بل ميکانيزم د کاري ساحې يوه لنډه مباحثه؛<br>(iii) په دې هکله يوه مباحثه چې د متحده ايالاتو د حکومت کوم وزارت يا اداري چې په قرارداد، بسپنه، توافق، يا د فنډ ورکولو په بل ميکانيزم کې دخيل ول، څنګه د قرارداد، بلاعوضه مرستې، توافق، يا د فنډ ورکولو د بل ميکانيزم د ترسره کولو له پاره د احتمالي قراردادیانو وړانديزونه په ګوته کړي او وړاندې کړي دي، د احتمالي افرادو يا موسساتو چې د وړانديزونو له پاره يې تقاضاوې صادرې شوې وي، له يوه لست سره يوځای؛ او<br>(iv) د توجيه او تاييد هغه اسناد چې د هغو په اساس د هغو کړنلارو چې د بشپړې او پرانستې سيالۍ له پاره لاره هواروي علاوه نورې کړنلارې وکاروي. | د قرارداد جزيات شرحه کوي. | يادښت 1 |
| برخه 1229(i)(3) | عامه موجوديت –<br>عمومي مفتش بايد د دې فرعي برخې تر(1) پاراګراف لاندې د عامو خلکو له خوا په کتل کېدونکي انټرنټ سايټ باندې هر راپور په انګليسي او نورو ژبو چې عمومي مفتش باور لري چې په افغانستان کې په پراخه کچه کارول کيږي او خلک پرې پوهيږي خپور کړي. | له لاربښوونې سره سم راپور په www.sigar.mil ويب سايټ خپروي.<br>پښتو او دری ترجمه په جريان کې ده. | بشپړ راپور |
| برخه 1229(i)(4) | شکل –<br>تر دې فرعي برخې لاندې هرراپور بايد په غيرمحرم شکل وسپارل شي، خو که عمومي مفتش يې لازمه وګڼي کېدای شي چې يوه محرمه ضميمه هم په کې شامله وي. | له لاربښوونې سره سم راپورخپروي. | بشپړ راپور |
| برخه 1229(j)(1) | عمومي مفتش بايد همدارنګه تر(i) فرعي برخې لاندې هر راپور له اړتيا سره سم د بهرنيو چارو وزير او د دفاع وزير ته تسليم کړي. | درې مياشتنی راپور سپاري | بشپړ راپور |

1 يادښت: که څه هم چې دا ارقام معمولا د سيګار په ويب سايټ (www.sigar.mil) موجود وي، هغه ارقام چې سيګار يې ترلاسه کوي په نسبتا خام حالت کې وي او دا مهال پرې بياکتنه کيږي، تحليل کيږي، او په راټلونکي کې د سيګار له خوا د کارولو له پاره ترتيب کيږی.

* تر پوښښ لاندې نيول شوي "قراردادونه، بلاعوضه مرستې، توافقات، او د فنډ برابرولو ميکانيزمونه" د Pub. L. 110-181 د 1229(i) برخې تر (2) پاراګراف لاندې تعريف شوي دي –

"هر لوی قرارداد، بلاعوضه مرسته، توافق، يا د فنډ برابرولو بل ميکانيزم چې د متحده ايالاتو د کوم وزارت يا اداري له خوا عقد شوی وي چې د داسې مبلغونو کارول په بر کې نيسي چې په هر عمومي يا خصوصي سکټور کې د افغانستان د بيارغونې له پاره د لاندې هدفونو له جملې څخه د هر يوه له پاره تخصيص کړای شوی يا په بل ډول برابر کړای شوی وي:

چې د افغانستان فزيکي زېربنا جوړه يا بيا جوړه کړي.

چې د افغانستان يوه سياسي يا اجتماعي موسسه تاسيس يا بيا تاسيس کړي.

چې د افغانستان د خلکو له پاره توليدات يا خدمتونه برابر کړي."

# ضميمه B

## د افغانستان د بيارغونې له پاره د متحده اياالتو مرستې (ميليونه ډالر)

B.1 جدول هغه مالي مرستې ښيي چې د 2015 له ژوئن راهيسې د پروګرام له خوا د افغانستان د بيارغونې له پاره په کلنۍ کچه تخصيص شوې دي. B.2 هغه مرسته ښيي چې له 2002 کال راهيسې د مخدره موادو ضد نوښتونو له پاره تخصيص شوې دي.

B.1 جدول

| د متحده اياالتو د پيسو ورکولو سرچينې | اداره | ټولټال | مالي کال 2002-03 |
|---|---|---|---|
| **امنيت** | | | |
| د افغانستان د امنيتي ځواکونو وجهي صندوق | د امريکا د دفاع وزارت | $60,670.40 | 0.00 |
| روزنه او سمبالونه (وزارت دفاع) | د امريکا د دفاع وزارت | 440.00 | 0.00 |
| بهرنی نظامي مالي لګښت | بهرنيو چارو وزارت | 1,059.14 | 248.26 |
| نړيواله نظامي ښوونه او روزنه | بهرنيو چارو وزارت | 16.22 | 0.56 |
| د امريکا د دفاع وزارت د نشه ای توکو د ممانعت او د نشه ای توکو پر ضد د فعاليتونو صندوق | د امريکا د دفاع وزارت | 2,858.09 | 0.00 |
| **ټولټال – امنيت** | | **$65,043.84** | **248.82** |
| **حکومتولي او انکشاف** | | | |
| د قوماندان د چټک غبرګون پروګرام | د امريکا د دفاع وزارت | 3,679.00 | 0.00 |
| د افغانستان د زېربنا صندوق | د امريکا د دفاع وزارت | 1,043.50 | 0.00 |
| په افغانستان کې د سوداګرۍ او ثبات د عملياتو لپاره کاري ځواک | د امريکا د دفاع وزارت | 822.85 | 0.00 |
| د اقتصادي ملاتړ صندوق | USAID | 18,612.11 | 341.51 |
| انکشافي مرسته | USAID | 885.55 | 60.84 |
| د افغانستان د ازادۍ ملاتړ اداره | د امريکا د دفاع وزارت | 550.00 | 300.00 |
| د ماشوم پاينښت او روغتيا (CSH + GHAI) | USAID | 550.51 | 57.20 |
| د اجناسو د ثبات او ملاتړ شرکت (CCC) | USAID | 31.65 | 8.80 |
| USAID (نورې) | USAID | 51.98 | 0.50 |
| د نه خپرولو، ترهګرۍ ضد، ماين پاکۍ او اړوند نور | بهرنيو چارو وزارت | 692.99 | 78.70 |
| د ولايتي بيارغونې د ټيم سلاکاران | د متحده اياالتو د کرنې وزارت | 5.70 | 0.00 |
| د خزانې تخنيکي مرسته | د متحده اياالتو خزانه | 4.45 | 1.90 |
| د نړيوال نشه ای توکو کنټرول او د قانون حاکميت | بهرنيو چارو وزارت | 4,690.86 | 60.00 |
| د نشه ای توکو پرضد د مبارزې اداره | د عدليې وزارت | 227.93 | 3.45 |
| **ټولټال – حکومتولي او انکشاف** | | **$31,849.08** | **912.91** |
| **بشردوستانه** | | | |
| P.L. 480 عنوان I | د متحده اياالتو د کرنې وزارت | 5.00 | 5.00 |
| P.L. 480 عنوان II | USAID | 891.28 | 159.50 |
| د مصيبت پر وخت مرستندويه اداره (IDA) | USAID | 555.48 | 282.62 |
| د انتقال نوښتونه | USAID | 37.52 | 19.76 |
| د کډوالی او کډوالو مرستندويه اداره | بهرنيو چارو وزارت | 1037.66 | 196.97 |
| پخپله خوښه د سوله ساتنې اداره (PKO) | بهرنيو چارو وزارت | 69.33 | 33.83 |
| د کډوالو او کډوالۍ له پاره چټکه مرسته | بهرنيو چارو وزارت | 25.20 | 25.00 |
| خواړه د پرمختګ له پاره | د متحده اياالتو د کرنې وزارت | 109.49 | 4.96 |
| 416(b) د خوړو مرسته | د متحده اياالتو د کرنې وزارت | 95.18 | 60.60 |
| خواړه د ښوونې او روزنې په مقابل کې | د متحده اياالتو د کرنې وزارت | 50.49 | 9.27 |
| ايمرسن ترسټ | د متحده اياالتو د کرنې وزارت | 22.40 | 0.00 |
| **ټولټال – بشردوستانه** | | **$2,899.02** | **797.50** |
| **د نړيوالو چارو عمليات** | | | |
| څارنه | | 362.55 | 0.00 |
| نورې | | 9,506.13 | 190.90 |
| **ټولټال – د نړيوالو چارو عمليات** | | **$9,868.68** | **190.90** |
| **ټولې پيسې** | | **$109,660.63** | **2,150.14** |

B.2 جدول

| د مخدره موادو ضد، وخت په وخت ډېرېدونکی مبلغ چې له 2002 راهيسې تخصيص شوی دی (ميليونه ډالر) | |
|---|---|
| ASFF | $1,574.29 |
| DOD CN | 2,858.09 |
| ESF | 1,480.60 |
| INCLE | 2,064.11 |
| DEA | 227.93 |
| **ټولټال** | **$8,205.01** |

TB.2 جدول، يادښت: شمېرې په ورته نژدې عدد سره ښودل کيږي. د مخدره موادو پرضد د مبارزې فنډونه د امنيت او حکومتولۍ او پرمختګ د لګښتونو له دواړو کټګوريو څخه اخيستنه کوي؛ دغه فنډونه همدارنګه په B.1 جدول کې د لګښت په کټګوريو کې هم نيول شوي دي. دغه عددونه هغه وخت په وخت زياتېدونکي مبلغونه چې په افغانستان کې له 2002 کال راهيسې د مخدره موادو پرضد د مبارزې د اقداماتو له پاره تخصيص شوي دي، ښيي. په دغو اقداماتو کې له منځه وړل، مخنيوی، د افغانستان د ځانګړي ماموريت د ځانګې ملاتړ، د مخدره موادو پر ضد د مبارزې له پاره ظرفيت جوړونه، او د کرنيز انکشاف متبادلې هڅې شامل دي. د ASFF, ESF او INCLE ارقام هغه وخت په وخت زياتېدونکي مبلغونه ښيي چې له يادو شويو فنډونو څخه د مخدره موادو پر ضد د مبارزې د هڅو له پاره تخصيص شوي دي.

B.2 جدول منبع: سيګار، د نشه ييزو توکو پر ضد د مبارزې تمويل، 7/20/2015. د متحده اياالتو د بهرنيو چارو وزارت، INL، د سيګار له خوا د ارقامو د غوښتنې ځواب، 7/14/2015؛ د متحده اياالتو د دفاع وزارت، د سيګار له خوا د ارقامو د غوښتنې ځواب، 7/13/2015 او 10/15/2014؛ د متحده اياالتو نړيواله پرمختيايي اداره (USAID)، د سيګار له خوا د ارقامو د غوښتنې ځواب، 7/12/2015، د متحده اياالتو د عدليې وزارت، د سيګار له خوا د ارقامو د غوښتنې ځواب، 7/14/2015، د متحده اياالتو د دفاع وزارت، د 2016 مالي کال له پاره د بودجې دفاع، OCO ASFF، 2/2015، 14 مخ.

B.1 جدول يادونه: ارقام ورته نژدې پوره عدد ته ورټول کړای شوي دي. د متحده اياالتو د دفاع وزارت 1 بيليون ډالر له ASFF 2011 مالي کال څخه بيا پروګرام کړل. د متحده اياالتو د دفاع وزارت 1 بيليون ډالر له ASFF 2012 څخه بيا پروګرام کړل. Pub. L. No. 113-6، 1 بيليونه ډالر له ASFF 2012 مالي کال څخه فسخه کړل. د متحده اياالتو د دفاع وزارت 178 ميليونه ډالر له ASF 2013 څخه بيا پروګرام کړل. Pub. L. No. 113-235، 764.38 ميليونه ډالر له ASFF 2014 څخه فسخه کړل. د متحده اياالتو د دفاع وزارت 101 ميليونه ډالر له AIF 2011 مالي کال څخه او 179.5 ميليونه ډالر له AIF 2013 څخه ESF ته انتقال کړل څو هغه ساختماني پروژې تمويل کړي چې د متحده اياالتو د نړيوالې پرمختيايي ادارې له خوا تطبيقيږي. د بهرنيو چارو د وزارت او د متحده اياالتو د نړيوالې پرمختيايي ادارې د اکثرو حسابونو د 2015 د مالي کال تخصيصات ښيي چې د افغانستان له پاره مسوده تخصيصات د کانګرس له خوا وروستي تاييد ته اړتيا لري.

1 جدول، منبع: د متحده اياالتو د دفاع وزارت، د سيګار له خوا د ارقامو د غوښتنې ځواب، 7/17/2015, 7/13/2015, 7/8/2015, 10/22/2012, 10/14/2009، او 10/1/2009؛ د متحده اياالتو د بهرنيو چارو وزارت، د سيګار له خوا د ارقامو د غوښتنې ځواب، 7/14/2015, 6/25/2015, 4/15/2015, 4/15/2014, 6/27/2013, 10/5/2012 او 6/27/2012؛ د متحده اياالتو خزانه، د سيګار له خوا د ارقامو د غوښتنې ځواب، 7/9/2015؛ OMB، د سيګار له خوا د ارقامو د غوښتنې ځواب، 4/16/2015, 7/14/2014, 7/19/2013 او 1/4/2013؛ د متحده اياالتو نړيواله پرمختيايي اداره، د سيګار له خوا د ارقامو د غوښتنې ځواب، 7/16/2015, 10/15/2010, 1/15/2010 او 10/9/2009؛ د متحده اياالتو د عدليې وزارت، د سيګار له خوا د ارقامو د غوښتنې ځواب، 7/14/2015 او 7/7/2009؛ د متحده اياالتو د کرنې وزارت، د سيګار له خوا د ارقامو د غوښتنې ځواب، 4/2009؛ DFAS، «AR(M) 1002 د مالي کال د پروګرام او د 2015 د جون له پاره د فرعي حسابونو په واسطه د تخصيصاتو وضعيت،» 7/17/2015; Pub. L. Nos. 113-235, 113-76, 113-6, 112-74, 112-10, 111-212 او 111-118.

| مالي كال 2015 | مالي كال 2014 | مالي كال 2013 | مالي كال 2012 | مالي كال 2011 | مالي كال 2010 | مالي كال 2009 | مالي كال 2008 | مالي كال 2007 | مالي كال 2006 | مالي كال 2005 | مالي كال 2004 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 4,109.33 | 3,962.34 | 4,946.20 | 9,200.00 | 10,619.28 | 9,166.77 | 5,606.94 | 2,750.00 | 7,406.40 | 1,908.13 | 995.00 | 0.00 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 290.00 | 150.00 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 396.80 | 414.08 |
| 1.40 | 1.50 | 1.42 | 1.18 | 1.56 | 1.76 | 1.40 | 1.66 | 1.19 | 0.98 | 0.95 | 0.67 |
| 0.00 | 238.96 | 255.81 | 472.99 | 379.83 | 392.27 | 230.06 | 192.81 | 290.97 | 108.05 | 224.54 | 71.80 |
| **4,110.73** | **4,202.80** | **5,203.44** | **9,674.16** | **11,000.67** | **9,560.80** | **5,838.40** | **2,944.47** | **7,698.57** | **2,017.17** | **1,907.28** | **636.55** |
| 10.00 | 30.00 | 200.00 | 400.00 | 400.00 | 1,000.00 | 550.67 | 488.33 | 209.00 | 215.00 | 136.00 | 40.00 |
| 0.00 | 199.00 | 145.50 | 400.00 | 299.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| 3.72 | 122.24 | 138.20 | 245.76 | 239.24 | 59.26 | 14.44 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| 900.00 | 852.00 | 1,802.65 | 1,836.76 | 2,168.51 | 3,346.00 | 2,077.49 | 1,399.51 | 1,224.75 | 473.39 | 1,283.00 | 906.55 |
| 0.00 | 0.00 | 0.35 | 0.00 | 0.00 | 0.30 | 0.40 | 149.43 | 166.81 | 185.08 | 169.21 | 153.14 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 100.00 | 150.00 |
| 0.00 | 0.00 | 0.25 | 0.00 | 69.91 | 92.30 | 58.23 | 63.04 | 96.72 | 41.45 | 38.00 | 33.40 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.55 | 3.09 | 4.22 | 4.22 | 10.77 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| 0.82 | 0.80 | 1.84 | 7.10 | 6.26 | 4.90 | 2.81 | 21.96 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 5.00 |
| 43.50 | 43.20 | 52.60 | 65.32 | 69.30 | 70.74 | 59.92 | 29.72 | 36.72 | 35.72 | 40.65 | 66.90 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 5.70 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.47 | 0.75 | 0.13 | 0.19 | 0.95 | 0.06 |
| 250.00 | 225.00 | 593.81 | 357.92 | 400.00 | 589.00 | 493.90 | 307.56 | 251.74 | 232.65 | 709.28 | 220.00 |
| 8.18 | 18.70 | 17.00 | 18.70 | 18.70 | 19.20 | 18.88 | 40.59 | 20.38 | 23.66 | 16.77 | 3.72 |
